اوس مې په درست جهان کښې هیچرته خواخوږے نیشته
چې زۀ ترې لاړ شم بیابه خلق مې صفتونه کوی.

پښتو

ناول



# وړکې لارې


مصنف
پرویز شیخ
ایم اے اردو/انګلش
Ex. Subject Specialist
in English & Principal (R)
0310-2871102


ناول


مصنف
پرویز شیخ
ایم اے اردو/انګلش
Ex. Subject Specialist
in English & Principal (R)
0310-2871102


## د مصنف چاپ شوی کتابونه





اعراف پرنټرز
091-2580006
0312-5945568
محله جنګی پشاور
aarafprinters@gmail.com

اوس مې په درست جهان کښې هیڅرته خواخوږے نیشته
چې زه تـرې لاړشم بیـا بـه خلق مـې صفتونـه کوی

# پښتو ناول

# ورکي لاري

**پرویز شیخ**
**(ایم اے اردو ، انگلش)**
Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)
Mobil#:0310-2871102



**ټول حقوق محفوظ دي**

د کتاب نوم : ورکي لاري

ليکوال : پرويز شيخ

اشاعت : مئی 2015

کمپوزنگ: حبيب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنٹرز محله جنگی پيښور

بيعه: (400) روپۍ

**د موندلو درکونه**

يونيورسټی بك ايجنسی پيښور
يونيورسټی بك شاپ
دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پيښور

**ټرون :**

دَ آرمي پبلك سکول دَ هغه اومهٔ خله ماشومانو
په نوم چې په شپاړسم دسمبر2014 دَ ترهه گرو
په حمله کښې شهیدان شو.

پرویز شیخ
۱۰/مئی ۲۰۱۵



## ﴿ړومبے باب﴾

دَ نوي کال دَ ړومبۍ میاشتې ړومبے تاریخ دَ اتوار ورځ او دَ سحر وخت وو، اسمان بالکل صفا وو او تر لرې لرې پورې دَ وریځې درك نهٔ لګېدو . نمر په ډاګ تندي ښهٔ په ډاګه ځلېدو خو دَ شپې دَ چنۍ او کنګل پرېوتو په وجه داسې معلومېده چې دَ هغهٔ دَ پلوشو لشې پسې شوي دي. دغه پلوشې په اونو بوټو ، شینکو، ډاګونو، ګلونو او غوټو پرېوتې ، دَ هغوي دَ خُلو او سینو نه دَ تبخېري هواړ لوخړې ختې ، دَ فضا وسیعه غېږ ته رسېدې او په هغې کښې ځائېدې.

کوچني استاذ دَ خپل کور په لویه زړه کوټه کښې د نغري غاړې ته په یو زوړ ټکورې پړلته وهلے وه او دَ لاس تودولو په غرض یې دَ نغري په ایره کښې ګوتې وهلے هغهٔ سره خوا کښې دَ چایو لوښي او په یو وړوکي شان شکري کښې دَ سرې ډوډۍ ځهٔ ټکرې پرتې وې چې دَ هغې نه دا معلومېده چې هغوی اوس اوس ښهٔ په مړه خېټه ناشته کړے ده . دَ کوټې دَ دېوال دَ رڼا په سوري کښې دَ نمر زیړې طلائي پلوشې راتلې او دَ نغري په ایره پرېوتې . دَ نغري بلې غاړې ته دَ کوچني استاذ دَ شپاړسو اولسو کالو زلمے زوے امان ناست وو، په یوه سترګه یې هغه لوګې ته کتل چې دَ لګېدلي سګرېټ غوندې دَ توت دَ یو نوژن ډکي دَ سر نه وتو ، ول په ول په ګډا ګډا تاوېدو او دَ پلوشو په کمند دَ کوټې نه بهر وتو . او په بله سترګه یې هغه اوښکو ته کتل چې دَ ډکي دَ سترګو نه وتې او ځاځکے ځاځکے په ایرو

کښې پرېوتې . هغهٔ به کله کله په پلوشو کښې دَ ذرو اتڼ ته هم کتل او په دغه کتو کتو کښې به په ناسته ناسته دَ خیال په اس سور ډېر لرې لاړو . دغه ذرې دَ پلوشو په رڼا کښې ښکارېدې خو دَ رڼا نه بهر په نظر نۀ راتلې . هغهٔ ورته دَ نیولو په غرض څو څو ځله لاس وا چوو خو هر ځل دَ هغوي په نیولو کښې ناکام شو .

په کور کښې مکمله خاموشی وه او داسې معلومېده چې یو بل سره نزدے ناست پلار او زوے دَ یو بل نه ډېر لرې تلي دي . دَ بهر نه داسې ښکارېده چې دے کور نه کډه اوړلې شوې ده او دَ مودو مودو راسې خوشے تشے او شاړ شُوپاړ پروت دے . یو اجنبي ته واقعي دغه احساس کېدېشو نو ګل پرې ته چرې هم نشو کېدے . دا دَ ختو لوتو کور هغې ته دَ تاج محل نه هم ښائسته او اراسته ښکارېدو ځکه چې دے کور کښې دَ هغې دَ زړهٔ رازونه او دَ هغې دَ مینې سازونه وو. دے کور سره هغې دَ څو کالونو خپل ځان ، خپل ژوند او دَ خپل مستقبل ټولې خوشحالۍ تړلې وې . دے کور ته نۀ دَ هغې په راتلو پابندی وه او نۀ دَ هغې په تلو . هغوي به هر سحر دَ هغې په راتلو سترګې غړولے او هر ماسخوتن به یې دَ هغې په تلو سترګې پټولے .

دَ اتوار په ورځ به چې کله هغه دَ خپل کار نه اوزګاره شوه نو دَ کوچنې استاذ خوا له به ورغله ، دَ هغهٔ خوا کښې به کېناسته او هغهٔ ته به یې دَ کلام فرمائش کوو. هسې کوچنے استاذ دَ شعرونو سمندر وو خو دَ اتوار په ورځ به دَ دغه سمندر موجونه دَ لیدو قابل وو. هغه ډېر خوږ





زبانه شاعر وو. دَ هغه خپل نوم حفیظ الرحمان وو خو دَ 'کوچني' تخلص په وجه په ادبي او غېرادبي دنیا کښې دَ کوچني استاذ په نامه یادېدو. دَ شاعرۍ په هرفن کښې دَ هغه انداز منفرد او دَ هغهٔ حېثیت مسلّم وو خو په غزل ګوۍ کښې دَ هغهٔ ثاني نۀ وه . دغه شان په فی البدیهه شاعرۍ کښې دَ هغهٔ مثال نه وو او چې په یوه طرحه به یې وینا شروع کړه نو لکه دَ سپین سېلاب به دورېدلې ملغلرې په مخه روان وو. هغه فطرتي شاعر وو او په فنِ شاعرۍ کښې دَ هیچا شاګرد نه وو خو دَ هغهٔ دَ شاګردانو ،معتقدینو او مداحینو شمار په سوْنو وو. چې کله به هغهٔ په مشاعره کښې خپل کلام په ترنم شروع کړو نو دَ هر طرف نه به دَ سبحان الله واه واه شاباش ، آفرین ،، مکرّر او دَ ارشاد ارشاد چغې لړې وې. دَ هغهٔ په خلهٔ کښې دومره تاثیر وو چې یو خوا به دَ هغهٔ دَ خلې نه شعرونه وتل ، بل خوا به دَ سامعینو سرونه دَ جذب وسرور نه ځانګېدل . هم دغه وجه وه چې په کومه مشاعره کښې به دَ هغهٔ ګډون متوقع وو نو دَ هغهٔ کلام اورېدو له به ډلې ډلې خلق راتلل خو چې کله به دَ هغهٔ کلام ختم شو نو بیا هلته نۀ ایسارېدل بلکه واپس به تلل او په لاره به یې دَ هغهٔ شعرونه په خوند خوند وئیل .هغه دَ مشاعرو روح روان وو خو چې په کومه مشاعره او کوم شعري مجلس کښې به هغه نه وو نو هغه به وران وو. هغهٔ ته خپل ټول کلام زباني یاد وو خو په تحریري شکل کښې ورسره هیڅ نه وو ځکه چې یو هغه ډېر لاپروا وو، چې کوم شعرونه به یې اولیکل نو هغه به ورته



www.pukhto.net

داسې یاد شو چې دَ تحریر ضرورت به نۀ پېښېدو او هغه به ضائع شو، بلـه دا چې دَ تېرو اتلسو کالو نه هغه روند وو او روند هم داسې چې دَ تیارې رڼا فرق یې نشو کولے . دَ هغۀ زوے امان دَ شپاړسو ، اولسو کالو زلمے وو ، هغه اګر چۀ دَ هغه په غېږ کښې لوے شوے وو خو هغۀ دَ هغۀ شکل نه وو لیدلے . دَ خپلې ښځې مریم بي بي دَ مرګ نه پس هغه دَ تېرو پنځو کالو نه په مشاعرو کښې ګډون نۀ کوو البته خپل کلام به یې په امان لیکو او دَ مشاعرې صدر له به یې لېږو . هغه به هغه کلام په خپله یا دَ بل چا په خُله اورو و خو کوم خوند چې دَ کوچني استاذ په خلۀ کښې وو هغه دَ نور چا خُله کښې چرته وو . کوچني استاذ دَ څلورویشتو کالو په عمر کښې وادۀ کړے وو او دَ وادۀ په درېم کال ، دَ یوې خطرناکې بیمارۍ په وجه دَ اوویشتو کالو په عمر کښې په تپو روند شو. اوس دَ هغۀ عمر پنځه څلویښت کاله وو خو دَ بیمارۍ او غریبۍ په وجه دَ سلو کالو بوډا بابا ښکارېدو . دَ هغه ذریعۀ معاش دَ یارانو دوستانو او شاګردانو په خېر خېرات او عشر زکواة وو.

هغه دَ خړ کلي اوسېدونکے وو. دَ هغۀ او دَ کخېرې کاکا ترمینځه اګر چۀ دَ وینې رشته نه وه خو دَ کلي ، محلت، ګوانډ او دَ غریبۍ په رشته کښې دواړه یو بل تـه ډېر نـزدې وو . دې نـه علاوه دَ هغوي اخلاقي قدرونه هم دَ نورو په نسبت مشترك وو. کخېرې کاکا هم لکه دَ هغۀ ډېر خوش اخلاقه ، خوش طبعه او خندرویه انسان وو. دَ دواړو





جمالیاتي حِس هم قدرې مشترك وو او دَ دواړو ذهنونه او دَ ژوند تېرولو انداز هم یو بل ته نزدے وو ، کخېرې کاکا دَ غندل ، پوردل ، جمیل ، خلیل ، جلیل او ګل پرې پلار وو ، ګل پرې دَ هغۀ دَ پنځو زامنو دَ پاسه کشره لور وه . هغه نۀ دَ کلي خان وو، نۀ ملك وو او نۀ شتۀ من پښتون وو، بلکه یو غریب سړے وو . هغه دَ پېشې په لحاظ رانجۀ فروش وو او خلقو به ورته دَ رانجو والا کخېرې کاکا وېلے. څۀ موده پس ترېنه دَ رانجو والا تکے لرې شو او دَ کخېرې کاکا تکے پرې داسې شتۀ شو لکه چې دَ هغۀ خپل نوم وي . خو نه داسې نه ده ، دَ هغۀ خپل نوم خېرالله وو خو په هره خبره کښې دَ خپل تکیه کلام ، د کخېرې، دَ بې درېغه استعمال په وجه دَ کخېرې کاکا په نوم مشهور شو. دَ هغۀ عمر دَ پنځوستو کالو نه اوختے وو خو دَ هغۀ دَ ږېرې او دَ سر دَ یو څو وېښتو نه علاوه دَ هغۀ تول وېښتۀ تك تور وو. نرے لوړ دنګ وجود ، سکنې جُثه ، لویه لویه رنګې ږېره ، په سر اوړې ژمې سپینه سواتې تـوپۍ ، دَ رانجو ډکې تورې سترګې ، خندرویه او خوش رویه څهره ، په رانجو لړلې شوې تورې ګوتې ، تور رنګې جامې، په اوږه ریمن څادر او پښو کښې زړې پنجې دارې څپلۍ ، دا وې دَ کخېرې کاکا دَ پېژندو یو څو نښنخې پتې چې هغه پرې ډېر په اسانه موندے شو، او که بیا هم یو اجنبي ته دَ هغۀ په موندو کښې دَ څۀ کړمې پېښېدو امکان کېدېشو نو بله لویه نښخه یې دا وه چې دَ هغۀ یو څنګ ته به دَ رانجو تور ګوډې ځانګېدو او بل څنګ ته به یې



www.pukhto.net

دَ کېږې په استر کښې ټېپ ريکارډ ځانګېدو . چې کله به موقعه په لاس ورغـلـه نـو په ناسته ، ولاړه يارانه کښې به يې دَ ټېپ ريکارډر په بټن ګوته کېښوده او دَ خپلې خوښخې لوبې ، سندرې او غزلې به يې اورېدے . اګر چۀ دَ هغۀ شمار نه دَ کلي په مزدورانو کښې وو او نه دَ کلي پـه کسـب ګـرو کښې وو خو هغۀ خپل ځان دَ کلي په کسب ګرو کښې شـمېـرو. هغـۀ بـه زميدارو له رانجۀ ، کجل او ګوليهار وغېره وېريا ورکول او دَ هغې پـه بدل کښې به يې ترينه په غنم لوکښې دَ غـنـمو ګـېـدې ، په منې کښې دَ شولو ګېدې ، دَ ورو ډکې ټانټې او په ژمي کښې بـه يې ترېـنـه ګُـړه او دَ پوک ګېډې اوړل . کوم کار به چې هغـه بهـرکـوو هغسې به دَ هغۀ ښځې شامتې ترور په کورونو کښې کوو، البتـه دَ بـدل نوعيت يې بدل وو. کخبرې کاکا به چې کوم کلي، بـانـډه ، ګـانې ، وټ او درمـن تـه ورغې نو ورو ، زرو او ځوانانو بـه دَ کخبرې کـاکـا ، کـخبرې کاکا ، چغې جوړې کړے . په دغه چغو چغو کښې بـه تـريـنـه تـول چاپېره شو ، چابه ترينه ، رانجۀ غوښتل ، چا به تريـنـه کجل غوښتل او چا به ترينه ګوليهار غوښتل . هغۀ به هغوي لـه يو يو سلاحې وېريا ورکوو او شيشه يا پونې به يې په بيعه ورکول. دَ هغۀ پـنـځـه واړه زامـنـو دَ رانجو کاروبار کوو او دَ پښتونخوا په توله سيـمـه کښـې خـوارۀ وو . دَ هغۀ ډېر ښۀ کار جوړ وو. غله دانه ډېره وه، تـول پـه جامه پټ او ګېډه ماړۀ وو او ښه رنګه ډهنګه يې جوړه وه خو چې کله هغوي وادونه اوکړل نو په کور کښې دَ ښځو جنګونه شروع





شـو . نتيجه دا شوه چه يو يو زوي به ترينه کډه اوچتوله او خپل خپل سـخـر کره به يې اوړه . په دې دې کښې ترينه تول زامن لاړل او هغه په ګـنـو زامـنـو کښې يواځـې پاتـې شو ، البته په کور کښې ورسره صرف يـوه ګل پرې پاتې شوه . په هغه وخت کښې هغه ايله دَ څلورو کالو وه . چې کـلـه به دَ هغې مور چرته مرې ژوندې له يا دَ روغ رنځور ابنتنې پـوښـتـنـې له تله نو هغه به يې دَ کوچنې استاذ ښځې مريم بي بي ته په پام کړه او هغه به ترينه په څۀ انه بهانه اووته . څۀ ورځې پس دَ مريم بي بې پـه ويـنـا ، کـخـبرې کـاکا هغه دَ کلي په پرائمري سکول کښې داخلـه کـړه . بيا بـه هـغـه هره ورځ امان سره يو ځائـے سکول ته تله او هـغــه سره بــه يـو ځـائـے واپـس راتلـه . هغـۀ سره دَ هغې زړۀ داسې لـګـېـدلـے وو چې دَ سکول نه پس به يې هم هغۀ سره کله دَ هغۀ په کـور کښـې او کـلـه پـه خپـل کـور کښـې لوبې کولې . هغوي تول دَ هغوي په ملګرتيا او مشغولتيا ډېرخوشحاله وو . دَ هغوي دَ تلو راتلو دَ تـکـلـيف پـه وجـه کـخـبرې کاکا دَ خپل کور دَ پنالې په دېوال کښې کهړکې اولګوله . بيا به هغوي يوبل کره بغېر څۀ تکليفه او بغېر څۀ يـرې تـرهـے تـلـل راتلل او تر ناوخته پورې به يې لوبې کولے . په دغه لـوبو کښې به هغوي کله کله يو بل سره جنګ جهګړې هم کولے او دَ کـچې دَ پـاره بـه يـې يـو بـل سـره کچې ګوتې اوجنګولې . په امان دَ هـغـې دَ کـچې ډېـر اثر نه پرېوتو ځکه چې کله به هغه يواځـے شو نو بهـر تـه بـه اووتـو او هـلـکـانـو سـره بـه يې لوبې کولے خو ګل پرې به



www.pukhto.net

یواځې شوه او په مات زړۀ به یې ځان له یو کسې لوبې کولې. دَ هغوي دغه خفګان به دَ ډېر لږ ساعت دَ پاره وو. هغې به اوږ ځان پر کړو، دَ کهړکۍ په نیمې کښې به کېناسته، هغۀ ته به یې کتل او متهٔ ګوته به یې ورته نیولې وه. هغه به پرې ځان ناغرضه کړو او ډېر شېبه به یې په انتظار کښې اوساتله خو چې کله به پرې دَ هغۀ زړۀ اوسوزېدو نو هغه به هم ورته متهٔ ګوته اونیوه، دواړه به یو بل ته نزدے شو، متې ګوتې به یې یو بل سره اوجنګولے او بیا به یې لوبې شروع کړے. دَ هغوي دا لوبې، ملګرتیا، جنګ جهګړې او مشغولتیا دغسې روانه وه. دَ وخت رفتار سره هغوي هم لوئېدل اودَ هغوي ذهنونه هم پخېدل. دَ جنګ جهګړې کلکې او ستغې خبرې په تاسو، جي، او ستاسو غوندې نرمو او پستو ټکو کښې بدلې شوې وې. دَ کلکو او برندو سترګو کاتۀ دَ شرم وحیا دَ نیم کخو سترګو په کاتۀ او دَ زړۀ پټې خبرې په اشارو، کنایو کښې بدلې شوې. داشتاپو، کو چاموري، شلغاتي، چېندرو او پټ پټاؤني لوبې په علمې لوبو او مقابلو کښې بدلې شوې. دَ انګریزي، اردو، ریاضۍ او نورو تعلیمي سرګرمیو مقابلې به کېدې خو په دغه مقابلو کښې به ګل پرې اکثر روستو پاتې کېده ځکه چې هغه په عمر او سبق دواړو کښې دَ هغۀ نه روستو وه. دَ هغوي دَ رفاقت په دغه لس پۀلسو کالو کښې لوے انقلاب راغلے وو چې دَ هغې اثر په دواړو شوې وو. یو خوا دَ امان مور مړه شوه، بل خوا دَ ګل پرې مور مړه شوه او پلار یې په لوے او





لاعلاجه مرض پرېوتو. دَ هغې رونه به کله کله دَ هغۀ تپوس له راتلل او هغې له به یې دَ هغۀ دَ علاج او دَ هغۀ دَ بدن دَ صفائۍ ستهرائۍ په باره کښې مشورې ورکولے خو په خپله یې نه چرې ډاکټر له دَ بوتلو کوشش اوکړو، نۀ یې ورله دَ خوراك دَ پاره چرې دَ پرهېزونې څیز راوړو او نه یې ورته دَ بالخت لاندې لس شل روپۍ کېښودے بلکه دَ هغوي بال بچ به دَ هغۀ دَ بالخت لاندې پرتې هغه پېسې راخستے او جېبونو کښې به یې اچولے کومې به چې دَ ګاوند ښځو او سړو دَ صدقې په توګه دَ هغۀ دَ بالخت لاندې ایښودې.

ګل پرې به دَ هغۀ دارو دُرمل هم کول، دَ هغۀ صفائي ستهرائي به یې هم کوله، دَ هغۀ پوښتنې له دَ راغلے مېلمنو دَ چایې شربت خرچه یې هم کوله او سکول ته به هم تله راتله. اوس هغه لسم جماعت ته رسېدلې وه او سالانه امتحان ته یې شپږ اووۀ میاشتې پاتې وې دَ پلار دَ بیمارۍ او دَ رونو دَ ناراضګۍ په وجه هغې ځوځوځله دَ سبق پرېښودو اراده اوکړه خو هرځل به دَ هغې مِسانو او پرنسپلې هغه منعې کوله او اخر یې په دې قائله کړه چې سبق پرېښودو کښې دَ هغې تاوان دے. تاوان داسې چې یو خوا به هغه دَ سبق نه هم محرومه پاتې شي بله دا چې هغه به دَ هغه مراعات نه هم محرومه پاتې شي کوم به چې هغې ته دَ سکول له خوا ملاوېدل. دَ هغې داخله وړیا وه، دَ هغې ماهانه تدریسي فیس نه وو، دَ هغې دَ سکول یونیفارم دَ سکول دَ پرنسپلې دَ اړخه وو، دَ هغې کتابونه سرکاري وو، دَ صوبائي



www.pukhto.net

حکومت له خوا به ورته هره میاشت دوه سوه روپۍ وظیفه ورکړې کېده ، دوه سوه روپۍ ورته دَ سکول دَ پور فنډ نه ورکړے کېدې او دوه زره روپۍ ماهانه ورته دَ سکول دَ پرنسپلې په سفارش دَ عشر زکواة فنډ نه ورکړې کېدې . دې نه علاوه مِسانو به ورله په هره تنخواه کښې خېر خېرات هم ورکوو او خپل رانجهٔ ، کجل اوګولیهار وغیره به یې هم خرڅول . بیا یې دَ پرنسپلې په اجازت دَ رانجو سره سره دَ منیارې سودا هم خرڅوله .دا ټول مراعات هغې ته دَ سکول په وجه ملاویدل او که هغې سبق پرېښې وې نو دا هرڅه به ترېنه تلې وو.

امان دولسم جماعت پاس کړے وو او دَ نوکرۍ په تلاش وو. هغې هم دا غوښتل چې دَ هغهٔ غوندې دَ هغې هم سیالي پوره شي او دَ لسم جماعت پاس کولو نه پس هغه هم په روزګار شي.

وخت تېرېدو او دَ ژوند غونډارے زغرېدو. دَ کخېرې کاکا صحت ورځ په ورځ په کمېدو وو او دَ هغهٔ بیمارې په زیاتېدو وه . هغې سره دَ خپل ځان نه زیات دَ خپل پلار دَ بیمارۍ غم وو ځکه چې دَ هغې په زړهٔ کښې به کله کله دا راتله چې دَ پلار دَ مرګ نه پس به دَ هغې څهٔ حال وي او هغه به دَ چا په در لوغړېږي. بله دا چې دَ هغې دَ رونو په اغېړلو خبرو به هغه په زړهٔ کښې دننه دننه سوزېده . هغوي څو څو ځله یو بل ته اورونه کړے وه چې "هغه دَ مور پلار دَ پنګې په ډهیرې ناسته ده . دَ پلار دَ ژونده پورې دې مزې کوي. د دې سترګې به هله اوغړېږي چې زمونږ دَ پلار سترګې پټې شي" چې څومره هغوي دَ هغهٔ پاتې





ساه ګانې شمېرلے هومره دَ هغهٔ په ساه ګانو کښې نوې نوې اضافې کېدلې . په هغه ورځ هغه څومره خوشحاله وه چې دَ هغې دَ لسم جماعت دَ امتحان نتیجه اووته او هغې خپل سکول په امتیازي نمبرو ټاپ کړو. هغه دَ ډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېده او پښــه یې دَ ډېرې خوشحالۍ نه په زمکه نه لګېده . دَ سکول پرنسپلې او مِسانو هغې ته دَ ګلونو سهرې واچولې او هغې له یې ډېره ډاډ ګیرنه ورکړه . هغې غوښتل چې دغه ټولې سهرې دَ خپل پلار په غاړه کښې واچو ي او خپله ټوله خوشحالي دَ هغهٔ په خوشحالۍ قربان کړي. په دے خیال چې هغه خپل کور ته راغله او خپل پلار ته یې اوکتل نو دومره جذباتي شوه چې دَ سهرو په ځائے په خپله په هغهٔ اوغورېده ، بیا یې هغه ټولې سهرې دَ هغهٔ په سینه کېښودې . هغې لا په جذباتي انداز هغهٔ له دَ خپلې کامیابۍ زېرے ورکوو چې په دېکښې دَ کور دَ کوځې وراوډېېدو. هغه په دے غرض ورله په خوشحالۍ خوشحالۍ روانه شوه چې شاید دَ هغې دَ پاس کېدو مبارکۍ له دَ هغې څوك سهېلۍ راغلې ده . خو چې ورله اورسېده او ورېې لرے کړو نو هغه دَ هغې سهېلۍ نه وه بلکه دَ شاه نواز خان ناظر موسم خان وو. دَ هغهٔ په لېدو دَ هغې دَ خوشحالۍ اوښکې اوچې شوې او دَ هغهٔ په خبره دَ هغې بڼه مړاوې او رنګ یې تاغېر شو. دا خبره هغهٔ هغې ته مخکښې هم څو څو ځله کړے وه خو نن دَ هغې نوعیت بدل وو. هغې ته داسې محسوسه شوه چې دَ



www.pukhto.net

هغې دَ پښو لاندې زمکه اوتختېده او هغه زمکه کښې ننه لاړه ، او که هغې دَ درشل سهاره نه وې اخستې او خپلې پښې يې نه وې کلکې کړې نو کېدېشوه چې هغه په زمکه راپرېوتې وې. هغه په مړو پښو او درنو قدمونو کور ته واپس شوه ، دَ غولي يو گوټ ته حېرانه اودرېده او دَ کوريو يو څيز ته يې په ډکو سترگو کتل. دغه ډکې سترگې تر ډېر وخته ډکې وې خو دَ نوې کمك په راتلو دَ هغې په مخ راماتې شوې. هغې دېوال ته ډډه اووهله او په چغو چغو په ژړا شوه .

## ﴿دويمه برخه﴾

دَ معمول مطابق نن بيا هغه راغله خو خلاف معمول دومره غلې او په داسې مړو قدمونو چې دَ هغې په راتلو او کېناستو هغوي هډو پوهـ نشو .يوه شېبه پس چې امان ته دَ هغې دَ راتلو احساس اوشو نو هغې ته يې په سواليه نظر اوکتل او وے وئيل : تهٔ کله راغلې يې؟ گل پرې دَ هغهٔ دَ زړهٔ ساتلو دَ پاره هغهٔ ته په لباسي مُسکا اوکتل او غلې غوندې يې اووې ، "اوس يوه شېبه مخکښې". دَ هغې دَ مُسکا په بدل کښې امان هم مُسکے شو او وے وئيل ، "مونږ ستا په راتلو هډو پوهـ نشو" هغې دَ هغهٔ نه مخ واړه وو، دَ کوټې گوټونو او چهت ته يې په داسې انداز کتل لکه چې هغه دې کوټې ته په ړومبي ځل راغلې وي او د دې جائزه اخلي. په دغه کتو کتو کښې يې هغهٔ ته په لا پروائی اووې ، "ما هم دا غوښتل چې زما په راتلو دَ خاموشئ دا خپسه مضطربه نشي . . . زهٔ ستاسو دَ سکوت په لمحو کښې مخل جوړېدل نه غواړم . زهٔ صرف ستاسو سلام له او تاسو نه دَ رخصت اخستو دَ پاره راغلې يم. کېدېشي بيا زمونږ ملاقات اونشي"امان هغې له څهٔ جواب ورکول غواړي خو کوچنے استاذ دَ هغهٔ نه مخکښې شي .دَ ايرو ډك لاس په بل لاس او څنډې بيا يې په خپله لويه لويه سپينه مرمرې ږيره باندې راکاږي او هغې ته وائي، "گل پرې بچې، تاسو کله ځئ"؟

گل پرې:. استاذ جي کډه مِ ترلې ده ، بابا ته مِ صفا جامې اغوستې دی ، کور مې جهارو کړې دے او دَ رونو دَ راتلو په انتظار کښې ناسته يم. چې هغوې راشي نو ځوبه"

کوچنے استاذ:. پلار دے څنگه دے ؟ کيناستے ، پاسېدے شي ؟

گل پرې:. نهٔ استاذ جي ، هغه غريب لکه دَ لاش په کټ کښې پروت دے ، کېناستے ، پاسيدے نشي. که هغه دَ گرځېدو جوگه وے نو ما به د دے کور نه ډېر مخکښې کډه اوړې وه " هغه يوه شېبه چپ وي بيا امان ته گورې او وائي ، "ستاسو دَ تلو څهٔ پروگرام دے چرته به ځئ ؟" .

امان:. مونږ هم روان يو خو دا معلومه نه ده چې چرته به ځو .

گل پرې:. تاسو خو کډه نه ده تړلے ؟ زهٔ درسره امداد اوکړم .

امان:. زمونږ څهٔ کډه ده ، دغه تش خمان ، زړې چاتی ، زاړهٔ شلېدلي کتهونه او زړې کيندړې . دا به زهٔ چرته گرځوم ؟ يوه وړه غوټه مِ تياره کړے ده ، په يو لاس کښې به هغه اونيسم او په بل لاس به بابا اونيسم





www.pukhto.net

او دَ کوره به اوځو "ګل پرې یو سور اسویلې اوکړې او وائي، "امانه، دا هغه کورونه دي چې مونږ به پرې نازېدو ...که تاته یاد شي نو چې مونږ به خپلو کښې جنګ جهګړه اوکړه نو تابه زۀ په خپل کور کښې نۀ پرېښودم او...او مابه تۀ دَ خپل کور نه په دیکو دیکو ویستلے. مونږ ته څۀ پته وه چې مونږ په پردي کورونو نازېږو، او هله راته اولګېده چې دَ وتو حکم راته اوشو. زمونږ دَ تلو نه پس به دا کورونه ورانېږي او په دے بنیادونو به لویه بنګله جوړېږي ...هایې ربه! په دې دومره لویه دنیاکښې زمونږ دَ سر سیورې هم نیشته. مونږ په کومه خُله دې دنیا ته خپله دنیا اووایو؟" هغه په سوالیه نظر امان ته کوري. امان دَ هغې نه سترګې اړوي، په نغري کښې دَ ډکي لوګي ته ګوته نیسي او وائي، "ګل پرې، زمونږ حال او زمونږ مثال د دے ډکي په شان دے. دَ دۀ دَ سر نه لوګے خېژي او دَ سترګو نه یې اوښکې بهېږي، لوګے بره خېژي او اوښکې لاندې په ایرو کښې پرېوځي. زمونږ ارمانونه، زمونږ دَ اسوېلو په اوږو او زمونږ دَ سلګو په دیکو دَ اسمان په وسعتونو کښې لې په لې ګرځي خو چې منزل ته اونه رسي نو زمونږ اسویلې هوا سره هوا شي، زمونږ اوښکې خاؤرو سره خاؤرې شي او زمونږ امیدونه دَ جنت دَ نعمتونو په طمعه دَ اخرت لوې لارې ته سترګې په لار شي. په دې دې کښې زمونږ وجودونه ختم شي، عدم سره عدم شي او هیڅ پاتے نشي". هغه یوه شېبه خاموش وي بیا وائي، "ګل پرې، شاهنواز خان څکه خان دے





چې دَ هغۀ پلار خان وو او دَ هغۀ پلار څکه خان وو چې دَ هغۀ پلار خان وو، دغسې ورپسې څه. مونږ څکه بې کوره یو چې زمونږ پلاران بې کوره وو او دَ هغوي پلاران څکه بې کوره وو چې دَ هغوي پلاران بې کوره وو. دغسې ورپسې څه خودا کوم معاشي نظام چې زمونږ په دنیا کښې چلېږي دا خُدائی تقسیم نه دے بلکه دا دَ ظالمې طبقې معاشي نظام دے." بیا په پلوشو کښې معلقو ذرو ته ګوري او وائي، "ګل پرې،، دَ نمر په پلوشو کښې دې ذرو ته اوګوره، لکه څنګه چې په دې پلوشو کښې دا ذرې پرېشانه او بېقراره دي، دغسې په دنیا کښې خواران غریبانان او بې حېثیته خلق هم بېقراره دي، خو لکه څنګه چې دا بې حېثیته ذرې یو موتې شوې او دَ اېټم بم په شکل کښې یې خپل حېثیت په خلقو تسلیم کړو دغه شان خوارانو له هم پکار دي چې یو موټې شي او په انساني معاشره کښې خپل حیثیت په خلقو تسلیم کړي." معلومه نه ده چې هغه به مخکښې نور څۀ وے چې دېکښې دَ دواړو کورونو ورونه په یو وخت په زور زور اوډبېدل او چغې هم راغلې، "زر کوی کورونه خالي کړی". ګل پرې او امان دواړه یو بل ته په مایوسه نظر ګوري، ګل پرې وائي، "داسې معلومېږي چې دَ شاه نواز خان سړي راغلل، زۀ درنه څم، هسې نه چې کله راته بهر اوغورځوي. خو په تلو تلو کښې تاسو نه رخصت غواړم او دَ استاذ جي نه دَ اخري پېرزونې په توګه یو څو شعرونه اورېدل غواړم ....استاذ جي ارشاد."



www.pukhto.net

کوچنے استاذ: ګل پري بچې ، زما ټول شعرونه تا اورېدلي دي خو په دې نازکه موقعه چې مونږ دَ یو بل نه بېلېدو نکي یو او دَ خپل ژوند نه مایوسه یو نو په ټلو ټلو کښې به صرف دومره اووایم چې .

ـ اے دَ سپرلي باده په ماڼهٔ لګه ★ ته یې دَ ژوند زېرے زهٔ بېزارِ دَ ژوند
زهٔ لکه حباب په سر دَ آب یمه ★ هیڅ مِ په ځان نشي اعتبار د ژوند

په دېکښې بیا دواړه ورونه اوډېږي او دَ چغو والیوم هم تېز شي ، ګل پري پاسي او کوچني استاذ ته وائي، " استاذ جي وخت نیشته ، ماله اجازت راکړه چې ځم درنه ... که ژوند وي نو بیابه ...."
هغه خپله خبره پوره نکړې شي ، او په چغو چغو په ژړا شي . په دغه ژړا ژړا کښې هغه دَ کوچني استاذ تندے او لاسونه ښکلوي او دَ هغهٔ نه رخصت اخلي . امان هغې سره دَ کوټې نه بهر اوځي ، دواړه په غولي کښې اودرېږي ، یوبل ته په غټو غټو ګوري لکه چې دَ یوبل په سترګو کښې خپلو خپلو عکسونو ته ګوري. په دغه کټو کټو کښې دَ هغوي دَ مخونو نه لړۍ لړۍ اوښکې رواني وي. دَ هغوي دَ اوښکو نه داسې معلومېږي لکه چې دَ هغوي په سترګو کښې دَ هغوي تصویرونه ژاړي . دغه تصویرونو له دَ تسلۍ ورکولو دَ پاره دواړه دَ یو بل سترګې ښکلوي . په ټلو ټلو کښې ګل پري خپلې اوښکې اوچې کړې ، مسکۍ شي او په مسکو شونډو هغه ته وائي، "امانه ، دَ خدائے په امان " امان هم خپلې اوښکې اوچې کړې او په ډډ آواز کښې وائي "دَ خدائے په امان " ګل پري چې دَ هغهٔ نه روانه





شي او په کهړکۍ ووړي نو دَ هغې دَ خُلې نه یو زړهٔ سوزے اواز دَ هغهٔ غوږ راشي چې :

ـ اشنا دَ لارې نه هېرېږې
زهٔ به دَ عمر اشنا ځنګه هېرومه

په دېکښې په درېم ځل ور اوډېږي . هغه ډېر په تېزۍ سره کوټې ته واپس شي . په یولاس کښې غوټه نیسي او په بل لاس پلار له سهارا ورکوي . هغه دَ لاس نه اونیسي او دَ هغهٔ په قدمونو رو رو دَ کور نه روانېږي چې دَ غولي مېنځ ته اورسېږي نو هلته پښه نیولے شي. په مظلومو سترګو کور ته په مایوسه نظر ګوري خو ډېر زر ترېنه مخ واړه وي او مخکښې روان شي. دَ هغوي دَ وتو سره دَ شاه نواز خان سړي کور ته ننوځي ، دَ هغوي کډه دَ کور نه اوباسي او بهر یې ډب ډهېرے اړدي. چې دَ کوچني استاذ دَ کور کډه بهر کړي نو بیا دَ کځېرې کاکا کور ته ورځي .
دَ شاه نواز خان سړي دومره بد نه وو لکه څومره چې ترېنه ګل پري یرېده . دَ موسم خان په نګرانۍ کښې هغوي نه صرف دَ هغې دَ کډې په ویستو کښې هغې سره مدد اوکړو بلکه دَ هغې دَ پلار کځېرې کاکا په اوړو کښې یې هم هغې سره پوره تعاون اوکړو . چې کله دَ دواړو کورونو کډې بهر شوې نو دېوالونه او دَ کوټو چهتونه په ترېکټر او شاول اوغورځولې شو .
دَ کوټو نه تیرونه ، برګې او ورونه اوویستلې شو ، یوخوا ته کېښودې



www.pukhto.net

شو او بیا دَ لوړې جوړې هوارې شروع شو . ګل پرې او کخېرې کاکا په مظلومو سترګو دَ خپل او دَ کوچني استاذ دَ کور دَ ورانۍ تماشه کوله . دَ سحر نـه غـرمـه شوه ، غـرمې نـه ماسپخین او مازیګر شو خو دَ کـخېرې کاکا کډې اوړو پسې یا دَ هغۀ تپوس له دَ هغۀ په پنځو زامنو کښې هیڅوك رانـه غی ، نمر په غرغره وو چې دَ شاه نواز خان سړو خپـل کـارختـم کـړو او روان شـو. دواړه کورونه داسې ډاګه ډوګلې شو لکـه چې دلته هډو ابادي نـه وه . دَ کـارختـمېدو نه پس موسم خان دَ هـغې خواله ورغی او ورته یې اووے ، "ګل پرې ، ستا هغه روڼه خو رانـه غـلل ، دا به څۀ کیږي " . ګل پرې هغه ته په برندو سترګو اوکتل او په ستغه لهجه کښې یې ورته اووې ، "ستا کار اوشو" مانه بې غمه شه . څۀ چې کېږي نو ماسره او زما پلار سره به کیږي "

موسم خان :. زۀ څنګه بې غمه شم . دا خو دَ پاسه شپه راغله ، تۀ ځوانه جانه یې تاته دَ تحفظ ضرورت دے او پلار دے مریض دے دۀ ته دَ ارام ضرورت دے ، کـه تـۀ مـونږ کره تلل غواړې نو چې په سرو ستا کډه پورته کړم او خپل کور ته یې یوسم .

ګل پرې : نه کاکاجي ، ستا ډېره مهرباني ، ماپه خپل حال پرېږده ، څه ورځه ". دَ هغې په جواب هغه دَ قهره تك سور شي، دَ ډېره قهره دَ اوږي نه څادر کوز کړي ، څنډ ورکړي او په روانه روانه کښې یې بیا په اوږه کېږدي .

دَ کوچني استاذ او دَ کخېرې کاکا دَ کډو په ویستو او دَ هغوي دَ کورونو په ورانېدو دَ خانانو دَ کورنۍ نه بغېر ټول خلق خفه وو خو دَ





هغوي دَ یرې نـه نـه چا څـه ویلے شو او نه ورسره چا همدردي کولے شوه . دَ کوچني استاذ کډه دَ خدا ے په اسره پرته وه او دَ کخېرې کاکا کډه دَ هغۀ دَ زامنو راتلو ته پرته وه چې دَ ماسخوتن بانګ پورې دَ هغې روڼه رانه غلل نو هغه دَ هغوي دَ راتلو نه مایوسه شوه . چې څومره څومره به شپه پخېده هومره هومره په یخنۍ کښې اضافه کېده . ګل پرې په پلار غبرګې بړستنې غوړولې وې ، روستې پاره پورې هغۀ سره په کټ کښې ناسته وه ، په بړستنو کښې دننه یې دَ هغۀ پښې لاس هم منډل او هغه له یې ډاډګیر نه هم ورکوله . په دغه خبرو خبرو کښې دَ هغۀ سترګې پټې شوې . چې دَ هغۀ سترګې ورغلې نو هغه دَ هغۀ دَ کټ نه پاسېده او دَ نمانځه تیارې یې شروع کړو. هغې باقي پاتې توله شپه نمونځونه او نفلونه کول او دَ هغۀ دَ صحت دَ پاره یې دَ الله نه په ژړا ژړا دُعا غوښتله . دَ سحر دَ نمانځۀ نه پس دَ هغې دَ دعاګانو دغه سلسله دغسې روانه وه ، چې کله هغه مطمئنه شوه نو دَ هغۀ کټ لـه په دے غرض ورغله چې دَ هغۀ خېریت معلوم کړي . هغې چې په بړستنو کښې دننه دَ هغۀ په پښو لاس کېښودو نو هغه لکه دَ اوچ لرګي کلکې او یخې پرتې وې. هغه اوېرېده، په یره یره یې دَ هغۀ دَ پښو نه لاس لرے کړو او دَ هغۀ په سینه یې کېښودو . دَ هغۀ اوچه سینه لکه دَ اوچ کمر یخه یخه پرته وه او داسې معلومېده چې هغه ډېر مخکښې مړ شوے دے . دَ هغې په زړۀ کښې چې دَ هغۀ دَ مرګ خیال راغی نو هغه اوېرېده ، په



www.pukhto.net

رېګدېدلو لاسونو يې دَ هغهٔ دَ مخ نه برستني لرې کړې او چې ورته يې اوکتل نو هغه موسېدلے مخ پټې سترګې پروت وو . هغې په رېږدلو شونډو او پرېکړو ټکو په هغهٔ څو څو اوازونه اوکړل خو چې هغهٔ نهٔ جواب ورکړو او نهٔ يې سترګې اوغړولے نو هغه پوهٔ شوه چې دَ هغې بابا دَ هغې نه ډېر لرے تلے دے ،دومره لرے چې نهٔ هغه ليدے شي او نهٔ دَ هغې اواز اورېدېشي . هغه دَ هغهٔ دَ کټ نه غلې غونډې کوزه شوه ، ډېره شېبه يې په ډکو سترګو دَ هغهٔ مخ ته په ځير ځير کتل او دَ خپل مستقبل تالاترغه مايوسه ارمانونه يې لټول .بيا يې هغه په برستنو کښې پټ کړو ، پړونې کښې يې ځان اونغښتو او دَ رحيم داد دوکاندار دوکان ته په ګړندو پښو روانه شوه .

هسې په خړ کلي کښې دوکاندار بې شماره وو خو دغه ټولو به ټوله ورځ دَ ځان نه مچان شړل او چې چا به ترېنه دَ ضرورت دَ يو څيز تپوس اوکړو نو دَ هغې په جواب کښې به يې اووے ، "دغه نيشته نور هر څهٔ شته ". البته په ټول کلي کښې يو رحيم داد دوکاندار داسې وو چې هغه دَ چا خبره يودَ مرغۍ پې. ورسره نه وو نور هر څهٔ ورسره ښهٔ ډېر وو.

دې نه علاوه هغه دَ اصلاحي کمېټۍ ممبر هم وو، چې کله به په کلي کښې څهٔ غاښ ماتې سرماتې اوشو نو هغه منډه به يې هم وهله او دَ بې وزله غريبو دَ کفن دفن خرچه به يې هم کوله . بياکه چابه دَ خپلې ياندې دَ کفن دفن خرچه ورکړه خو ډېره ښه ده ګينې دَ چانه يې غوښتے نه .





ګل پرې چې دَ هغهٔ دوکان ته ورغله نو هغه په دوکان کښې نه ووخودَ هغهٔ په ځاے دَ هغهٔ زوے سيد امين موجود وو . هغې په هغهٔ زړهٔ اونکړو ، دوکان نه واپس شوه او هغهٔ پسې دَ هغهٔ کور ته په داسے وخت کښې ورغله چې هغه او دَ هغهٔ ښځه په چارګې کښې ناست وو، چايې يې څکله ، هغې چې هغوي په چايو څکلو اوليدل نو ډېدې شوه هغې نه غوښتل چې په داسے حال کښې دَ هغوي په سر اودرېږي چې هغوي ناشته کوي خو چې دَ هغهٔ ښځې هغه اوليده نو دَ چايو پيالۍ يې په ځاے پرېښوده ، پاسېده او هغې له ورغله . هغې سره يې روغ جوړ اوکړل او ورته يې اووې ، "راځه کنه لورې ، بهر ولې ولاړه يې ". هغې ورته په ډکو سترګو اوکتل او وې وئيل ، " نه چاچي په تونده کښې يم خو کاکاجي سره مې يوه خبره ده ، ماوې چې تاسو په قلاره چايې اوڅکۍ نو بيا به يې درته اوکړم ". رحيم داد چې دَ هغې خبره وورېده نو ورته يې اووے، "راځه لورې، چايې به هم اوڅکې او خبره به هم اوشي ."

ګل پرې :. نه کاکاجي چايې نه څکم . رحيم داد د هغې دَ خُلې نه خبره اخلې او وائې ، "چايې به خامخا څکې نو ځه مخکښې نه روستو (هغه دَ چايو پيالۍ اړدې) ښه وايه څنګه راغلې" ؟ ګل پرې هغهٔ ته په مظلومو سترګو ګورې او وائې ، "کاکاجي پلار مې مړ شو، روپۍ مې نيشته ، دَ هغهٔ دَ کفن دفن بندوبست پکار دے ". دَ هغې په دے ناصافه انکشاف دَ هغهٔ رنګ تک زيړ شو، پاسېدو او په ساه ختلې



www.pukhto.net

انداز یې اووے ، "کخېرې کاکا مړ شو ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْن " هغې ورته یو ځل بیا اووې، "کاکاجې ، ماسره لاس کښې هیڅ نیشته چې رونږه مې راشې نو زۀ به ترینه ستا دَ کفن دفن پیسې واخلم او تاله به پیسه په پیسه تولې درکړم "، رحیم داد دَ هغې په سر لاس کېښودو او ورته یې "که رونږه دې نیشته نو کاکاجې خودے شته کنه . خفه کېږه مه بچې زمونږ. دَ تولو یو منزل دے خو څوك خپل منزل ته مخکښې لاړ شي او څوك دُ منزل په لار دي او ورته دَ تلو تیارې کوي ". بیا ښځې ته وائي ، "دَ سید امین مورې، تۀ په دې باندې چایې اوڅکوه او زۀ جمات ته ورځم چې اعلان اوکړم ." هغه په توندۍ سره بهر اوځي او جمات ته ځان رسوي. دَ هغۀ دَ تلو نه پس دَ هغۀ ښځه هغه دَ لاس نه نیسي او ورته وائي ، "راځه لورې ، چایې اوڅکه ځان مړ کړه .... " هغه نور هم څۀ وېل غواړي خو هغه دَ هغې دَ لاس نه خپل لاس خلاص کړي او دېره په توندۍ بهر اوځي . چې پلار له اورسي او دَ هغۀ کټ ته اودرېږي نو یو اواز یې تر غوږ شي . "زما مسلمانانو رونږو، یو ضروري اعلان ووري. کخېرې کاکا وفات شو، نن دوه بجې به دَ هغۀ جنازه وي ، تاسو تولو ته او دَ اصلاحي کمېټي غړو ته درخواست دے چې خپل خپل کارونه پرېږدۍ او زر تر زره دَ هغۀ دَ قبر بندوبست اوکړی ". دَ کخېرې کاکا دَ مرګ دَ اعلان په اورېدو سره په تول کلي دَ غم او ماتم غلاف خور شو . تولو ته دَ هغۀ دَ مرګ پته اولګېده خو بیا به یې هم په لاره کو څه کښې یو بل ته وے ، "هلکه





خبر یې ، کخېرې کاکا مړ شو" . رحیم داد لا په جمات کښې دَ اشراق نمونځ یې کوو چې دَ کلي ډلې ډلې راماتې شوې او دَ هغۀ دَ دوکان مخې ته په لاره کښې اودرېدې. چې کله هغه دَ جمات نه راووتو او دَ هغوي خوا له ورغی. نو څۀ کسان یې قبر له اولېږل ، څۀ یې دَ اعلان دَ پاره او دَ هغۀ دَ زامنو دَ خبرولو دَ پاره نورو کلیو ته اولېږل او څۀ یې دَ کټونو راغونډولو پسې اولېږل .

دَ کخېرې کاکا پنځه واړه زامن په خواو شا پنځو کلیو کښې پراتۀ وو. دَ هغوي کلي او کورونه اګر چۀ دَ یو بل نه ډېر لرې نه وو خو دَ هغوي زړونو دَ یو بل نه ډېر لرې وو . دَ رورولۍ دَ لانجو ګونجو په وجه دَ هغوي وینه دومره سپینه شوې وه چې دَ هغوي رورولي په تربګنۍ کښې بدله شوې وه . دَ کخېرې کاکا زامنو ته دَ پلار دَ مرګ پته هله اولګېده چې دَ هغوي په کلیو کښې دَ هغۀ دَ مرګ او جنازې اعلانونه اوشو . دَ هغۀ دَ مرګ دَ خبر په اورېدو سره دَ پنځو واړو کلیو په پنځو کورونو کښې ژړا انګولا شوه دَ هغۀ زامن ، دَ هغوي ښځې او سخرګنۍ دَ هغۀ دَ اخري دېدار دَ پاره دَ خپلو کورونو نه اووتل او خړ کلي ته روان شو . کخېرې کاکا دَ خپل کلي نه علاوه دَ خواو شا تولو کلیو دَ نارینه ؤ او زنانه ؤ دَ پاره کخېرې وو، هم دغه وجه وه چې نارینه او زنانه دَ هغۀ لیدو له لکه دَ مچ مېږو دَ ډلو په شکل کښې روانې وې ، په تولو لاره به یې دَ هغۀ دَ ښۀ سړیتوب خبرې کولې او هرچابه دَ هغۀ متعلق خپلې خپلې مشاهدې او تجربې بیانولے . په تول کلي



www.pukhto.net

کښې یوه حجره وه او هغه هم دَ هغه چا وه چې دَ هغهٔ کور یې وران کړے وو. هغهٔ ته خپل ځان دومره ملامته ښکاره شو چې دَ اعلان په اورېدو یې ټول نوکران چھټې کړل ، دَ حجرې دواړه دروازې یې بندې کړے او دَ څهٔ ضروري کار په بهانه په ګاډي کښې کېناستو او دَ کلي نه اووتو ، دَ مېلمنو دَ ناستې دَ پاره څهٔ دَ عزت ځائے نه وو. زنانهٔ دَ پاره دَ کخېرې کاکا او کوچني استاذ دَ ورانو کورونو په ډاګه کټونه اچولي شوي وو او دَ پردې بندوبست هم شوے وو. دَ کلي خلق او مېلمانهٔ دعا ته په لارو کوڅو کښې ناست وو خو بیا روستو جمات ته بوتلي شواو هلته په عزت کېنولي شو.

دَ هغهٔ زامنو چې دَ هغهٔ وران کور ته ، دَ هغهٔ نوستلې شوې کډې ته او دَ هغهٔ لاش ته اوکتل نو په چغو چغو په ژړا شول. په ژړا ژړا کښې به دَ هغهٔ په لاش غورېدل ، دَ هغهٔ پښې لاس به یې ښکلول ، دَ ګل پرې په خُله کښې به یې سپقونه ورکول او په چغو چغو به یې دا وئېل چې دَ هغوي پلار دَ ګل پرې دَ بېغورۍ په وجه مړ شو ځکه چې دَ هغوي غورېونه موسم خان ډك کړي وو او دا یې ورته وېلے وو چې هغهٔ ګل پرې، کخېرې کاکا او دَ هغهٔ کډه کور ته په نېك نیتۍ سره اوړه خو هغې انکار اوکړو او هغهٔ سره تلو ته تیاره نشوه. هغوي دومره غصه وو چې دَ هغې نه تاوېدل او بد رد یې ورته وئېل او که جانۍ ابۍ دَ هغوي مخه نه وې نېولې نو کېدېشوه چې په هغې یې ګزارونه هم کړے وے . دَ کلي خلق چې دَ هغوي دَ بې وخته او بې ځایه مېدان





ګرمۍ نه خبر شو نویو ځوکسان ورپسې ورغلل، هغوي یې دَ ښځو دَ ډلې نه اوویستل او دَ سړو په ډله کښې یې دعا ته کېنول . بهرهم دَ هغوي خُلې تپې نشوې ، ځان سره ګونېدل او خپلې خور پسې یې دَ خلقو په مخکښې بد رد وئېل . کله چې دَ هغوي بېهودګي دَ خلقو دَ برداشت نه اووته نو دَ رحیم داد په اشاره دَ اصلاحي کمېټۍ یو ځو کسان ورغلل ، هغوي یې دَ ډلې نه پاسول او په دیکو دیکو یې هدیرې ته اولېږل .

دَ کخېرې کاکا ډېره لویه بلکه تاریخي جنازه اوشوه ، دَ جنازې نه پس دَ هغهٔ زامن لکه دَ راغلے مېلمنو خپلو خپلو کورنو ته لاړل ، خپل بال بچ سره تود نغرې ته کېناستل او ګل پرې او جانۍ ابۍ تر درېمې پورې په یخه یخنۍ کښې په ډاګه ډوګلۍ پرتې وې. په درېمه ورځ دَ هغې رونړه او اورنداري راغلې . ښځهٔ په مړه خېټه یې دَ کلي راغلې ډوډۍ اوخوړه ،په تلو تلو کښې یې دَ پلار کډه هم خپلو کښې تقسیم کړه او دَ ګل پرې جامه پېزار یې هم خپلو کښې تقسیم کړو . هغه صرف په اغوستو جامو کښې پاتې شوه . دَ هغوي دَ تلو نه پس هغه او جانۍ ابۍ ډېر وخته پورې ناستې وې او یو بل ته به یې په خوارو سترګو کتل خو اخر تر کومې پورې . چې نمر په غرغره شو نو جانۍ ابۍ هم خپله غاړه غوټه اوتړله او دَ تلو تیاري یې کوله . ګل پرې حېرانه وه چې هغه چرته او چا کره لاړه شي خو چې کله جانۍ ابۍ خپله غاړه غوټه هغې له ورکړه او ورته یې اووې، "ځه لورې چې ځو



www.pukhto.net

ناوختـه دے "نو دَ هغې په زړهٔ کښې دَ امېد پلوشه اوځلېده . هغې دَ هغـې پـه سـت کښـې هېڅ انکار اونکړو ، ځان يې پړوني کښـې اونغښتـو ، خپـل وران کـور او دَ کـو چني استـاذ کډې تـه يې پـه ډکو مظلومو سترګو اوکتل او هغې پسې په درونـد سر او درونو پښو روانه شوه . په تلو تلو کښې به پښه نيولې شوه ، شاته به يې اوکتل او بيا به روانـه شـوه جانی ابی دَ برکلي دَ اروابناد شمشاد کونډه وه . شمشاد په ذات هـم بتيـارے وو او دَ پېښـې پـه لـحـاظ هم بتيارے وو. دَ هغـهٔ دَ مـرګ نـه پـس به جانی ابی بټ کوو او دَ هغې ايکے يو زوې انځرګل بـه دَ بټ دَ پاره پټـری اوخزلـه راوړه . دَ ماسپخين دَ نمانځهٔ نه پس به هغـې بټ ايښـودو او ترماسخوتن پورې به يې بټ کوو . انځرګل به دَ بټ تنور ته پټرۍ اوخزله ويشته او هغې به نيني کولې .

دَ کـخـبري کاکا دَ مرګ په وجه پرله پسې درې ورځې دَ هغې بټ هم سوړ وو او دَ هغـې دَ کور نغرے هم سوړ وو . دَ هغې ايك يو زوے انځرګل اګر چـه دَ پـنـځـلـس شپـاړسـو کـالـو زلمے وو خو دَ هغهٔ خوې بوې ، عـادتـونـه او دَ هغهٔ ذهن لا هغسې دَ ماشومانو وو تر نن وخته پورې به هغـهٔ لـه مـور پـه خـوله کښې ډوډۍ ورکوله او که هغه به چرته مړې ژوندي لـه لاړه نـو دَ هـغې دَ راتلو پورې به هغه اوږے ناست وو، بله دا چې هغهٔ له دَ مور دَ څنګل نه بغير خوب نهٔ ورتلو . جانی ابی به چې هغـه مور کړو نو بيا به يې خپله ډوډۍ خوړله او چې هغه به يې اودهٔ کـړو نـو بيا به ترېنه خپل کټ ته تلله . دَ کخبري کاکا مرګ له دَ تلو په





وخت کښې هغې هغه خپلې ګوانډۍ ته سپارلې وو. هغې به وخت په وخـت هـغـهٔ لـه چايې ډوډۍ راوړه خو هغهٔ به ترېنه څکه هم نه کوله . دغـه حال دَ هـغـهٔ دَ خـوب هـم وو ، توله شپه به ډډې په ډډې اوختو را اوختـو او کــه چرې نــاوختــه بــه يـې سترګې اولګېدې نو دَ شپې دَ شـوګـېـرې کـمـې بـه يـې دَ ورځـې پوره کوو . دې نـه علاوه دَ هغـهٔ جسـمـانـي ساخت او ذهني پېچونه هم تر ډېره حده پورې سست وو او رنګ جُثـه يـې هـم بې ډوله وه . دَ هلوکو يوه نرۍ لوړه ډهانچه ، زيړ شيـن بـخـن مـخ ، پـه مخ دَ ږيرې نـرے پشـم ، اوږدې خپړې او خيرن خيـچن وجود ، دا وو دَ جانی ابی زوے انځرګل . په کړه لارخو ښځې نشو تلے او چې په نېغه لاره به تلو نو کله به يې دَ لارې يوه جې وهله او کله بله جې او هغه هم داسې چې سر به يې مخکښې وو او پښې به يې وريسـې وې . هـغـه ذهـني طـور دومـره روستو وو چې نه يې ماتې پېسې شمېرلے شوے او نه يې څلوېښت او شپېتهٔ کښې فرق کولے شو .

هـغـه نـه لـيـونـے وو نـه چـاړا وو بلکه لکه دَ طوطي به چغېدو خو په خبرو کښـې يـې نسـوانيت وو او دَ ښځو غوندې به يې په خلهٔ او پوزه مسواکه ګوته هم ايښوده او دَ بېّ ، ويّې ، غوندې نسواني تکي به يې هـم استعمالول . دې سره سره هغه دَ مور دومره تابعدار وو چې کله به يې ورله پښې لاس منډل ، کله سر او کله اوږې ، تر دې چې هغې له به يې سر هم وينځلو ، دَ هغې دَ ويښتو نه به يې سپړې هم ويستلے او دَ هغـې ويښتهٔ به يې هم ګمنزول . چې کله به ورته هغه په څهٔ ناانډوله



www.pukhto.net

خبره غصه شوه نو بیا به یې لکه دَ ورو توله ورځ ژړل، په زمکه به لوغړېدو او لتې به یې وهلې. دَ هغهٔ مور دَ هغهٔ دَ پاره ټول کائنات وو، دَ مور نه علاوه هغهٔ نه بله رشته پېژندله او نه یې منله. دا ټولې کمزورۍ په هغهٔ کښې ځکه وې چې دَ هغهٔ ټول تربیت په کور کښې شوے وو. هغه لکه دَ غوجل دَ څاروي په کور کښې پیدا شوے او لوے شوے وو. هغه نه مور ورورسره بهر لوبو ته پرېښودو، نهٔ یې سکول ته لېږو او نه یې جمات ته لېږو. دَ هغهٔ په خبرو او حرکاتو کښې نسوانیت ځکه وو چې هغه دَ خپلې مور دَ خبرو او حرکتونو نه متاثر وو، دَ هغهٔ صحت ځکه کمزورے وو چې دَ غریبۍ په وجه دَ هغهٔ په خوراك کښې دَ غذائي اجزاء کمے وو. هغوي مور او زوي به شپه ورځ دَ هغه جوارو ډوډۍ خوړه کوم به چې دَ بټ په مزدورۍ کښې راتلل دَ هغهٔ پښې ځکه اوږدې خېرې وې چې هغه بې پېزاره زلمے شوے وو. دَ هغهٔ بدن ځکه خېرن وو چې هغهٔ به بټ له پترۍ اوخزله راؤړه او مور سره به یې تر ماسخوتن پورې بټ کوو.

ماښام تیارهٔ چې ګل پرې او جانۍ ابۍ کورته اورسېده نو انځرګل دَ کور دَ ورمخې ته ناست وو، سر یې دَ مور په سرپیچك ترلے وو او دَ مور لارې ته یې کتل. هغهٔ چې مور اولیده نو زر یې ورمنډه کړه او ورترغاړه وتو. دَ هغې لاسونه یې ښکل کړل او لاس نیولې یې کورته دننه کړه. ګل پرې دَ پاره هغه اجنبي نه وو. هغه به مور سره دَ هغې کورته تلو راتلو. دَ شامتۍ ترور دَ مرګ نه پس چې کله دَ کخېرې





کاکا بیمارۍ اوږده شوه نو جانۍ ابۍ به دَ هغهٔ پوښتنې له څو په څویمه تله، هغهٔ سره دَ هغې څوڅوځله خبرې هم شوې وې، لوبې یې ورسره هم شوې وې او جنګ جهګړې هم. په لوبو لوبو کښې ترېنه هغهٔ یو ځل دَ سر وېښتهٔ راخکلې وو او هغې ترېنه په مخ داسې سپېړه ویستلې وه چې په پوزه یې اسپه راماته شوې وه او دَ وینې چکان ترېنه پرېوتې وو. دې نه پس اګر چهٔ دَ هغوي لوبې ختمې شوې وې خو دَ هغوي عامې خبرې به کېدې. دَ مور په لېدو هغه دومره خوشحاله شو چې ګل پرې ته یې هډو سترګې مشې اونه وې. چې کله دَ هغوي زار وقربان اوشو نو هغه کوټې ته ورغله او هغه چې یوازې پاتې شو نو دَ ګل پرې خوا له ورغې او ورته یې په مُسکا اووې، "ملګرې سلام کوم" ګل پرې دَ سلام اخستو په ځائے هغهٔ ته اووې، "اوس دې سترګې اوغړېدې" هغه هغې سره په کټ کښې کېناستو او په مُسکا یې ورته اووے، "ولې، خفه شوې ملګرې، خفه کېږه مه مرې، تهٔ خو زما ملګرې یې کنه" هغې دَ هغهٔ نه مخ واړه وو او ورته یې اووې، "ماسره خبرې مهٔ کوه، زهٔ تانه خفه یم" دَ هغې په خبره هغه مُسکے شو، یولاس یې دَ هغې دَ ملا نه تاؤ کړو، په بل لاس یې دَ هغې مخ ځان ته راواړه وو او چې دَ هغې ښکلولو ته یې ځان جوړه وو نو هغه دَ هغهٔ په حماقت غصه شوه، دَ هغهٔ دَ ګرفت نه یې ځان خلاص کړو او ورته یې اووې، دا څهٔ کوے؟ ولې لېونے شوے یې څه؟"



www.pukhto.net

انځرګل :. ولې ته زما ملګرې نه یې ؟

ګل پرې :. نه زه ستا ملګرې نه یم ، په دې خبره هغه په ژړا شو ، مور پسې کوټې ته ورغی او ورته یې اووے ، "بې بې ، ګل پرې وائي چې ، "زه ستا ملګرې نه یم " .

جانی ابی :. تابه څه غلطه خبره یا څه غلط کار کړے وي کنه څکه خو درته هغه دغسې وائي ،"

انځرګل :. نه بې بې په دستګیر مې دے سوګند وي که څه غلطه خبره یا څه غلط کار مې کړے وي . ماورته سلام اوکړو خو چې زما سلام یې وانه خستو نو بیا مې ترېنه لاس تاؤ کړو اوښکلوله مې خو هغه غصه شوه او ماته یې وے چې ، "ولې لېونے شوے یې څه"؟

جانی ابی چې کټونو کښې تولایانې او برستنې واچولې نو هغه یې دَ لاس نه اونیوۀ او ورته یې اووې، " خبر دے ژاړه مه، زه به یې پخلا کړم " دې سره یې هغه لاس نیولې بهر ته بوتلو ، خپله غوټه یې اوسپړده ، دَ هغې نه یې دَ ورژو ډکه پلاستکي ګوټی را اوویستله او ګل پرې ته یې اووې ، "راځه لورې یو څو نورې ورژې اوخوره ، دَ سحره راسې دې هیڅ نه دي خوړلې" .

ګل پرې:. نه تروري ، زما زړه ته نه کېږي ، مړه یم .

جانی ابی:. مړه یې ؟ تاڅه خوړلي دي چې مړه یې ؟ راځه لورې ضد مه کوه ، خپتې سره ضد نه کېږي . دَ هغې په څو څو ځله وېنا هغه مجبوره شوه او هغوي سره کېناسته . دا هغه وروژې وې چې دَ





خړکلي دَ اصلاحي کمېټې په چنده دَ کخېرې کاکا دَ مرګ په درېمه پخ شوې وې. جانی ابی انځرګل له په خُله کښې نورې ورکولې خو هغه دومره اوږے وو چې یوه نورې به یې لا تېره کړے نه وه چې بلې ته به یې خُلهٔ واژه کړے وه . ګل پرې چې مړه شوه نو پاسېده خو هغه لامورې نه وو او په خُلهٔ کښې دَ ورکولو او دَ تېرولو دغه سلسله تر ډېر وختـه پورې روانه وه چې کله بنهٔ مورې شو نو مور ته یې اووے ، "بس بې بې مورې شوم ". دې نه پس هغه شروع شوه او هغه لاړو خپل کټ کښې سملاستو. چې جانی ابی مړه شوه نو ګوټی یې اوچته کړه په لاس کښې یې اوتلله او ګل پرې ته اووې ، "ورژې ډېرې دي، دَ سبا دَ کتهوی نه هم خلاص شو". بیا یې ګوټی پاس په تاخ کښې کېښوده او ګل پرې ته یې اووئې ، زه دا هلك اوده کوم او ته په خپل کټ کښې سر وغوړ شه او بې غمه اوده شه " ، جانی ابی دَ انځرګل دَ سرلاندې خپله څنګل کېښوده او هغه یې لکه دَ ماشوم په سینه ټپوو . ګل پرې هم په برستن کښې ننوته او مخ سر یې پکښې پټ کړل . هغه دومره ستړې ، دردېدلې او ژړېدلې وه چه په لږ ساعت کښې په دروند خوب اوده شوه او تر سحره پورې په یوه ډډه پرته وه .

## ﴿درېمه برخه﴾

امان او دَ هغهٔ پلار چې دَ کوره اووتل نو خپله لاره یې بدله کړه ، دَ کلي دَ مینځ دَ لوې لارې په ځاے ،دَ کلي نه بهر په نرۍ اوکړه وړه لاره روان شو . دا لاره په اصل کښې یوه پلنه پوله وه چې په یو



www.pukhto.net

وخت کښې پرې صرف يو سړے تلے شو او دوه کسان پرې ځنګ په ځنګ نشو تلے . هم دغه وجه وه چې کوچنے استاذ دَ هغۀ په سهاره په پوله روان وو او امان هغۀ سره ځنګ په ځنګ په پټي کښې روان وو او چې لختے يا دانګوتے به مخې له راغی نو هغۀ به هغه په غېږ کښې اوچت کړو او دَ لختي يا دانګوتي نه به يې پورېستو . کېده کېده چې هغوي لوے سړك ته اورسېدل او دَ سورلۍ په طمعه دَ سړك په غاړه اودرېدل . څۀ وخته پورې خو دَ کوچني استاذ دا خيال وو چې دَ هغۀ ستنولو دَ پاره به دَ خړ کلي دَ هغۀ ځينے شاګردان او معتقدين هغۀ پسې راشي او هغه له به په خپل کور کښې پناه ورکړي خو چې دَ هغوي له خوا هغۀ پسې څۀ هڅه اونشوه نو هغه دَ هغوي نه دومره بد دله شو چې امان ته يې اووے ، "زويه ، ما زر تر زره د دې سيمې نه اوباسه او داسے ځائے ته مې اورسوه چې د دے خلقو باد راباندې رانشي ". امان واقعي هم دغسې اوکړل . چې ګاډے راغی نو دواړه پکښې کښناستل او دَ نامعلوم منزل په لور روان شو . دَ کوچني استاذ دَ کور په ورانېدو او دَ هغۀ په تلو تول خلق خفه وو خو دَ شاه نوازخان دَ يرې هيچا هيڅ نشو ويلے . دَ هغۀ هغه شاعران شاګردان چې هغۀ سره يې ډېر ژور روحانی عقيدت لرلو او دَ هغۀ دَ قابليت په صفت نه ستړېکېدل ، داسے چپ وو چې دَ چا دَ خُلې نه چُڼ قدرې هم نۀ وتو او هر يو ځان داسے ناغرضه کړے وو لکه چې هډو هيڅ نه وي شوے، نه هغۀ څۀ ليدلے وي او نه يې څۀ اورېدلے وي.





ويلے کېږي چې شاعران او دانشوران دَ قوم او اولس سترګې وي. هم دغه وجه وه چې کله به دَ هغۀ معتقدين چرته په لاره کوځه کښې ناصافه يوبل له په مخه ورغلل نو کله دَ مېړو به يې خپلو کښې سرونه اولګول او يو بل ته به يې په سترګو سترګو کښې ډېر څۀ اووے خو نه يې چرې په ډاګه دَ هغۀ په حالت زار دَ افسوس اظهار اوکړو او نه يې عملي طور هغۀ سره مرسته اوکړه . که دَ خبرې کولو موقعه به راغله نو هر يو به دا وے ، "يره هيڅ نشو ويلے". البته ځينے کسان پکښې داسے وو چې دَ هغۀ هغه قطعه به يې دَ ورد په شکل کښې ويله په کومه کښې چې هغۀ دَ خپل ژوند، د حالاتو او دَ خپلو خپلوانو دَ رويو ترجماني کړے وه . دغه قطعه هغۀ په يوه لويه مشاعره کښې ويلے وه او سامعينو پرې واه ، واه کړې وو. قطعه دا وه چې

- اوس مې په درست جهان کښې هيچرته خواخوږے نښته
چې زۀ ترې لاړ شم بيا به خلق مې صفتونه کوي
دَ نړۍ سترګه کښې کوچنيه زۀ خسنے يمه
هسې بې هېڅه واړه مانه نفرتونه کوي

دَ هغۀ معتقدينو هغه سره دومره مينه لرله چې دَ هغۀ دَ تلو نه پس به په توره شپه کښې تلل ، دَ هغۀ دَ کډې نه به يې يو يو څيز دَ تبرك په طور پټ په پټه اوړو او په خپلو خپلو کورونو کښې يې اېښودو . پټ په پټه ځکه چې هسې نه څوك يې اوويني او شاه نوازخان ته دَ هغۀ خلاف شکايت اوکړي . په دې دې کښې دَ هغۀ تولـه کډه لاړه غېبه



www.pukhto.net

شوه . دَ یو څو کورونو نه علاوه دَ خړکلي ټول خلق دَ هغه زمیدار او همسایه وو .دغه ټولو په خپلو کورونو او کوټو کښې هم دَ هغهٔ خلاف هیڅ نشو ویلے . هغه دَ چا خبره چې خُدایه که خان مې نکړے نو دَ خان نوکرمې کړے . دا متل دَ شاه نواز خان دَ ناظر موسم خان په حق کښې بالکل رشتیا وو . دَ ځوانۍ او ناظرۍ په نشه کښې هغه ته په رڼا ورځ دَ اسمان ستورې ښکارېدل خو دَ پښو لاندې زمکه یې نه لیدله . چې کوم سړے به یې دَ پامه چپ راغۍ نو دَ هغهٔ خلاف به یې دَ شاه نواز خان غوږونه ډك کړل چې هغه پسې مې خبرې کړې دې ، بیا به ورپسې ماښام کور ته ورغۍ او ورته به یې اووے ، "هلکه خان دے غواړي حجرې ته راشه ". شاه نوازخان هم دَ یوې خبرې سړے وو، چې هغه به حجرې ته ورغۍ نو د سپیناوې تپوس نه وو. موسم خان به دَ حجرې دواړه ګېټونه بند کړل چې دَ هغهٔ خلاصی پسې څوك دَ بهر نه رانشي او هغه به ورته لوړ اونیوو او په هغه ځاے به یې وهو چې اوچ ترك كوي. چې كله به هغه دَ لادو بادو پرېوتو نو موسم خان به دَ رحمت دَ فرښتې په شکل کښې ورغۍ، او ورته به یې اووے ." بس دے خان جي ، نور یې مهٔ وهه ، هلك دے پوهـ شوے نه دے ، بیا به داسې نهٔ كوي زهٔ دَ دهٔ ضمانت کوم چې بیا به نه ګډې وائي او نه به چاته دَ خپلو وهلو حال وائي " چې هغهٔ به ښهٔ قسمې کړو نو بیا به یې ورته اووے ، " شابه تخته ظالمه ګیني وژني دے ." په دې دې کښې هغهٔ پټ په پټه ښهٔ ښهٔ کورنۍ بې عزته





کړے او هغوي به دَ پوز پرېکړو غوندې یو بل ته حال نه وے .
دَ کوچني استاذ کور ځکه وران شو چې دَ هغهٔ زوي امان نه موسم خان ته سلام کوو او نه حجرې ته ورتلو .کخېرې کاکا ته کډه ځکه بهر اوغورځولې شوه چې دَ څو څو ځله وېنا باوجود هم هغې دَ موسم خان دَ دویمې ښځې جوړېدو نه انکار کړې وو. د هغې نتیجه دا شوه چې دواړو نه کورونه هم لاړل او کډې هم لاړې . ګل پرې خو دَ جانۍ ابۍ کور کښې پناه واخسته او هغوي پلار او زوے دَ پنائۍ په تلاش کښې کله په ګاډي کښې او کله پیاده سر وهلے بروهلے حېران وپرېشان ګرځېدل او په تپوس تپوس دَ یو کلي نه بل او دَ بل نه بل ته تلل. په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې به چې کوچنے استاذ ستړے شو او مخکښې به نشو تلے نو امان به په شا کړو او چې دَ هغهٔ په شابه ستړے شو نو بیا به یې دَ لاس نه اونیوو او مخکښې به روان شو. دَ څو څو ورځو ګرځېدو نه پس هغوې دَ چا په ښودنه دَ بالاکلي نه بهر دَ فقیر بابا یو شاړ ارټ ته ورغلل . ارټ سره خوا کښې دېوال په دېوال دَ هغهٔ کور هم وو او دَ هغهٔ لس اتهٔ جریبه زمکه هم وه . دا ارټ څهٔ موده مخکښې چلېدو او هغهٔ به پرې دغه ټوله زمکه اوبهٔ کوله. په دغه زمکه به هغهٔ غنم ، جوار، چڼه ، مونګ پهلي او څهٔ نور فصلونه کرل او ښهٔ ډېرامدن به یې ترېنه اخستو خو څهٔ موده مخکښې دَ هغهٔ ځینے تربوران هغهٔ ته راپورته شول او دَ هغهٔ په زمکه یې دَ قبضې کولو کوشش اوکړو دَ هغې نتیجه دا شوه چې دَ فریقین ترمینځه



www.pukhto.net

ډزے اوشوے . په ډزو کښې یو خوا دَ فقیر بابا زلمے زوے عارف جمال مړ شو او بل خوا دَ هغهٔ په تربورانو کښې دوه کسان مړهٔ شول. دَ بالا کلي او خواو شانورو کلیو مشران او سپین ږیري ترمینځه شو ، دَ هغوي دَ ډزبندۍ تیگه یې کېښوده او دَ روغې جوړې کوشش یې کوو خو خوند یې اونکړو . خوند یې ځکه اونکړو چې تربورانو ترېنه دَ یو زیاتي مړي په بدل کښې توله زمکه غوښتله خو فقیر بابا دې ته تیار نهٔ وو. چې زمکه متنازعه شوه نو زمکه هم شاړه شوه او ارت هم شاړ شو. دَ فقیر بابا دوه زامن او درې لونه وې . په زامنو کښې ترېنه عارف جمال لاړو او علی رحمان لا دَ پنځو شپږو کالو ماشوم وو . دَ هغه دوه لونه وادهٔ شوې وې او کشرې لور گل ناز یې په اتهم جماعت کښې سبق ویلې . دَ کلي مشرانو یو ځل دوه بیا دَ هغوي دَ روغې جوړې کوشش اوکړو او دَ زمکې په بدل کښې یې ترېنه گل ناز دَ سورې په طور غوښتله . اگر چهٔ فقیر بابا دَ سورې ورکولو نه ساپټ انکار اوکړو خو دَ کلي مشران لا مایوسه نه وو او ځو په ځوېمه به فقیر بابا سره دَ هغوي خبرې کېدې . چې کله دَ فقیر بابا زمکه او ارت شاړ شو نو هغهٔ زمیداري پرېښوده . گډې بزې به یې ساتلې ، هغه به یې په خپله متنازعه زمکه کښې سرولے او دَ ارت په دغه شاړه کوته کښې به یې دَ شپې تړلے . فقیر بابا په پاك آرمي کښې هم څهٔ موده نوکري کړے وه . په پنشن به یې خپل وخت تیرووو او چې کله به ډېر اریان شو نو یو اورے یا بکرا بکرے به یې خرڅ کړو او خپله اریانه به یې پوره کړه.





کوچنے استاذ او امان دواړه ستړي وو خو هغهٔ سره دَ خپل ځان نه زیات دَ خپل پلار فکر وو . هغهٔ دَ ارت نه بهر خپله غوټه او سپړده ، یوه درۍ یې ترېنه را اوویستله او په هغې یې هغه سملوو. هغه چې ارت ته ورغی نو دَ ارت غولے او کوته دَ گډو بزو دَ اوچو او تازه پچو نه ډکه وه . هغه دَ کوتې نه په دے غرض بهر اووتو چې چرته جهارو پېدا کړي او دَ ارت کوته او غولے صفا کړي. هغه چې دَ جهارو راوړلو په غرض دَ کور په مخه روان شو نو فقیر بابا توپك په لاس دَ هغهٔ په طرف گرندے راروان وو. داسې معلومېده چې هغهٔ هغوي دَ لرې نه لیدلي وو او هم هغوي پسې را روان وو . هغهٔ چې هغه په گړندو قدمونو اولیدو نو هغه دَ هغوي دروازې سره پښه نیولے شو او دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار یې کوو . فقیر بابا چې دَ هغهٔ خواله اورسېدو نو امان هغهٔ ته سلام اوکړو او دَ ستړي مشي لاس یې ورکړو . هغوي دواړو چې یو بل له لاسونه ورکړل نو هغه ترېنه تپوس اوکړو، "ته ځوك یې زلمیه ، ما اونه پېژندے ، دلته په څهٔ غرض راغلے یې. امان هغهٔ ته په معصومانه مُسکا اووے ، "بابا ، زما نوم امان دے . ماسره زما نابینا پلار دے ، مونږ مسافر یو او دَ فقیر بابا دَ ارت دې کوته کښې پناه اخستل غواړو ".

فقیر بابا :. تهٔ فقیر پېژنے ؟

امان:. نه بابا زهٔ هغه نه پېژنم خو داسې معلومېږي چې تهٔ فقیر بابا یې.

فقیر بابا:. ستاخبره بالکل ټیك ده ، زه فقیر یم ، ښه دا راته اووایه چې



www.pukhto.net

زۀ ستا څۀ خدمت کولے شم ؟

امان :. بابا مونږ مسافر یو خپل کورمو نیشته . ستادَ ارتې په کوټه کښې یوڅو ورځو دَ پاره اوسېدل غواړو . چې کله راته څۀ مستقل ځائے ملاؤ شي نو بیا به لاړ شو .

فقیر بابا:. ماسره ستاسو دَ اوسېدو ځائے نیشته . دارتې دغه یوه کوټه ده او دې کښې زۀ دَ شپې ګډې بزې بندوم .

امان:. هیڅ پروا نیشته بابا . مونږ پلار او زوے به دغه ګډو بزو سره یوخوا ته پراتۀ یو .

فقیر بابا:. ګډو بزو سره ؟ زۀ دومره ساده او ناپوهه نه یم چې ستا په خُله اعتبار اوکړم . زۀ خو دَ شپې ګډو پسې ورجرنده کړم او ښه په ارام په خپل کور کښې سملم . او چې تاسو پکښې ډهیره شې نو جرنده خو درپسې نشم اچولے .

امان :. دَ جرندې ضرورت څکه نیشته چې ستا دَ ګډو بزو څوکۍ به مونږ کوو.

فقیربابا:. او ستاسو څوکۍ به څوك کوې؟ په تاسو څۀ اعتبار که دَ شپې رانه ګډې بزې بوځۍ نو بیا؟

امان:. ستاخبره ټیك ده بابا ، نن سبا په هیچا اعتبار نشي کېدے خو زۀ تاسو له دا یقین درکوم چې مونږ په هغه خلقو کښې نه یو.

فقیر بابا:. زۀ په تاسو څنګه اعتبار اوکړم چې تاسو ښۀ خلق یې:. څوك ضمانت راکولے شې .





امان:. مونږ مسافر یو بابا ، نه مو څوك پېژني او نه څوك پېژنو.

فقیر بابا:. ښه نو بیا ؟ تۀ په خپله دا خبره منے چې دَ اعتبار وخت نه دے پاتے نو زۀ په تاسو څنګه اعتبار اوکړم ؟

امان:. ډېره ښۀ ده بابا . زۀ نه تاسو مجبورولے شم او نه مو مجبورول غواړم . ډیره مهربانې ، خفه نشے . امان چې دَ هغۀ نه مایوسه شي نو دَ پلار خوا له ورشي او هغه ته وائي ، "بابا لاس راکړه ، راپاسه چې ځو" کوچنے استاذ پاسي او په پاسېدو کښې هغۀ ته وائي، ولې زویه کار اونشو ".

امان:. نه بابا اونشو . داسې معلومېږي چې مونږ هډو د دې دنیا مخلوق نه یولکه چې په دې دنیا کښې مونږ ته هډو دَ اوسېدو حق نیشته .

کوچنے استاذ:. زویه ، چې اونشوه نو اونشوه ، دا شپه به هم لکه دَ نورو شپو چرته دَ اونې لاندې تېره کړو ." امان خوره درۍ اوڅنډله ، بیا یې غونډه کړه او په خپله غوټه کښې یې کېښوده . دې نه پس یې په یو لاس هغه اونیوه ، په بل لاس یې دَ هغۀ لاس اونیوو او ځان سره یې روان کړو . فقیر بابا چې هغوې په تلو اولیدل نو امان ته یې اووے، "اودرېږه زلمیه " چې هغه اودرېدو نو دَ هغوې خوا له ورغی او ورته یې اووے ، " په تانۀ یرېږم ، تۀ ځوان زلمے یې او هره سخته زغملے شے خو په دے بوډا پلار دے خفه یم . دے به ځان سره چرته او کوم خوا ګرځوے ."

امان :. دا زمونږ مسله ده ، تۀ خپل غرض وایه بابا .



www.pukhto.net

فقیر بابا:. که تاسو دلته پاتېکېدل غواړۍ نو پاتېکېدېشی. زهٔ به خپلې ګډې بزې په خپل کور کښې اوتړم خو پرق دَ یو لاس نه نه خېژي. زما په مطلب پوهـ شوے ؟

امان:. نه بابا، ستا په خبره هیڅ پوهـ نشوم. خپله خبره واضحه کړه.

فقیر بابا:. زما مطلب دا دے چې ماله به کرایه راکوې.

امان:.(په حېرانتیا) کرایه ؟ د دې زړې کوټې کرایه؟ . . . څومره کرایه؟

فقیر بابا:. زر روپۍ میاشت؟

امان:. زر روپۍ خو ډېرې زیاتې دي.

فقیر بابا:. زر روپۍ ډېرې نه دي، صرف یو نوټ دے او هغه هم بازار ته دَ تېنګۍ نه دے.

امان :. دېکښې څهٔ کمے کېدېشي؟

فقیربابا:. نه، دیکښې هیڅ کمے نشي کېدې. اوس ستاسو خوښه ده که پاتې کېږې اوکه ځې. تاسو په خوښه یې ؟

امان:. څه ټیك ده، چې تهٔ کمېږے نه نو دغه به درکوم. زما اوستا خبره اوشوه.

فقیر بابا:. چې خبره اوشوه نو جېب ته لاس کړه او زر روپۍ رااوباسه.

امان:. ماخو لاستا په کور کښې کړه هم نه ده اېښې او روپۍ دَ اوس نه غواړے. چې میاشت پوره شي نو روپۍ به درکړم.

فقیر بابا:. نه خانیه نه، دَ هرې میاشتې کرایه به مخکښې راکوے. زهٔ بیا په خپل حق جهګړې نشم کولے. هغه جېب کښې ګوتې





وهې. دَ جېب نه یو زرګون را اوباسي او هغه ته وائي، "ماسره صرف دا یو نوټ دے. چې دا تاله درکړم نو مونږ به څهٔ کوو". دَ هغهٔ په خبره کښې کوچنے استاذ رادانګي او وائي، "دهٔ لـه کرایه ورکړه بچے. کېدېشي د دهٔ ضرورت زمونږ نه زیات وي." دَ پلار په وېنا چې هغه هغهٔ له دَ زرو روپو نوټ ورکړي نو هغه مُسکے شي، نوټ ښکلوي او هغهٔ ته وائي، "تاسو لږ ایسار شۍ، زهٔ کور ته ورځم او جهارو راوړم چې دا کوټـه او غولـے صفا کړم". هغـه دَ هغوي دَ جواب انتظار اونکړي او کور ته روان شي. لږ شېبه پس یې جهارو او شکرۍ راوړه او کوټه او غولې یې صفا کړو. چې کله صفائي مکمله شوه نو هغوي ته یې اووے، "ځې ورځې اوس ښه بې غمه په خپل کور کښې سملې. امان هم دغسې اوکړل، په کوټه کښې یې درۍ اوغوړوله او پلار ته یې اووے، "راځه بابا په درۍ سمله چې لږ دمه شے". کوچنې استاذ دَ جېب نه یوه غوټه را اوویستله او هغهٔ ته یې اووے، "دا غوټه اوسپړه بچے چې څومره روپۍ دي پکښې" امان چې غوټه اوسپړده او روپۍ یې اوشمېرلے نو بیا یې اوتړله او هغهٔ تهٔ یې اووے،" دا غوټه واخله بابا، اتیا روپۍ دي پکښې."

کوچنے استاذ:. دا ځان سره کېږده بچے، په کار به دے راشي. امان هم دغسې اوکړل، غوټه یې جېب کښې کېښوده او هغهٔ ته یې اووے، "بابازهٔ دَ کلي دوکان ته ځم چې دَ خوراك څښاك دَ پاره څهٔ راوړم".

کوچنے استاذ:. څه ورشه بچے خو زر راځه.



www.pukhto.net

هغه چې دَ فقیر بابا د کور مخې ته تېرېدو نو په پورے ور ورته دَ فقیر بابا ښځه او دَ هغهٔ لور گل ناز ولاړه وه او دواړو دَ ور په چودو کښې هغه ته کتل . دَ هغهٔ په لیدو دَ فقیر بابا ښځه لگیا وه او په رپېدلو شونډو یې ځان سره غلې غلې وئیل ، "یَه خدایه ! دا مسافر خو تول زما دَ عارف جمال غوندې دے . هغه دَ چندنړ اونه ، هغه په شا اړولے وېښتهٔ ، هغه غټې تورې سترگې ، هغه گورې روڅې ، نرۍ یاقوتې پوزه ، خنده رویه سپین مخ ،دَ سپین مخ دَ پاسه تو کېدلے شین پشم ، هر اندام یې دَ ستایلو او هر قدم یې دَ ښکلولو دے . داسې معلومېږي چې زما عارف جمال بیا ژوندے شو او زما کور ته راغی.

یَه خدایه! ته یې راتلهٔ بختور کړے او تهٔ یې زما په کور کړے " .

زیږ مازیگر وو چې هغه دَ کلي په لور روان شو . چې کلي ته اورسېدو نو نمر په غرغره وو. هغهٔ دَ نانبائي دَ دوکان نه دَ شلو روپو ډوډۍ واخسته ، هغه یې په څادر کښې اونغښته او واپس راروان شو . ماښام تیارهٔ چې هغه ارټ ته اورسېدو نو هغهٔ ته په کوټه کښې رڼا ښکاره شوه .هغه چې کوټې ته ورغی نو دَ کوټې په تاخ کښې ډیوه بلېده او دوه سم شوي کټونه هم پراتهٔ وو. په یو کټ کښې کوچنے استاذ په بړستن کښې پټ مخ پروت وو او بل کټ خالي وو. دَ ډیوې او کټونو په لیدو هغه ډېر خوشحاله شو. هغهٔ په پلار اواز اوکړو ، "بابا ویښ یې که اودهٔ". دَ هغهٔ په اواز هغهٔ دَ بړستن نه سر بهر کړو او ورته یې اووے، "ویښ یم بچے خو یخنې مې شوے وه نو په بړستن کښې مې مخ پټ کړے وو".





امان:. بابا، دا ډیوه ، کټونه او اسبابونه چا راوړل ؟

کوچنے استاذ:. داسې معلومېږي چې دَ فقیر دَ کور څوك زنانه وې. دَ یو ماشوم خبرې مې هم پکښې وورېدے . دَ هغهٔ دَ خلې نه ایله دغه الفاظ اووتل چې دَ پنځو شپږو کالو یو ماشوم دَ غټو ورژو ډکه مجمعه په لاس کوټې ته دننه شو او امان ته یې اووے ، "لالاجي‌دا ورژې واخله". امان چې هغهٔ ته اوکتل نو وے وئېل ، "لوے شے هلکه لوے شے .تا ولې تکلیف کوو، ډوډۍ خو ما راوړے ده ". ماشوم هغهٔ له څهٔ جواب ورنه کړو ، سر یې خکته کړو او دَ کوټې نه اووتو خو ډېر زر بیا واپس شو، ډك جام اوبهٔ یې راوړے او هغه له یې ورکړے ، هغهٔ ته داسې محسوسه شوه چې دَ کوټې نه بهر څوك ولاړ دي او دَ اوبو جام هغه کس ورکړو . بهرحال هغهٔ دَ تپوس ضرورت محسوس نهٔ کړو، درۍ یې اوغوړوله ، دَ ورژو مجمعه یې پرې کېښوده او پلار ته یې اووے ، "راځه بابا چه ډوډۍ اوخورو". کوچنے استاذ دَ هغهٔ په سهاره دَ کټ نه کوز شو او درۍ باندې هغهٔ سره ډوډۍ ته کېناستو . هغوي چې ښهٔ په مړه خېټه ډوډۍ اوخوړه نو امان مجمعه یو خوا ته کېښوده ، پلار یې کټ ته اورسو او درۍ یې غونډوله چې ماشوم بیا راغی ، مجمعه یې اوچت کړه او په منډه بهر اووتو دَ ډوډۍ نه پس دواړه په خپلو کټونو کښې پرېوتل او هله ویښ شول چې سحر ماشوم ناشته په لاس دَ امان کټ ته اودرېدو او ورته یې اووے ، "پاسه لالا جي چایې اوڅکه ". امان چې دَ هغهٔ په اواز ویښ شو نو مُسکے



www.pukhto.net

شو او ورته يې اووے ، "تا بيا تکليف اوکړو ، د دې څۀ ضرورت وو."

ماشوم:. نه لالاجي ، دا څۀ تکليف دے. مور مې وې چې تاسو مسافر يې .

امان :. تۀ خو ډېر اوښيار هلك يې ، ستا څۀ نوم دے ګله ؟

ماشوم:. زما نوم علی رحمان دے .

امان:. ډېر ښۀ ډېر ښۀ . څوېم جماعت کښې سبق وائے .

علی رحمان:. زۀ سبق نه وېم ، پلار سره ګډې بزې سروم . دې سره هغه په منډه دَ کوټې نه اووتو . دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغوي پلار او زوے کېناستل او ښۀ په مړه ګېډه يې ناشته اوکړه . دَ ناشتې نه پس هغۀ پلار ته اووے ، "بابا که ستا خوښخه وي نو زۀ به درنه مزدورۍ دَ پاره لاړ شم " کوچني استاذ په ناسته ناسته برستن دَ ځان نه تاؤ کړه او ورته يې اووے ، "مزدورۍ له به چرته لاړ شے بچے ".

امان:. بابا ، په بالا کلي کښې څۀ ابادۍ شروع دي . ځائے په ځائے ډېر مزدوران لګيادي کارکوي . زۀ به هم ورشم که څۀ کار راته ملاؤ شو.

کوچنے استاذ:. ځه ورشه بچے ، الله دے مل شه . . .خوناوخته کوه مه.

امان:. ډېره ښه ده بابا ، لاړم درنه سلام عليکم .

کوچنے استاذ :. وعليکم سلام ، دَ الله په امان . هغه چې بالا کلي ته اورسېدو نو په رومبي پړاؤ کښې هغه په کار اولګېدو. ترڅلورو بجو پورې چې هغۀ کار اوکړو او چې چهټې شوه نو هغۀ دَ مالك نه خپله دياړي واخسته په هغه پېسو يې لږه لږه سودا واخسته او چې ماښام





تيارۀ يې کورته سودا راؤړه نو هغۀ ته دَ فقير بابا خبره ورياده شوه چې دَ يو لاس نه پړق نه خېژي . دَ هغۀ په زړه کښې راغله چې ډوډي، چايې او دَ ضرورت نورڅيزونه دَ فقير بابا دَ کوره راځي نو هغۀ له پکار دي چې دغه سودا هغۀ کره اولېږي . هغۀ هم دغسې اوکړل او هغه ټوله سودا يې دَ علي رحمان په لاس هغوي کره اولېږله . په سبا چې هغۀ بيا دَ مزدورۍ نه پس سودا واخسته او کور ته يې راؤړه نو دَ هغوي په کوټه کښې دَ ډيوې په ځائے لالټېن بلېدو . دَ کوټې لپائي هم شوې وه او دَ خوشبوۍ دَ پاره پکښې اګربتۍ هم لګېدلې وې. دَ ډوډۍ خوړلو نه پس هغۀ هغه سودا او ميوه دانه دَ علي رحمان په لاس هغوي کره اولېږله . په درېمه ورځ چې هغه ماښام کورته راغۍ نو دَ هغوي په کوټه کښې چونه هم شوې وه ، دَ اوبو ډك بالټې هم پروت وو، په تاخ کښې صابن داني ، اينه ګُمنزه هم پرته وه او په ميخ کښې يوه نوې توليه هم اوېزانده وه . هغوي پلار او زوي چې دَ معمول مطابق ډوډۍ اوخوړه او په خپل خپل کټ کښې سملاستل نو امان ته داسې محسوسه شوه چې دَ هغۀ په بستره دَ پرفيوم سپرې شوې وې. دَ هغۀ حېرانتيا هغه وخت نوره هم زياته شوه کله چې هغۀ دَ بالخت لاندې يو ليکلے شوے کاغذ اوليدو . هغۀ چې کاغذ اوچت کړو او اوېې سپړدو نو هغه هغۀ ته رالېږلے شوے خط وو. خط داسے وو .

خوږه مسافره خوشحاله اوسے

سلامونه:. نن دوېمه ورځ ده چې تۀ دَ علي رحمان په لاس مونږ کره



www.pukhto.net

سودا رالېږې . دا ولې او څۀ مقصد دَ پاره ؟ ته زمونږ دَ ډوډۍ بدل خلاصول غواړې او کـه دَ خپـل اخـلاص مظاهره کول غواړې ؟ داسې مۀ کوه مسافره ، مونږ ته نۀ ستا دَ سودا ضرورت شته او نۀ ستا دَ اخلاص . ترڅو چې تاسو دلته يې نو زمونږ په خدمت کښې به کمې نه راځي. بله خبره دا ده چې زما پلار دَ خويه تريخ دې خو په زړۀ ډېر نرم دې . دَ هغۀ ترخه خبره زړۀ ته مۀ اچوه ، بس ښه ورته کوه . خفه نشې . نورې خبرې به بيا شي .

والسلام

هغۀ چې خط اولوستو نومُسکې شو او په مُسکا مُسکا يې خط ته کتل بيايې په زړۀ کښې راغله چې هم د دې خط په شا په خالي مخ دَ خط جواب ورکړي . هغۀ ايله دَ پاسېدو هڅه اوکړه چې بهر نه دَ کوټې ورلرې شو او فقير بابا دننه راغی . دَ هغۀ په ليدو هغۀ خط دَ بالخت لاندې کېښودو او دَ هغۀ په احترام کښې پاسېدو . دَ راتلو سره هغۀ په دروند اواز اووې ، "هلکه پلار دې وښې دې که اوده دې ؟ هغۀ لاځۀ جواب نه وو ورکړې چې کوچني استاذ دَ برستن نه سر بهر کړو او ورته يې اووې ، نه فقير خانه اوده نۀ يم، راځه ماسره کېنه . فقير بابا چې هغۀ سره په کټ کښې کېناستو نو امان ته مخاطب شو او ورته يې اووې ، "هلکه کاروبار دې څنګه دې ".

امان:. کاروبار نه بابا ، دياړي ، مزدوري .

فقير بابا:. هاؤ هاؤ دياړي يعني مزدوري .

امان:. ښه ده بابا ، وخت پرې تېرېږي.





فقير بابا:. امانه بچې ، پرون دې راته پلار وې چې تۀ ښۀ تعليم يافته يې.

امان:. نه بابا تعليم يافته نه يم خو خوانده يم . ما دولسم جماعت پاس کړې دې .

فقير بابا:. شاباش بچې ، ډېر ښۀ . . .ته چرته دَ سرکاري نوکرۍ کوشش ولې نه کوې ؟

امان:. بابا کومه نوکري چې زۀ غواړم نو ملاوېږي نه او کومه چې نه غواړم نو ملاوېږي .

فقير بابا:. تۀ څنګه نوکري غواړې ؟

امان:. هرڅنګه چې وي خو چې سحر دَ کوره وتې او لوړ مازيګر کور ته واپس راتلې .

فقير بابا:. هلکه په اوړو پاؤړو دې نۀ پوهېږم خو که فوج ته تلل غواړې نو ځان تيار کړه چې سبا له دې بوځم او بهرتي دې کړم.

امان:. ډېره مهرباني بابا . دغه نوکري زۀ نه غواړم .

فقير بابا:. ولې دَ فوج خو ډېره ښه نوکري ده . راشن فري، رهائش فري، وردي فري، علاج فري او تنخواه او پنشن پرې تېرې .

امان:. ستاسو خبره کښې هيڅ شك نيشته باباخوزۀ به هغه نوکري څۀ کړم چې دَ خپل معذوروه بابا خدمت پرې رانه پاتې کېږي .

فقير بابا:. دَ بابا غم دې مۀ کوه ، که تۀ يې او که نۀ يې ، دَ بابا خدمت به کېږي .

امان :. واقعي ، ستاسو په خلوص کښې هيڅ شك نيشته خو ماله هم



www.pukhto.net

خپل فرض ادا کول پکار دي .

فقیر بابا: تا دَ خپل مستقبل په باره کښې څهٔ سوچ کړے دے ؟ تا نه به څهٔ جوړیږي ؟

امان: مستقبل په سوچونو نهٔ جوړیږي . زما مستقبل به هغه څوک جوړه وي چاچې زهٔ جوړ کړے یم.

فقیربابا: ماستارخان سره ستا په باره کښې خبره کړے ده . ځان تیار کړه چې سبا له دے هغه سره لاس کړم .

امان: ستارخان څوک دے او تا ورسره زما په باره کښې څهٔ خبره کړے ده ؟

فقیربابا: ستارخان زمونږ دَ بالا کلي خان دے . دَ هغهٔ دَ خښتو لس بهټۍ دي. په هره بهټۍ کښې یو یو منشي شته دے خو دَ هغهٔ په هغوي اعتبار نیشته . هغهٔ ته دَ یو داسے منشي ضرورت دے چې هغه هره ورځ په هغوي ګرځي ، دَ هغوي دَ کهاتې چیکنګ کوي ، دَ هغوي نه پیسې اخلي، ځان سره یې لیکي او دَ هر منشي بیله بیله پنګه هغهٔ ته حواله کوي . زهٔ تاله دے دَ پاره راغلم چې تا خبر کړم . که تهٔ دا نوکري کول غواړے نو چې سبا له دے ورله بوځم ".

امان: نوکري که هر رنګه ده خو چې تاسو ورسره خبره کړے ده نو ضرور به درسره ځم انشاء الله .

فقیربابا: ښه نو زهٔ درنه کورته ورځم ، نورې خبرې به سباله اوکړو.

امان: ډېره ښه ده بابا ، دې سره فقیر بابا دَ هغوي نه رخصت واخلي او





کور ته روانیږي . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغه ورزنځیر کړي، پن واخلي او دَ رالیږلے شوے خط په شا دَ خط جواب لیکي .

خورې ...خوشحاله اوسې .

سلامونه ! ستا دَ خط رالیږلو ډېره منته .

ستا دَ تپوس جواب دا دے چې زهٔ نه ستاسو دَ چایې ډوډۍ بدل خلاصول غواړم ، نهٔ دَ خپل اخلاص مظاهره کول غواړم او نهٔ دغسې کولے شم ځکه چې زهٔ ستاسو دَ احساناتو بدل نشم خلاصولے. زهٔ تاسو کره سودا ځکه درلیږم چې مونږ سره نهٔ دَ پخلي والا څوک شته او نهٔ دَ پخلي لوښي شته . دې نه علاوه زما بل هیڅ مقصد نیشته. زما په وضاحت خفه نشې .

والسلام

امان .

هغه چې خط اولیکي نو مات رامات یې کړي او دَ بالخت لاندې یې کېږدي . بیا لالټین مړ کړي ، په کټ کښې سملي او دَ سبا په امید خوشحاله خوشحاله اودهٔ شي. سبا سحر چې هغوي ناشته اوکړه نو فقیر بابا راغۍ او هغه ورسره دَ پلار په اجازت په دعا سلام روان شو.

## ﴿ څلورمه برخه ﴾

ګل پرې پوره یوه هفته دَ پلار په ماتم کښې دَ جانۍ ابۍ په کور تېره کړه . څهٔ هغه غریبه وه او څهٔ په جانۍ ابۍ دَ غریبۍ نور وس نه رسېدو . هغه دومره حساسه وه چې دَ خپل ځان نه شرم ورتلو او په



www.pukhto.net

ذهن کښې به یې دا خیال بیا بیا راتلو چې هغه به تر کومې پورې په تیټو سترګو دَ جانی ابی دودی ته ناسته وي . هغې له پکار دي چې دَ کور په خرچه کښې هغې سره لاس اوکړي ، څۀ ناڅۀ کور ته راوړي او په هسکو سترګو وخت تېره وي. د دغه خیال په راتلو سره هغه په اتهمه ورځ بازار ته لاړه ، دَ خپلو غوړونو والی یې خرڅې کړې او په هغه پېسو یې رانجۀ ، کجل ، ګولیهار، سلایانې ، رجرومې او دَ منیاری نور لړ لړ سامان هم واخستو او کور دَ پاره یې سودا هم واخسته . مابنام هغوي تولو ښه په مره خېټه دودی اوخوړه . په سبا هغې خپله غاړه غوټه په سرکړه او دَ سودا خرڅولو دَ پاره دَ کوره اووته . دَ خواؤ شا کلیو تولو زنانهؤ هغه پېژندله . هغوي چې هغه اولیده نو ډېرې خوشحاله شوې او هر چا ترېنه دَ خپل ضرورت څیزونه واخستل. هغه چې دَ دوېم کلي نه وته نو دَ هغې سودا ختمه شوې وه . هغه چې کور ته راغله او خپل حساب یې اوکړو نو دَ خپل مول نه یې زیاته ګټه کړې وه . په سبا هغه بیا بازار ته لاړه ، خپله سودا یې واخسته او کور دَ پاره یې هم سودا واخسته . دغه سلسله چلېده چې یو څو ورځې پس دَ پولیو په تیم کښې شامله شوه . بیا به یې اتوار په اتوار دَ پولیو ډیوټي کوله او په نورو ورځو به یې خپله سودا خرڅوله . څه موده پس یې دَ میناری دَ سودا سره سره دَ جوړو جامو او دَ توکي خرڅولو کار هم شروع کړو . چې کله هغې په رومبي ځل توکي راوړل نو یوه جوړه یې ځان دَ پاره پرېکړه ، بله یې جانی ابی دَ پاره او





درېمه یې انځرګل دَ پاره پرېکړه . اوس هغوي تول په ګېډه ماړه او په جامه پټ وو. هغې ته دَ جانی ابی دَ عمر او دَ هغې دَ بیماری هم احساس وو او دَ انځرګل دَ مستقبل هم. دَ هغې په وېنا جانی ابی دَ بټ دنده پرېښوده او په کور کېناسته . هغې هغه اولامبوله . دَ عمرونو چمبړ شوے خیرې یې ترېنه لرې کړو ، وېښتۀ یې ورله ګُمنز کړل، دَ شړشمو په تېلو یې ورله غوړ کړل ، سرځنه یې ورله اوکړه ، نوې جامې یې ورته واغوستولې ، په کټ کښې کېنوله او ډوډو ته یې ورته بالختونه کېښودل . بیا یې دَ کلي نائي راؤغوښتو او په هغه یې په خپله نګرانی کښې دَ انځرګل وېښتۀ واړه کړل. دې نه پس یې ورته غسل خانه کښې ډك بالټے اوبۀ ، صابن، تولیه او نوې جوړه جامې کېښودې او هغه یې غسل خانې ته اولېږو . دَ لامبلو نه پس یې دَ هغۀ دَ پښو لاسونو نوکونه پرېکړل . دَ هغۀ دَ پښو لاسونو نه یې دَ خیرې کویلې لرې کړل او نوې څپلی یې ورته په پښو کړې. په سبا یې هغه دَ ښار یولوې هسپتال ته بوتلو او په یو لوے ډاکټر یې. دَ هغه میډیکل چېك اپ اوکړو. دَ مختلف تستونو نه پس هغې ته معلومه شوه چې دَ هغۀ هیڅ بیماري نیشته خو دَ توانائی او وینې کمې دے پکښې ،هغې دَ ډاکټر تول لیکلي شوي دارو واخستل او دَ هغۀ دَ هدایاتو مطابق به یې په خپله ورکول . دَ ډاکټر دَ دارو او دَ قوت بخش خوراك په وجه به لږو ورځو کښې دَ هغۀ په مخ کښې وینه اوځلېده او هغۀ ته دَ خپل ځان احساس اوشو خو دَ هغۀ دَ ماشوموالي



www.pukhto.net

عادتونه لا هغسې وو. هم هغسې به یې دَ مور په لاس ډوډۍ خوړه او هم هغسې به دَ هغې په ځنګل اودهٔ کېدو. دَ هغه دغه عادتونه دَ هغهٔ حماقتونه وو او هغه په دے کوشش کښې وه چې په څهٔ طریقه دغه قباحتونه دَ هغهٔ نه اوځي. یوه ورځ دَ هغهٔ په غېرموجودګۍ کښې هغې په دغه حقله جانۍ ابۍ ته اووې، "تروري، تهٔ به تر کومې پورې انځرګل له په خلهٔ کښې ډوډۍ ورکوې او تر کومې پورې به یې په خپله ځنګل اودهٔ کوې. هغه زلمے شو خو خوې بوې یې لا هغسې دَ ماشومانو دے. دَ هغهٔ اخلاقي، ذهني او مذهبي تربیت پکار دے. دَ اولاد ترتیب دَ مور پلار ذمه وارې ده، که پلار یې نیشته نو مورخو یې شته، خو هغهٔ سره ستا مینه دے حد ته رسېدلې ده چې تهٔ یې دَ خپل فرض نه غافله کړې یې. هغه به په دې معاشره کښې څنګه اوسي او څنګه به وخت تېره وي." جانۍ ابۍ چې دَ هغې خبرې واورېدې نو په لوے سوچ کښې پریوته. هغه یوه شېبه چپ وه، بیا یې غاړه تازه کړه او وې وئیل "تهٔ ښهٔ وائې لورې، هغه ما په خپله سینه لوے کړے دے او په خپله غېږه کښې مې لوبولې دے خو بهر دنیا ته مې نه دے پرېښے او په دې دې کښې هغه زلمے شو".

ګل پرې:. هغه زلمے شو خو نه نمونځ ورځي، نهٔ دَ اودس چل ورځي او نهٔ دَ نمونځ په طریقه پوهېږي. صرف یوه کلمه ورځي او هغه هم څهٔ تیک او څهٔ غلطه.

جانۍ ابۍ:. که تهٔ ورسره څهٔ کولې شې نو کوه، زمانه خوناپوره ده.





ګل پرې:. هغهٔ سره نهٔ تهٔ څه کولې شې او نهٔ زهٔ. زمونږ خبرې دَ هغهٔ په غوږونو نه لګي. که ستاخوښه وي نو زهٔ به یې دیني مدرسې ته بوځم چې دَ دین تول احکام اوپېژني. هلته به دَ هغه اخلاقي تربیت هم اوشي او ذهني او مذهبي تربیت هم. دغسې به ستا غاړه هم خلاصه شي او دَ هغهٔ کمے به هم پوره شي.

جانۍ ابۍ:. ډېره مې خوښه ده لورې زماله خوا تاته اجازت دے بالکل یې بوځه. دَ هغهٔ دَ ښېګړې دَ پاره به زه په خپل زړه دَ صبر کانړې کېږدم خو نور به یې ژوند خرابېدو ته پرې نږدم. په سبا ګل پرې دَ هغهٔ دَ جامو او نورو لوازماتو غوټه تیاره کړه، ځان سره یې په ګاډي کښې کېښوو او دَ ښار یوې دیني مدرسې ته یې بوتلو. هلته چې یې دَ مدرسې مشر مولانا سره خبره اوکړه نو دَ طالبانو دَ زیاتي په وجه هغهٔ دَ هغهٔ دَ داخلې نه ساپټ انکار اوکړو خو هغه دَ چا خبره چې پیسې په چپه خُله ډېرې خُلې بنده وي او خپله لاره اوباسي. هغې چې ورله دَ پنځو سوو روپو نوټ په لاس کښې کېښودو او ورته یې اووې، "دادَ دهٔ دَ داخلې فیس او میاشت په میاشت به پنځه سوه روپۍ درکوم". نو دَ جزاك الله سره یې روپۍ په جېب کښې کېښودے او ورته یې اووے، "تهٔ غم مهٔ کوه، هرڅهٔ به تیك ټاك شي انشاء الله". بیا یې په یو رجسټر کښې دَ هغه نوم، ولدیت او پته اولیکله هغه یې دَ یو طالب په لاس دَ طالبانو کچې کلاس ته اولېږلو او هغه ترېنه رخصت شوه." جانۍ ابۍ یو څو ورځې هغهٔ پسې پټه پټه ژړا اوکړه خو اخر یې زړهٔ صبر شو.



www.pukhto.net

ګل پرۍ چې دَ هغې دَ مذهبي پوهې جائزه واخسته نو هغه دَ انځرګل نه هم ورتېره وه. دَ هغې په کلمه کښې هم ډېرې غلطۍ وې او دَ هغې په نمونځ کښې هم، ګل پرۍ په مزه مزه دَ هغې کلمه طيّبه هم دُرسته کړه، دَ هغې نمونځ يې هم درست کړو او نورې کلمې او ديني احکام او تسبيحات يې هم ورته اوښودل. بيا به هغه په کور کښې ناسته وه دَ کلمو او نمونځ وِرد به يې هم کوو او تسبيحات به يې هم وېل. داسې معلومېده چې هغه اوس مسلمانه شوې وې. هغه دومره خوشحاله وه چې په هره خبره او هر نظر کښې به دَ هغې نه زارېده، قربانېده او دعاګانې به يې ورته کولې. څۀ ورځې پس ګل پرۍ هغې دَ پاره بهشتي زېور نومې کتاب راؤړو. ماښام، ماسخوتن به يې ورته دَ هغه کتاب نه يويو دوه دوه حکايتونه ويلې، هغې به په توجۀ سره اورېدل او يادول.

هغه به مياشت په مياشت مدرسې ته تله، دَ مدرسې مشر له به يې فيس هم ورکوو او هغه له به يې هم جامه پوشاك او دَ خوراك څخاك څيزونه لېږل خو دَ مهتمم صېب دَ هدايت مطابق يې هغۀ سره په دے غرض ملاقات نشو کولې چې هغه په دغه ماحول کښې بلد شي. پوره لس مياشتې پس چې هغه دَ اختر په چُهتۍ کښې کور ته راغۍ نو بالکل بدل شوے وو. دَ هغۀ په غاړه کښې سپينې جامې وې، په سر يې دَ چارخانې سپين رومال و او په پښو کښې يې تورې څپلۍ وې. غټې تورې سترګې، ګڼې اوږدې وروځې، په سپين نوراني مخ دَ ږيرې تور پشم، په اوږه خواږۀ زلفان سرۀ اننګې لکه دَ





وينې چکان او پُروقار شخصيّت، دَ ظاهري شکل وصورت نه علاوه دَ هغۀ په خوي بوي کښې هم بدلې راغلې وه. دَ راتلو سره هغۀ مور ته سلام اوکړو او دَ هغې لاسونه يې ښکل کړل. ګل پرۍ چې په مُسکا دَ هغۀ سلام له ورغله نو هغۀ دَ لاس ورکولو په ځائے دَ هغې په سر لاس کېښودو، البته په شونډو يې تبسّم راغۍ. خو مخ يې ترينه زر واړو. په خپل کور کښې به داسے په ادب ناست وو لکه چې پردي کور ته دَ مېلمه په حېث راغلے وي هغه به اکثر چپ ووا و صرف دَ هغه خبرې جواب به يې ورکوۀ دَ کومې به چې دَ هغۀ نه تپوس اوشو او هغه هم په ټيټو سترګو. که دَ مور دَ سر نه به يې لوپټه لرې اوخوېده نو هغه به يې ورله په سر بيا خوره کړه او چې ګل پرۍ به يې سرتور سر په خوا کښې تېرېده نو هغې ته به يې په تنبيهۍ سترګو اوکتل. هغه به مسکۍ شوه او زر به يې سر په لوپټه کښې پټ کړو. زياته ناسته به يې په کور او جمات کښې وه او ترڅو پورې چې هغه کلي کښې وو نو دَ بانګ اورېدو سره به يې تسپې په لاس جمات ته منډه کړه او دا کوشش به يې کوو چې تکبيرِ اولیٰ سره جمع اوکړي. دَ شپې به يې دَ تهجد نمونځ کوو او په نمانځه کښې به يې په سلګو سلګو ژړل. دَ سحر دَ اذان سره به جمات ته لاړو او دَ اشراق دَ نمانځه پورې به هلته وو. ګل پرۍ ډېره خوشحاله وه چې دَ هغې په وجه دَ هغۀ په ذات کښې يو ښکلے بدلون راغۍ، چې ترڅو هغه په کلي کښې وو نو دَ هغې کوشش دا وو چې دَ هغۀ ښۀ زړۀ پورې مېلمستيا اوکړي. دَ اختر



www.pukhto.net

په څلورمه ورځ هغهٔ دَ مور نه دَ تلو اجازت واخستو ، دَ هغې لاسونه يې ښکل کړل ، دَ گل پرې په سريې دَ مينې لاس کښېښودو او په مُسکا مُسکا مدرسې ته روان شو .دَ هغهٔ تلو سره جانی ابی په چغو چغو په ژړا شوه او دَ گل پرې سترگې هم ډکې شوې. دَ هغهٔ نه پس هغوې دواړه ډېره شېبه دم ختلې وې او په چپو خلو يې دَ يو بل اوښکې اوچولې .

يوه مياشت پس چې گل پرې مدرسې ته لاړه او دَ مدرسې مشر له يې فيس ورکړو نو هغهٔ ته يې انځرگل سره دَ ملاقات خواست اوکړو. هغهٔ دَ فيس پيسې په جيب کښې کښېښودے او هغې ته يې اووے چې "هغه سره ستا ملاقات نشي کېدے ځکه چې پرون مازيگر نورو ملگرو سره دے ځائے نه تلے دے "

"چرته تلے دے زهٔ هغهٔ سره ليدل غواړم ، گل پرې په بې صبرۍ سره دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو .

مولانا صېب:. بي بي ، دَ هغهٔ دَ ليدو کوشش مهٔ کوه . هغه خپل کار ته پرېږده چې فارغ شي نو په خپله به کورته درشي.

گل پرې:. جي جي ، ستاسو خبره بالکل ټيك ده خو هسې ماوې که هغهٔ ته دَ څهٔ څيز ضرورت وي نو ..." مولانا صېب دَ هغې دَ خُلې نه خبره اخلي او وائي، "هغهٔ ته دَ هيڅ څيز ضرورت نيشته .دَ هغهٔ ټول ضرورتونه پوره کېږي البته دعا ورته کوی چې خدائے يې قبول کړي ". مولانا صېب چې خپله خبره ختمه کړي نو هغه خپلې کمرې ته روان شي او گل پرې په درنو پښو خپل کور ته روانه شي .





## «دوېم باب»

امان په هغه نوکرۍ لگېدلے وو کومه چې هغهٔ غوښتله. سحر به په خپله طبعه ډيوټی له تلو او مازيگر به کورته راتلو. هغه دَ ستارخان دَ منشيانو دَ پاسه سرمنشي وو. دَ ستارخان دَ خښتو لس بهټۍ وې او ټولې په دغه يوه سيمه کښې په دوه دوه ، درې درې ميله کښې خورې پرتې وې . ستارخان هغهٔ له موټر سائيکل اخستے وو، هغه به په هغه موټر سائيکل باندې گرځېدو ، دَ هر يو منشي کهاته به يې چيك کوله ، دَ ټيپريانو، خرکارانو ، دَ بهټۍ دَ مزدورانو اودَ بهټو دَ منشيانو خرچه به يې ترېنه ويستله ، هغه به يې هغوې ته پرېښوده او نورې پيسې به يې ترېنه اخستے . روميی بهټۍ دَ هغهٔ هېډ آفس وو او هلته به اکثر ستارخان راتلو . هغهٔ به چې دَ روميی بهټۍ نه شروع اوکړه نو په چکر چکر به بيا هلته راغی ، که ستارخان به راغلے وو نو هغه له به يې ټولې پيسې او رسيدونه ورکړل او دَ هغهٔ ډيوټي به ختمه شوه او که هغه به نه وو راغلے نو هغه پيسې به يې هغهٔ له کورته يوړے ، او که هغه به کور نه وو نو دَ هغهٔ دَ وينا مطابق به يې دَ هغهٔ بي بي له ورکړے .دَ ستارخان نوم تر لرې لرې پورې خور وو ځکه چې دَ پختونخوا نه علاوه دَ هغهٔ دَ بهټو خښتې به اسلام آباد او پنډۍ ته هم تلې او جلال آباد (افغانستان) ته هم تلې . دا ټول مال به په نغدو پيسو هم تلو او په نېټه هم. دَ امان دَ راتلو نه مخکښې به ستارخان يا دَ هغهٔ زوے سليمان دغه پيسو



www.pukhto.net

پسې په خپله تلوخو چې کله امان راغی نو دغه ډیوټي هم هغهٔ ته حواله شوه . دې نه علاوه دَ کوټلې او دَ بهتو دَ اور لګولو دَ پاره دَ رېړ اخستل او راوړل هم دَ هغهٔ په ذمه شو .

په خپله ایمانداری او محنت په لږو ورځو کښې دَ هغهٔ دومره اعتباري شو چې دَ حساب کتاب نه خبره اووته اوچې څهٔ به هغهٔ ورکړل هغه به یې جیب کښې واچول . په دغه تلوراتلو کښې دَ هغهٔ نه دَ ستارخان دَ کور ستر پړده ماته شوه او هغه به هغهٔ کره لکه دَ خپل کور تلو راتلو . کله کله به یې ورسره په یو دسترخوان ډوډی هم خوړه خو شپه به یې ارو مرو کورته اوړه . دَ ستارخان دوه زامن او دوه لوڼه وې . سلیمان ، احسان ، دَ هغهٔ دَ زامنو نومونه وو او نورین او نوشین دَ هغهٔ دَ لوڼو نومونه وو. سلیمان خپل تعلیم مکمل کړے وو او دَ امپورټ اېکسپورټ کارېې کوو او احسان دَ څوڅوکالو راسې دَ دولسم امتحانونه ورکول خو هرځل به ناکام کېدو . نورین په پېښور یونیورسټی کښې دَ ایم اېس سي طالبه وو او نوشین په وېمن یونیورسټي پېښور کښې دَ څوارلسم جماعت طالبه وه . دا ټوله کورنی ډېره خوشحاله وه او دَ هیڅ څیز کمے ورسره نهٔ وو. دَ امان په راتلو باندې دَ ستارخان په خوشحالی کښې نوره هم اضافه اوشوه ځکه چې دَ هغهٔ دَ کاروبار بوجهـ دَ هغهٔ دَ اوږو نه کوز شو او دَ امان په اوږو پرېوتو ، البته دَ احسان دَ مستقبل په وجه هغه پرېشان وو او کله کله به یې امان سره دَ هغهٔ په حقله خبره کوله .





امان له ستارخان ښهٔ معقوله تنخواه هم ورکوله ، دَ تنخواه نه علاوه کمېشن ، جامه پېزار او دَ موټر سائېکل دَ پاره به یې دَ تېلو خرچه هم ورکوله. دا دومره مراعات هغهٔ ته په خپل محنت ، ایمانداری او دَ هاغه فقیر بابا په ذریعه او دَ هغهٔ په ضمانت سره ملاوېدل چاچې په ړومبی ورځ دَ هغهٔ نه دَ یوې میاشتې کرایه اېډوانس اخستے وه . هغه دَ چا خبره چې اوس دَ هغهٔ پنځهٔ واړه ګوتې په غوړو کښې وې خو په دغه مزو چرچو کښې هم هغهٔ دَ فقیر بابا احسانات نه هېرول . هغهٔ ته یې دَ پلار په سترګه کتل ، دَ هغهٔ دَ کور خرچه یې هم کوله او چې کومې پېسې به هغهٔ سره پاتې شوې نو هغه به یې هغهٔ سره اېښودے . هغه اګر چهٔ په یوه حقله دَ هغهٔ دَ کور سړے وو او دَ هغه دَ کور هیڅ خبره دَ هغهٔ نه پټه نه وه خو په دې دومره موده کښې دَ فقیر بابا او علي رحمان نه علاوه هغهٔ دَ هغهٔ دَ کور نور تېر سره لیدل کتل نه وو کړے . اګر چهٔ فقیر بابا څو څوځله هغهٔ ته ست کړے وو خو هر ځل به هغهٔ په څهٔ انه بهانه دَ هغهٔ بلنه ځنډوله . دَ فقیر بابا په کور کښې به ټوله ورځ دَ هغهٔ دَ سړیتوب او حسنِ اخلاق خبرې کېدې او هغهٔ ته به یې دَ ډېرې مینې په وجه بابوګل وېلے ، او په تېره تېره دَ فقیر بابا ښځې دلبرو دَ خلې نه نوری غورځوله خو دَ هغهٔ نوم یې نشو غورځولې څهٔ موده پس دَ هغهٔ دا معمول جوړ شو چې دَ مازیګر په ځاے به ماښام تیارهٔ کور ته راتلو او کله کله به ماسخوتن ته هم خبره اورسېده . دَ فقیر بابا ښځې او دَ هغهٔ لورګل ناز به دَ هغهٔ دَ راتلو



www.pukhto.net

انتظار کووا او چې دَ هغهٔ دَ موټر سائیکل غږ به یې تر غوږ شو نو هغهٔ دَ پاره به یې دَ ډوډۍ لېږلو تیارۍ شروع کړه . دَ راتلو سره به هغهٔ پلار ته سلام اوکړو او دَ هغهٔ خېریت به یې معلوم کړو. هغهٔ به جامې هم بدلولے او هغهٔ سره به یې خبرې هم کولے . چې دې نه به اوزګارېدو نو علي رحمان به ډوډۍ راوړے وه او هغهٔ ته به یې په مېز اېښے وه . بیا به هغهٔ درۍ اوغوړوله او پلار او زوے به ډوډۍ ته کېناستل . یوه ورځ چې هغهٔ ډوډۍ اوخوړه او خپل کټ له ورغی نو دَ هغهٔ دَ بالخت لاندې یو خط پروت وو. هغهٔ چې خط اوچت کړو او اویې سپړدو نو دَ لوستلو سره دَ هغه رنګ تك زېړ شو او ډېره شېبه یې په رېګدېدلو لاسونو کښې نیولے خط ته په یره او حېرانتیا کتل خط داسے وو.

خوږه بابوګُله خوشحاله اوسے

سلامونه!توله ورځ مې ستا لار ته او ستا لیدو ته سترګې سپینې شي خو ته رانشے . کله خو کور ته لږ وختې راشه چه په رڼا دے اووینم. ستا دَ لیدو په انتظار کښې به زهٔ نیمه پاتې نشم او که په ما څهٔ اوشو نو په تا به تاوان یم ....خفه نشے .

والسلام

ګل ناز.

دَ خط لوستلو نه پس هغه په لوے سوچ کښې پرېوتو او بیا بیا به یې دَ هغې دغه دهمکي آمیز جمله په رېپدلو شونډو په خلې راتله چې ،





"که په ما څهٔ اوشونو په تابه تاوان یم ." دغه سوچونو او فکرونو کښې هغه په ناسته ناسته ډېر لرې لاړو ، دومره لرې چې په تلو تلو کښې ګل پرې ته اورسېدو هغه ګل پرې چې دَ هغهٔ دَ ماشوموالي ملګرې وه ، دَ هغهٔ دَ لوبو او نغرې ملګرې وه ، دَ هغهٔ دَ سکول ملګرې وه او تر بلوغت او د جُدائی پورې دَ هغوي ملګرتیا دغسې چلېده خو نه هغې هغهٔ ته دَ خپلې مینې اظهار کړې وو او نه دَ هغهٔ ورسره څهٔ دغسې خبره شوې وه ، البته د جُدائی په وخت کښې دَ هغې هاغه پُرسوزه تپه ، " اشنا دَ لارې نه هېرېږې زهٔ به دَ عمر اشنا څنګه هېرومه" چې رایاده شوه نودې سره هغهٔ ته دَ هغې ډکې سترګې هم رایادې شوې، دَ هغې مُسکا خندا هم رایاده شوه او دَ هغوي دَ ژوند ټول واقعات او واردات هم هغهٔ ته رایاد شو. دَ هغوي دَ زړونو پټه مینه ، پټ په پټه پاتې شوه . دَ شهنواز خان او موسم خان دَ ظلم په وجه هغوي دَ کورونو نه اووتل ، دَ هغوي دَ ژوند لارې بېلې بېلې شوې او هغوي دَ پنائي په غرض دَ ژوند په بېلو بېلو لارو سر شو. په هغه لارو چې دَ هغوي په خیال وګمان کښې هم نهٔ راتلې . دواړه دَ خپل خپل ژوند په لارو دومره په منډه وو چې دَ خپلې مینې تصور یې هم نشو کولے . هغهٔ ته دا پته نه وه چې هغه کوم ځاے ده او دَ هغې پلار کخېرې کاکا به څهٔ حال کښې دے . دغه شان هغې ته هم دا پته نه وه چې هغه چرته دے او دَ هغهٔ پلار کوچنے استاذ په څه حال کښې دے . هغوي دَ خپل بقا په هلوځلو کښې دَ یوبل نه دومره لرې وو چې



www.pukhto.net

دَ یو بل تصویرونه هم ورته تت ښکارېدل . هغهٔ ډېره شېبهٔ دَ گل ناز خط ته کتل خو دَ خط دَ ټکو په ورو ورو اٸینو کښې ورته دَ گل ناز په ځاٸے دَ گل پرې وارهٔ وارهٔ تصویرونه ښکارېدل . یوه شېبه پس هغهٔ قلم راواخستو چې هغې له دَ هغې دَ خط جواب ورکړي . په دے غرض چې هغهٔ دَ لیکلے شوے خط په شا دَ جواب ورکولو هڅه اوکړه نو په سپین کاغذ ورته دَ گل پرې تصویر ښکاره شو هغهٔ ته داسې محسوسه شوه لکه چې هغه دَ گل پرې په مخ لیکل کوي . دَ څوځو ځله کوشش نه پس هغه دَ گل ناز خط مات رامات کړو، دَ بالخت لاندې یې کېښودو او دَ هغوي په تصور کښې اودهٔ شو . په سبا چې هغهٔ ناشته اوکړه نو دَ پلار نه یې اجازت واخستو او خپلې ډیوټۍ له لاړو . هغه ډیوټۍ له لاړو خو دَ گل ناز په دهمکۍ یې توله ورځ زړهٔ ختلے وو . دَ هغهٔ په ذهن کښې مختلف خیالونه راتلل او په مختلفو لارو تلل . هغهٔ چې خپله ډیوټي ختمه کړه نو ستارخان له یې خپله اوگرۍ ورکړه او کور ته روان شو . هغه کور ته په داسے وخت کښې اورسېدو چې دَ هغهٔ پلار او گل ناز دَ کور نه بهر په شاړه کښې ناست وو خپلو کښې یې خبرې هم کولے او دَ مازیگر دَ پیتاوي مزې یې هم اخستے . هغهٔ موټر ساٸیکل دَ کوټې مخې ته اودرو او دننه ورغی . هغهٔ په کټ کښې بالخت ته ډډه اووهله او دَ گل ناز رالېږلے شوے هغه خط یې لوستلو کوم چې هغهٔ بېگاه څوځو ځله لوستلے وو . هغه لا دَ خط په لوستلو کښې مصروف وو چې گل نازدَ





هغهٔ کمرې ته ورغله او هغهٔ ته یې سلام اوکړو . هغهٔ په لا پرواٸۍ دَ هغې سلام واخستو خو چې هغې ته یې اوکتل نو سترگې یې په هغې لگېدلې پاتې شوې . هغه دَ هغهٔ مخې ته چپه خُله ولاړه وه او هغهٔ ته یې په موسکو سترگو کتل . هغهٔ ته داسې محسوسه شوه چې هغه هغې ته نه بلکه دَ قدرت یو عظیم شهکار ته گوري . موسېدلې شهلا سترگې، اوږدهٔ بانړهٔ ، تورې وروزې پړاق تندے ، په تندي زانگېدلے مستانه اوربل ، سور سپین مخ ، سرهٔ اننگي ، نرۍ یاقوتي پوزه ، سرې گل پاڼي شونډې، مرمرین صراحي غاړه او الوول زلفې ، هغوي دواړو دَ سترگو په کېمرو دَ یو بل تصویر کشۍ کولے . یوه شېبه پس هغه مُسکۍ شوه او هغهٔ ته یې اووې ، "نن خلاف معمول وختي راغلے ؟".

امان:. زهٔ دَ چا په حکم دَ خپل معمول نه وختي راغلم ، " دَ هغهٔ په خبره هغه مسکۍ شي او مُسکا مُسکا کښې واٸي، " "دَ چا په حکم نه بلکه دَ چا په خواست ".

امان:. که تهٔ گل نازېې نو په دے خط کښې خو تا خواست نه دې کړې بلکه دهمکي دې راکړې ده ".

گل ناز:. دهمکي څنگه ؟

امان:. دهمکي دا چې تا وېلے دي چې، "که په ماڅهٔ اوشو نو په تا به تاوان یم ".

گل ناز:. دهمکي مې ځکه درکړې ده چې مانه نور انتظار نشو



www.pukhto.net

کېدې . ستالیدل او تاسره خبرې کول زما ارمان وو.

امان: ارمان ....؟ ارمان څنګه ؟

ګل ناز: تۀ ارمان نه پېژنے ؟

امان: ارمان پېژنم خو زما لیدۀ په کومه وجه ست ارمان وو.

ګل ناز: ولې تاته پته نیشته چې زما او ستا رشته کېدونکې ده .

امان (په حېرانتیا) رشته ....؟ زۀ پوهـ نشوم . دڅۀ رشته ؟

ګل ناز: هغه رشته چې فرشتې پرې امین وائي.تاته واقعې پته نیشته؟

امان: نه ګل ناز، نۀ ماته پته شته ، نۀ مانه چا تپوس کړے دے، نۀ ماته چا اورونه کړے ده او نه ما دغه خوب لیدلے دے خوداخبره تاته چا کړې ده .

ګل ناز: دا خبره ماته هیچا نه ده کړې خو مور او پلار مې توله ورځ ستا خبرې کوي .

امان : زما خبرې کوي؟ زما متعلق څۀ وائي ؟

ګل ناز: ستا متعلق دا وائي چې ستا رنګ، جُثه او کېدۀ اورۀ زمادَ مړ رور عارف جمال غوندې دي .هغوي غواړي چې ته همېشه همېشه د پاره د دے کور یو غړے شے .

امان : دېکښې هیڅ شك نیشته چې زۀ د دے کور بنده یم . دېکښې هیڅ شك نیشته چې زما هرڅه ستاسو دَ کوره دي او زۀ هغوي ته دَ خپل مور پلار په سترګه ګورم .

ګل ناز: نه نه ، هغوي څۀ بل بل څۀ غواړي.

امان: هغوي څۀ غواړي؟ زۀ ستا په مطلب پوهـ نشوم.





ګل ناز(مسکې شي) هغوي هاغه څۀ غواړي څۀ چې درته مامخکښې اووې .

امان : څه یره که څۀ خاص خبره نه وي نو هیو چېړل یې نه دي پکار.

ګل ناز: نه بابو، خبره ډېره مهمه ده ځکه چې د دې تعلق زمونږ ژوند سره دے زمونږ تول عمرې ترون سره دے ....هغوي زمونږ رشته کول غواړي.

امان : او تۀ څۀ غواړې؟ "دَ هغۀ په تپوس هغه اوشرمېږې، مسکې شي، سترګې خکته کړې او وائي ، "ما لا فېصله نه ده کړې". امان مُسکے شے او وائی ،" ډېردې ښۀ کړې دي . دا تول عمرې ترون دے او په دېکښې دَ ډېر سوچ او فکر نه کار اخستل پکار دي . په پټو سترګو رشته قبلول ښۀ خبره نۀ ده ."

ګل ناز: او که بالفرض زۀ دَ هغوي نه مجبوره شم او ښه ورته اوکړم؟

امان: تۀ په خپله فېصله کښې ازاده یې. زۀ تاله هیڅ مشوره نشم درکولے .

ګل ناز: زۀ تانه مشوره نه غوارم بلکه زۀ دا وېل غوارم چې تۀ زما په باره کښې څۀ وائے ؟

امان : زۀ ستا په باره کښې دا وېل غوارم چې تۀ یوه حسینه ، ماه جبینه تعلیم یافته او مهذّبه جینۍ یې .

ګل ناز: نور....؟

امان: نوردا چې ....هغه خپله خبره پوره نۀ کړے شي ځکه چې علي رحمان دَ هغۀ پلار لاس نیولے کوټې ته راولي. دَ هغوي په راتلو



www.pukhto.net

هغه پاسي او کورته روانه شي .

دَ گل ناز دَ زړۀ ارمان پوره شو، هغهٔ سره يې ليدل کتل هم اوشو، ناسته ولاړه يې هم اوشوه ، هغهٔ سره يې خبرې هم اوشوې او دَ خپلې رشتې په حقله يې دَ هغهٔ دَ راې معلومولو کوشش هم اوکړو . هغه اګر څهٔ په خپل کوشش کښې کامیابه نشوه خو هغه د هغهٔ نه مایوسه نه وه . دا دَ هغوي رومبې ملاقات وو خو هغه دَ مينې په دنيا کښې دومره اناړې وه چې په رومبي ملاقات کښې يې ورته هغه خبره اوکړه کومه چې هغې له ډېر روستو کول پکار وو او دَ هغې غُوړه يې هم په خپل مور پلار واچوله . که دَ هغې دَ خبرو تجزيه اوکړې شي نو دابه معلومه شي چې دَ هغې دَ رشتې انحصار دَ هغې دَ مور پلار په خوښه ناخوښه وو. دَ هغې رشته به هغه چاسره کېږي چاسره چې هغوي کول غواړي. په خپل ځان کښې نهٔ دَ هغې اختيار وو او نهٔ يې خپله خوښه کولې شوه . هم دغه وجه وه چې هغې هغهٔ ته په ډاګه کړه چې هغې لا فېصله نه ده کړې . او که حقيقت ته اوکتلې شي نو لکه دَ نورو پښتنو پېغلو دَ هغې دَ خپلې فېصلې هيڅ قيمت نهٔ وو. امان ټوله شپه په خپل کټ کښې ډډې په ډډې اوختو را اوختو خو خوب نهٔ ورتلو . په سبا چې هغه ډيوټۍ له لاړو نو درې شپې يې بهر اوکړے . په څلورمه ورځ چې ماسخوتن تېر کورته راغی نو لوے انقلاب راغلے وو. فقير بابا سره دَ ښځې او بال بچ دَ کوچني استاذ په کوټه کښې سرې سترګې ناست وو دَ هغهٔ په ورتلو باندې دَ ټولو په





ساه کښې ساه او په مخونو مُسکا راغله . هغهٔ دَ ورتلو سره سلام واچوو . دَ هغهٔ سلام ټولو واخستو خو دَ هغهٔ پلار وانهٔ خستو . هغه پوهـ شو چې دَ هغهٔ پلار دَ هغهٔ نه خفه دے . هغه پلار ته نزدے شو، په ناسته ناسته ورترغاړه وتو او دَ هغهٔ لاسونه يې ښکل کړل . هغهٔ په ژړغوني انداز دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو ، "امانه، تهٔ چرته تلے وے؟"

امان:. بابا زهٔ ستارخان سره جلال آباد ته تلے ووم او دَ هلته نه اسلام آباد ته لاړو .

کوچنے استاذ:. که تهٔ په ماتنګ شوے يې نو ما دَ ځان نه مخکښې کړه چې دَ ټول عمرې غم نه خلاص شے .

امان :. بابا، تهٔ داسے خبرې ولې کوے ؟

کوچنے استاذ:. داسے خبرې څکه کوم چې ستادَ تلو په سبا فقيرخان درپسې ټولې بهټۍ اولټولے خونه يې تهٔ اوموندلے او نهٔ ورته ستا معلومات اوشو . تا دومره هم نشو کولے چې مونږ دے خبر کړے وے ".

امان:. بابا ، ماستارخان ته څوڅو ځله اووے چې زهٔ به کوره پورې ورشم او دَ بابا نه به اجازت واخلم خو هغهٔ هډو څهٔ ته پرې نښودم ". دَ هغهٔ دَ وضاحت نه پس ټول خاموش شول . يوه شېبه پس امان ګل ناز ته اووے ، " ته ورشه ګل ناز، په موټرسائيکل دوه غوټې پرتې دي، هغه دواړه راوړه ". ګل ناز ته دا دَ هغهٔ رومبے فرمائش وو. دَ هغهٔ حکم اورېدو سره هغه په توندۍ دَ کوټې نه اووته ، دواړه غوټې يې راواخستې او دَ هغهٔ مخې ته يې په مېز کېښودې . هغهٔ يوه غوټه



www.pukhto.net

اوسپړده دَ هغې نه یې یو توکے را اوویستو ، دَ پلار غېږ کښې یې کېښودو او ورته یې اووے ، "بابا ، دا ستا جامې او پټکے دے ، بیا یې بل توکے را اوویستو او فقیر خان بابا ته یې اووے ،" بابا، دا ستا جامې او پټکے ". په دریم ځل یې یو زنانوال توکے را اوویستو او دَ فقیر بابا ښځې دلبرو ترور ته یې اووے ، "تروري ، دا ستا جامې او لوپټه ". په څلورم ځل یې یوه تیاره جوړه او لوپټه را اوویستله ، گل ناز ته یې اونیوله او ورته یې اووے ، " دا واخله گل ناز، دا ستا جوړه او لوپټه ده". په پنځم ځل یې یو توکے را اوویستو او علي رحمان ته یې اووے ، 'دا واخله گله ، دا ستا جامې او څادر ". تولو په حېرانتیا او مُسکا یو بل ته کتل او خوشحالېدل . چې توکي ختم شو نو دلبرو ترور ترېنه تپوس اوکړو، "ځان له دے څهٔ راؤنه ړل ؟".

امان:. ځان له مې توکے اخستے دے خو جوړولو دَ پاره مې درزي له ورکړے دے .

دلبرو ترور:. دومره خرچه دے ولې کوله ، په پېسو لږ لاس نیسه ، ستا په سر لوے پېتے پروت دے .دَ هغې په خبره گل ناز مسکے شوه او سترگې یې خکته کړې . امان هم مُسکے شو او په مُسکا کښې یې هغې ته اووے ، "پېسې لگولو دَ پاره گټلې کېږي تروري . که داسې گټلې کېدې او جمع کېدې نو هر سړے به کروړ پتي وو. پېسې ښهٔ ځیز دے خو دَ ځان نه ښهٔ نه دي"دَ هغهٔ په خبره تول په خندا شول . په دغه خندا خندا کښې هغهٔ بله غوټه اوسپړده ، دَ مېهتاې یو ډبلے یې





ترېنه را اوویستو او یوه دانه یې ترېنه دَ پلار په خُلهٔ کښې کېښوده . بیا یې تولو ته واره په واره اونیوو او هغوي ترېنه یوه یوه دانه اوچته کړه. گل ناز چې دَ مېتهاې دانه په خلهٔ کړه نو دَ امان نه یې په مُسکا تپوس اوکړو ، "دا هرڅهٔ په کومه خوشحالۍ کښې ؟"

امان:. دا په دې خوشحالۍ کښې چې تاسو تول په رومبي ځل زمونږ کور ته راغلي یې ، (تول خاندي).

دلبرو ترور:. زویه ستا په وجه بابا ډېر خفه وو او نن څلورمه ورځ ده چې دَ ډوډۍ سکه یې هم نهٔ ده کړے . بیا داسې مهٔ کوه زویه. چې کله دے دَ شپې نیت وي نو مونږه خبره وه . زمانه خرابه ده په هیڅا اعتبار نشي کېدے .

امان:. بیا به داسې نهٔ کېږي تروري . بیا چې کله بهر ته ځم نو تاسو به اورمرو خبروم . او خبر یې ؟ . . .دې دَ پاره ما دوه موبائېلونه هم اخستے دي. یو به ماسره وي او بل به تاسو سره په کور کښې وي. هغه دَ خپل سامان نه دوه موبائېلونه را اوباسي او هغې ته یې نیسي. هغه خاندي او په خندا خندا کښې دَ هغهٔ دَ لاس نه دواړه موبائېلونه اخلي او وائي ، " زویه ، زهٔ په دے ځیزونو نه پو هېږم ، دا به گل ناز له ورکړم دا پرې پو هېږي "بیا دواړه موبائېلونه هغې ته نیسي او وائي ، "جینۍ په دے کښې یو موبائېل خوښخ کړه او ځان سره یې کېږده". گل ناز دَ هغې نه دواړه موبائېلونه اخلي ، بیایو ځان سره پرېږدي او بل هغهٔ له ورکوي . بیا مسکۍ شي او په مُسکا مُسکا کښې وائي،"



www.pukhto.net

اوس چې چرته ګرځے نو ګرځه ، نه پټېدېشے او نه خلاصېدے شے ."

فقيربابا:. امانه بچے ، تاخو به ډوډۍ نه وي خوړلے ؟

امان:. نه بابا ، ستارخان ته مې تياره ډوډۍ په دے غرض پرېښوده چې بابا سره به مې يو ځائے اوخورم .

فقيربابا:. ډېر دے ښۀ اوکړل بچے . ستا دَ تلو نه پس بابا غريب دے سکه هم نه ده کړے . تۀ ورسره په خپله ډوډۍ ته کېنه چې ښۀ په مړه خېټه اوخورې . بيا ښځې اولور ته وائي ، "ځۍ ورشۍ دوې دَ پاره ډوډۍ تياره کړۍ ". دَ هغۀ په وېنا دلبرو ترور تول توکې راغونډ کړل او دَ کوټې نه بهر اووته . هغې پسې ګل ناز او علي رحمان هم اووتل . فقير بابا چې هغوې په تلو کښې اوليدل نو هغه هم ورپسې روان شو. دَ هغوي دَ تلو نه پس پلار او زوې خپلو کښې خبرې کولے. امان ورته دَ جلال آباد او اسلام آباد دَ سېل سپاټې او دَ ستارخان دَ کاروبار او دَ هغۀ دَ کورنۍ خبرې کولے او هغۀ ورته ښۀ ښه کول. په خبرو کښې دَ پلار دَ تپوس په جواب کښې هغۀ اووے ، "بابا په جلال آباد او اسلام آباد کښې دَ ستارخان دَ خښتو ډيلران دي زۀ يې په دے غرض بوتلے ووم چې ما هغوي سره لاس کړي او آئنده دَ پاره هغوي ماله پېسې راکوي."

کوچنے استاذ:. داسې معلومېږي چې ستارخان تانه خوشحاله دے ځکه خو يې خپلو ډيلرانو سره لاس کړے .

امان:. بابا، هغه په مادومره مهربانه دے چې زۀ څۀ وېم نو هغه کېږي،





زما مخې له نه راځي . د دے تولے سودا پېسې هغۀ دَ خپله جېبه ورکړے ." دَ هغوي خبرې لا روانې وې چې ګل ناز او علي رحمان ډوډۍ راوړه . امان درۍ اوغوړوله او چې هغوي ډوډۍ ته کېناستل نو علي رحمان ترينه غلي غوندې اووتو .دَ هغۀ دَ تلو نه پس ګل ناز هغۀ ته په مُسکا اوکتل او وې وئېل ،" بابو ، تاخو ماله مبارکي رانکړه؟"

امان چې هغې ته اوکتل نو هغې دَ هغۀ راوړلې شوې نوې جوړه اغوستې وه او لوپټه يې په سر کړې وه . هغه مُسکے شو او ورته يې اووے ، "مبارك شه ، ډېر ښکلې مېچ دے ." هغې نور هم څۀ وېل غوښتل خو دَ پلار دَ موجودګۍ په وجه يې ورته په خلۀ لاس کېښودو. هغه دَ هغۀ په کټ کښې کېناسته او په موبائېل کښې يې ګوتې وهلې . بيا يې دَ هغۀ نه دَ هغۀ دَ موبائېل نمبر معلوم کړو او په خپل موبائېل کښې يې سېو کړو. هغوي چې ډوډۍ اوخوړه نو هغې لوښي راغونډ کړل او کور ته روانه شوه . چې کورته اورسېده نو هغۀ له يې يو ميسج ورکړو . هغۀ چې موبائېل اوچت کړو او مېسج ته يې اوکتل نو هغې ورته ليکلي وو."سبا سحر به ما په موټر سائېکل سکول ته رسوے .زۀ به دَ غټې شوې اونې سره ستا انتظار کوم ". هغۀ چې مېسج اولوستلو نو مُسکے شو او ځان سره يې غلي غوندې اووے ، "دَ خپله لاسه . . ." موبائېل هم عجيبه څيز دے . کومه خبره چې ښکاره نشي کېدې هغه دَ کال په ذريعه ډېره په اسانه کېدېشي او کومه چې په کال نشي کېدې هغه دَ مېسج په



www.pukhto.net

ذریعه پټ په پټه کېدې شي. هغه په کټ کښې ډېره اووهله او دَ هغې په خیال کښې ډېر لرې لاړو. هغه دَ سپرلي هغه تنکۍ غوټۍ وه چې دَ زمانې دَ تودو سړو بادونو او دَ دنیا دَ ازمېښتونو نه لرې دَ فطرت په غېږه کښې محفوظه پرته وه. هغې اګر څۀ هغه په تلو راتلو پټ په پټه څو څو ځله لیدلے وو خو دغه لیدنه دَ یو عام سړي دَ لیدنې نه علاوه هیڅ نه وه. چې کله دَ هغې په کور کښې دَ هغې دَ مورو پلار ترمینځه دَ هغۀ په حقله خبرې شروع شوې او هغې په ګنګوسو کښې هغه وورېدې دَ کومو تعلق چې دَ هغې په خیال کښې دَ هغې ذات سره وو نو دَ هغې په زړۀ کښې دَ هغۀ دَ لیدو اشتها پیدا شوه. چې کله دَ هغوي ځان له په ځان له ملاقات اوشو او په غړېدلو سترګو یې یو بل اولیدو نو په ړومبي نظر دواړه دَ یو بل زړۀ ته پرېوتل. دَ هغې په خله کښې ژبه اوګرځېده او په موسېدو او اشارو کنایو کښې یې دَ خپلې رایې اظهار هم اوکړو. که دَ کوچنې استاذ او علي رحمان په ناصافه راتلو دَ هغوي خبرې نیمګرې نه وې پاتې شوې نو کېدېشوه چې دَ هغوي ترمینځه څۀ لوظ قول هم شوے وے، خو که حقیقت ته اوکتلې شي نو دَ هغې دَ لوظ قول ضرورت هم نه وو ځکه چې دَ مور پلار په مخکښې دَ هغې دَ فېصلې هیڅ قیمت او وقعت نه وو. البته دَ امان دَ رایې نوعیت دَ هغې نه بدل وو، دَ هغۀ دَ مخ اړو هیڅوک نه وو او هغه په خپله فېصله کښې ازاد وو. خو په دغه ازادۍ کښې هغه دَ حالات وواقعات په زولنو کښې بند وو. هغه





ځوان زلمے وو، دَ هغۀ په بدن کښې دَ ځوانۍ ګرمه وینه وه او په دغه وینه کښې دَ ګل پرې معصومه مینه وه خو هغه دَ ناترسه زمانې سپېړو داسې اووهلو چې دَ هغۀ ارمانونه کچه په کچه لوغړن شو او دَ هغۀ دَ ژوند ملګرې ګل پرې دَ هغۀ نه جُدا شوه. دَ دواړو لارې بیلې شوې او دَ ظلم په تورتم کښې دواړه په ورکو لارو سر شو. دواړو دَ ژوند په سمندر کښې هلې ځلې کولے او په هغه معاشره کښې یې شپې سبا کولے په کومه کښې چې وړو وړو دے او کمزورے پردے. په دغه معاشره کښې دَ ځان ځائے کولو او خپل مقام ته دَ ځان رسولو دَ پاره ګل پرې ته دَ مردانه قوت دَ تحفظ ضرورت وو او په دے غرض دَ امان نه پس هغه انځرګل ته سترګې په لار وه. دغه شان امان ته هم دَ یو داسې جنس نازك دَ سهارې ضرورت وو چې دَ ژوند په ککلېچونو، سختو او ازغینو لارو کښې نه صرف دَ هغۀ پښې کلکې کړي بلکه دَ پرمختګ امید یې نور هم توانا کړي. په دے غرض دَ ګل پرې نه پس دَ هغۀ سترګې په ګل ناز اولګېدې او لګېدلې پاتې شوې.

دَ هغې دَ مېسج په حقله دَ هغۀ په ذهن کښې مختلف خیالات راتلل او دَ هغۀ اودۀ جذبات یې پارول. په دغه سوچونو او فکرونو کښې دَ هغۀ سترګې پټې شوې اوهله اوغړېدې چې هغه ناشته په لاس دَ هغۀ کوټې ته ورغله او په مُسکا یې ورته اووې، "پاسه بابو ګله، ناشته اوکړه،" هغۀ غوښتل چې دَ هغې په موسېدلې خُلۀ، خُلۀ کېږدي او دَ هغې دَ شونډو په شربت ناشته اوکړي. هغۀ به واقعي



www.pukhto.net

دغسې کړے وے خو دَ سکول دَ تیارۍ او دَ وخت دَ کمې په وجه هغه هلته ایساره نشوه او ډېره په تېزۍ سره دَ کوټې نه اووته .
دَ ناشتې نه پس هغهٔ دَ پلار نه اجازت واخستو او ډیوټۍ له په هغه لاره روان شو په کومه به چې هغه سکول ته تله. چې لږ مخکښې لاړو نو هغه دَ غټې شوې لاندې ولاړه وه او دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار یې کوو. هغه چې دَ هغې خوا له اورسېدو نو موټر سائیکل یې دَ هغې خوا کښې اودرو او ورته یې اووے ، "شابه سوره چې ځو". دَ هغې په ذهن کښې نهٔ راتله چې لکه دَ هغهٔ هغهٔ پسې سوره او که هغهٔ پسې په ډډه سوره شي . هغه دَ ډډې سورېدو نه ېرېده ، په دې وجه کله خته او کله کوزېده ، اخر دَ هغهٔ په سهاره اوخته او هغهٔ پسې روستو په ډډه کېناسته . چې گاډے روان شو نو هغهٔ ورته اووے ، "ځان ټینګ کړه چرته پرېونهٔ ځې". هغې د پاره دَ هغهٔ اجازت کافي وو نو کار دَ هغې خپل وو . هغه ، هغهٔ ته دومره نژدې شوه چې دَ هغوي دَ نزدیکتیا او دَ جسماني حرارت دَ ترسېل په وجه دَ هغوي دَ زړونو تهول بلبونه آن شو او دَ هغوي دَ مینې په جهان کښې چراغان شو خو چې کله ترېنه هغې لاس تاؤ کړو نو دَ هغوي په زړونو او ذهنونو کښې هیجاني کېفیات ، دَ جذباتو نشېب وفراز او دَ آن او آف سلسله شروع شوه . دَ هغوي جذبات په لمحو لمحو کښې دومره مشتعل شو چې په کنده کونده او لوړه ژوره کښې دَ شارټ سرکټ امکاني خطره پېدا شوه . دَ جذباتو په دغه بهیر کښې هغوي دَ پیاده





جینکو په څو څو ډلو ووختل او سکول ته اورسېدل خونهٔ هغهٔ څوک اولیدل او نه هغې څوک اولیدل ، البته هغوي ډېرو جینکو اولیدل. کله چې هغه کوزه شوه او هغه ترېنه واپس شو نو هغهٔ ته داسې محسوسه شوه چې هغهٔ خپل هرڅهٔ هغې سره پرېښودل . دې نه پس دا دَ هغهٔ معمول شو چې هر سحر به یې سکول ته رسوله او دَ چهټۍ نه پس به یې کورته بوتله . په واپسۍ کښې به کله کله دَ غټې شوې لاندې اودرېدل او ډېره شېبه به یې خپلو کښې خوږې خبرې اوګیلې مانې کولے . دَ هغوي دَ مینې قیصې دَ غټې شوې پاڼو اورېدې ، افساني ترې جوړېدې او دَ دوړېدلو پاڼو په شکل کښې په تول چاپېریال کښې خورېدې.
دَ هغې دَ فرمائشونو نه علاوه هغه به هر ماښام هغې له څهٔ ناڅهٔ راوړل او دَ نورو نه پټ به یې هغې له ورکول . هغوي دواړو یو بل شریک حیات تسلیم کړي وو او دَ هغوي هیڅ خبره دَ یوبل نه پټه نه وه . دَ هغوي دَ مینې دا سلسله چلېده او په هغوي دَ خوږو من وسلوئ ورېده. هغه دَ چا خبره چې ورانه شي نو ورانه شي او چې سمه شي نو سمه شي . اوس دَ هغهٔ دَ قسمت ستورے دَ زماني دَ گردش نه اوتے وو. دلته پرې دَ فقیر بابا توله کورنۍ مهربانه وه او هلته پرې ستارخان او دَ هغهٔ کورنۍ مهربانه وه . دَ ستارخان نه علاوه کله کله به مشرې بي‌بي او دَ کورنۍ نورو زنانهٔ سره شاپنګ دَ پاره هم بازار ته تلو .
یوه ورځ چې هغهٔ دَ تولو بهتو نه پیسې راغونډے کړے او هغهٔ له



www.pukhto.net

یې چې حجرې تـه یـوړے نـو هـغـه دَ حجرې پـه لویـه برنډه کښې پرسـېـدلـے نـاست وو او احسان هم یو خوا ته سرې سترګې ناست وو. هغـۀ دَ ورتـلـو سره ستارخان ته سلام اوکړو او هغه له یې لاس ورکړو. هغـۀ ، دَ هـغـۀ سـلام واخستـو خو دَ لاس ورکولو په ځاے یې دَ ګوتو سوکې ورکړے . هغه ، دَ هغۀ په رویه حېران شو خو چې هغۀ ته یې اوکتـل نـو ډېر زر پـه دې نتیـجـه اورسېدو چې ضرور څۀ داسې خبره شتـه دې چې دَ هـغـې په وجه پلار او زوے دَ یو بل نه راخکلي ناست دي . هـغـه چې احسان له لاس ورکړو نو دَ هغۀ هم هغه طرزِ عمل وۀ کـوم چې دَ هـغـۀ دَ پـلار وو . هـغـه ستارخان ته مخامخ په کټ کښې کېـنـاستـو ، دَ روپـو تـهـېـلـۍ یې اوسپـړده او روپۍ او رسېدونه ترېنه رااوویستـل چې هـغـه لـه یې ورکړي . هغـۀ ورتـه پـه غـصـه اووے ، "تـهـېـلـۍ مـۀ پرانیزه ، دغسې ښۀ ده " هغۀ دَ پرانستې تهېلۍ غوټه بیا اوتړله او هغۀ ته یې کټ کښې کېښوده . هغۀ تهېلۍ دَ یو ګوټ نه اونیـوه اودَ بـرنډې کوز سرته یې په غصه لړه کړه ، دَ هغۀ په رویه اوکبر هـغــه حـېـران هـم شـو او شـرمـنـده هـم شو. دَ هـغـۀ پـه زړۀ کښې ډېر خیـالـونـه راغـلـل خـو دَ تـولـو نچوړ دا وو چې کېدېشي څـۀ کورنۍ معامله وي چې دَ هغې په وجه دواړه خفه دي . په حجره کښې مکمله خامـوشي وه . دَ دغـه خـامـوشۍ هـرې لـمـحې هـغـۀ لـه پـه چپـه خلۀ تـکـونـه ورکـول او هـغـه پـه خپلو راتلو او ناستـه پښېمانه وو. دَ هغۀ په زړۀ کښې څوڅو ځله راغله چې دلته دَ هغۀ ناسته بې ځایه ده او هغۀ





لـه تـلـل پکار دي. هغۀ تلل غوښتل خو دَ تلو په چل نه پو هېدو . یوه شـېـبـه پس یې غاړه تازه کړه او هغۀ ته یې غلې غوندې اووے ، "خان جي ، مـاتـه اجازت دے تلـے شم ؟" هغۀ ورته په پرسېدلې مخ اوکتـل او سر یې ورته اوخوځوو . دې سره هغۀ هغۀ ته سلام اوکړو او روان شو . چې یـو څـو قـدمـه مـخـکښې لاړو نو په دروند اواز یې ورته اووے ، "واپـس شـه امـانـه". هغۀ چې ورته روستو اوکتـل نو ورته یې اووے ، "دلتـه راشه" هغه دَ هغۀ په اواز واپس شو ، دَ هغۀ مخې ته اودرېدو او ورتـه یـې اووے ، "څۀ حـکـم دے خـان جي ؟" هـغـۀ ، هغۀ ته په سرو سترګـو اوکتـل ، بیـا یې احسان ته ګوته اونیوه او ورته یې اووے ، "دا هـلـك اوس اوس لـسـم نمبر بهتې ته اورسوه او دَ جالۍ مزدورۍ ته یې واچـوه ". هـغـۀ دواړو ته په حېرانتیا اوکتل او وے وئېل ، "خان جي ، دا زۀ څۀ اورم ؟ کشرخان به اوس دَ جالۍ مزدوري کوي ".

سـتـارخان:. ولې په مزدورۍ کښې څۀ شرم دے . زۀ خپله پنځه کاله دَ جالۍ مزدور پاتـے شوے یم .

امـان:. پـه مـزدورۍ کښې شرم نیشتـه خان جي ، خودا مزدوري دَ کشر خان دَ حیثیت مطابق نه ده .

سـتـارخـان :. کـه زمـا پـه بهتـۍ کښې د دغه نه کمتره مزدوري وې نو هـغې له به مې لېږلې وے خو افسوس چې دَ دۀ دَ حیثیت مطابق بل داسې کار نیشتـه ".

امـان:. خان جي ، کـه څۀ داسې خبره وي نو زما کار به دے کوي او زۀ



www.pukhto.net

به دَ جالی مزدوري کوم .

ستارخان:. که دۀ کښې عقل وے نو مونږ سره دَ څۀ کمے دے . دے په دغه اور دَ سېزلو قابل دے کوم چې په بهټۍ کښې بلیږي .

امان:. خان جي ، تپوس کولے شم چې دَ کشرخان نه څۀ داسې غلطي شوې ده چې دَ هغې په وجه ستاسو مزاج خُداے مۀ که خته دے". دَ هغۀ په تپوس دَ هغه طبیعت خوشګوار شي او هغۀ ته وائي، "کېنه امانه چې د دۀ دَ قابلیت او لیاقت تولو قیصه درته اوکړم". چې هغه هغۀ ته مخامخ په بل کټ کښې کېناستو نو وے وئیل ، "ګوره امانه، خفه نشے ، زما ځینې خبرې مفروضې وي خو حقیقت ته نزدې وي. ستا مثال به واخلو ، ته یو غریب او بې کوره سړے یې خو داسې به اوګڼو چې ته دَ تولو غریبانانو نمائندګي کوے . زۀ د دې علاقې خان یم او دَ تولو خانانو نمائندګي کوم . اګر چۀ مونږ تول انسانان یو او دَ یو بابا اٰدم اولاد یو خو ستاسو او زمونږ په معاشي ، معاشرتي او سیاسي ژوند کښې ډېر لوے فرق دے . تاسو غواړئ چې په ګېډه ماړۀ شئ، دے دَ پاره تاسو محنت کوئ ، تاسو غواړئ چې په جامه پټ شئ، دے دَ پاره محنت ، مزدوري کوئ ، تاسو دَ یخنۍ ګرمۍ او بادوباران نه دَ بچ کېدو د پاره کور غواړئ ، دے دَ پاره تاسو محنت مزدوري کوئ. ستاسو رورولي ، خپلولي ، عزیزولي ، تربګني او دشمني خپلو خپلوانو او تربورانو سره وي یعني هغه کسانو سره وي چې ستاسو هم ځنګ ، ستاسو په جامه رنګ او ستاسو غوندې په مینه غز نۀ





لري. په نۀ څۀ خبره یو رور راپاسي او بل قتل کړي . مقتول هدیرې ته لاړ شي او قاتل توپك په لاس او څادر په اوږه علاقه غېر ته لاړشي . دَ قاتل په حیثیت کښې هیڅ فرق رانشي ځکه چې دلته یې هم مزدوري کوله او هلته هم مزدوري کوي . داسې ده که نۀ ده ؟

امان :. بالکل هم داسې ده خان جي .

ستارخان:. اوس به راشم خپل ځان له . زمونږ مقابله خانانو او غټانو سره وي، صنعت کارانو او کاروباریانو ، تاجرانو سره وي، ستاسو سیالي ښۀ توپك او ښۀ کلاشن کوف سره وي او زمونږ سیالي ښۀ بنګلو، ښۀ ګاډو ، دَ ژوند جدید ترین سهولتونو ، ښۀ تعلیم او ښۀ نوکرۍ سره وي. زما زوې سلمان په امریکه کښې ښۀ اعلیٰ تعلیم حاصل کړے دے او دَ امپورټ اېکسپورټ کاروبار کو ي او ښځه یې په یو نیورستۍ کښې پروفېسره ده . او دا هلك احسان دولس ځله په دولسم جمات کښې فېل شو . دۀ دَ پاره ماڅۀ څۀ اونکړل ؟ دَ دۀ دَ امتحان عمله مې ځو ځو ځله مړه کړه ، جېبونه مې ورله ډك کړل، دَ دۀ پرچو پسې مې منډې اووهلے او نتیجه یې دا شوه چې څنګه وو هغسې پاتے شو . تول تربوران او خپل خپلوان وریورې خاندي خو دَ دۀ په خندا څۀ ؟ . . . زما سترګې یې خکته کړې دي . د دۀ چنغله په کچهرۍ کښې سېول ججه ده . دۀ دَ پاره په محکمه پولیس کښې دَ اے اېس آئي نوکري تیاره پرته ده خو شرط پکښې دا دے چې دولسم جماعت پاس کړي . . . اوس . . . سبا له بیا د دۀ امتحان شروع کېږي او د دۀ هډو پروا نیشته ، بېټ په اوږه کړي او دَ



www.pukhto.net

کلي نه بهر په لوے ډاګ کښې هلکانو سره کرکټ کوي. که په کرکټ کښې ښۀ وے نو بیا به یې هم مخ په لاړوو خو په هغې کښې یې هم دغه حال دے کوم چې یې په تعلیم کښې دے ." امان خاندي او هغۀ ته په خندا کښې وائي، "خان جي که تاسو دَ ده دَ سر صدقه ورکړه نو دے به پاس شي انشاء الله ". دې سره هغه پاسي دَ روپو تهېلۍ راخلي او دَ هغۀ کټ کښې یې اېږدي .

ستارخان:. دا تهېلۍ واخله او تولې روپۍ صدقه کړه خو چې دے پاس شي .

امان:. دې تهېلۍ کښې شل لاکهه روپۍ دي . زۀ درنه دا صدقه نۀ غواړم .

ستارخان:. زۀ ستا په مطلب پوهـ نشوم تۀ څنګه صدقه غواړے؟

امان:. خان جي، دا روپۍ کور کېږده او ته جمات ته ورشه دۀ دَ پاره دَ صدقې دوه رکعته نمونځ اوکړه ، خُدائے به یې پاس کړي انشاء الله".

ستارخان:. نۀ کېږي امانه ، نه کېږي . دا هرڅۀ مې کړي دي خو اونشوه .

امان:. تۀ خپل نمونځونه کوه او دے دے خپلې لوبې کوي خو دے به پاس کېږي انشاء الله . که دا ځل پاس نشو نو ستا پړے اوزماغاړه.

ستارخان:. تۀ څنګه به یقین سره وېلے شے چې دے به پاس کېږي.

امان:. زۀ په انتهائي یقین سره دا وېلے شم چې دا ځل به دے پاس کېږي او خامخا به پاس کېږي خو دا خبره دَ راز ده او تول عمر به راز وي .





ستارخان:. زۀ ستا په خبره پوهـ نشوم امانه ؟

امان(په رازدارانه لهجه کښې) دَ دۀ په ځاے به په امتحان کښې زه کېنم او د دۀ په ځائے به زۀ امتحان ورکوم . دَ هغۀ په خبره هغه دَ ډېرې خوشحالۍ نه په کټ کښې په ناسته ناسته یو توپ اووهې او په حېرانتیا وائي دومره لوے احسان ؟

امان:. هاؤ خان جي ، په احسان باندې دا احسان هډو احسان نه دے. دا احسان ، دَ هغه احسان عشرِ عشیر هم نه دے کوم چې تاسو ما سره کړے دے او کوی. خو ماسره دا وعده اوکړه چې دا راز فاش نشي. زۀ غریب سړے یم دَ تانې ، تحصیل او دَ کچهرو دَ دیکو نه یم.

ستارخان:. دا راز به تول عمر راز وي خو تۀ غریب نه یې بلکه دَ ستار خان زوے یې او زۀ به په هرمحاذ ستا تحفظ کوم.

امان:. ډېره ښه ده . نن شپه به زما دلته وي ځکه چې زۀ به دَ پرچې دَ پاره تیارې کوم .

ستارخان:. ډېره ښه ده بچے ، ستاخپل کوردے . (احسان ته) ته ورشه هلکه امان بچي دَ مېلمنو هغه خاص کمره لرې کړه او خپل تول کتابونه وغېره دۀ له ورکړه. هغه ډېر په توندۍ سره پاسېدو، کورته لاړو، خپل تول کتابونه ، ډېټ شیټ او امتحاني سلپ یې راؤړل او هغۀ له ورکړل . بیا یې هغه دَ مېلمنو خاص کمرې ته بوتلو او ورېې ورپسې پورې کړو . امان ګل ناز ته کال اوکړو چې دَ څۀ ضروري کار په وجه هغه کور ته نشي ورتلے . دې نه پس یې موبائېل بند کړو او دَ



www.pukhto.net

پرچې تیارۍ یې شروع کړه . هغه دَ شپې ناوخته پورې په خپله تیارۍ کښې اخته وو . سحر وختي پاسېدو ، نمونځ یې اوکړو، ناشته یې اوکړه او پرچې له روان شو. دَ پرچې حل کولو نه پس چې هغه دَ ستارخان حجرې ته ورغې نو هغۀ په بې صبرۍ سره دَ هغۀ انتظار کوو دَ هغۀ په لېدو هغه مسکے شو او تپوس یې ترېنه اوکړو ، "امانه بچے پرچه څنګه اوشوه ؟" هغۀ په مُسکا جواب ورکړو، "ډېره ښۀ ، ډېره اعلیٰ ، زما دَ توقع نه هم سېوا." هغه دَ هغۀ په خوشخبرۍ ډېر خوشحاله شو . هغۀ ته ورترغاړه وتو او ډېره شېبه یې سینې پورې نیولے وو. بیا یې ورته اووے ، "راځه بچے ، ډوډۍ تیاره ده. ماستا انتظار کوو."

هغوي دواړه ډوډۍ ته په یو دسترخوان کښناستل او ښۀ په مړه ګېډه یې ډوډۍ اوخوړه . ډوډۍ نه پس هغه په موټر سائیکل سور شو او خپلې ډیوټۍ له لاړو . دَ مازیګر نه مخکښې مخکښې هغۀ خپله ډیوټي پوره کړه ، ستارخان له یې پېسې ورکړے او کور ته روان شو. په روانه روانه کښې یې کور دَ پاره او ګل ناز دَ پاره سودا اوکړه او چې لږه شېبه تېرېده نو کور ته رسېدلے وو. په امتحان کښې به چې کله وقفه راغله نو هغۀ به خپله ډیوټي کوله . دَ امان دا تکنیك وو چې کله به پرچه اوشوه نو هغه به په سوالیه پرچې متوقع نمبرې لګولے . چې کله دَ هغۀ اخري پرچه اوشوه نو بیا یې دَ ټولو پرچو نمبرې جمع کړے . په یو لاس یې ستارخان له سوالیه پرچې ورکړے او په بل لاس





یې ورله دَ متوقع نمبرو فهرست هم ورکړو او مبارکي یې هم ورکړو. دَ هغۀ په قابلیت کښې دَ هغۀ هیڅ شك نه وو خو هغه دَ خپل زوي احسان نه دومره مایوسه شوے وو چې دَ امان زړے ورته دَ ړندو سپرلے ښکارېدو . بهرحال هغه دَ هغۀ دَ کارکردګۍ نه ډېرخوشحاله وو.

﴿ دوېمه برخه ﴾

ګل پرې خپل محنت مزدوري کوله، خپل ځان یې هم پالۀ او جانۍ ابۍ یې هم پالله . هغې به هره ورځ دَ خپلې ګټې نه لږې لږې پېسې بچ کولې او هغه به یې په یوه خاوړینه خزانه کښې جمع کولې . کله چې هغه په خپلو پښو اودرېده نو ړومبے کار یې دا اوکړو چې جانۍ ابۍ یې ځان سره کړه ، دَ خړکلي دَ رحیم داد کورته لاړه او هغۀ له یې دَ پلار دَ کفن دفن پېسې ورکړې . بیا یې څۀ موده محنت مزدوري اوکړه او ځان له یې دَ سرو والۍ جوړې کړې . دې سره سره یې خپل کاروبار نور هم وسیع کړو او دَ بهر دَ مزدورۍ نه علاوه دَ منیارۍ څۀ سامان به یې کور هم خرڅوو . بهرته دَ تلو نه مخکښې به یې په دوو کتهونو کښې دَ میناري څۀ سامان او توکي خوارۀ کړل ، هغه به یې جانۍ ابۍ ته پرېښودل او په خپله به کلیو کښې ګرځېده او په کورونو کښې به یې سامان خرڅوو، دې نه علاوه اتوار په اتوار به دَ پولیو تیم سره ګرځېده او میاشت په میاشت به یې تنخواه اخسته . دَ هغې رونه چې دَ هغې دَ کاروبار نه خبر شو نو دَ هغې دَ منعې کولو کوشش یې اوکړو او دهمکي یې ورکړه چې که هغې دَ بهر ګرځېدۀ



www.pukhto.net

پرې نۀ ښودل نو هغوي به ورله پښې ماتې کړي او همېشه همېشه دَ پاره به يې په کور کښنوي . جانی ابی چې دَ هغوي دَ دوړودپکو نه خبر شوه نو هغې تسلي ورکړه چې هغه دې خپله مزدوري کوي او دَ هيچا نه دې نه يرېږي . دې نه علاوه هغې دَ هغې رونړو له پېغام اولېږو چې کـه دَ گل پري يو نوك هم ازار شو نو دَ هغوي پنځه واړه گوتې به هم محفوظ پاتې نشي. دَ جانی ابی په تنبيهـ هغوي څۀ موده خاموش وو خو چې غندل خان ته دَ کلي يو کس په جهګړه کښې دَ هغۀ دَ خور بې جلبه ګرځېدو پېغور اوکړو نو دَ هغۀ پاره اوچته شوه، هغه يې پته پته سارله او اخر يوه ورځ يې په داسې حال کښې ګېره کړه چې هغې سودا خرڅه کړې وه او کورته واپس تله. هغۀ دَ لرګي په يو لوړ باندې هغـه دومره په بې دردۍ سره اووهله چې هغه بېهوشه شوه او په زمکه راپرېوته . هغه ترېنه په بېهوشۍ کښې والی هم اوويستلے ، تول وتك يې هم ترېنه واخستو او په فاتحانه انداز کور ته روان شو . دَ کلي يو څو کسانو هغه اولېدو خو هغوي مينځ ته ځکه نه ورتلل چې هغوي دَ رور خور په جهګړه کښې مداخلت کول نه غوښتل . البته ځينے خواخوږو هغه په کټ کښې واچوله او دَ جانی ابی کور ته يې اورسوله . جانی ابی چې هغه په وينو سره اوليده نو چغې سورې ، ژړا انګولا او خبرې يې شروع کړې. په دغه چغو سورو کښې هغه هم په هوش کښې راغله . جانی ابی په تانه کښې رپورټ کول غوښتل خو هغې منعې کړه او ورته يې





اووې چې دا دَ کور خبره ده ، دَ تانې او کچهرۍ ضرورت نيشته . زۀ نه غـواړم چې زما رور زما په وجه رسوا او دَ خلقو دَ خندا شي". دَ رپورټ نه علاوه جانی ابی نور هيڅ نشو کولې . دَ هغې څوك وو چې په هغې ننګ اوکړي ، دَ هغې بدل واخلي ، هغې سره همدردي اوکړي او دَ هغې اوښکې اوچې کړي . دَ هغې متے يو انځرګل وو او هغه هم لکه دَ انځر دَ ګل نه ښکارېدو او نۀ موندلے کېدو . بهرحال هغې دَ شرشمو په تېلو کښې کورکمان سور کړو ، دَ هغې په زخمونو يې اولګوو او پرسېدلي ځايونه يې ورله په توده شګه ټکور کړل . هغه څه موده په کټ کښې بيماره پرته وه خو نه يو رور پوښتنې له ورغی او نه يوه اورنداره . جانی ابی به چې کله هغې ته کتل نو دَ سرنه به يې سرپيچك لرې کړو او په سر تور سر به يې غندل ته خبرې کولې. ګل پري بـه هغـه منعې کوله خو هغه نه منعې کېده . چې کله ښۀ شوه نو بهرځکه نۀ وته چې دَ رونړو نه يرېده ، البته چې کومه سودا يې په کور کښې وه ، هغه به يې په کور کښې خرڅوله او چې کله به بازار ته سودا پسې تله نو جانی ابی به يې هم ځان سره بوتله . بازار کښې به يې سودا واخسته او ډك سوزوکے سودا به يې کورته راوړو او کور کښې به يې خرڅوله . جانی ابی به چې دَ هغې بې څوکه ژوند ته کتل نو پټ پټ به يې ژړل . څو څو ځله دَ انځرګل ارمان ورغی او په ژړا ژړا کښې به يې وې ، "که هغه وے نو زړۀ به مې راغونډ وو. يوه ورځ په ژړا ژړا کښې په خندا شوه او ګل پري ته يې په خندا خندا



www.pukhto.net

کښې اووې ، "هغه دَ چا خبره چې ،

ـ ماله دا خپل زیر ښتے ښهٔ دے

دَ تنارهٔ پورې قلفی. راسره اوړینه

ګل پرې پوهـ شوه چې هغه دَ سوخته لګیا ده . هغې زر جواب ورکړو ، "داسې مهٔ وایه تروري". که سخته وي او که راحته وي ، په مونږ به یې خُدائے تېره کړي خو چې دَ هغهٔ ژوند ښهٔ شي. زمونږ دعا ده چې هغه که هرچرته وي خو چې خوشحاله وي ، عالم ، فاضل ترې جوړ شي او دَ دین ، ملك او قوم په کار راشي ". په دې خبره دواړو امین اووې او دواړو خپلې اوښکې اوچې کړې .

ګل پرې دَ خپلې بیمارۍ په وجه څهٔ موده دَ پولیو ډیوټۍ نه چهټې کړې وه خو چې کله ښهٔ شوه نو بیا یې خپله ډیوټي شروع کړه البته دَ رونو دَ یرې به یې ځان سره جانۍ ابۍ بوتله . اګرچهٔ دَ هغې دَ بوتلو او ځان سره دَ ګرځولو ضرورت نه وو ځکه چې هر تیم سره به دَ پولیس نفرې هم وه او دَ هغې دَ رونو له خوا دَ یرې ترخې خطره ډېره کمه وه. بله دا چې دَ هغې پېژندل ډېر ګران وو ځکه چې هغه به دَ سرنه واخله تر پښو پورې په پړوني کښې پټه وه او جانۍ ابۍ به هم په یوه زړه شان بورقه کښې پټه وه . دَ دغه محنت ، مزدورۍ په وجه هغې څهٔ موده پس خپل تاوان راسرکړو . وخت تېرېدو او دَ هغې محنت زیاتېدو ، څهٔ موده پس یې دَ کوټې په یوه حصه کښې دېوال اووهو او دوکان یې جوړ کړو . په هغې کښې یې دَ مینارۍ سودا هم خرڅوله ، توکي





او ربړې مېډ جامې یې هم خرڅولې او دَ کریانې سودا یې هم پکښې خرڅوله . اوس هغوي دواړه ډېرې خوشحاله وې ، خپله به یې ګټله ، خپله به یې خوړله او دَ هیچا پروا یې نهٔ لرله .

یوه ورځ هغوي دَ کور ورته جرنده واچوله او دَ پولیو ډیوټۍ له اووتې، هغوي چې ډیوټي شروع کړه نو دَ پولیس یو سپاهي هم ورسره وو، هغوي چې څهٔ وخت ډیوټي اوکړه نو دَ پولیس سپاهي چایې څکلو دَ پاره دَ چاډهېرے ته لاړو او هغوي دواړو او ورسره دَ اولسو ، اتهلسو کالو یو زلمي ډیوټي کوله. ګل پرې او جانۍ ابۍ چې په یو کور کښې ډیوټي اوکړه او بل کور ته ورتلې نو دَ روستو نه په موټر سائېکل دوه سوارهٔ راغلل او دَ شانه یې په هغوي ډزے اوکړے ، موټر سائېکل په یو شغ تېر شو خو ګل پرې او جانۍ ابۍ پل تېر نهٔ کړو او دواړه په زمکه راپرېوتې. جانۍ ابۍ په هغه ځائے لتې اوټکولې او ساه یې ورکړه . دواړه په ګاډ ي کښې واچولې شوې او هسپتال ته اورسولې شوې خو یوه کېزولټۍ ته یوړې شوه او بله دَ پوسټ مارټم دَ پاره مرده خانې ته یوړې شوه . پوسټ مارټم نه پس جانۍ ابۍ په داسے حال کښې ښخه کړې شوه چې دَ هغې اخري دیدار نه ګل پرې اوکړې شو او نه انځرګل . دَ جانۍ ابۍ په دردناك انجام هرڅوك خفه وو او هره سترګه لونده وه . ټول لګیا وو دَ هغې دَ قاتل متعلق یې پس پس کول خو په ډاګه هیچا هیڅ نه وئیل . کله چې دَ علاقې پولیس دَ تفتیش په غرض کلي ته راغۍ او دَ کلي دَ ملك حجرې ته ورغۍ نو



www.pukhto.net

هغه ورته دَ گل پرې او جانی ابی متعلق توله قیصه اوکړه . پولیس دَ شك په بنا غندل گرفتار کړو. هغهٔ چغې وهلے چې "ماقتل نه دے کړے، زهٔ دے کېس نه هډو خبر هم نه یم "، خو چې هغه تانې ته اورسولے شو نو دَ رومبی شپې په مېلمستیا کښې یې دَ خپل جرم اعتراف اوکړو او په دویمه شپه یې ځان سره څلور واړه رونړه شریك مجرمان اوگرځول . پولیس هغوي تول اونیول او دَ 302 او دهشت گردی دفعات یې پرې اولگول . چې کله گل پرې په هوش کښې راغله او پولیس دَ هغې بیان اخستو نو هغې دَ قاتل دَ پیژندگلو نه صفا انکار اوکړو خو پولیس دَ پاره دَ هغې دَ بیان دومره اهمیت نه وو ځکه چې ملزمانو خپل جُرم تسلیم کړے وو. گل پرې چې څنگه په کور کښې بې څوکه وه دغه شان په هسپتال کښې هم بې څوکه وه. اگرچهٔ دَ هغې علاج معالجه سرکاري وه خو دَ کلي هیچا دَ هغې پوښتنه اونکړه . چې کله ښهٔ شوه او دَ کېناستو پاسېدو اوگرځېدو جوگه شوه نو دَ هسپتال نه ډسچارج شوه او کلي ته راغله . هغه چې کورته اورسېده نو ورپورے وو خو جرنده ماته شوې وه . هغه چې کورته دننه شوه او دَ جانی ابی زړه بورقه یې په کټ کښې په وینو سره اولیده نو سترگې یې ډکې شوې او په چغو چغو په ژړا شوه او دَ هغې په وینو سره بورقه یې څوځله ښکل کړه . په ژړا ژړا کښې چې یې کوتې او دوکان ته اوکتل نو دواړه ورونه بقه خلې لرې وو هغه چې دوکان ته ورغله نو ماته جرنده ورسره پرته وه او دوکان تاله شوے





وو. هغې چې لوټ شوے دوکان او لوټ شوے کورته اوکتل نو سر پرې اوگرځېدو . هغې دَ دواړو لاسونو په قالب کښې خپل سر اونیوو او په چغو چغو په ژړا شوه . هغه خاورینه خزانه چې هغې به پکښې بچ شوې پېسې جمع کولې ، دَ غولې په مینځ کښې دانه وانه پرته وه . هغې به دَ خزانې تیکرو ته ، دَ دوکان تشو شکرو ته او دَ کوټې تشې چتی ته کتل او ژړل . کېدېشي چې دَ هغې ژړا دَ هغې گواندیانو اورېدلې وي خو هیچا ورته دَ پنای په دېوال سر اوچت نکړو . نه یې څوك دَ دلاسې وو او نهٔ څوك دَ تسلی وو . هغهٔ چې په ژړا ستړې شوه او زړهٔ یې تش شو نو خپلې اوښکې یې په خپله اوچې کړې ، په خپل سرتور سر یې په خپله لوپټه واچوله او خپل زړهٔ له یې په خپله تسلي ورکړه . هغه ډېره شېبه حېرانه ناسته وه او دَ کور غولې او کوټونو ته یې کتل . یوه شېبه پس یې جهارو راواخسته ، کوټه ، دوکان او غولے یې جهارو او توله خزله یې دَ کوریو گوټ کښې ډهېرې کړه .

هغه دوه ورځې اوږې پرته وه خو چې اونشو نو په دریمه ورځ پاسېده، پړونې یې په سر کړو او دَ کور نه بهر اووته . هغې ته نه وه معلومه چې هغه چرته لاړه شي او چاته خپله زړهٔ سترړه اووائي . په دغه سوچونو او فکرونو کښې هغه روانه وه او چې په ځان پوهېده نو دَ جانی ابی قبر ته ولاړه وه . هغه ډېره شېبه دَ هغې قبر ته ډکې سترگې ناسته وه او دعا یې ورته کوله . په دغه دعا کښې معلومه نه وه چې دَ هغې په زړهٔ کښې څهٔ خیال راغی ، دواړه لاسونه یې په مخ



www.pukhto.net

راخکل او په توندۍ توندۍ روانه شوه چې څۀ توته مخکښې لاړه نو لارې بدله کړه او په بل طرف يې مخه اوکړه . په تلوتلو کښې اودرېده ، بيا يې لاره بدله کړه او په بله لاره روان شوه . په تلو تلو کښې يې پښې اودرېدې او چې په ځان پو هېده نو دَ يو ورمخې ته ولاړه وه ورلړې وو او هغه بې اجازته او بې تپوسه کورته ننوته . او هغې ته دَ تپوس کولو او اجازت اخستو ضرورت هم نه وو ځکه چې دے کورته هغه مخکښې هم څو څو ځله دَ ضرورت په وخت کښې راغلې وه . د دے کور خلقو نه صرف دَ هغې ضرورتونه پوره کړي وو بلکه هغه يې قسمې کړې وه چې دغه کور خپل اوګڼي او لکه دَ خپل کور دغلته تلې شي . دا دَ هغې دَ محسن رحيم داد کور وو. دَ رحيم داد ښځې خوبان چې هغه اولېده نو خپل کار يې په ځائے پرېښودو او دَ هغې ستړي مشي له ورغله . هغې له يې غاړه ورکړه ، څو څو ځله يې ښکل کړه او ځان سره يې په کټ کښې کېښنوله . هغوې لا خپلو کښې خبرې کولې چې رحيم داد کورته راغے . دَ هغۀ په راتلو خوبان پاسېده او هغې دَ پاره يې دَ ډوډۍ بندوبست شروع کړو. دَ روغ جوړ نه پس رحيم داد دَ هغې په سر لاس کېښودو او دَ هغې دَ تسلۍ دَ پاره هغې سره کېناستو . دَ هغۀ په تپوس باندې هغې هغۀ ته خپله قيصه بيا شروع کړه هغه چې دَ هغې دَ دوکان او دَ کور دَ غلا نه خبر شو نو دَ خفګان او همدردۍ په ځائے په خندا شو او داسې يې خاندل چې سترګې يې دَ اوښکو نه ډکې شوې. ګل پرې دَ هغۀ په بې وخته او بې ځايه خندا خفه هم شوه او حېرانه هم شوه . هغۀ ته يې په برندو سترګو اوکتل، په خلۀ يې هيڅ اونه وې خو دَ هغۀ نه دومره متنفره شوه چې دَ هغۀ مخ ته کتل يې هم مناسب اونه ګڼل . هغې دَ هغۀ نه مخ واړو ، پاسېده او پروني کښې يې ځان اونغښتو. هغه چې دَ هغې په نيت پو هـ شو نو ورته يې اووے ، "چرته ځې ، کېنه ډوډۍ اوخوره". ګل پرې هغۀ ته په قهرېدلو سترګو اوکتل او وې وئيل ، "زما په ځائے ته اوخوره چې موړ شے او په خندا کښې دے خواږۀ پېدا شي". رحيم داد يو ځل بيا اوخاندل او وے وئيل، "تۀ جوړ زما په خندا خفه شوې".

ګل پرې :. نه کاکاجي ، په خندا هم لاڅوك خفه کېږي ؟ ستاخندا خو زۀ دومره مړه کړم چې ځان راته اغبړلې ښکاري . تاسو ټول ماته دَ يوې سوړې ماران ښکارۍ . هيچا کښې هيڅ همدردي نيشته . زما تروړ قتل شوه ، زۀ زخمي شوم، زما کور او دوکان لوټ شو ، زۀ په هر طرف تباه شوم او تۀ راپورې خاندے. زۀ ډېر په افسوس سره دا وېم چې تۀ ما څنګه ګڼلے ، هغسې اونۀ ختلے ". رحيم داد خپله خندا بنده کړه ، دَ اوښکو ډکې سترګې يې په لمنه اوچې کړے ، سنجېده شو او هغې ته يې اووے ، "خفه نشي بچې، ماتا پورې نه دي خاندلے بلکه هغه چا پورې مې خاندلي دي چا چې ستادوکان اوکورلوټ کړے دے او ستا سودا يې اوړلے ده ".

ګل پرې :. دَ نور وضاحت ضرورت نيشته ، زۀ درنه لاړم .



www.pukhto.net

رحیم داد:. چې څې اوخامخا څې نو خپله سودا دے هم څان سره یوسه
ګل پرې :. سودا . . . .؟ څه مطلب ؟
رحیم داد :. مطلب دا چې ستا دوکان چې چا لوټ کړے دے نو هغه سودا او سامان یې مونږ کره ایښلے دے او ما هغه سودا امانې ساتلے ده ".
ګل پرې هغه ته په چپه خلۀ حیران ګورې ، دَ هغې دَ حیرانتیا ختمولو دَ پاره هغه ، هغه دَ لاس نه نیسي او ورته وائي ، "که ستا زما په خلۀ باور نشي نو راشه په خپله یې اوګوره ". رحیم داد هغه یوې کوټې ته بوځي او هغه تولـه سودا ورته ښائي کومه چې په کټونو او دَ کټونو لاندې ډب ډهیرې پرته وه . هغه چې خپل لوټ شوے سودا او سامان اووینې نو په مخ یې دَ خوشحالئ رڼا راشي او هغۀ ته وائي،
"کاکا جي تۀ انسان یې اوکه فرښته "؟
رحیم داد :. انسان په خپل عمل شیطان هم جوړیدېشي او فرښته هم خو فرښته انسان نشي جوړیدې .
ګل پرې :. کاکاجي ، تاته پته وه چې دا سودا زما دَ دوکان ده ؟
رحیم داد :. نه ، ماته پته نه وه چې دا سودا ستا دَ دوکان ده ، خو ماته دا پته ده چې حلال مال نه ورکیدېشي ، نۀ پتیدېشي او نۀ زیان کیدېشي. زما خندا په تا څکه بده اولګیده چې ستادوکان لُوټ شوے ووخو ما په اصل کښې ستا بخت او دَ هغۀ حماقت پورې خاندل . اوس مطمئنه شوې ؟"
دَ هغۀ په تپوس دَ هغې سترګې ډکې شي ، دَ هغۀ پښو ته سلامي





کیږې او په ژړا ژړا کښې ورته وائي ، "ما معاف کړه کاکاجي ، ماستا بې ادبې کړې ده ".
رحیم داد هغه په دواړه لاسه نیسي ، هغه دَ پښو نه اوچتوي او ورته وائي ، "تا بې ادبي نۀ ده کړې ګل پرې ، تا دَ هغۀ ردِ عمل اظهار کړې دې دَ کوم چې دَ یوې مظلومې نه توقع کیدېشي . تۀ یوه نرۍ او بهادره جینۍ یې ، زۀ ستا په محنت او جرأت فخر کوم ". هغه دَ هغې په سر لاس اړدي او په مُسکا مُسکا ورته وائي، "اوس خو به ډوډۍ خورې که نه "؟
ګل پر ې:. کاکاجي ، چې رښتیا خبره درته اوکړم نو زۀ د دریو ورځو نهره یم او تاسو کره دې دَ پاره راغلې ووم چې دلته څان موړ کړم .
رحیم داد:.دا ستا خپل کور دے بچې ، چې کله او څۀ وخت دے زړۀ غواړې نو راځه . څۀ چې دې زړۀ غواړې نو هغه به درته ملاویږې. خپل نصیب به خورې او خپل به اوړې ، هغوي لا خپلو کښې خبرې کولې چې ګل خوبان هغې پسې کوټې ته ورغله او ګل پرې ته یې اووې ، " راځه لورې چې ډوډۍ اوخورې" هسې رحیم داد زنانۀ و سره دَ ډوډۍ خوړلو عادت نه وو خو دَ هغې دَ زړۀ د پاره هغې سره ډوډۍ ته کیناستو او تر هغې یې ورسره په تالي کښې ګوټې وهلې چې هغه یې ښه مړه کړه . دَ ډوډۍ نه پس ګل پرې دَ رحیم داد نه تپوس اوکړو "کاکاجي ، دے سودا سره به څۀ کوو؟"
رحیم داد:. دا ستاکارنه دے بلکه زما کار دے . دا ستادَ کور نه دَ شپې



www.pukhto.net

په تیارهٔ کښې پټ په پټه تلے وه او دَ شپې په تیارهٔ کښې به پټ په پټه ستا کور ته درځي "

ګل پرې :. کاکاجي ، که خفه کېږے نه نو مانه یوه بله غلا هم شوې ده.

رحیم داد:. (په حېرانتیا) بله غلا . . .؟ څهٔ مطلب ؟

ګل پرې:. هاؤ کاکاجي ، ماسره یوه خاؤرینه خزانه وه ، مابه په هغې کښې هره ورځ خپلې بچت شوې پېسې اچولې . هغه خزانه زمونږ دَ کور په غولې کښې ماته پرته ده او پېسې ترې اوړلې شوې دي ".

رحیم داد:. څومره پېسې وې پکښې ؟

ګل پرې :. دَ پېسو په حقله ماته هېڅ پته نیشته چې څومره وې پکښې.

رحیم داد:. ستا په خیال به پکښې پنځهٔ شپږ زره روپۍ وې؟

ګل پرې:. کیدېشي دغه هومره وې پکښې .

رحیم داد:. تهٔ غم مهٔ کوه ، تاته به ستا ټولې پېسې ، پېسه په پېسه ملاوېږي ". دې سره هغه مُسکے شو ، دَ جېب نه یې موبائېل را اوویستو ، دَ چا نمبر یې پرې راوستو او وئے وئېل ، "یَه هلکه ، ته کوم ځاے یې ؟"

اواز:. زهٔ په کلي کښې یم نائېکه ، ولې خېر شه خنګه دے کال اوکړو.

رحیم داد:. یَه هلکه تاخو زهٔ په شرمونو اوشرمولم . تاچې دَ چا دَ کور او دوکان نه غلا کړے ده ، هغه زما په کور کښې اونیولے شوه . دا به څهٔ کېږي هغه جینۍ راغلې ده او په ما رپورټ کول غواړي . زهٔ ورته منت زاري کوم خو نه مني دې سره زهٔ څهٔ اوکړم ؟





اواز:. نائیکه خپل سامان اوسودا ورکړه خو چې نه رپورټ اوکړي او نه ورته زما نوم معلوم شي.

رحیم داد :. هغه چې زما دَ کوره دَ غلا مال اوړي نو دغسې خو به تهٔ هم اوشرمېږے او زه هم . ستاخو په شرم څهٔ کار نیشته خوزما به چا سره دَ سترګو لګېدو شان پاتے نشي.

اواز:. تهٔ غم مهٔ کوه نائېکه ، دا ټوله سودا به ورله بېګاه له کورته یوسم خو چې یو غوږ او بل غوږ درنه خبر نشي .

رحیم داد:. او دَ روپو به څهٔ چل کوے؟

اواز:. روپۍ . . . ؟ دَ څهٔ روپۍ ؟

رحیم داد خان:. تا چې دَ هغې خاؤرینه خزانه ماته کړه او پنځوست زره روپې دے یوړے نو دَ هغې به څهٔ کوے ؟

اواز:. پنځوست زره روپۍ ؟ نه نائېکه داسې نه ده . هغې کښې خو ټولې ټالې شل زره روپۍ وې او هغه مونږ دواړو خپلو کښې تقسیم کړې دي .

رحیم داد:. تهٔ که هرڅهٔ واے خو هغه نهٔ مني ، خپلې پېسې پوره په پوره ورکړه ګینې رپورټ به درباندې اوکړي او چې یو ځل دے پولیس اوېزانده کړي نو بیا به یې په خپله ورکوے . حیا به دے هم لاړه شي او پېسې به هم درنه لاړې شي .

اواز:. تهٔ په خداے باور اوکړه نائېکه ، په سورقرآن مې دے قسم وې چې ټولې ټالې پکښې شل زره روپۍ وې. لس زره ماسره دي او لس



www.pukhto.net

زره مې ملګرې له ورکړې دې.

رحیم داد :. دا خو تهٔ واے کنه ، چې زور دریاندې راشي نوبیابه هم دغه پنځوست زره ورکوے او دَ پولیس شرمول به پرې لا تېرے وي. اوس ستاخوښخه ده که خپلې روپۍ ورکوے خو ډېره ښه ده ګینې زهٔ ورته ستا دَ پاره منت نشم کولے .زهٔ په دے پرېږم چې هسې نه ماهم تاسره شریك مجرم اوګرځوي .

اواز:.نه ګوری نائبکه ، رپورټ درنه اونکړې ګینې زماخوبه تول خېل خانه تباه شي .زهٔ خوبه په تول کلي کښې اوشرمېږم .

رحیم داد:. تهٔ هم دغسې شرمېدلے ښهٔ یې. اوس راته لنډه خبره اوکړه چې دې جینۍ سره څهٔ اوکړم .

اواز:. یره نائبکه په خُدا ے به شي او په تا به شي. په څهٔ طریقه یې پخلا کړه زما د پاره ورته منت زاري اوکړه خو چې تانې ته درنه لاړه نشي .

رحیم داد:. نه نه ، نه مني ، نه منت مني او نه زاري مني ، هغه صرف خپلې پېسې مني ، نور هیڅ نه .

اواز:. چې نه مني نو هم دغه پنځوست زره روپۍ ورکړه .

رحیم داد :. چې زهٔ ورکړم نو ماله به کله راکوے ؟

اواز:. بیګاه په سبا بلاریه فارمۍ غوا مې ولاړه ده ، دے راتلونکي اتوار له به یې خرڅه کړم او تاله به خپلې پېسې درکړم خو خبره ختمه کړه .

رحیم داد:. ډېره ښهٔ ده ، تهٔ بې غمه اوسه ، دې سره هغه موبائېل بند کړې ، مسکے شي او هغې ته وائي ،"دهٔ سره څهٔ اوکړو "؟





ګل پرې:. کاکاجي ، زیاتې ورسره مهٔ کوه ، هغه پېسې ترېنه واخله کومې چې په خزانه کښې وې. مامعاف کړې دې ته یې هم معاف کړه او خبره ختمه کړه . رحیم داد هغې ته په خوږ نظر ګورې او وائي، "شاباش بچې ، ستادے خُدا ے حیا اوکړې چې هغه دې معاف کړو". دې سره پاسي ، خپلې کوټې ته ورشي او یوه شېبه پس بیا راشي او هغې سره کېني بیا دَ جېب نه پېسې را اوباسي او هغې ته وائي، "ستا پېسې کهره شوې ، هن بچې دا شل زره روپۍ دې . دا اوشمېره او ځان سره سمبالې کړه ". ګل پرې چې دَ هغهٔ نه پېسې واخلې نو په مُسکا مُسکا دَ هغهٔ شکریه ادا کړي او بیا ترې نه تپوس کوي ، "کاکاجي ، ستاخو په خرکلي او خواږ شانورو کلهو کښې دَ نېك نامې ډېر شهرت دے خو حېرانه په دې یم چې زما دَ غلا مال دلته څنګه راغی .

رحیم داد:. هاؤ ، دا دې ډېر ښهٔ تپوس اوکړو. ستا غلا چې چا کړے ده، هغهٔ ماته دا بهانه کړے وه چې شاه نوازخان هغهٔ ته دَ میني خالې کولو حکم کړے دے . هغه دَ چا خبره چې دَ مارخوړلي دَ پړې نه هم یره کېږي . هغه سره دا یره ملګرې شوه چې لکه ستاسو غوندې ورته کډه بهر اونه غورځوي . په دې وجه هغه ماته دَ یو څو ورځو دَ پاره د دغه سامان سمبالولو خواست اوکړو . ما دَ هغهٔ په خلهٔ اعتبار اوکړو او دغه سامان مې په کوټه کښې کېښودو خو خدا ے شته په زړهٔ کښې شکي شوم . کله چې تادَ خپل دوکان دَ غلا خبره اوکړه نو زما شك په



www.pukhto.net

یقین کښې بدل شو چې دا سامان هم ستا دَ دوکان دے ."

ګل پرې یو ځل بیا دَ هغهٔ شکریه ادا کوې او بیا ورته وائې ، "کاکاجي، ماته اجازت دے ، کور ته تلې شم ؟"

رحیم داد:. هاؤ بچې تاته اجازت دے کورته لاړه شه او بېګاه له به ستا ټول سامان ستا کور ته در رسي ، بیاخپلې ښځې خوبان ته وائې، "دَ سید امین مورې ، ګل پرې له ډوډۍ ورکړه چې ځان سره یې کورته یوسي".

ګل پرې:. نه کاکاجي ، زهٔ تر خلې خلې مړه یم.

رحیم داد:. که زړهٔ ته دے اوشوه خو ډېره ښه ده ګینې سباله به یې اوخورې . خوبان هغې له ډوډۍ او ترکارې ورکړې او په خندا خندا یې رخصت کړې . ګل پرې چې ماښام کورته اورسېده نو دَ کوځې ور یې پورې کړو خپل دارودرمل یې اوخوړل . بیا یې ځان پسې دَ کوټې ور هم پورې کړو، په خپل کټ کښې پرېوته او سروغوړ شوه . سحر چې هغه په خپله طبعه پاسېده او بهر ته اووته نو دَ هغې دَ غلا ټول سامان راوړلے شوے وو او بهر په کټونو کښې پروت وو. هغې چې خپل سامان ته اوکتل نو مسکۍ شوه او دَ مسکا سره په سجده پرېوته.

★★★★★★★

★★★

★





## «دریم باب»

دَ خپلو شاګردانو او معتقدینو دَ بې حسې په وجه دَ کوچنې استاذ زړهٔ دَ هغوې نه او دَ شاعرۍ نه دومره موړ شوے وو چې هغهٔ په زړهٔ کښې غوټه کړے وه چې نه به هغه بیا چا شاعر سره تعلق اوساتي او نهٔ به شاعري اوکړي . هغه څهٔ موده په خپله فېصله ټینګ ولاړ وو خو دَ شاعرۍ نشه دَ ټولو نشونه ورتېره ده . شاعر دنیا پرېښودے شي خوشاعري نشي پرېښودے . هم دغه وجه ده چې کله به هغه یواځے وو او دَ خبرو کولو به ورسره څوك نه وو نو دَ تخیّل په دنیا کښې به ښاپېرو سره هم کلام وو. په رنډو سترګو به یې دَ هغوې دَ زلفو پېچ وخم شمېرل او دَ هغوې سحر انګېز اداګانو ته به یې کتل. ځان سره به ګونېدو خو هېڅوك پرې نهٔ پوهېدل چې څهٔ به یې وئېل. بل خوا دَ ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ په وجه دَ ملك حالات انتها ته رسېدلي وو . دَ بدامنۍ دا حال وو چې په لاره کوڅه او جمات اوحجره کښې هېڅوك محفوظ نه وو. دَ بمونو چودنې کېدې ، خودکشۍ کېدې ، سرونه الوتل ، لاشونه پرېوتل او دَ لوټ مار بازار ګرم وو. په دغه حالاتو ، واقعاتو او وارداتو ، شاعرانو او ادیبانو لیکل کول خو هیڅ ترې نه جوړېدل . کله چې په یو مشهور سکول باندې دَ عسکریت پسندو یوه ظالمانه حمله اوشوه او ګڼ شمېره واړهٔ ماشومان شهیدان او زخمیان شو نو دَ ملك دَ دانشورانو په هلوځلو کښې هم اضافه اوشوه او "دَ امن پېغام" په نوم دَ دانشورانو یو تنظیم جوړ شو او هغوې دَ ملك دَ لویو



www.pukhto.net

لویو ښارونو نه علاوه په کلیو او بانډو کښې غونډې کولے او په خلقو کښې یې دَ امن احساس پیدا کولو کوشش کوو. دا پروګرامونه به ځاے په ځاے کېدل خو کوچنے استاذ ترې نۀ خبرېدو او نه یې پکښې شمولیت کول غوښتل. خو چې کله دَ بالا کلي نه پورې دَ شاړې بابا بانډه کښې د دغه کلي دَ یو شاعر اکبرخان اکبر په حجره کښې غونډه جوړه شوه او ځاے په ځاے پکښې دَ ګډون کولو اعلانونه اوشو نو امان ته هم پته اولګېده. هغۀ غوښتل چې دَ هغۀ پلار هم په دغه مشاعره کښې شرکت اوکړي او دَ خپل کلام په ذریعه دَ خپل زړۀ براس اوباسي کوم چې دَ ډېرې مودې نه دَ هغۀ په زړۀ جمع شوے وو او دَ وتو موقعه ورته نۀ وه ملاو شوے. هغۀ چې په دے غرض کورته راغی، او پلار سره یې "دَ امن پیغام" او دَ دې دَ پسِ منظر په باره کښې خبره اوکړه او هغۀ ورته دَ ورو شهیدانو او زخمیانو تول تفصیل چې بیان کړو نو هغه خپله فېصله شاته کړه او هلته یې دَ تلو اراده اوکړه.

هغۀ سره په تحریري شکل کښې هیڅ نه وو نو په دې وجه هغۀ دَ خپل کلام وِرد شروع کړو او دَ شپې ترناوخته پورې لګیا وو هغۀ ته یې دَ انتخاب دَ پاره خپل شعرونه اورول. اګر چۀ دَ هغۀ تول کلام منتخب وو او دغه مشاعرې دَ پاره ورته انتخاب ډېر ګران وو خو دَ موجوده حالات وواقعات په رڼا کښې هغوي یو څو قطعاتو، غزلونو او نظمونو انتخاب اوکړو. سبا مازیګر هغۀ ځان سره په موټر سائېکل کېنوو، دَ شاړې بابا بانډې ته یې اورسوو او اکبرخان سره یې خپله او دَ هغۀ پېژندګلو اوکړه.





اکبرخان اکبر دَ دې غونډې نه یو څو ورځې مخکښې شاعرانو له دَ طرحې دَ پاره یو شعر ورکړے وو او په دغه طرحه باندې هغوي ته دَ خپل خپل کلام اورولو خواست شوے وو. طرحې شعر دا وو،

؎ په جنازو باندې لیدلي ماګلونه مدام
ملګرو نن مې دَ ګلونو جنازې اولیدے

کوچني استاذ ته هم دغه طرحه ورکړې شوه خو په داسے وخت کښې چې پروګرام شروع شوے وو. هغۀ سره اګر چۀ دَ وخت کمے وو خو دَ خدا داد قابلیت هیڅ کمے ورسره نه وو. دَ هغۀ وار دَ ټولو شاعرانو دَ کلامونو اورولو نه پس راغی. هغۀ چې دَ اکبرخان اکبر په سهاره سټېج ته بوتلے شو او دَ سټېج سېکرټرۍ په تعاون مائېک ته اودرولو شونو ټولو خلقو دَ هغۀ په احترام کښې دَ ډاډګېرنې په طور دَ خوشحالۍ لاسونه اوپړقول. دَ هغۀ نه پس هغۀ سامعینو ته اوو‌ے،

"دَ طرحې کلام اورولو نه مخکښې به تاسو ته یوه قطعه وړوم، قطعې نه پس به طرحې کلام او دې نه پس به ورو شهیدانو ته دَ عقیدت په توګه یو څو شعرونه وړوم."

تول (په چغه) ارشاد، ارشاد، هغه په اوچت اواز په ترنّم کښې داسې شروع شو.

قطعه ؎ چې نظر مې په حالات وواقعات شي
دَ انسان دَ شرافت نه مې زړۀ تور شي
دَ نړۍ نورو قومونو ته چې ګورم
خُدایه خپل غیرتي نوم راته پېغور شي



www.pukhto.net

دَ سامعينو له خوا دَ لاسونو پړقار.

طرحی کلام :۔ پـه جنـــازو بانــدې ليــدلي ماګلونه مدام

مـلـګـرو نـن مـې دَ ګـلـونـو جنـازې اوليـدے
هغـه غـوټـی ، هغـه ګـلـونـه ، دَ چمن ښائست
نـن پـه هغوې مې په رندو سترګو خازې اوليدے
هغـه چې حسـن تـه يې زيړې پلوشې پسخېدې
پـه هغـه ګـلـو مـې دَ سرو وينو غـازې اوليدے
هغـه اومـهٔ خـلـهٔ ماشومـان هغـه ګلونـه دَ قـام
نـن دَ هغوې مې تـرخې تـرخې شيرازې اوليدے
چې اوچت شوے کربلا کښې وويرې سر دَ حسينؓ
هاغسې ډيرې مې ملګرو سرې نېزې اوليدے
هغـه کورونـه چې چغار وو دَ طوطيانو پکښې
کوچنيـه نـن مـې هغـه پورې دروازې اوليدے

د عقيدت يو څو شعرونه :.

۔ په زړهٔ کښې مې چې خيال دَ شهيدانو ځي راځي
نـومـونـه مـې پـه خُـلـهٔ دَ ماشومـانو ځي راځي
راغـلـې فـرشتـې دَ اسـمـانـونـو ، جنــازو لــه
پـه څنګ کښې دَ سپرلي دَ سرو ګلانو ځي راځي
رنګـونـه دَ شفق چې دَ اسمان په لمن ښکارې
سـرخـی پــه مخ پرتې دَ شهيدانو ځي راځي





کـوچـنيــه خپـل شعـرونـه ورتـه واړه هديـه کـړه
سـلام لــه يـې جـرګـې دَ شـاعـرانـو ځي راځي

پـه دے مـحـفـل کښـې دَ شهيـدانـو او مـاتو ګوډو ماشومانو پلاران او خپلوان هم ناست وو. دَ هغهٔ په دلسوز اواز دَ ټولو سترګې سرې وې او پـه چغو چغو يې ژړل . په دغه ژړا ژړا کښې پروګرام ختم شو . هغه دَ اکبـرخان اکبر په سهاره دَ سټېج نه کوز شو او هغهٔ سره روان شو . ټول سامعين اوناظرين دَ هغهٔ دَ کلام او اواز نه دومره متاثره شوي وو چې دَ هغهٔ ليدو او دَ هغهٔ سلام له به ورتلل او دَ هغهٔ لاسونه به يې ښکلول. دَ چايـو پـروګـرام شـوے وو ، نـورمـېلمانهٔ چايې څکلو دَ پاره پنډال ته لاړل او هغـه او امـان يـوې خـاص کمرې ته بوتلي شو اوهلته په عزت کـېـنولـې شـو . دَ چايې څکلو نه پس مېلمانهٔ خوارهٔ شو خو اکبرخان اکبـر هغـه تـلـو تـه نهٔ پرېښودو . دَ هغهٔ فی البديهه کلام دَ هغهٔ دومره خـوښـخ شـوے وو چې ډېر په منت او زاری يې شپې ته په دے غرض ايسـار کـړو چې دَ هغـهٔ نـه نور شعرونه ووري . امان هم غوښتل چې هغـه هغـهٔ سره شپه اوکړي او دَ هغهٔ دَ شاعرانه خيالاتو او جذباتو ښه پـوره کېهتارسز(Catharsis )اوشي . پـه دې وجـه هغهٔ هغهٔ له دَ يوې شپې تېرولو اجازت ورکړو . ماښام تيارهٔ ، هغهٔ دَ سبا دَ راتلو او دَ هغهٔ دَ بوتلو په وعده دَ هغوې نه رخصت واخستو او کور ته روان شو.

هغـه لا دَ کـور پـه لاره وو چې هغـهٔ تـه کـال اوشو . هغهٔ چې موبائيل اوچت کړو نو مُسکے شو او وے وئېل ، "ګل ناز کال دې څنګه اوکړو ؟



www.pukhto.net

اواز:. کال مې ځکه اوکړو چې زۀ په کور کښې يوائې يم . تۀ چې هر چرته يې نو زر تر زره کورته راشه .

امان:. اوه ، تـه يوائې يې؟ دَ کورنور خلق چرته دي؟ خېرخودے کنه. خُدائے مۀ که څۀ بده پېښه خونه ده شوې؟

اواز:. نـه هيـڅ نيشتـه ، بالـکـل خـېر دے خو زۀ يوائې يم. ته کورته راشه نورې خبرې به دلته اوکړو .

امان:. يـرېـږه مۀ ، زۀ دا دے درغلم . هغه موبائيل بندکړې جېب کښې واچوې او موټر سائيکل له پښه ورکړې ، چې بالاکلې ته اورسېدو نو هلتـه يې په بازار کښې هغې له پتيسه واخسته او دَ کور په طرف روان شو. ګل نـاز دَ هـغـۀ په انتظار کښې توپک په لاس دَ کور مخې ته ولاړه وه . هـغې چې دَ لرې نه دَ ګاډې رڼا اولېده نو په زړۀ کښې يې دَ امېد رڼا پېدا شوه او چې څومره څومره دَ ګاډې رڼا نزدېکېده هومره دَ هغې يره کمېده . کله چې هغه دَ هغې خوا له اورسېدو او په هغې تېرېدو نو هغـې ورتـه دَ اړخ نـه توپك اونيوو او ورتـه يې اووې ، "اودرېږه چې مـخـکښې لاړ نشے " دَ هغې په دهمکۍ هغۀ ګاډے اودرو، " او هغې تـه يې پـه يـره يـره اوکتـل . هغې يو ځل بيا په چغه اووې، "هېنډزاپ" هغـۀ چې لاسونـه اوچت کړل نو هغې دَ هغۀ جامه تلاشي واخستـه . پېسې يې ورسره پرېښودے او پتيسې يې ترينه واخستـه . بيا يې ورته اووې ، "څـه مـخـکښې تېرشه ". هغۀ په حېرانتيا اووے ، "ګل ناز ته ؟ تۀ په دے روپ کښې ماپه ړومبې ځل اوليدے .





ګل ناز:. اوه ، دا تۀ يې ، يرېږه مۀ ، څه مخکښې تېر شه .

امان:. څـۀ دې اووې چې يـرېـږه مـه . کـه زۀ يـرېـدے نو په دے شاړو کښې بـه ولـې ګـرځـېدے .دې سره هغه مُسکے شي ، مخکښې تېر شي او دَ خپـلـې کـوټې مـخـې تـه مـوټـر سائيکل اودروي. هغه چې کـوټې ته ورشي او کښني نو هغه هم ورپسې په مُسکا مُسکاورشي او ورته وائي، "څنګه مې اوېرولې بابو".

امان:. واقعي ماستا جمال ليدلے ووخو جلال نه ، او اوس مې دواړه اوليدل.

ګل ناز:. بابو، تۀ رشتيا اوېرېدے او که هسې وائے؟

امان:. ګـل ناز، زۀ دَ توپك نه او هرهغه چانه يرېږم چې لاس کښې يې توپك وي . توپك نـه خپـل دوست پېژني او نه دشمن . . . اونه دَ انسان دَ نيـت پـه بدلـېدو کښـې وخت لګي . که تا دَ توپك په کوترې ګوته راخکلې وې نو ګېنې ستا توپك به په ما ډز نۀ کوو؟

ګل ناز:. اوه ، تۀ جوړ خفه شوے ، ماخو تاسره توقې کولې .

امـان :. ماسره داسے علم نيشته چې دَ چا دَ زړۀ او نيت معلومات راته اوشي .

ګل ناز:. آيا ته په ما هم شك کوے ؟

امان:. شك په هر چا کېدېشي خو اعتبار په هرچا نشي کېدے.

ګل ناز:. په دغه هرچا کښې زۀ هم شامله يم ؟

امان:. بالکل هم دغسې ده .

ګـل نـاز:. بـابو ، تۀ داسې دَ مايوسۍ خبرې ولې کوے . که زمانه خفه



www.pukhto.net

شوے یې نو زۀ درنه معافي غواړم. ما معاف کړه پلیز.

امان: تۀ معاف کېدېشې خو په یو شرط او هغه دا چې توبه اوباسه چې بیا به داسې کارهیڅ کله نه کوې.

ګل ناز: په څو قرته؟ امان مُسکے شو او ورته یې اووے، "بس اوشوه، ستا توبه قبوله شوه او ستا معافي هم اوشوه، اوس لاړه شه او ماله ډوډۍ راوړه.

ګل ناز: بابا نه راځي؟

امان: هغه دَ چا مېلمه دے.

ګل ناز: او تۀ ....؟ امان مسکے شي اووائی، "زۀ ستامېلمه یم".

دې سره دواړه خاندي او هغه په خندا خندا کښې کورته روانه شي. یوه شیبه پس هغه ډوډۍ راوړي، درې خوره کړي او هغۀ ته وائي، "راځه مېلمه ډوډۍ تیاره ده". امان مُسکے شو او ورته یې اووے، "چې ډوډۍ تیاره ده نو زۀ هم تیاریم". هغه بهر لاسونه اووینځي او بیا هغې سره ډوډۍ ته کېني. هغوي دواړه په رومبي ځل یودسترخوان ته کېني او په یو تالي کښې په خوند خوند خوري. دَ ډوډۍ خوړلو نه پس امان هغې ته په مینه ګوري او وائي، "ماپه خپل ټول عمرکښې ایله نن په مړه ګېډه ډوډۍ اوخوړه، ډېرخوند یې اوکړو."

ګل ناز: دغه حال زما هم دے. ډېرخوند یې اوکړو او د دې وجه شاید دا ده چې دېکښې زمونږ مینه ګډه شوې وه.

امان: کاش زمونږ دا وقتي رفاقت په دائمي محبت کښې بدل شي.





ګل ناز: (په لاپروائی) هغه وخت لرے نه دے خو تۀ لرے یې.

امان: زۀ لرے نه یم ستاخوا کښې ناست یم.

ګل ناز: زماخوا کښې نه بلکه زما په زړه کښې ناست یې خو بیا هم لرے یې.

امان: ستا په منطق زۀ پو هـ نشوم.

ګل ناز: تش په ناسته هیڅ نۀ کېږي. په دې ناسته ناسته به کالونه تېرشي او دا هرڅه به داسې تېر شي لکه تېر وخت چې تېرشواوهېرشو.

امان: زۀ هیڅ نشم کولے ګل ناز. هرڅۀ چې کوي نو ستامورپلار به یې کوي. زمونږ دَ قسمت فېصله دَ هغوي په خلو کښې ده". ګل ناز یو لویه ساه اخلي او هغۀ ته وائي، "څه چې کورته څو، د ژمي لویه شپه ده او دا شپه به هلته په خبرو خبرو تېره کړو". امان هغې ته په حېرانتیا ګوري او وائي، "کورته ...؟

ګل ناز: حېران ولې شوے، زمونږ کورستادَ پاره څۀ پردے خونه دے.

امان: ستاخبره صحي ده خو دلته ولې نه ...څه ته خپل کورسمله او زۀ به دلته سملم.

ګل ناز: دلته به تۀ یواځے یې او هلته به زۀ یواځے یم.

امان: زما فکر مۀ کوه مادَ پاره دا څۀ نوې خبره نه ده، زۀ دې سره بلد یم.

ګل ناز: چې زۀ ستافکر اونکړم او تۀ زما فکر اونکړے نوزمونږ فکر به څوك کوي؟

امان: ستا خبره صحي ده خو هلته ملاسته ماته ښۀ نه ښکاري.



www.pukhto.net

خپل غیرت اجازت نهٔ راکوي ، "گل ناز دَ هغهٔ په سترګو کښې سترګې اچوي او وائي ، " زهٔ یرېږم بابو، په تا هم یرېږم او په خپل ځان هم یرېږم ، داسې معلومېږي چې . . . " هغه مخکښې څهٔ وېل غواړي خو اونهٔ وېلې شي او چپ شي . . . امان دَ هغې ډاډګیرنې دَ پاره هغې ته وائي ، "یرېږه مه ، هیڅ نیشته ، ځان پسې وربند کړه او بېهٔ بې غمه سمله اودهٔ شه ". هغه دَ هغهٔ نه سترګې اړه وي او وائي، "ستا دَ مشورې ډېره مننه". هغه لوښې راغونډ کړي او په تیزۍ سره بهر اوځي . په تلو تلو کښې ورته هغه په مُسکا وائي، "ولې مروره شوي"؟ هغه دَ هغهٔ نه مخ واړه وي او هیڅ جواب ورنکړي . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه دَ کوټې ورپورے کړي ، لالټېن مړ کړي ، په خپل کټ کښې پرېوځي او دَ هغې متعلق سوچونه کوي. په دغه سوچونو فکرونو کښې دَ هغهٔ په زړه کښې راغله چې هغه واقعې یواځې ده او هغې ته دَ تحفظ ضرورت دے . هغهٔ له هغې سره تلل پکار ووخو ډېر زر یې دَ خپل خیال په خپله تردید اوکړو او ځان سره یې غلې غوندې اووے ، "هغه یوې نامحرمې حسینې پېغلې سره په یوه کوټه کښې څنګه پاتے شي ؟ که هغه دغسې کړے وے او چالیدلے وے نو دَ دواړو دَ پاره دَ بدنامۍ باعث جوړېدېشو. او که دغسې شوے وے نو هغه به چا سره دَ سترګو لګېدو قابل پاتے شوے نهٔ وے . دَ هغهٔ په زړهٔ کښې مختلف خیالونه راتلل او په مختلفو لارو تلل . هغهٔ دغه کړل ربېل چې دَ هغهٔ سترګې ورغلې . دَ هغهٔ سترګې ایله ترخې





شوې وې چې په خوب کښې ورته داسې محسوسه شوه چې څوك وسله په لاس دَ هغهٔ کوټې ته دننه شوے دے ، دَ هغهٔ په سینه یې دَ توپك شپېلۍ اېښے ده اودرنګ ساعت له په کوترۍ ګوته راکاږي. په دېکښې ناګهانه یوډز اوشو دَ ډز اواز سره هغه وېښ شو او په کټ کښې کېناستو . په کوټه کښې اګر چهٔ تیارهٔ وه خو دَ ور په چودو کښې دَ سپوږمۍ رڼا کوټې ته راتله . په دغه تته رڼا کښې هغهٔ اخوا دېخوا اوکتل خو هېڅوك یې اونهٔ لیدل . هغهٔ دَ خُدائے شکر ادا کړو چې دَ هغهٔ دَ خوب تعبیر غلط اوختو او هغه بالکل صحي سلامت او محفوظ دے . هغهٔ په ناسته ناسته بیا ډډه واچوله خو سترګې یې په ور او غوږونه یې دَ بهر په ښکالو لګېدلي وو. یوه شېبه پس هغهٔ دَ کوټې طرف ته دَ چا دَ راتلو دروند اواز ووربدو . دَ هغهٔ زړهٔ په ترو ډکو باندې وو او دَ بهر ښکالو سره داسے درزېدو چې دَ هغهٔ په سینه کښې نهٔ ایسارېدو او دَ بهر وتو کوشش یې کوو . په هغهٔ دَ یرې ترهې یو داسې سام خور وو چې دَ هغهٔ ټول اعصابي نظام یې شل کړے او معطل کړے وو. دَ هغهٔ وجود زېګ شو او وېښتهٔ یې دَ پرسېدلو مونډانو په سوکو نیغ اودرېدل . دې سره په هغهٔ دَ یرې یوه داسې چپه راغله چې رېګدېدل پرې اولګېدل . دَ هغهٔ وینه په رګونو کښې تپه اودرېده ، شونډې یې لکه دَ خزان وهلې پاڼې اوچې او سپورې شوې او په یخه یخنۍ کښې پرې یخه خوله راغله . دَ هغهٔ ساه په ملاسته ملاسته داسې په زور شور سره تله راتله لکه دَ میراتهون ریس اتهلیټ



www.pukhto.net

چې په منده کښې خنېږي او پرشېږي . دې سره هغهٔ دَ ور گرب هم وورېدو او دَ توپك دَ بولټ كرچ يې هم وورېدو . هغهٔ چې دَ ور په چودو كښې دَ چا سپورې اوليدو نو داسې ورته محسوسه شوه چې دَ هغهٔ دَ خوب تعبير غلط نه بلكه صحي ثابت شو . دَ هغه پوخ يقين اوشو چې دَ هغهٔ دَ مرگ تابيا شوې ده او دَ هغهٔ مرگ يقيني دے . يو خوا هغهٔ په خپل ذهن كښې دَ خپل ژوند پاتې ساه گانې شمېرلے بل خوا يې په خُله دَ ايتِ كريمه ورد شروع كړو . يوه شېبه پس ور رو رو اوډبېدو . ورډبېدو سره دَ هغهٔ زړهٔ بيا په درزېدو شو . دَ هغهٔ په خيال دا ناكنگ دے غرض دَ پاره وو چې هغه ورلرے كړي او بنهٔ په اسانه قتل كړے شي. دوه ځله واره په واره ناكنگ اوشو خو هغهٔ ويښ ځان داسې اودهٔ كړے وو چې دَ تندر گړز هم نشو ويښولے . په دريم ځل چې ناكنگ اوشو او هغه اَخ تېخ اونكړل نو يو ترېښ ډز اوشو ډز سره دَ چا دَ وِيش ، او منډے اواز هم راغى . دغه منډه لا روانه وه چې دَ كلاشن كوف يوه زبردسته خلهٔ اوچلېده . دې پسې مكمله خاموشي شوه . شپه خنېده ، سپوږمۍ موسيده او پرخه ورېده خو هغه د دې هر څهٔ نه بې نيازه په خپله بستره كښې چپه خُله پروت وو. هغهٔ لا د دې واقعې په باره كښې سوچ كوو چې دَ هغهٔ په موبائېل رينگ راغى . هغهٔ غېر ارادي طور موبائېل اوچت كړو خو دَ آن كولو جرأت يې نشو كولے . موبائېل دَ هغهٔ په لاس كښې كړنگېدو كړنگېدو او اخر په خپله آف شو. يوه شېبه پس دَ هغهٔ په موبائېل بيا رينگ





راغى . دا ځل چې هغهٔ موبائېل اوكے كړو نو اواز راغى:. بابو، تهٔ څنگه يې ، بچ يې ؟

امان :. هاؤ گل ناز ، زهٔ الحمدلله بالكل ټيك ټاك يم. اوس اودهٔ شه نورې خبرې به سبا له كوو ، دَ كال اخري ټكے لا دَ هغهٔ په خلهٔ كښې وو چې دَ بالاكلي دَ جمات نه دَ سحر دَ بانگ اواز راغى . په ، اوس پاسم ، درنگ ساعت له پاسم او دا دے پاسم ، كښې ډېر وخت شو خو هغهٔ دَ پاسېدو هڅه اونكړه او تر هاغې په كټ كښې لنډ اوږد كيدو چې گل ناز دَ ترمو اوبو كوزه په لاس راغله ، هغهٔ ته يې وراوډبوو او په اوچت اواز يې ورته اووې ، "بابو ، ويښ يې كه اودهٔ ؟ هغهٔ په ملاسته ملاسته اواز وركړو "ويښ يم ، دا دې درغلم ". دې سره هغه پاسېدو، هغې ته يې ورلرے كړو او ورته يې اووے ، "راځه گل ناز، تهٔ كېنه، زهٔ دَ نمانځه تيارې كوم " ، هغې هغهٔ ته دَ اوبو كوزه اونيوه او ورته يې اووې ، "دا اوبهٔ واخله " . هغهٔ دَ هغې دَ لاس نه دَ اوبو كوزه واخسته او بهر شاړې ته روان شو . هغې دَ هغهٔ دَ تلو نه دا فائده واخسته چې كلاشن كوف يې يو خوا ته كېښودو ، دَ هغهٔ په بستره كښې سملاسته او دَ هغه په بړستن كښې ورننوته . دَ هغهٔ بستره گرمه هم وه او پسته هم وه . هغې ته داسې محسوسه شوه چې هغه دَ هغهٔ په بستره كښې دَ هغهٔ په څنگ كښې پرته ده . هغهٔ دَ راتلو سره دَ كوټې يو گوټ ته مصلـه خوره كړه او په نمانځه اودرېدو . دَ نمانځهٔ او ذكر وتسبيحات نه پس هغهٔ يوه لويه دعا اوكړه او دَ خپل ځان او دَ گل ناز دَ



www.pukhto.net

سلامتۍ شکریه يې ادا کړه . د دعا نه پس هغهٔ چې په خپله بستره کښې هغه اولېده نو دَ هغې کټ ته اودرېدو او داسې په ځېر ځېر يې ورته کتل لکه يو مايوسه ، نيمګړے نيمه خوا مئين چې دَ خپلې مرحومې رفيقه حيات قبر ته ولاړ وي او په خپل خيال کښې دَ خاوړو دَ ډهيرې لاندې په ابدي خوب اوده ، هغې سره هم کلام وي. هغه يوه شېبه لکه دَ بُت په چپه خلهٔ او په غټو سترګو هغې ته کتل، بيا دَ هغې خوا کښې غلې غوندې په زمکه کېناستو او په رپېدلے لاس يې رو رو دَ هغې دَ مخ نه دَ برستن پلو اوچت کړو. دَ دنيا ټولې دلاوېزه ورمې او دَ حسن ټولې لبرېزه خزانې هغهٔ ته برسېره شوې. دَ هغې په سپين مخ سرې شونډې دَ قندهارې انګورو غوندې دَ ځوانۍ دَ رس نه ډکې دَ هغهٔ ليونۍ بوسې ته لېواله ښکارېدې او دَ هغهٔ اوږې تږې سترګې ورته پسخېدې . هغهٔ غوښتل چې دَ هغې دَ مړانې دَ ستاينې په توګه دَ هغې په شونډو خلهٔ کېږدي او په چوپلو چوپلو ترېنه ټول رس کشيد کړي . دَ هغې سترګې اګر چهٔ پټې وې خو دَ هغې دَ حسن پلوشې دَ هغې دَ عصمت په څوکۍ ولاړې وې. هغهٔ يوه شېبه په مسحوره سترګو هغې ته کتل خو چې دَ هغې مقناطيسي کشش پرې غالب شو نو په ځان پوهه نشو او دَ هغې شونډو ته يې خلهٔ نزدې کړه خو په څوکۍ ولاړې دَ هغې دَ حسن پلوشې متحرکې شوې او په تښنولو تښنولو يې دَ هغې دَ ويښولو کوشش کوو . دَ هغوي په شرارت چې دَ هغې سترګې اوغړېدې او هغهٔ ته يې اوکتل نو دَ هغهٔ





په امکاني حرکت مسکۍ شوه . دَ هغې په مُسکا هغهٔ دَ آب حيات دَ ډکو پيالونه خلهٔ روستو کړه او لکه دَ تږي مسافر اوچه خلهٔ پاتے شو . دَ هغهٔ دَ داډ ګيرنې او بلنې دَ پاره هغې بيا سترګې پټې کړې خو هغهٔ دَ بوسې جرأت اونکړے شو، پاسېدو او په کوټه کښې يې ټهلائي شروع کړه . هغې چې په نيم کخو سترګو، هغه دَ مايوسۍ په حالت کښې اوليدو نو سترګې يې بيا اوغړولې ، پاسېده او هغهٔ ته يې اووې ، "بابو، تاخو به ناشته نه وي کړے " ؟ دَ هغې په تپوس هغه مُسکے شو او ورته يې اووے "ناشته . . .؟ " ناشته خو دغه وه چې لاړه . دَ مېې ګلګون دوه ډکې پيالې مې دَ خلې نه راخکلې شوې. "دَ هغهٔ په وارداتي تشبيهه هغه مسکۍ شوه او هغهٔ ته يې اووې، "اوه ، تاسره خو واقعي لوے ظلم اوشو. خېرداخبره زړهٔ ته مهٔ اچوه ، داسې کله کله کېږي . فی الحال ناشته اوکړه هغه به بيا شي." هغه په مُسکا مُسکا کور ته روانه شي چې هغهٔ دَ پاره ناشته تياره کړي. لږه شېبه پس چې هغه ناشته راوړي نو دواړه کېني او ناشته کوي . دَ ناشتې نه پس هغه هغې ته وائي ، "بېګاه ډېرے تا کړې وې؟" هغه مُسکۍ شي او وائي ، " دا تپوس دے ولې اوکړو".

امان:. اګرچهٔ ماته پته ده چې تانه بغېر بل هيڅوك نشي کېدې خو تپوس مې درنه څکه اوکړو چې زما يقين هم پوخ شي او دَ ډېرو وضاحت هم اوشي .

ګل ناز:. بېګا تاته ور ډېدلے وو؟



www.pukhto.net

امـان:. هـاؤ، دوه ځـلـه پـه واره واره ډېـډلـے وو او پـه دریم ځل چې اوډېډو نو زما په ځائے تاپه ډز جواب ورکړو.

ګل ناز:. تاته ورچا ډېولے وو او تا ور ولې لرے نکړو.

امـان:. دَ هـغـهٔ مـتـعلق راته هیڅ معلومات نیشته چې ثوك وو او ما ورځکـه لـرے نـکړو چې دَ هغهٔ دَ نیت او حرکاتو نه معلومېده چې هغه زما غرضي وو او زما قتل پسې راغلے وو.

ګل ناز:. ستا چاسره بدي، دشمني شته؟

امـان :. نه، داسې هیڅ خبره نیشتـه، ماخو دَ چا ملاسته غوا هم نه ده پاسولے، بدي خولا لویه خبره ده.

ګـل نـاز:. ګـوره بـابـو، بیګاه ماتاته اووې چې، "څه چې کورته ځو، دَ ژمي لـویـه شپه ده او دا شپه به په خبرو تېره کړو نو تازما دَ خواست په جواب کښـې اووے، "تـه خپـل کـور سـمله او زهٔ به دلتـه سملم"، بیا مې درته اووې، "دلته تهٔ یوائے یې او هتله زهٔ یوائې یم" دَ هغې په جـواب کښـې تا اووے، "زما فکر مهٔ کوه، زهٔ دې خبرو سره بلدیم... بیـا دے دا مشوره راکړه چې "یرېږه مه هیڅ نیشتـه، ځان پسې ورېند کړه او ښهٔ بې غمه سمله اودهٔ شه"، داسې ده که نه ده".

امان: بالکل هم داسې ده.

ګـل ناز:. ستا په زړه کښې زما متعلق څهٔ نورې نورې خدشې وې خو زمـا پـه زړهٔ کښـې هـغـه حـادثاتي خدشه وه چې دَ هغې دَ کیدو کافي امـکـان وو. مـا ستـا مشوره اونه منله او ټوله شپه مې کلاشن کوف په





لاس خپـلـه اوستـا څـوکـۍ کـولـه. ګوره بابو، ستانوم اګر چهٔ امان دے خـو زمـا مـور پـلار تـاتـه عـارف جمال وائي ځکه چې ستارنګ جُثه، قـدوقـامـت، کړهٔ اوړهٔ او خبرې اترې زما دَ مشررور عارف جمال غوندې دي. خو زهٔ تاته عارف جمال نه وایم ځکه چې تاته زما نور نور امیدونه دي. زهٔ تـاتـه بابو ځکه وېم چې زمونږ په معاشره کښې بابو یو مهذّب او دَ عـزت تـکـے دے. ستا دَ راتلو نه څهٔ موده مخکښې زما مشر رور عـارف جمال دَ تربورانو په دشمنۍ کښې مړ شو او ځوانه چنغله ترېنه پاتې شوه. اوس هغه چنغله زما دَ کشر رور علي رحمان په نامه ناسته ده. زمـونـږ او دَ هـغـوي دشمني لاختمه نه ده. اګر چهٔ مشران دَ روغې جوړې کـوشـش کـوي خو لا تراوسه دَ روغې هیڅ امکان نیشتـه. کله نه چې تهٔ راغلے یې نو زمونږ تربوران تاته دَ شك په نظر ګوري او کله نـه چې تـهٔ مـاسکول ته په موټر سائېکل بوځے راولے نو دَ هغوي دا شك په یقین کښې بدل شوے دے.

امان:. دَ هغو ي چې تـاسـو سـره بدي ده نو زما په باره کښې دَ هغوي شك او یقین څهٔ جواز لري.

ګـل نـاز:. ستـا خبـره بـالـکـل صـحي ده. دَ هـغـوي مونږ سره بدي ده خو دَ هغوي سترګې په مالګېدلي دي او زما په سرمونږ سره روغه کول غواړي.

امان:. یعني هغوي تا په سوره کښې غواړي؟

ګل ناز:. خو زما پلار دې رشتې ته تیار نه دے.

امان:. او تهٔ...؟



www.pukhto.net

ګل ناز: زۀ رشتې ته تياره يم خو دَ هغوې نه بلکه ستا(مسکې شي)

امان: يعني دا حرکت ستاسو دَ ترېورانو له خوا کېدېشي؟

ګل ناز: يقيناً.

امان: او که تۀ مجبوره شې نو بيا؟

ګل ناز: دا خبرې په ما بده لګي . ماسره داسې دَ مايوسۍ خبرې مۀ کوه پليز . زۀ ستا يم ، ستا يم خو که تۀ زما شے .

امان: آيا زۀ دومره خوش قسمته کېدېشم چې دَ قدرت دا حسين شهکار دَ خپلې غاړې هارکړم ؟ په خپل قسمت مې دومره يقين نيشته.

ګل ناز: چې ستا نشم نو دَ بل چابه هم نشم ...او رشتيا يوزېرے مې دريانده .

امان: زېرے ؟ څۀ زېرے ؟

ګل ناز: مورپلار مې ترور کره تلي دي ، هغوي به څان سره واخلي او زمونږ دَ وادۀ دَ پاره څۀ جوړې جامې اوکالي پترې راوړي.

امان(مسکے شے) بياخو دے ډېر ډېر مبارك شه . په دې خوشحالۍ کښې به څۀ خواږه راکوې .

ګل ناز(مسکې شي) هغه خوارۀ تول ستا دي چې تا يې دَ سکتې جرأت نشو کولے . دې سره هغه دَ هغۀ مخې ته اودرېږي . هغه چې دَ هغې شونډو ته نزدے شي نو په دواړو دَ جذباتو زلزلې شي او په دغه زلزلو کښې دَ يوبل شونډې ښکلوي . هغوي ډېره شيبه په دغه شغل کښې مصروف وي او چې کله مطمئن شي نو په شونډو ژبې اووهي





او په کټ کښې څنګ په څنګ کېني. په دغه ناسته کښې ترينه هغه تپوس کوي، څه کنه دَ سکول تيارې اوکړه چې تا اورسوم .

ګل ناز: اوه، تاته پته نيشته چې پرون مونږ دَ امتحان دَ تيارۍ دَ پاره فرې شوي يو.

امان: نه، تاخو ماته په دے باره کښې هيڅ نه دي وېلي .

ګل ناز: چې دَ وېلو موقع راغله نو درته مې اووې ، بله دا چې کور هم خوشے دے کور هم سارل غواړي ، ګډې بزې هم څرول غواړي او دَ امتحان تيارې هم کول غواړي.

امان : دا څۀ دومره مشکله نه ده . ګډې بزې په دې شاړه کښې پرېږده چې څرې . تۀ په دې موره کتاب په لاس کېنه ، خپل تيارې به هم کوې ، څاروې به هم څروې او کور به هم سارې . تۀ زما دَ راتلو پورې خپل کار کوه ، چې زۀ مازيګر راشم نو زۀ به درسره مدد اوکړم . بنۀ ماله اجازت راکړه چې ډيوټۍ له څم".

ګل ناز: ډيوټۍ له لاړ شه خولې وختي راشه ، کورخوشے دے .

امان : ډېره ښه ده . زۀ درنه لاړم ، سلام عليکم .

ګل ناز: وعليکم السلام دَ خُدائے په امان.

هغۀ چې خپله ډيوټي اوکړه نو بيا پلار پسې لاړو چې هغه کورته راولي . هغه هم لکه چې دَ هغۀ په انتظار کښې ناست وو. اکبرخان اکبر دَ هغۀ ډېره شکريه ادا کړه او په خوشحالۍ خوشحالۍ يې رخصت کړو. هغه چې مازيګر کورته اورسېدو نو دَ ګل ناز مور پلار



www.pukhto.net

هم راغلي وو او ځان سره يې سودا هم راوړې وه .
په سبا چې امان ډيوټۍ له لاړو نو فقير بابا کوچني استاذ سره ورغ تېره کړه او ټوله خبره يې ورته اوکړه . دې نه پس به ګل ناز دَ لرې لرې نه دَ هغهٔ دَ لېدو دَ پاره تيان تان کول خو هغهٔ سره نهٔ ملاوېده ځکه چې دَ هغهٔ نه شرمېده . البته دَ مېسجونو اوکال په ذريعه به يې ورسره خبرې کولې.

## «دوېمه برخه»

وېلې کيږي چې دَ مظلوم آه عرش معلّٰی ته رسېږي او دَ هغهٔ ژړا فرياد اورېدلې کېږي . دا خبره دَ ګل پرې په باره کښې بالکل صحي ده . هغه دَ خپلو رونو دَ لاسه بې عزته شوه ، دَ هغې په خپل محنت مزدورۍ اخستلې شوې جامه پېزار دَ هغې رونو په خپلو کښې تقسيم کړو او هغه په اغوستو جامو کښې دوه لاسه دوه پښې دَ جانۍ ابۍ په کور ډېره شوه . هغې په خپل محنت مزدورۍ نه صرف خپل ځان پالو بلکه خپله ترور او انځرګل يې هم پالهٔ . هغه په پېغور اووهلې شوه ، سپکه شوه او بهر ته دَ نهٔ وتو دهمکي ورکړې شوه خو دَ هغې رونو دَ هغې په حقله چرې هم دا سوچ نه کوو چې که هغه محنت مزدوري نه کوي نو دغه ژوندۍ ساه به څهٔ خوري څکي او څنګه به ژوندۍ پاتې شي. هغوي دَ هغې په بهر ګرځېدو غېرت کوو خو دَ هغې په اولږه ، نهره او پټه برېنده يې غېرت نه کوو. هغه اووهلې شوه ، او ټکېده او ژوبله شوه خو نه يې وِيش اوکړو ، نه يې چا





مشر کشر ته ګيله اوکړه او نه يې دَ هغوي خلاف پوليس ته رپورټ اوکړو . دا ټول ظلمونه دَ هغې په اوږو ناستو فرشتو ليکل او هره ورځ به دغه رپورټونه بره لېږلې کېدل . نتيجه دا شوه چې هغوي يو داسې قتل کښې راګېر شو چې نه هغوي کړې وو نه ترېنه خبر وو خو دَ ډنډې په زور ټولو اقبالِ جرم اوکړو .
دَ ګل پرې دَ اورندارو او خپلو خپلوانو له خوا جرګې تلې راتلې او هغې ته دَ روغې جوړې دَ پاره منت زارۍ کېدې . هغه دَ خپل کېس روغې ته تياره وه خو دَ جانۍ ابۍ دَ قتل روغه يې نشوه کولې ځکه چې دَ هغې زوې انځرګل ژوندې وو او دَ هغهٔ نه بغېر دَ هغوي روغه شرعًا او قانونًا نشوه کېدې. دَ هغې اورندارې او خپل خپلوان دَ انځرګل دَ راتلو په اميد هغه ته سترګې په لار وو . يو خوا دَ مقدمې او وکيلانو خرچې وې بل خوا دَ هغوي دَ خوراك څخاك مسلې وې، په لږو ورځو کښې هغو ي دومره تنګ دسته شو چې دَ پولۍ پرق ته کېناستل . دَ هغې اورندارې او دَ هغوي بال بچ به څو په څوېمه راتلل او هغې ته به يې خپله ژړا فرياد کول. هغې به چې دَ هغوي دغه غريبۍ ته کتل نو نيمه نهٔ پاتې کېده . هغې اګر چهٔ هغوي سره مالي امداد کوو خو هغه دَ چا خبره چې دَ خُدائے اوړې به خُدائے مارهٔ کړي. بله دا چې دَ هغې هم دومره وس نه وو چې په خپله مزدورۍ کښې دَ پنځو رونو ښځې او دَ هغوي يوه پچه بال بچ اوپالي . يوه ورځ هغه په خپل کور کښې ناسته وه او دَ هغوي دَ بدحالۍ په حقله يې سوچ کوو



www.pukhto.net

چې دَ هغې دَ کوټې ور اوډبېدو . هغه چې ورله ورغله نو ډاکې ورله یوه خړه چهټۍ ورکړه او په کاغذ یې ترېنه دستخط واخستو. هغې چې لفافه اوسپړدله او خط یې اولوستلو نو هغې ته دَ وزارت صحت دَ طرفه لیکلې شوې وو چې ، "مونږ ته ستاسو په خوړو ډېر افسوس دے . مونږ اګر څۀ ستاسو دَ زخمونو او دردونو تلافي نشوکولے خو ستاسو دَ جرأت او قربانۍ جذبې ته سلام کوو . په دے غرض دَ وزارت صحت په دفتر دَ فرورۍ په پنځلسم تاریخ کال دوه زره پنځلس دَ یو تقریب اهتمام کېدونکے دے چې هغې کښې به ستاسو ډاډګېرنه هم کېږي او تولو متاثرینو او دَ مرحومینو وارثانو سره به مالي امداد هم کېږي . ځائے ، تاریخ ، ورځ او وخت یاد لرۍ . ځائے ، وزارت صحت ، تاریخ 15/2/2015 ، دَ پېر ورځ لس بجې ". دَ جانۍ ابۍ دَ وارث په نامه خط ځکه رانه غی چې دَ هغې وارث انځرګل دَ مالي امداد دَ پاره درخواست نه وو ورکړے . بهرحال هغه ډېره خوشحاله شوه او دَ مقرره تاریخ او وخت انتظار یې کوو . هغه چې په مقرره وخت وزارت صحت ته لاړه نو دَ تولو متاثرینو دَ پاره لوے پروګرام شوے وو. دَ پولیو تیم تول متاثرین او دَ مرحومین وارثان راغلي وو. او ډېر په عزت سره کېنولې شوي وو . دَ تلاوتِ کلامِ پاك ، حمد، نعت او تقریرونو نه پس تولو زخمیانو ته دَ یو یو لاکھ روپو چېك ورکړے شو او دَ مرحومینو وارثانو ته دَ پنځو پنځو لاکھو روپو چېکونه ورکړې شو . چې تقریب ختم شو نو هغې خپل چېك په





خپله نامه په بېنك کښې جمع کړو . پنځه شپږ ورځې پس یې هغه کېش کړو او په هغه پېسو یې دَ منیارۍ سودا او توکې واخستل او ډك سوزوکے یې کورته راوړل . بیا یې خپلې اورندارې را اوغوښتلې او دَ هغوي په مخکښې یې هغه سامان پنځه برخې کړو . هرې یوې له یې خپله خپله برخه ورکړه ، دَ نرخ او خرڅولو طریقې یې ورته اوښودلې او په خوشحالۍ خوشحالۍ یې رخصت کړې ، بیا به دَ خواؤ شا پنځو کلیو نه هره ورځ پنځه ښځې وتې او تر لرې لرې پورې په ازاد مت ځان ځان له ګرځېدې . په لږ ورځو کښې دَ هغوي په محنت مزدورۍ هغوي او دَ هغوي بال بچ په ګېډه ماړه او په جامه پټ شو . بیا به په هفته کښې یو ځل دَ خپلو خاوندانو ملاقات له تلې ، میوه دانه به یې ورله هم اوړه او پېسې به یې هم ورکولې . دَ هغوي خاوندان دَ هغوي دَ محنت مزدورۍ او ګټې وټې نه خبر شو خو یو هم ورته سترګې وانه ړولے .

ګل پرې په جامه پټه وه ، په ګېډه مړه وه او هیچا ته محتاجه نه وه . دَ ورځې به ورکره سودا دَ پاره دَ لرې لرې کلیو نه ښځې راتلې ، سودا به هم خرڅېده او مشغوله به هم کېده خو چې ماښام ماسخوتن به یې ورونه پورې کړل او په کټ کښې به سملاسته نو دَ خپلې تنهائي احساس به ورته اوشو او ډکې سترګې به په کټ کښې اوختې رااوختې. کله کله خو به یې دغه احساس دومره زیات شو چې اوښکو سره به یې په خلۀ سلګۍ هم راتلې . دَ هغې دَ اوښکو اوچولو او دَ



www.pukhto.net

هغې دَ دلاسې هیڅوک نـه وو. هغې بـه خپلې اوښکې پـه خپلـه اوچولې او خپل زړهٔ له به یې په خپله دلاسې ورکولې .دَ جانی ابی دَ تلو نه پس هغه بېخي یوائې پاتې شوه . هغې دَ هغې په تلو هم ژړل ، پـه خپل بې ځوکه ژوند یې هم ژړل او دَ خپل مستقبل په خدشه یې هم ژړل . اګـر چـهٔ دَ مـوسم خان نه پس هغې ته دَ ډېرو کورنو له خوا دَ وادهٔ پېشـکـش اوشـو خـو هـغې ته دَ خپل شریك حیات انتخاب او دَ خپل وادهٔ فـېصـلـه پـه خپـله کول ښهٔ نه ښکارېده . په دغه سو چونو سوچونو کښې هغه دَ مستقبل نه ماضي ته لاړه او په ماضي کښې یې پـه انـځـرګـل سترګې خوږې شوې . هغه انځرګل چې لا دَ سبق دَ پاره مـدرسې تـه نـه وو تلـے او هغې سره په کور کښې وو . دَ هغهٔ یوه یـوه خبـره بـه هـغـې تـه یادېده او ځان سره به پټه پټه خندېده . هغه به هغې ته ملګرې وے خو کله کله به یې ورته دَ مینې نه ملګرچې هم وېلـے . کـلـه بـه یې ورله په اودو کښې دَ پښو تلې تېښنول ، کله به یې ورلـه غـوږ لـه ډکـے اوړهٔ ، کـلـه بـه یې دَ هغې اوږدې زلفې دَ کټ بازو پـورې تـړلـے او کله به یې ترېنه په بې خیالی کښې لاسونه تاؤل. هغه بـه دَ هغهٔ په حماقت غصه شوه او داسې دیکه به یې ورکړه چې پړمخ بـه یې پـه زمـکـه اوغورځوو. دا ټول حرکتونه په هغه وخت کښې په هغـې بـد لـګـېـدل خـو اوس ورتـه نـه صرف ښهٔ ښکارېدل بلکه هغه وخت پسې یې ارمان کوو.

چې کـلـه هـغـه دَ مدرسې نه په ړومبي ځل دَ یو بارعبه شخصیت په





شـکـل کښـې کـورتـه راغـی نـو هـغـه اګر چهٔ سنجېده ووخو په دغه سـنـجـیـدګی کښې هم ښائسته وو. هغه په هر روپ او هر انداز کښې هـغـې ته ښکلے ښکارېدو .دَ هغهٔ په سترګو اړولو او غصه کښې هم خـونـدونـه ووځـکه چې هغې په خپل زړهٔ کښې هغه ځائے کړې وو. چې کـلـه به هغې دَ هغهٔ جامې وینځلې نو دَ وینځلو نه مخکښې به یـې بـویـولـې ، پـه مخ سر به یې مږلې او زړهٔ پورې به یې نیولې . کله چې هغه مدرسې ته لاړو نو دَ هغې زړهٔ هم لاپسې لاړو . خو اوس . . . اوس . . .مـودې اوشـوې چـې دَ هـغـې زړهٔ دَ هـغهٔ نه مایوسه شوے او هغې سره په کور شوے وو.

یـوه شپـه هـغـه پـه درونـد خوب اوده وه . څهٔ شپه تیاره وه او څهٔ ګورې اوریـځـې تیـارهٔ جوړه کړې وه . په دېکښې ناصافه دَ هغې دَ کوټې ور اوګرېېدو . چې ور لرے نشو نو یوه شېبه پس دَ کور دَ پنائي په پشتي دېوال ځوك کورته ووختل او دَ هغې دَ کوټې ور رو رو اوډبېدو . هغې چې پـه خـوب کښـې دَ ور دَ ډبېدو اواز وورېدو نو په ملاسته ملاسته یـې پـه چـغـه اووې ، "څوك یې او دلته څهٔ کوے ؟" اواز راغی ، "ګل پـرې ، ورلرې کړه ، زهٔ انځرګل یم ". هغې چې دَ انځرګل اواز او دَ هغهٔ نـوم وورېدو نو په زړهٔ کښې یې دَ خوشحالی رڼا راغله ، زر زر پاسېده، بـجـلـې یې اولګوله ، لوپټه یې په سر کړه ، ټول وېښته یې پکښې پټ کـړل او ورله ورغله . هغې چې ورلرې کړو نو هغه واقعي انځرګل وو. رنـګـی اوږده ږېره ، په اوږو سوارهٔ لوے لوے وېښتهٔ ، په سر پټکے او



www.pukhto.net

پـه لاس کښـې کـلاشـن کـوف ، هـغـې چـې دَ هغهٔ حلیې ته او دَ هغهٔ وسلې تـه اوکتـل نـو اویـرېـده او پـه یـره یـره یې ترېنـه تپوس اوکړو، "انـځـرګله تهٔ ؟ په دے حالت کښې او په دې نیمه غوټه شپه ؟ دَ هغې په تپـوس هـغـه مسکـے شو او ورته یې اووے ، "ولې اویرېدې "؟ دې سره هغه کوټې ته دننه شو ، کلاشن کوف یې یو خوا ته کېښودو ، په کټ کښې کېناستو او هغې ته یې اووے ، "بې بې څهٔ شوه "؟ دَ هغهٔ په تپـوس هـغـه لله ګله شوه او دَ هغهٔ دَ تپوس په ځاے یې ورته اووې، "تاخو به ډوډۍ نه وي خوړلے ، زهٔ ورځم چې تاله ترکارې ګرمه کړمه ".

انـځرګل :. نه ، ډوډۍ مې خوړلے ده خو ستالېدو او دَ بې بې سلام له راغلم . هغه څهٔ شوه ؟

ګل پرې :. هغه . . .هغه . . .هغه خرِکلي ته تلې دې.

انځرګل :. خرِکلي کښې څهٔ کوې ؟ چا کره تلې ده ؟

ګل پرې:. اسلم بابا ناجوړه دے دَ هغهٔ پوښتنې له تلې ده .

انـځـرګل :. زهٔ دَ لږ ساعت دَ پاره دَ هغې سلام له راغلے یم ، ګل پرې دَ هغـهٔ خبـره پرېکوې او دَ هغـهٔ دَ خیـال بـدلولو دَ پاره وائي ، "زهٔ ورځم چې تـالـه یـوه پیـالۍ چایې راوړم . ستړے راغلے یې . لږ به دمه هم شے او چایې به هم اوڅکے .

انـځـرګل :. نه ګل پرې ، چایـې بـه بیـا شي ماسره وخت نیشته، زهٔ دَ هغـې سـلام او لیـدوله راغلے یم چې دلته نیشته نو هلته به ورپسې لاړشم.





ګل پرې:. اس . . .اس . . . اسلم بابا کره . . .؟

انـځـرګل :. ستا ژبه ولې تته شوه ؟ داسې معلومېږي چې تهٔ مانه څهٔ پټوې ؟

ګل پرې:. هنّ ، هاؤ ، نه نه .ز . .ز . .زهٔ به تانه څهٔ پټ کړم ؟

انځرګـل :. سمـه خبـره اوکـړه ګل پرې ، انګړه دنګړه مهٔ کوه . دا راته اووایه چې بې بې څهٔ شوه ؟

ګل پرې:. سمه خبره دا ده انځرګله چې هغه مړه . . .مړه شوې ده .

انځرګل :. مړه شوې ده ؟ کله . . .؟ څنګه ؟ هغه څهٔ بېماره وه ؟

ګل پرې:. هـغـه بیـماره نه وه بالکل ټیک ټاك وه خو په موټر سائېکل روستو سور یو ظالم په مونږ کلاشن کوف اوچلوو.

انځرګل :. په تاسو کلاشن کوف اوچلوو . ته هم ورسره وې؟

ګل پرې:. هـاؤ ، زهٔ بـه چې دَ پـولیـو ډېوټۍ له تلم نو هغه به مې ځان سره بـوتـلـه یـو ظـالـم دَ ګـلـو بابا په کلي کښې په مونږ کلاشن کوف اوچلـوو ، زهٔ زخمي شوم او هغه مړه شوه ، انځرګل چې دا وورېدل نو پـه چـغـو چـغـو په ژړا شو . هغهٔ په سلګو سلګو ژړل او په دغه سلګو کښـې پـه کټ کښې پټې سترګې پرېوتو . ګل پرې دَ هغه سر په خپله غـېـږه کښـې کـېښـودو او په خپله لوپټه یې دَ هغهٔ اوښکې اوچولې . هغه ډېره شېبه پټې سترګې پروت وو او خلې نه یې دَ بې بې اواز وتو. چې کـلـه هـغـه پـه هوش کښې راغۍ او سترګې یې اوغړولے نو په کـټ کښـې کـېـناستو ، هغې ته یې په قهرېدلو سترګو اوکتل او وئے



www.pukhto.net

وئیل ، "زما دَ مور قاتله ته یې ". ګل پرې هغۀ ته په یره یره اوکتل او وے وئیل ، "ز...ز...زۀ ؟ دا تۀ څۀ وائے انځرګله ؟ " دَ هغۀ سترګې داسې سرې شوې وې لکه دَ هغۀ دَ بدن ټوله وینه چې دَ هغۀ سترګو له راغلې وې . هغۀ یو ځل بیا هغې ته اوکتل او وے وئیل ، "تاوونۀ وورېدل زما دَ مور قاتله ته یې ؟ دَ هغۀ په قهرېدلې لهجه دَ هغې رنګ تک زېړ شو . دَ پښو نه یې دم اوختو ، شونډې یې اوچې شوې او تالو یې داسے کالو شو لکه چې په موټو موټو شنې او کچه بېرې یې خوړلې وي . په هغې دَ یرې زلزل راغی. او داسې رچېده لکه خزان وهلې پاڼه چې په څانګه کښې په نرې هوا باندې رپېږي . هغې په یره یره اووې ، "ز...ز...زۀ؟" هغۀ ورته په هم هغه لهجه کښې په فېصله کن انداز کښې اووے ،"هاؤ تۀ . تۀ زما دَ مور قاتله یې ".
هغې په اوچو شونډو اوچه ژبه اووهله او دَ جواب ورکولو کوشش یې کوو خو نه یې شونډې لوندې شوې او نه یې په خلۀ کښې ژبه ګرځېده . چې هغه چپ پاتې شوه نو هغۀ ورپسې زیاته کړه ، "زۀ هغه انځرګل یم چې دَ مور په غېږ کښې لوے شوے یم. زۀ هغه انځرګل یم چې دَ هغې په څنګل اوده کېدم ...زۀ هغه انځرګل یم چاته چې دَ هغې مینه دَ دنیا دَ ټولې مینې نه زیاته خوږه وه ...خو تازۀ دَ هغې دَ غېږ نه جُدا کړم . که تازۀ دَ هغې دَ غېږ نه نه وې جُدا کړے نو هغه به چرې هم نۀ قتلېده . دا هرڅۀ ستا په وجه اوشو ګل پرې ، صرف ستا په وجه، زۀ ساده ووم ، ناپوهه او جاهل ووم. تازۀ دَ





هغې دَ غېږ نه لرے کړم چې زۀ بهر دنیا اووینم، خبرې ازده کړم ، علم حاصل کړ، اوښیار شم او زمانه یو انسان کامل جوړ شي . خو افسوس چې زۀ دَ انسانِ کامل په ځائے حیوان کامل جوړ شوم . مانه علم حاصل کړو او نۀ دَ مور مِینه ، البته دَ قتل وقتال تربیت مې حاصل کړو او دَ مور مینه مې بائېله . ماته دَ قال الله او قال الرسول په ځائے دَ قتل وقتال تربیت راکړے شو . زما دَ دے کلاشن کوف ږومبې نښخه تۀ او زما خوږه مور شوه . ماخپل لاسونه دَ هغې په وینو سرۀ کړل ...هغه لاسونه (اوښکې) ...چې...چې زما په وِیش به هغې ښکلول . هغه لاسونه چې هغې به خپل زړۀ پورې نیول . ما دَ جنت ګټلو دَ پاره هغه پښې په ګولو سورې سورې کړے دَ کومو لاندې چې جنت دے ...ګل پرې ، ته او بې بې ما په خپل لاس ویشتلې یې . زۀ ...زۀ ...ستا مجرم او دَ خپلې مور قاتل یم ".
ګل پرې خپلې اوښکې بهوې او دَ هغۀ اوښکې اوچوي . هغه ورته یو ځل بیا په سرو سترګو ګورې او وائي، "پاسه زما له خوانه ، زما اوښکې مۀ اوچوه ...زما په مخ لارې تُوکړه . دا اوښکې دَ یو سنګدل ظالم او دَ یو مجرم او قاتل اوښکي دي .په دې لاسونه پلتیږي ، جامه پرې پلتیږي او دَ ثواب په ځاے عذاب ملاویږي " . بیا کلاشن کوف اوچتوي ، هغې ته یې نیسي او وائي ، "که تۀ په ما خوږېږې او ما خوشحالول غواړې نو دا کلاشن کوف واخله او دَ خپل مجرم او دَ خپلې ترور دَ قاتل نه خپل او دَ هغې بدل واخله ". ګل پرې په چغو



www.pukhto.net

چغو ژاړي او سلګۍ وهي . هغه ورته يو ځل بيا وائي، "واخله دا کلاشن کوف اونيسه او ماپرې نښخه کړه . دے چارجر کښې ډېرش ګولۍ دي. ټوله خُله اوچلوه او ګنې بخۍ راباندې تېرې کړه چې ډېر ثواب دے اوشي . (هغه څۀ سوچ کوي) خو نه ، لږ صبر اوکړه . زما دَ مرګ نه پس خو به هغه شيطان خلاص مټ پاتے شي دَ چا په لمسه چې ماخپله مور قتل کړے ده . . .صبر . . .صبر، ماله لږ مهلت راکړه چې زۀ دَ خپل مجرم نه بدل واخلم . او چې دَ هغۀ کارختم کړم نو بيا به ستاسو دَ قرض ګولۍ ګولۍ خلاصوم ، او که بالفرض ژوندې رانه غلم نو ستاسو قرض ترمېدان حشر پورې په ما پورې شو او هلته به يې درله خلاص کړم. بيا ناګهانه سترګې بدلې کړې او وائي ،

"ګل پري ، زۀ درنه ځم چې دَ هغه چا سينه اوسيرم دَ چا په حکم چې ما دَ خپلې مور سينه سورۍ کړے ده . . .هغه سينه چې ماله يې پرې پۍ راکول .هغه سينه چې زما دَ بقا چينه وه . . .زۀ درنه لاړم "دې سره هغه روانېږي . دَ ګل پرې دَ خلې نه په ژړا کښې چغه اوځي ، "چرته ځے انځرګله ؟ واپس شه انځرګله. . .انځرګله، انځرګله ". هغه په زمکه پريوځي او په چغو چغو ژاړي.

**﴿دريمه برخه﴾**

انځرګل په تلوتلو کښې په توله لاره دَ خپل مجرم دَ قتل منصوبې جوړولے او ورانولے . په دغه سوچونو او فکرونو کښې هغه خپل مقام ته اورسېدو . دَ رسېدو سره يې کمانډرصېب سره





ملاقات اوشو. کمانډر صېب هغۀ ته ورترغاړه وتو، ځوځوځله يې ښکل کړو، بيا يې ځان ته مخامخ کېنوو او ورته يې اووے ، "ستا دَ مبارکۍ مېسج راغلے وو او ډېرې ډېرې دعاګانې مې درته کړې دي. ښۀ اوس راته په خپله شيرينه خلۀ خپله کارګزاري بيان کړه ".

انځرګل:. امير صېب ، زۀ بهادر خان په خپل موټر سائېکل کېنولم او دَ خپل مرستيال شمندروز کور ته يې اورسولم . هغه له يې زما په باره کښې خصوصي هدايات ورکړل او هغه رانه لاړو . دَ خپل ټارګټ دَ قتل په منصوبه کښې زۀ پوره يوه هفته هغه سره ووم . په دې يوه هفته کښې ما خپل ټارګټ هم معلوم کړو اودَ هغۀ دَ ناستې پاستې او ګرځېدو يعنې واکنګ ځايونه مې هم معلوم کړل . ما چې دَ هغۀ اندازه واخسته نو هغه به هر سحر ، دَ ناشتې او ډيوټۍ نه مخکښې په ټريك ګرؤنډ کښې واکنګ کوو. ما هم ځان دَ هغۀ په جامه کړو او ما هم په هغه ګرؤنډ کښې واکنګ شروع کړو . په واکنګ کښې به کله يو بل پسې وو او کله به دَ يو بل مخې له ورتلو . دَ لاس په اشاره به مو يو بل ته سلام کوو خو يو بل سره نه اودرېدو . هغه ډېر خوش اخلاقه زلمے وو ، چې کله به يو بل ته مخامخ شو نو په مُسکا به يې دَ لاس په اشاره ماته سلام کوو. يو ځل زما په زړۀ کښې راغله چې دے خو ډېر خوش اخلاقه زلمے دے . دے اګرچۀ دَ يو سياسي شخصيت او زمونږ دَ دشمن زوے دے خو د دۀ څۀ ګناه ده ، دے دَ پلار په تېلو کښې ولې اوسېزلے شي". دَ هغۀ په خبره دَ کمانډرصېب سترګې



www.pukhto.net

بدلې شوې ، په مخ یې دَ قهر نښخې ښکاره شوې، هغه ته یې په غصه اوکتل او وے وئېل ، "د دے مطلب دا شو چې ستا په تربیت کښې کمے دے . چې زمونږ ورکران او بچې وژلې کېږي نو په هغوي دے زړهٔ نهٔ سوزي او دَ هغوي په بچو دے زړهٔ سوزي. په آرمي پبلك سکول کښې خو ټول ماشومان وو خو په هغوي زمونږ دَ فدائینو هډو زړهٔ اونهٔ سوزېدهٔ . هغوي یې چخنې کړل او دوي شهیدان شو او دَ جنت طوطیان شو . . .ستا په نامه ناستې شین خالې حورې او سرې شونډې غلمان ستا لارې ته ګورې ، خو که ستا دغه حال وي نو نه به دَ دین شے او نه به دَ سادین شے .

انځرګل :. معافي غواړم امیر صېب ، نهٔ زما په تربیت کښې کمے شته او نه زما په زړهٔ کښې دَ رحم ګنجائش شته ، ماخو تاسو ته هسې دَ خپل خیال خبره اوکړه او په خیال دَ هیچا زور نهٔ رسي. پاتې شوه دَ اعتبار خبره نو تاسو یو ځل وېلے وو چې څوك دَ خپل امیر سره دَ خپل مور پلار نه زیاته مینه نه کوي نو هغه چرې هم دَ هغهٔ وفادار نشي جوړېدے .

کمانډر صېب:. دا خو زهٔ اوس هم وېم او دا خبره بالکل حقه ده چې دَ خپل امیر په ذات او دَ هغهٔ په اعمال وافعال دَ شك ګنجائش نیشته.

انځرګل :. او د دې وفادارۍ دَ تولو نه لوے ثبوت زهٔ یم .

کمانډر صېب (په حېرانتیا) هغه څنګه ؟

انځرګل :. امیر صېب ، نهٔ دریاندې مخ کوم ، نهٔ دریاندې احسان کوم





او نه مې چرې په زړهٔ کښې د دے دَ اظهارخیال راغلے دے خو اوس چې موقعه راغله نو ستاسو په اجازت یې اظهارکول مناسب ګڼم .

کمانډر صېب:. اجازت دے وایه .

انځرګل :. جناب عالي ، دَ دے نه لویه قرباني څهٔ کېدېشي چې ستاسو په یوه اشاره ما هغه فرشته صفته هستي په بېدردۍ سره قتل کړه چاچې نههٔ میاشتې زهٔ په خېټه کرځولې ووم، دَ چا دَ خېټې نه چې زهٔ پېدا شوے یم ، دَ چا په سینه چې زهٔ لوے شوے یم او دَ چا په غېږ کښې چې زهٔ لوېېدلے یم . ما هغه پاکدامنه او دعاګویه هستي ستاسو په حکم په ګولو سورۍ سورۍ کړه او خپل . . ."

کمانډر صېب دَ هغهٔ خبره پرېکوي او وائي، "ډېر دے ښهٔ اوکړل ، دَ انصاف تقاضا دا ده چې انصاف دَ خپله کوره شروع شي. چې دازوړ نسل اودوړېږي اونوے نسل اوتوکېږي نو دا معاشره به هله ګل وګلزار شي . زما په زړه کښې ستا مقام نور هم اوچت شو او ډېر زر به هغه مرام ته اورسېږے کوم چې ستا ارمان دے .

انځرګل :. ستاسو دَ دے زېرې ډېره شکریه او ډېره مننه .

کمانډر صېب:. ښه ستا هغه خبره په نیمۍ کښې پاتې شوه ، هغه پوره کړه .

انځرګل :. ښهٔ نو ماخبره کوله چې زما په زړهٔ کښې دَ هغهٔ دَ مینې خیال پېدا شوے وو خو هغه خیال ماکچه په کچه رېز مرېز کړو او دَدغه واکنګ په دوران کښې چې کله مې پرې ګونټه سوره شوه نو



www.pukhto.net

هم هلته مې کټو سترے کړو . تاسو له مې مبارکي درکړه او شپه په شپه مې تاسو له ځان را اورسوؤ.

کماندر صېب :. ډېر ښۀ ، ډېر ښۀ . شاباش ، آفرین ، تانه زما هم دغه امید وو.

انځرګل :. اوس ماته څۀ حکم دے جناب.

کماندر صېب:. اوس تاته دا درخواست دے چې لاړ شه اولامبه چې دَ سفر دوړې او خیرے درنه لاړ شي او چې کله تیار شے نوبیا راشه . څه ورځه".

هغۀ هم دغسې اوکړل ، هغۀ چې اولامبل او جامې یې بدلې کړے نو هغۀ له ورغے. او ورته یې اووے ، "امیر صېب حکم ؟ ، کماندر صېب مسکے شو او ورته یې اووے ، "ستا دَ پاره یو بل زیرے دے او هغه دا چې تۀ نه صرف زما په مقربینو کښې شمار شوے بلکه زما ذاتي محافظ شوے."

انځرګل چې دا دومره لوے زیرے وورې نو دَ هغۀ په پښو پرېوځي .

کماندر صېب هغه په دواړه لاسه اوچتوي او په شاېې ټپوي.

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★





## «خلورم باب»

دَ اکبرخان اکبر او کوچني استاذ خپلو کښې داسې لګېدلې وه چې دواړه دَ یو بل په مینه نۀ مړېدل . هغه هغۀ سره دومره مخلص وو چې څو په څو پېمه به یې هغۀ له دعوت ورکوو او هغه به ورسره څو څو ورځې په حجره کښې پروت وو. هغۀ خپلو یارانو دوستانو او نورو شاعرانو سره هم دَ هغۀ پېژندګلو کړے وه او چې کله به هغه اوغوښتے شو نو دغه ټول شاعران او دَ هغۀ پرستار به راغونډ شو او عام ګپ شپ به دَ مشاعرې شکل اختیار کړو. ډېرو ښو ښو شاعرانو به دَ هغۀ نه اصلاح اخسته او ځینے خو دَ هغۀ باقاعده شاګردان شو. دَ هغوي مینه په خپل ځائے وه خو په دغه ټولو کښې دَ اکبرخان اکبر مقام ډېر اوچت وو. دَ هغۀ کوچني استاذ سره دومره روحانی عقیدت وو چې دَ هغۀ نه بغېر ارام نه ورتلو او تېر وخت پسې یې افسوس کوو چې هغه دومره موده دَ هغۀ دَ مینې نه ولې محروم پاتے شو.

اکبرخان اکبراګر څۀ په خپله ښۀ شاعر نه وو خو دَ شاعرانو او بالخصوص دَ کوچني استاذ ډېر قدردان وو. هغۀ به دَ کوچني استاذ نه اصلاح اخسته خو دغه اصلاح به داسې وه چې دَ هغۀ دَ خپل شعر هیئت ، نوعیّت او شعریّت به بدل شو او په نوے شکل کښې به نوے شعر مخې ته راغے .

هغۀ به کله کله هغه بازار ته هم بوتلو او دَ خوراك څښاك څیزونو نه علاوه جامه پېزار به یې هم ورله اخستو . یو ځل یې هغه دَ شاعرانو او



www.pukhto.net

ادیبانو دَ خېر ښېګړې دَ يوي وفاقي ادارې ريجنل آفس ته بوتلو او ريجنل ډائرکټر له يې دَ هغهٔ دَ وظيفې دَ پاره درخواست ورکړو . هغه دَ وظيفې مستحق وو ځکه چې شاعر هم وو او معذوروه هم وو خو هغهٔ ته اوويلے شو چې وظيفه هغه شاعر ، ته ورکړې کېدېشي چې صاحبِ ديوان هم وي او غريب هم وي. اګر چهٔ دَ هغهٔ دَ باکماله شاعرۍ نه انکار نشو کېدے خو دَ هغهٔ توله شاعري دَ هغه تر ذات پورې محدوده وه او په تحريري شکل کښې هغهٔ سره هيڅ نه وو. دې نه مخکښې دَ هغهٔ ځينے شاګردانو په خپله خرچه هغهٔ ته دَ کتاب چهاپ کولو خواست کړے وو خو څهٔ هغه په خپله شکي مزاج وو او څهٔ دَ بعضے شاګردانو په لمسون هغهٔ دغسې اونکړے شو . خو اوس هغهٔ ته دا احساس اوشو چې هغهٔ له پکار دي چې خپلې شاعرۍ له تحريري شکل ورکړي . او دَ مرګ هيڅ پته نهٔ لګي چې کله فرشته راځي او دَ هغهٔ نه ساه اخلي . که هغه دَ کتاب چهاپ کېدو نه مخکښې مړ شي نو دَ هغهٔ شاعري به هم هغهٔ سره دفن شي او دَ هغهٔ به هيڅ يادګار پاتے نشي . په دے حقله چې هغهٔ اکبرخان اکبر سره مشوره اوکړه نو هغهٔ ورته اووے ، "استاذ جي ، ستاسو دَ شعري مجموعې چهاپ کول ډېر ضروري دي. يوخو به ستاسو دَ خيالاتو نه موجوده او آئنده نسل مستفيد شي بلکه دا چې ستاسو دَ وظيفې مسله به هم حل شي او ستاسو د مرګ نه پس به يو يادګار هم پاتے شي . خو کتاب په داسې چا چهاپ کړه چې مخلص هم وي او





ايماندار هم وي . په هر چا اعتبار نشي کېدے او که داسې څوک اعتباري سړے دے وي نو ډېره ښهٔ ده .

کوچنے استاذ: . ته نور پرېږده ، تول مې تللې دي خو ستا په پاسنګ کښې هم نه دي .دا کار ته کولے شے ؟

اکبرخان اکبر: . په سر سترګو استاذجي ، زهٔ ستاسو هرخدمت خپل اعزاز ګنم او هرې قربانۍ ته تيار يم.

کوچنے استاذ: . نو بيا ډېره ښهٔ ده . دا کار تهٔ په خپله اوکړه دَ نورو نه مې زړهٔ چاودے دے .

اکبرخان اکبر: . دا به زهٔ اوکړم استاذ جي ، دا څهٔ دومره مسله نه ده خو هسې نه چې ستاسو نور شاګردان زما په وجه تاسو نه خفه شي چې دا اعزاز ماته ولې راکړے شو .

کوچنے استاذ: . هغوي به ضرور خفه کېږي خو تهٔ دَ هغوي دَ خفګان فکر مهٔ کوه او دا کوشش کوه چې دَ هغوي دَ خبرېدو نه مخکښې مخکښې کتاب چهاپ شي. بيا زهٔ پوهـ شه او دَ هغوي پُخلا کول پوهـ شه.

اکبرخان اکبر: . ډېره ښه ده استاذ جي، دا زما ذمه شوه .

کوچنے استاذ: . او رشتيا يوه خبره بله او هغه دا چې د دے کتاب ترون به زما خُدائے بخلې بي بي مريم ته کوے چې دَ هغې روح خوشحاله شي او زما دَ نوم سره سره دَ هغې نوم هم ژوندے پاتے شي.

اکبرخان: . ډېره ښهٔ ده استاذ جي ، هم دغسې به کېږي انشاء الله .

دې نه پس هغه ټېپ ريکارډ راوړو او دَ هغهٔ مخې ته يې کېښودو.



www.pukhto.net

کوچنے استاذ تر هاغې پورې هغۀ سره په حجره کښې ډېره چې خپل ټول کلام یې ټیپ کړو. دې نه پس هغۀ کوچنے استاذ کورته اورسوؤ او بیا یې دَ هغۀ ټول کلام په تحریري شکل کښې راوستو. دَ خپل عقل ودانش او بصیرت مطابق یې دَ هغۀ په ځینو ټکو کښې ادلې بدلې هم اوکړه او بیا یې کاتب له ورکړو.

## ﴿دوېمه برخه﴾

دَ ستارخان خان زوے احسان په دولسم جماعت کښې نه صرف په اعلیٰ نمبرو پاس شو بلکه په سپلیمنټري امتحان کښ په ټول بورډ کښې یې سېکنډ پوزیشن واخستو. دَ هغۀ په حېران کن کامیابۍ دَ هغۀ ټوله کورنۍ ډېره خوشحاله شوه او تر لرې لرې پورې دَ هغۀ دَ کامیابۍ زیرې لاړل. ستارخان دَ امان په کارکردګۍ ډېر خوشحاله وو او هغۀ ته یې دَ لوے انعام اقر اوکړو خو هغۀ انکار اوکړو او ورته یې اووے، "ما دَ پاره لوے انعام دا دے چې هغه پاس شو. دَ هغۀ کامیابي زۀ خپله کامیابي ګنم او امید کوم چې زر ترزره به خپل مرام ته اورسي.

ستارخان:. ولې نه، ولې نه، دَ هغۀ کامیابي په اصل کښې ستا کامیابي ده او چې ستا تعاون او مرسته ورسره وي نو مخ په وړاندے به روان وي" دَ هغۀ په پاس کېدو هغه دومره خوشحاله وو چې دَ ډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېدو. په دغه خوشحالۍ کښې هغۀ په بازار کښې دَ مېهتاى ډبلے واخستواو کورته یې یوړو. دَ پلار





په تپوس باندې هغۀ هغۀ ته دَ احسان دَ پاس کېدو خبرو اوکړه. هغه هم ډېرخوشحاله شو او ورته یې اووے، "بچے چې سبا له حجرې ته ورشے نو زماله خوا مبارکي ورکړه".

دې نه مخکښې ستارخان هغۀ ته یو ځل ویلے وو چې "دۀ دَ پاره تیاره نوکري پرته ده خو شرط پکښې دا دے چې دے دولسم جماعت پاس کړي". دَ هغه دغه خبره بالکل رشتیا اوخته. دَ هغۀ دَ پاس کېدو زېرې لا چلېدل چې دَ اے اېس آئي (ASI) پوسټ دَ پاره ورپسې دَ انټرویو کال راغی. هغۀ خپله ډې اېم سي ځان سره واخسته، پلار سره په ګاډي کښې کېناستو او انټرویو دَ پاره لاړو. هم په دغه ورځ دَ هغۀ انټرویو هم اوشوه، دَ هغۀ مېډیکل انسپکشن هم اوشو او هغۀ ته دَ ټرېننګ دَ پاره دَ تلو آرډر هم ورکړے شو. بله ورځ هغۀ خپل سامان او بستره اوتړله، پلار سره په ګاډي کښې کېناستو او ټرېننګ دَ پاره هنګو ته روان شو.

دَ فقیربابا او دَ هغۀ دَ ترپورانو ترمینځه دَ روغې جوړې خبره چلېده او بیا دَ هغوي ترمینځه دعایې خېر اوشوه خو هغوي ترېنه خبر نشو چې څۀ اوشو. دَ ګل ناز امتحان هم شروع شوے وو، امان به دَ امتحان په تیارۍ کښې هغې سره مدد هم کوو او امتحان له به یې سکول ته بوتله هم او راوسته به یې هم. دَ سکول نه په واپسۍ کښې به دواړه دَ غتې شوې خوا کښې کېناستل، دَ پرچې دَ متوقع نمبرو حساب به یې هم کوو او خپلو کښې به یې خپلې خبرې هم کولے. دغه ټولې



www.pukhto.net

خبرې دَ خوړو نه ډکې وې او چې کله به دغه خبرې څوڅو ځله اوشوې نو بیا به ترینه دَ مازیګر دَ ملاقات په وعده هغهٔ رخصت واخستو او هغه به کورته روانه شوه . دا سلسله چلېده او دَ هغوي مینه خوږېده. دَ هغوي دَ وادهٔ تیارې شروع وو خو فقیر بابا ته دَ هغې دَ امتحان ختمېدو انتظار وو. کله چې دَ هغې امتحان ختم شو او هغه په کور شوه نو دَ فقیر بابا او دلبرو په هلوځلو کښې نوره هم اضافه اوشوه . هغه دَ چا خبره چې وادهٔ ته دے څوك وادهٔ ګے نه وائي . د دې خبرې احساس فقیر بابا ته هله اوشو چې خپله پرې راغله .خو هغه مطمئن په دے وو چې هغهٔ سره دَ پېسو هیڅ کمے نه وو. دَ امان دَ درے څلورو کالو تېوله ګټه وټه هغهٔ سره وه او هغه پېسې به هغهٔ دَ خپل ضرورت مطابق خرڅ کولے .

په هغه ورځ ګل ناز دومره خوشحاله وه چې دَ ډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېده او پښه یې په زمکه نهٔ لګېده چې دَ هغې دَ وادهٔ جوړې جامې او کالي پترې راغلل . هغې هغه ټول کالي راواخستل او په خپلې غاړې ، غوږونو او لاسونو کښې یې واچول . دلبرو ترور چې هغه په دغه حالت کښې اولیده نو مسکۍ شوه او ورته یې اووې ، "یَه جینۍ تاخو پردي کالي واچول . ستا کالي لا تیار نه دي ، هغې پسې به بیا ځو".

ګل ناز:. ولې مورې ، دا کالي زما نه دي ؟

دلبرو ترور :. نه کنه ، دا ستا نه دي ، دا دَ عارف جمال دَ ناوې دي.





ګل ناز (خاندي) یوه خبره ده مورې ، یا زما یا دَ عارف جمال دَ ناوې.

دلبرو ترور :. یوه خبره نه ده لورې دا دَ کلثوم دي.

ګل ناز (په حېرانتیا) کلثوم ...؟ کلثوم چې دَ علي رحمان په نامه شوي ده ؟

دلبرو ترور :. هاؤ ، هغه دَ علي رحمان په نامه شوې وه خو هغه لا وړوکے دے ، دَ وادهٔ نه دے او هغه پخه پېغله ده . مونږ دا فېصله اوکړه چې هغه به عارف جمال ته وادهٔ کړو او چې علي رحمان دَ خېره لوے شي ، زلمے شي نو بیا بنځې ډېرې .

ګل ناز:. او زما دَ قسمت فېصله مو چا سره اوکړه .

دلبرو ترور:. ستا دَ قسمت فېصله دَ جرګې مشرانو بهرام سره اوکړه.

ګل ناز:. زما دَ تپوس نه بغېر ؟

دلبرو ترور :. دَ جینکو نه څوك تپوس کوي؟ دَ هغوي دَ قسمت فېصله مشران کوي .

ګل ناز:. که زهٔ دې فېصلې نه انکار اوکړم ؟

دلبرو ترور :. خبردار لورې . دا خبره دې دَ پلار په مخکښې اونکړې ګینې ژبه به درنه پرېکړي او سپو ته به یې واچوي .

ګل ناز:. ژبه رانه ولې پرېکوي . توله مې دے توټې کړي او سپو ته مې دے واچوي . بهرام زما دَ رور قاتل دے او زهٔ دَ هغهٔ چا ناوې نشم جوړېدې چې لاسونه یې زما دَ رور په وینو رنګ دي .

دلبرو ترور :. داسې خبرې مهٔ کوه لورې . په دے فېصله هم شوے ده او



www.pukhto.net

نېټه هم اېښودے شوې ده ، دَ هغوي ترمينځه خورې ترخې لا روانې وې چې فقير بابا کورته راغی . دَ هغهٔ په راتلو دواړه چپ شوې . دلبرو ترور په خپل کار کښې لګيا شوه او ګل ناز کوټې ته لاړه او کټ کښې ډبه ډوبه پرېوته . دَ هغې دَ مور او پلار ترمينځه په خبرو کښې هغې ته دا هم معلومه شوه چې دَ امان ډولۍ به دَ خالي په ورځ راځي ، دَ اتوار په ورځ به وليمه وي او هم په دغه ورځ ، مازيګر به دَ هغې ډولۍ دَ کوره اوځي . دَ هغوي په انکشاف هغه ډېره پرېشانه وه . هغې غوښتل چې امان د دے ټول صورت حال نه خبر کړي او دَ هغوي ترمينځه هيڅ خبره پټه پاتې نشي. په دې وجه هغې مازيګر امان ته په داسے وخت کښې کال اوکړو چې هغهٔ خپله ډيوټي ختمه کړے وه او کورته يې دَ تلو تياري کوو. هغهٔ چې موبائيل اوچت کړو نو مُسکے شو او وے وئيل ، هيلو ډير ، زهٔ دا دے تياري کوم او کورته درځم ".

ګل ناز:. دَ راتلو نه مخکښې يو زېرے ووره او هغه دا چې زمونږ... زمونږ دَ وادونو نېټې کېښودې شوه .

امان (په حېرانتيا ) وادونو ...؟ که وادهٔ ؟

ګل ناز:. وادهٔ نه بلکه وادونه . ستا ډولۍ به دَ خالي په ورځ راځي ، او دَ اتوار په ورځ به وليمه وي او زما ډولۍ به هم په دغه ورځ ستا دَ وادهٔ دَ وليمې نه پس اوځي .

امان :. دا زهٔ څهٔ اورم ؟ زهٔ دَ توقې په موډ کښې نهٔ يم ګل ناز . زهٔ سنجيده يم ، ماسره سمې خبرې کوه .





ګل ناز:. زهٔ تاسره توقې نه کوم بابو ، زهٔ بالکل سنجيده يم او سنجيده خبرې کوم . او ما چې څهٔ اووې دا بالکل حقيقت دے بابو .

امان:. د دے مطلب دا شو چې ستا وادهٔ بل سره او زما بلې سره کېږي. دا څهٔ اوشو ؟ زما په نصيب څوك دې او ستا په نصيب څوك دې ؟

ګل ناز:. زما دَ قسمت فېصله بهرام سره شوې ده او ستا کلثوم سره.

امان:. دا دواړه څوك دي؟ زهٔ خو دوي نه پېژنم ؟

ګل ناز:. بهرام زمونږ ترېور او زما دَ رور قاتل دے او کلثوم زما دَ رور چنغله وه خو دَ هغهٔ دَ مرګ نه پس دَ علي رحمان په نامه ناسته وه ".

امان:. دا فېصله چا کړے ده ؟

ګل ناز:. زما دَ قسمت فېصله دَ جرګې مشرانو کړے ده او ستا دَ قسمت فېصله زما مور پلار کړے ده .

امان :. ستا دَ مور پلار عزت په خپل ځائے دے خو زهٔ دَ هغوي دَ فېصلې پابند نه يم. ستا نه بغېر زهٔ دَ بل چا تصور هم نشم کولے.

ګل ناز:. دغه حال زما هم دے بابو. تهٔ انکار کولے شے خو زهٔ څهٔ اوکړم ؟

امان:. زهٔ تاله هيڅ مشوره نشم درکولے ، البته په خپل ځان مې وس رسي او هيڅوك مې نشي مجبورولے .

دې سره هغه موبائيل بندکړي ، په موټر سائيکل سور شي او روان شي . چې دَ بهتېي دَ حدودو نه اووتو او شارې ته شو نو هلته دَ موټر سائيکل نه کوز شو او په زمکه کېناستو . هغه ډېره شپېه ناست وو



www.pukhto.net

او دَ قسمت په دې ناګهانې پېښه يې سوچ کوو . نمر په غرغره وو او هغه په ظاهره دَ هغهٔ دَ ډوبېدو په تماشه خو په خيال کښې ډېر لرې تلے وو. دومره لرې چې نه ورته دَ نمر پرېوتو احساس اوشو او نهٔ دَ تيرې خورېدو . دَ ماښام تيرې دَ چاپېريال په هر سنګر لکه دَ تور لښکر خورېدې او دَ هغهٔ په څنګ دَ هغهٔ دَ زړهٔ تيرو سره په جنګ وې. هغهٔ ته داسې معلومېده چې دَ هغهٔ امېدونه او ارمانونه کچه په کچه سوزېږي ، دَ دغه ارمانونو دَ سول بوئيں په مايوسه فضا کښې خورېږي، هغه ورته په بې وسه سترګو ګوري خونهٔ څهٔ کولے شي او نهٔ څهٔ وېلے شي ، نه يې بچ کولے شي او نهٔ يې پرېښودے شي. د دغه تيرو په بدرګو کښې چې هغه کور ته اورسېدو نو فقير بابا ، کوچني استاذ سره ناست وو او څهٔ پټې پټې خبرې يې کولے هغهٔ دَ ورتلو سره په هغوي سلام واچوو او دواړو له يې لاس ورکړو . دَ سلام اخستو سره فقير بابا مُسکے شو او هغهٔ ته يې اووے ، "راځه بچے راځه ، دَ ډېر عمر خاوند يې، هډو اوس موستا او ستا دَ وادهٔ خبرې کولے ، راځه کېنه بچے ". هغهٔ په سنجيده نظر هغهٔ ته اوکتل او وے وئېل ، "زما دَ وادهٔ په باره کښې ؟" فقير بابا خپله مُسکا اوږده کړه او وے وئېل ، "هاؤ بچے ، ستا دَ وادهٔ باره کښې. نېته مو اېښې ده ، ما خپل ځان پوره کړے دے . دَ جينۍ دَ کور څهٔ تکو پکو سامان پاتے دے نورهر څهٔ شوي دي .

امان:. دَ جينۍ دَ کور . . .؟ بابا ، دا جينۍ څوك ده چې زما په پچه





اورسېده ، دَ هغه په تپوس فقير بابا خاندي او په خندا کښې وائي، "جينۍ څوك پردۍ نه ده ، زما خپله وينه يعني خورزهٔ او زما دَ خُداے بخلي زوي چنغله ده . دَ هغهٔ دَ مرګ نه پس هغه دَ علي رحمان په نامه ناسته وه خو علي رحمان لا وړوکے دے او هغه ماشاء الله ستا په عمر پخه پېغله ده . ".

امان:. ښه نو لکه دَ عارف جمال ميراث دَ علي رحمان او دَ علي رحمان ميراث زما شو .

فقير بابا:. نه بچے داسې نه ده . دَ عارف جمال ميراث هم عارف جمال ته اورسېدو . تهٔ ماته دَ خپل زوي عارف جمال نه کم نهٔ ښکارے.

امان:. بابا ، ستاسو په مينه کښې هيڅ شك نيشته خو زهٔ لا في الحال وادهٔ ته تيار نه يم.

فقير بابا:. ولې بچے ؟ څهٔ خبره ده ؟ ولې تيار نه يې ؟

امان:. تيار ځکه نه يم بابا چې نه مې خپل کور شته نه در، نهٔ مې په سمه درك لګي نه په غر . په داسے حال کښې زهٔ دَ وادهٔ تصور هم نشم کولے .

فقير بابا:. په دې خبره دے ډېر خفه کړم بچے . دا زما کور ګڼې ستا کور نه دے ؟ او که تهٔ يې پردے ګڼې نو داسے پوخ کاغذ به درسره اوکړم چې تول عمري به ستا شي .

امان :. نه بابا ، ستا مينه او اخلاص په خپل ځاے دے خو زهٔ ستا اولاد او په تېره تېره وړوکے علي رحمان په يولحاظ سره هم دَ خپل



www.pukhto.net

حق نه محروم لیدل نه غواړم.

فقیر بابا:. دا به څۀ کېږي بچے، ما خو اوس نېته هم اېښې ده او خپل اودَ جینئ کور مې هم پوره کړے دے. که دا وادۀ خُدائے مۀ که اونشي نو زۀ خو به ټولو خلقو ته مخ تورن شم. ښۀ زۀ درنه ځم او تۀ په خپله خبره سوچ اوکړه، بیا کوچني استاذ ته وائي، "اشنا دا هلك پوهـ کړه چې اومې نۀ شرموي".

کوچنے استاذ:. ځه تۀ ورشه فقیرخانه، دے به زۀ پوهـ کړم، دې سره هغه کور ته روان شي. دَ هغۀ دَ تلو نه پس علي رحمان ډوډۍ راوړي. هغه پلار سره ډوډۍ ته کېناستو، هغه سکه هم اونکړه خو هغه یې مور کړو او خپل کټ ته یې اورسوو. کوچني استاذ چې په خپل کټ کښې ډډه واچوله نو هغۀ ته یې اووے، "امانه بچے، ستاسو دواړو خبرې ماواورېدے، داسې معلومېږي چې فقیرخان خفه شو."

امان:. بابا، ماخو هغۀ ته هیڅ سپوره ستغه نه ده وېلے، صرف هغه څۀ مې وېلے دي کوم چې حقیقت دے.

کوچنے استاذ:. بچے خپل تېر ژوند رایاد کړه او اوسني ژوند سره یې مقابله کړه. په زمکه اسمان او په سمه او غر زمونږ دَ پنائي هیڅ درك نۀ لګېدو او دَ پنائي په تلاش کښې حېران وپرېشان ګرځېدو. هغه مونږ له پنائي هم راکړه او دَ ژوند ټول سهلتونه یې هم راکړل. دَ هغۀ په ضمانت تۀ نوکر شوے او نوکر څۀ بلکه افسر شوے. دې نه علاوه هغه او دَ هغۀ بي بي تاته دَ خپل زوي په سترګه ګوري. چې هغه او دَ





هغۀ بي بي تاسره دومره مینه کوي او دَ خپل زوي چنغله یې په تا پېرزو شي نو تۀ ولې انکار کوے. ناشکري مۀ کوه بچے، دا ډېره ښه موقعه ده. یو به دَ هغوي ښاد مراد اوشي، بل به ستا وادۀ اوشي او دریمه دا چې تر اخره پورې به زما دَ ژوند سهاره وي. بیا که تۀ یې او که نۀ یې هغه به زما خدمت کوي او زمونږ به خپل کور وي. مونږ به ترڅو پورې دَ بل لاس ته ناست یو او خُدائے مۀ که، که دا موقعه درنه لاړه شي نو بیا به ټول عمر دغسې یك سرګرځے. ښېځې دَ ښځو کار دے او ستا نه مور شته نه خور چې ستا دَ پاره رشته اوغواړي. دا موقعه غنیمت اوګڼه. دَ الله شکر اوباسه او کفرانِ نعمت مۀ کوه. تۀ زما خبرې اورے که نه؟

امان:. هاؤ بابا، ستا خبرې اورم خو ماله دَ سوچ موقعه راکولے شے.

کوچنے استاذ:. تاته دَ سوچ نه بلکه دَ مشورې ضرورت دے او هغه ما درکړه. ستا په زړۀ کښې چې څوك ناست دي، هغه دَ خپل ځان نه سیوا تا چرې هم دَ بلې سوچ ته نۀ پرېږدي.... که دغه اونشوه نو څۀ اوشو. تۀ دَ هغه مجبورۍ ته هم لږ اوګوره کنه. دَ هغې په وجه دَ هغۀ توله کورنۍ دَ دشمنۍ نه بچ کېدېشي. تاله پکار دي چې دَ خپل ځان نه بلکه دَ هغه چا په باره کښې سوچ اوکړے دَ چا په دسترخوان چې کېنے او دَ چا په تالي کښې چې خورے څکے. بچیه، دَ شریك حیات فېصلې په اسمان کښې کېږي او فرشتې پرې امین وائي، دَ اسمان دَ فېصلې او دَ فرشتو دَ امین تضحیك مۀ کوه او دغه فېصله



www.pukhto.net

په خندا خوشحالۍ قبوله کړه .

امان:. بابا ، دَ اسمان دَ فېصلې ماته علم نیشته خوکه دا ستا فېصله وي نو زۀ ستا فېصله نشم ماتولے .

کوچنے استاذ:. زما تانه هم دغه امید وو څه اوس اَیت کرېمه اووایه او بې غمه اودۀ شه .

**《دریمه برخه》**

امان ډېر په مُشکله کښې ګېر وو، هغۀ نه دَ پلار مخ غورځولے شو او نۀ یې ګل ناز پرېښودے شوه . یو خوا دَ هغۀ هغه پلار وو چې په رِندو سترګو یې دَ هغۀ تربیت کړے وو او هغه یې زلمے کړے وو، بل خوا هغه ګل ناز وه چې دَ هغې نه بغېر هغۀ بل چاسره دَ وادۀ تصور هم نشو کولے . هغۀ دَ زړۀ دَ پاسه دَ پلار مشوره او دَ هغۀ فېصله اومنله ، او هغې سره یې دَ موبائېل رابطه هم ختمه کړه او دَ ملاقات سلسله یې ختمه کړه . هغې هغۀ ته څو څو کالونه اوکړل او څو څو مېسجونه یې ورکړل خو هغۀ نه دَ هغې کال واخستو او نه یې دَ هغې مېسج اولوستو . دَ کوچني استاذ له خوا چې فقیر بابا ته ګرین سګنل ورکړے شو نو هغه ډېر خوشحاله شو او خپلې هلې ځلې یې بیا شروع کړے . هغه په دغه هلو ځلو کښې هغه او دلبرو ترور یوه ورځ سودا دَ پاره بازار ته تلي وو علي رحمان ګډې بزې څرند له بوتلے وے او هغه په کور کښې یوائے وه . هغې ته چې موقعه ملاؤ شوه نو هغۀ پسې په داسے وخت کښې ورغله چې هغۀ په موټر سائېکل سور شوے وو او ډیوټۍ له روان وو . هغې چې هغه اولیدو نو دَ





هغۀ مخې ته اودرېده . هغه دَ هغې په اشاره دَ موټر سائېکل نه کوز شو او په زمکه اودرېدو . هغې ، هغۀ ته په برندو سترګو اوکتل او ورته یې اووې، "بابو ، تۀ دومره مغرور شوے چې نۀ زما کال اخلے او نۀ ماله دَ مېسج جواب راکوے ؟ ولې ...؟ دغه ستا مینه وه . زۀ ستا خبرو او ستا دیدن پسې لېونۍ یم او ستا پروا هم نیشته . زما خو په تا ډېر اعتبار وو؟ چې ته هم داسے شوے نو دَ چا نه به ګیله اوکړم ؟ ډېره دَ افسوس خبره ده "، هغه ، هغې ته په مایوسه نظر ګوري او وائي ، "ګل ناز ، تۀ چې هرڅۀ وائې نو وېلې شې . په ماستاخبرې بلکه ستا ګیلې بدې نۀ لګي ځکه چې کومه لوبه مونږ سره کېږي نو هغه مونږ دَ پاره ناقابلِ برداشت ده خو کوم حالات او واقعات چې مونږ ته پېښ دي دَ هغې تقاضاداده چې مونږ دواړه بادلِ ناخواسته حالاتو سره سمجهوته اوکړو او په پټو سترګو دَ تقدیر فېصله اومنو. کېدېشي دېکښې زمونږ خېر وي.

ګل ناز:. ستا دَ خېر او شر نه خبر نه یم خو ستا په جُدائي کښې زما هیڅ خېر نیشته . زما خېر په دېکښې دے چې تۀ زما شے او زۀ ستا شم . زۀ تا په هره جائزه او ناجائزه طریقه حاصلول غواړم . بابو، تۀ زما دَ ژوند اخري منزل یې . هغه منزل چې ما دَ هغې ډېر خوبونه لیدلي دي خو په ویښه مې لا لیدلې نه دے . چې ته زما دَ لارې مل شے نو مونږ خپل مرام ته ډېر په اسانه رسېدے شو. بابو ، ما په نیمه لاره کښې مۀ پرېږده پلیز. ماسره یو ځل بیا وعده اوکړه چې مونږ به دَ ژوند په مزل کښې دَ خپل منزل په لور تل ترتله یو یو." هغه ، هغۀ ته دَ



www.pukhto.net

امید په نظر گوري .

امان:. گل ناز ، ته زما دَ ژوند ساز او زما دَ زړهٔ اواز یې . تا نه بغېر زهٔ نه صرف نېمگړے یم بلکه بل چاسره دَ خوشحاله ژوند تصور هم نشم کولے خو زهٔ دَ خپلې خوشحالۍ دَ پاره دَ خپل محسن په کور اور نشم لگولے . ما معاف کړه پلیز .

گل ناز:. بابو، داسې دَ مایوسۍ خبرې مهٔ کوه پلیز ، مونږ نه ماشومان یو او نهٔ ناپوهه جاهلان یو ، مونږ تعلیم یافته یو او خپل ښهٔ بد ښهٔ پېژنو . راځه چې د دې ناترسه رواجي معاشرې دَ مودو مودو رواجي دستورونه مات کړو او دواړه څنگ په څنگ د دې نه ډېر لرې لاړشو.. راځه چې دَ ژوند دا خوږې لمحې په خوږو خوږو خوږې تېرې کړو . . . سوچ مهٔ کوه بابو ، دا دَ سوچ وخت نه بلکه دَ عمل وخت دے . کېدېشي داسې موقعه بیا رانشي... څه چې ځو پلیز ". امان گوري هغې ته خو په خیال کښې دَ خپل پلار مخې ته ناست وي دَ هغهٔ نصیحت اٰموز خبرې اورې . او دَ هغهٔ په دې خبره سوچ کوې چې ، "ستا په ذهن کښې چې څوك ناست دې هغه دَ خپل ځان نه سېوا تا چرې هم دَ بلې سوچ ته نهٔ پرېږدې. تاله پکار دې چې دَ خپل ځان نه، بلکه دَ هغه چا په باره کښې سوچ اوکړے دَ چا په دسترخوان چې کښېنے او دَ چا په تالي کښې چې خورے څکے ". دَ هغهٔ سوچ چې لړ اوږد شو نو دَ گل ناز دَ صبر مزے لنډ شو او په بې صبرۍ سره یې هغهٔ ته اووې، "تهٔ څهٔ سوچ کوے بابو ، په دے سوچونو کښې به





مودې تېرې شي او هیڅ به اونشي .ماله مختصر جواب راکړه چې yes یا No .

امان:. سورې گل ناز ، زهٔ دَ خپلې ناکامۍ اعتراف کوم او ډېر په افسوس سره دا وېم ". هغه په بې صبرۍ سره دَ هغهٔ خبره پرېکوې او وائي، "معافي غواړم بابو ، خو یو تپوس درنه کولې شم ؟ چې آیا زمونږ جُدائي دَ تقدیر فېصله ده ؟ آیا تاته دا علم شته چې تقدیر زمونږ دَ تړون خلاف فېصله کړے ده . . .زمونږ دَ مشرانو فېصله واقعي دَ تقدیر فېصله ده او که نه په تقدیر یو الزام دے ؟ . . .دَ تقدیر خبرې مهٔ کوه بابو ، هیچا ته نه خپل تقدیر معلوم دے او نهٔ خپل انجام . بهتره دا ده چې مونږ دَ تقدیر په ځاے دَ فطرت فېصله اومنو. او زمونږ فطرت ، فطرت ته ډېر نزدے دے ځکه چې زمونږ فطرت یو دے ، زمونږ مینه ، امیدونه او ارمانونه یو دي ، زمونږ هر څهٔ هرڅهٔ یو دي نو مونږ دَ فطرت په خوښخه ولې نهٔ ځو . . .مونږ دَ فطرت فېصله ولې نه منو. بابو پلیز ، راځه چې دَ فطرت فېصله اومنو او همېشه همېشه دَ پاره یو شو.

امان:. گل ناز ، زما دَ زړهٔ په زخمونو مالږه مهٔ دوړه وه . دَ کومو اذیتناکو مرحلو نه چې زهٔ تېرېږم ، تهٔ دَ هغې تصور هم نشې کولې . ښهٔ به دا وي چې په لوندو سترگو دَ یو بل نه جُدا شو او دَ ژوند دَ کتاب دا باب همېشه همېشه دَ پاره بند کړو. زما دعا ده چې تهٔ په نوے کور کښې خپل شریك حیات سره خوشحاله اوسې ، او دا به هله کېږي



www.pukhto.net

چې مونږ یو بل داسې هېرکړو لکه چې نه مونږ یو بل لیدلي وي او نه مو پېژندلي وي ... ماسره دَ رابطې کولو کوشش مهٔ کوه پلیز. زهٔ درنه لاړم دَ الله په امان ... ګل ناز هغهٔ ته په مایوسه نظر ګورې او وائې ، "د الله په امان".

څومره څومره چې دَ هغهٔ دَ وادهٔ نېټه نزدېکېده هومره دَ هغهٔ پرېشاني زیاتېده . هغه به سحر په خره دَ کوره وتو او ماسخوتن تېر به کور ته په داسې وخت راتلو چې دَ هغهٔ پلار به ډوډۍ خوړلې وه او په خپله بستره کښې به يې دَ هغهٔ انتظار کوو. هغه به دَ راتلو سره پلار ته سلام اوکړو ، دوه څلور خبرې به يې ورسره اوکړے او په خپل کټ کښې به سملاستو . دَ هغهٔ نه په ډیوټۍ کښې دلچسپي پاتې وه او نه په خپل ځان کښې. دَ ساه ساتلو دَ پاره به يې دَ بهټۍ مزدورانو سره قوت لایموت خوراك کوو نور هیڅ نه . یوه جوړه جامې به يې څو څو ورځې په غاړه کښې وې خو دَ جامو بدلولو توان يې نه لرلو . کله کله به لکه دَ ورك لیوني په ورکولارو ګرځېدو او خپل ورك منزل به يې لټوو . دَ مایوسۍ په وجه دَ هغهٔ د معزو جلۍ هم نرۍ شوې وه . په نهٔ څهٔ خبره به يې دَ بهټو مقامي منشیانو سره ، دَ ګاډو ډرائیورانو او مزدورانو سره جنګ جهګړې کولے. هغوي دَ هغهٔ خلاف ستارخان ته څو څو ځله شکایت اوکړل خو هغهٔ به هغوي له تسلي ورکړه او معامله به يې رفع دفعه کړه . یوه ورځ چې دَ پېسو ورکولو دَ پاره هغه دَ ستارخان حجرې ته ورغی نو ستارخان او احسان دواړه په حجره





کښې موجود وو. هغوي چې هغه اولیدو نو خلاف معمول دواړه دَ هغهٔ احترام کښې پاسېدل او دواړو واره په واره غاړې ورکړے . دَ روغ جوړ نه پس هغه ستارخان له دَ روپو تهیلۍ او رسېدونه ورکړل او احسان سره لنګې ته کیناستو او دَ هغهٔ نه يې په مُسکا مُسکا دَ هغه دَ صحت او دَ ټرېننګ په باره کښې تپوسونه کول . ستارخان دَ روپو تهېلۍ او رسېدونه یوخوا ته کېښودل او هغهٔ ته يې په خندا کښې اووے ، "دا ښهٔ ده چې راغلے . مونږ هم ستا انتظار کوو". امان هغهٔ ته په حېرانتیا اوکتل او وے وئیل ، "زما انتظار...؟ ستارخان یو ځل بیا په کړس کړس اوخاندل او ورته يې اووے ." هاؤ ، هاؤ ستا انتظار مو ځکه کوو چې تاته مو حاجت دے ،

امان (په حیرانتیا) حاجت...؟ تابعدار خان جي حکم .

ستارخان:. حکم نه خواست . او هغه دا چې دَ احسان ټرېننګ په اخري مرحلو کښې دے . دَ دهٔ فیزیکل ټستونه شوي دي او په هغې کښې پاس شوے دے خو دَ پولیس لاء یوه پرچه پاتې ده . چې هغه هم پاس شي نو د دهٔ ټرېننګ به مکمل شي، پاسنګ آؤټ پرېډ به اوشي ، په اوړو به ورته یو یو ګل اولګوي او دَ خېره افسر به شي. تاته خو د دهٔ قابلیت معلوم دے چې غوړ منګے دے ، څاڅکے ورپورې نهٔ انخلي . دهٔ ځان سره پرچه راوړے ده . دا ورله زر زر حل کړه چې دي نه هم بې غمه شي (احسان ته) "هلکه امان بچي له پرچه ورکړه چې حل يې کړي درته". احسان چې امان له پرچه ورکړه او هغهٔ اوکتله نو



www.pukhto.net

هغې کښې داسې سوالونه وو چې هغه پرې نه پوهېدو . هغه دَ شرمه مُسکې شو او ورته يې اووے ، خان جي دا ټول سوالونه پوليس لاء سره تعلق لري . ما دَ پوليس لاء مطالعه نه ده کړے . په دې وجه زهٔ پرې نهٔ پوهېږم ".

ستارخان:. په کومو چې پوهېږے هغه حل کړه ، نور به بيا شي.

امان:. خان جي ، دا ټول کويز سوالونه دي او زما ورته هيڅ تيارې نيشته .

ستارخان :. ښه نو بيا؟

امان:. بيا دا چې دَ پوليس لاء دَ ماهر نه مدد واخلې. بله هيڅ لاره نيشته.

ستارخان:. څه ته څهٔ کوشش خو اوکړه کنه .

امان : سوري خان جي، زهٔ دا نشم کولے. دَ هغهٔ په انکار دَ هغهٔ سترګې هم بدلې شوې او دَ خلې ذائقه يې بدله شوه . په انتهائي سپکه لهجه کښې يې ورته اووے ، "چې نشے کولے نو څه پاسه ورك شه . هسې راته کټ کښې ناست يې ". امان چې په رومبي ځل دَ هغهٔ دَ خلې نه دومره سپك الفاظ واورېدل نو په خپلو غوږونو يې دَ دغه ټکو اورېدو خيال نه راتلو خو کله چې هغه ورته بيا اووے ، "څه پاسه پاسه ، چې تهٔ دومره معمولي کار نشے کولے نو نورې به ماله څهٔ تورې اووهے ." دَ هغهٔ په وېنا امان سپك پاسېدو او سپك روان شو . هغه ته دَ ستارخان په سپکه رويه دومره صدمه اورسېده چې کور ته دَ تلو په وخت کښې په ورکولارو سر شو . خودَ ډېر کوشش نه پس چې کله خپل کور ته اورسېدو نو په خپله بستره کښې پرېوتو





خو ټوله شپه کښې يې ټکے خوب اونکړو . چې کله به يې سترګې ورغلې نو هغه به ورته مخکښې شو او دا ټکې به يې اورېدل ، " چې نشے کولے نو څه پاسه ورك شه ، هسې راته کټ کښې ناست يې . . . څه پاسه پاسه ، چې ته دومره معمولي کار نشے کولے نو نورې به ماله څهٔ تورې اووهے ." دا ټول ټکې به هغهٔ ته مخکښې مخکښې کېدل او لکه دَ مارانو به يې ټکونه ورکول .

دَ هغهٔ نه په خپل کور کښې زړهٔ لګېدو او نهٔ په ډيوټۍ کښې . هغه غوښتل چې هغه لکه دَ مخکښې غوندې خپل پلار بيا دَ لاس نه اونيسي او د دغه ځاے نه ډېر لرې لاړ شي . په دے غرض هغهٔ څو ځله پلار ته خله جوړه کړه خو په نامعلومه وجه به بيا چپ شو. کومه خبره چې هغه خپل پلار ته کول نه غوښتل هغه يې يوه ورځ ستارخان ته دَ يو خط په ذريعه اوکړه . هغهٔ چې دَ هغهٔ خط اولوستلو نو ورته يې اووے ، "تهٔ نوکري ولې پرېښودل غواړے ، تاته څهٔ تکليف دے ؟"

امان:. ماته ستاسو له خوا هيڅ تکليف نيشته خو دلته مې نور زړهٔ نهٔ لګي ، زهٔ وېم چې ما سره حساب کتاب اوکړے او ماله رخصت راکړے.

ستارخان:. حساب کتاب دا دے چې ستا د دې مياشتې تنخواه فقير بابا اوړے ده . دې نه علاوه دوه مياشتې مخکښې يې ستا په سر دوه لاکهه روپۍ ايډوانس کښې اخستے دي، امان چې دَ هغهٔ خبره واورېده نو په شونډو يې ژبه اووهله او په تندي يې نرۍ خوله راغله.



www.pukhto.net

هغهٔ دَ تندي خوله په لمنه اوچه کړه او ورته یې اووے ، "ماته په دې باره کښې هیڅ معلومات نشته ."

ستارخان:. تاته به نهٔ وي خو ماته شته او ما ستا په کهاته کښې لیکلي دي . او که ستا زما په خله اعتبار نشي نو تپوس ترېنه اوکړه.

امان( دَ ناخوالې خندا ) نه خان جي، داسې هیڅ خبره نیشته .

ستارخان:. اوس ستا خوښخه ده که ته ماسره کار کوے خو ډېره ښهٔ ده دغه پېسې به ستا په تنخواه کښې لږې لږې کټ کېږي او کمېږي او ماسره کار نهٔ کوے نو دغه دوه لاکهه روپۍ نغدې راکړه چې ستا کهاته ختمه شي .

امان:. نه خان جي ، داسې هیڅ خبره نیشته . زهٔ به تر هاغې تاسو سره کار کوم چې ستاسو قرضه ختمه کړم .

ستارخان (مُسکے شي ) ښه څه خپله ډیوټي کوه .

امان دَ اوښ په شا سپو اوخوړو . هغه چې څهٔ کټل نو فقیر بابا له به یې ورکول او نتیجه یې دا شوه چې دَ څو کالو مول هم لاړو ، سود هم لاړو او ایډوانس پرې دَ پاسه . دَ هغهٔ په پرېشانۍ کښې نوره هم اضافه اوشوه خو هغهٔ دَ خپل خفګان اظهار نه فقیر بابا ته اوکړو او نهٔ پلارته.

دَ هغهٔ وادهٔ ته دوه ورځې پاتې وې چې فقیر بابا او دَ هغهٔ ښځې دَ هغهٔ دَ ناوې جوړې جامې او کالي پترې په بکس کښې کېښودل ، بکس ته سهرې واچولے ، او دَ ناوې کور ته یې یوړو. هلته دَ ناوې جوړې جامې او کالي پترې ښځو ته اوښولې شو ، مبارکۍ واخستلې شوې، هغه





هرڅهٔ یې دَ رواج مطابق دَ جینۍ مور ته پرېښودل او هغوي ترېنه کور ته واپس راغلل . دَ ګل ناز وادهٔ شوې خویاندې هغوي کره راغلې وې او منګې دېکچې وهلې کېدل . په امان او ګل ناز دغه تېنګ تکور لکه دَ توپك دَ ګولو لګېدو خو هغوي دَ برداشت نه سېوا هیڅ نه شو کولے.

په سبا چې امان ډیوټۍ له لاړو او دَ تولو بهتو نه یې پېسې راغونډ کړے او مازیګر یې دَ ستارخان حجرې ته اوړے نو ورځې واخستو. سمه لاره یې پرېښوده او شارې ته یې مخه اوکړه . هغه تر ماښامه پورې په دغه ورکو لارو کښې ورك ګرځېدو خو دَ لارې سر نه معلومېدو . په دېکښې دوه مسلح کسانو چې هغه اولیدو نو دَ هغهٔ مخه یې اونېوه . هغه چې دَ هغوي په نیت پوهه شو نو دَ تختېدو کوشش یې کوو خو په هغوي کښې دَ یو په دے اواز چې، "دَ تختېدو کوشش مهٔ کوه ، هرڅهٔ چې درسره وي، هغه را اوباسه ، شابه زر کوه".

هغه اودرېدو او په یره یره یې هغوي ته کتل . په دغه کتو کتو کښې پرې یو دَ کونداغ ګزار اوکړو . دَ ګزار سره هغه بېهوشه شو او دَ موټر سائېکل نه لاندې پرېوتو . بیا دواړو دَ هغهٔ تالاشي واخسته ، دَ پېسو دَ تهېلۍ نه علاوه خپل جېب خرچ یې ترېنه هم واخستو او موبائیل هم . بیا دواړه دَ هغهٔ په موټر سائېکل سوارهٔ شو او ډېر په تېزۍ سره لاړل اووتل . هغه ډېره شېبه پتې سترګې پروت وو، چې کله په هوش کښې راغۍ او ځان ته یې اوکتل نو دَ اغوستو جامونه علاوه هغه سره هیڅ نه ووپاتې . هغه یوه شېبه په غړېدلو سترګو پروت وو، بیا



www.pukhto.net

پاسېدو ، ځان يې اوځنډو او په يو طرف روان شو. غوټه نيمه شپه وه چې هغه دَ ستارخان حجرې ته اورسېدو .دَ حجرې ګېټ بند وو خو څوکيدار په حجره کښې دننه ويښ وو او اخ تېخ يې کول . هغۀ چې ور اوډبوو او په پورے ګېټ يې څوکيدار سره خپل شناخت اوکړو نو هغۀ ته ورلرے کړے شو او حجرې ته دننه کړے شو. دَ څوکيدار په وېنا ستارخان هم حجرې ته راغى . هغۀ ، هغۀ ته توله قيصه تېره کړه خو هغه هغۀ سره دَ همدردۍ په ځائے مُسکے شو او ورته يې اووے ، "ځه ته اوس دغه کمره کښې سمله ، سباله به ګورو". هغه چې کمرې ته روان شو نو ستارخان څوکيدار ته اووے ، "چې دے سملي نو ور ورپسې دَ بهر نه بند کړه ". دې سره هغه کور ته روان شو . دَ هغه دَ تلو نه پس څوکيدار هم هغسې اوکړل څه چې ورته هغه وېلے وو.

## ﴿ شلورمه برخه ﴾

دَ امان دَ وادۀ دَ نکريزو شپه وه . فقير بابا دَ هغۀ تول تېر او نورې مېلمنې دَ امان سخرګنۍ کره په نکريزو تلې وې. په کور کښې صرف يوه ګل ناز پاتې وه . هغې ته دَ امان دَ راتلو ډېر انتظار وو خو چې ترناوخته پورې هغه رانۀ غى نو دَ هغې په زړۀ کښې ډېر شکوک وشبهات پېدا شو . دَ هغۀ پلار هم دَ هغۀ په انتظار کښې ډډې په ډډې اوختو را اوختو او ځان سره ګُنېدو . چې څومره څومره به وخت تېرېدو هومره به دَ هغه وسواس زياتېدو . هغې هغه سره يوآخرې ملاقات او يو څو خبرې کول غوښتل خو چې دَ هغۀ په ښکالو پوهـ





نشوه نو هغۀ پسې دَ هغۀ کوټې ته ورغله . دَ کوټې ورلرے وو او لالټين بلېدو . کوچنے استاذ چې دَ چا په راتلو پوهـ شو نو غاړه يې تازه کړه ، په کټ کښې کېناستو او وے وئيل ،" امانه ، ته راغلے ، ولې دے ناوخته کړو" دَ هغۀ په تپوس هغې اووې ، "بابا زۀ يم ، ګل ناز. بابو لانه دے راغلے ؟

کوچنے استاذ:.نه کنه لورې ، خُدائے دے خبر کړي چې څۀ مسله ورته پېښه ده . تۀ يو رېنګ ورکړه لورې چې څۀ معلومات يې اوشي.

ګل ناز:. بابا ، هغۀ زۀ دَ کال کولو نه منعې کړې يم خوستاسو دَ مخه به کال ورکړم .دَ کوچني استاذ په وېنا هغې هغۀ ته کال اوکړو . چې رېنګ ورغى نو اواز راغى ، "هېلو سلام عليکم څوك خبرې کوے ".

دا اواز بدل وو ، دَ امان نه وو بلکه دَ بل چا وو ، هغه او تره شوه او په يره يره يې اووې ، "ما خو بابو يعني امان ته کال کړے دے ، ته څوك يې، تۀ موبائيل هغه له ورکړه ".

اواز:. هغه تاسره خبرې نشي کولے ،دَ هغۀ موبائېل ماسره دے تۀ چې څۀ وېل غوارې نو وايه .

ګل ناز:. زۀ تاسره نه بلکه بابوسره خبرې کول غوارم موبائېل هغه له ورکړه .

اواز:. بې بې ، هغه بېهوشه پروت دے ،خبرې نشي کولے.

ګل ناز(په يره) بېهوشه پروت دے ؟ خبرې نشي کولے ؟ ولې په هغۀ څۀ شوي دي ؟



www.pukhto.net

اواز:. بي بي ، هغه اکسیډنټ کړے دے او دَ مرګ او ژوند په کشمکش کښې بېهوشه پروت دے .

ګل ناز:. ته څوك خبرې کوے او هغه کوم ځاے دے .

اواز:. بي بي ، زۀ دَ هغۀ دوست اکرم خبرې کوم ، هغه سور پُل سره دَ سړك په غاړه پروت دے . زۀ هغه هسپتال ته اوړل غواړم خو نه ګاډے شته او نۀ هغه یواځے پرېښودے شم.

ګل ناز:. روره ته داسې نشے کولے چې دَ هغۀ په موټر سائېکل راشے او ما هغۀ له اورسوے .

اواز:. ولې نشم کولے خو ته کوم ځاے یې ، خپله اته پته اوښایه چې درشم .

ګل ناز:. زۀ به دَ جینکو دَ سکول په لاره غتې شوې سره ستا انتظار کوم ، زر راشه روره .

اواز:. فکر مۀ کوه ، زۀ دادے درغلم ، کوچنې استاذ دَ هغې خبرو ته غوږ ایښے وو او دَ هغې دَ خبرو نه هغۀ ته دومره معلومه شوه چې هغۀ اکسیډنټ کړے دے او بېهوشه پروت دے . هغۀ دا غوښتل چې هغه دَ موبائېل کال ختم کړي نو هغه به ترینه تپوس اوکړي خو هغه دَ هغۀ تپوس ته ایساره نشوه او ډېره په توندۍ سره دَ غتې شوې په طرف روانه شوه . چاپېره شاړه وه ، شپه تیاره وه او زړۀ بوګنونکي خاموشي وه خو هغه نۀ په شاړه وه ، نه په تیارۀ وه او نه په یره وه . هغه صرف په دې وه چې زر تر زره هغۀ له ځان اورسوي . هغه په منډه





منډه او سلګو سلګو غتې شوې له اورسېده او دَ اجنبي رور په انتظار دَ شوې لاندې اودرېده . نرۍ هوا چلېده ، دَ هغې خورې زلفې او نرۍ لوپټه رپېده . دَ شوې اوچې پانې دوړېدې او څۀ په زمکه پرېوتې ، څۀ دَ هغې په سر ورېدې او څۀ په خواؤ شا جهاړو بوټو پرېوتې . دا ځاے دومره دروند وو چې دَ ماښام نه پس دلته هیڅوك نشو راتلے . هغې ته پته وه خو هغې ته دَ یرې احساس ځکه نه کېدو چې دَ هغې طبعي سترګې دَ چا دَ راتلو په انتظار په لاره لګېدلې وې او دَ زړۀ سترګې یې په امان لګېدلې وې. په دغه انتظار انتظار کښې هغې لرې دَ رڼا پلوشې اولیدې . دغې رڼا سره دَ هغې په زړۀ کښې رڼا شوه . چې څومره څومره رڼا نزدې کېده هومره دَ هغې حوصله زیاتېده . په دې دې کښې رڼا بالکل نزدې شوه ، دومره نزدې چې دَ هغې په سترګو پرېوته . هغه دومره بې صبره شوه چې ورمنډه یې کړه ، هغه له یې ځان اورسوؤ او په روانه روانه کښې هغۀ پسې روستو سوره شي . هغۀ په روانه کښې موټر سائېکل تاؤ کړو او پښه یې پرې تینګه کړه هغه دومره تېز روان وو چې هغه د چا خبره هوا سره یې خبرې کولے.

هغه اګر چۀ هغه پسې روستو ناسته وه خو دَ خیال په بُراق دَ هغۀ نه ډېره مخکښې سور پُل ته رسېدلې وه او په خپل تصور کښې دَ هغۀ بې حسه بې حرکته وجود ته ناسته وه او په خپله لوپټه یې دَ هغۀ وینے وینے زخمونه صفا کول . ګاډے په لړ ساعت کښې دَ وړوکي سړك نه لوے سړك ته ووختو . سړك بالکل خوشے تشے پروت وو



www.pukhto.net

او هره خوا مکمله خاموشي او چپه چپیاوه . دَ شپې تورې ، گڼې اوږدې زلفې دَ سړك په برېښنده سینه تر لرې پورې خورې ورې پرتې وې. دغه تورې اوږدې زلفې دَ هغهٔ دَ گاډي دَ رڼا پلوشو سیرلې او مخکښې مخکښې تللي. په تلو تلو کښې به چې کله دَ هغې دَ بدن څهٔ برخه دَ هغهٔ بدن پورې لگېده نو د دغه برقي توانائۍ په وجه به دَ هغهٔ په برقي رفتار کښې نوره هم اضافه کېده . هغه دَ هوا په آس سور دَ خپل منزل په لور په مخه روان وو چې دَ لرې نه ورته دَ سړك په مینځ کښې ولاړ څلور کسان ښکاره شو . په تلو تلو کښې چې هغهٔ دَ هغوي اندازه واخسته نو هغه دَ پولیس موبائېل سکواډ وو چې په سړك یې ناکه بندي کړې وه . هغه په څو څو کېسونو کښې پولیس ته مطلوب وو. دَ پولیس په اشاره هغه دومره وارخطا شو چې نه واپس کېدېشو او نه هغوي ته اودرېدے شو. هغهٔ نه غوښتل چې دومره په اسانه پولیس له په لاس ورشي . په دې وجه هغهٔ دَ پولیس دَ اشارې هډو څهٔ پروا اونکړه او ډېر په تېزۍ سره دَ ناکه بندۍ نه اووتو خو په وتو وتو کښې دَ ناکه بندۍ ستیل بېریر سره دَ گل ناز پښه اولگېده . دَ هغې دَ خلې نه دَ ویش اواز اووتو خو هغهٔ هډو دَ هغې څهٔ پروا اونکړه او په مخه روان وو. گاډے چې دَ پولیس دَ قابو نه اووتو نو هغوي پرې دَ روستو نه هوائي فائر اوکړو ، دَ هغهٔ په حرکتونو هغه مخکښې نه شکي وه خو پولیس نه دَ تختېدو په وجه هغه په هغهٔ نوره هم شکي شوه او په زړه یې اوخوړه چې هغه په داسے دام کښې گېره شوه چې





دَ هغې نه وتل ډېر گران دي. یو خوا دَ پولیس ترخے ډزے وے ، بل خوا دَ هغهٔ مشکوك کردار وو. هغې نه پولیس له گرفتارې ورکول غوښتل او نه یې هغهٔ سره تلل غوښتل ، د دغه دوارو نه هغې خپل مرگ بهتر اوگڼو . په دغه ډزو ډزو کښې هغې دَ گاډي نه ځان اوغورځوو خو ډېره زرپاسېده او دَ گنو فصل ته یې منډه کړه او داسې غېبه شوه چې دَ پولیس دَ تلاش باوجود هم پېدا نشوه .

**﴿پنځمه برخه﴾**

دَ گل ناز دَ کوره دَ وتو او دَ هغې دَ مور پلار کورته دَ راتلو په وخت او لارو کښې لږ فرق وو . هغه په یوه لاره روانه شوه او هغوي په بله لاره کورته دننه شو ، هغه دَ هغوي په نظر کښې دَ مخکښې نه مشکوکه وه خو چې هغه یې په کور کښې او امان یې بهر په کوټه کښې اونه لیدو نو دَ هغوي شك په یقین کښې بدل شو چې هغوي دواړه اوتې دي. فقیر بابا توپك په لاس تر غټې شوې پورې تول ځایونه پټ په پټه اوکتل خو چې هغوي یې اونه لیدل نو کورته واپس شو، توپك یې یو خوا ته کېښودو او خفه دلگېر کېناستو .

دلبرو ترور او دَ هغې لونو چې هغه په خفگان کښې اولیدو نو تولې دَ هغهٔ نه چاپېره کېناستې او دَ هغوي خبرې یې کولې . په خبرو خبرو کښې دلبرو ترور دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو ، "دا به څهٔ کېږي سړیه، که هغه رانشي نو مونږ خو به تربورانو ته اوشرمېږو .

فقیر بابا:. شرم خو دے دے او دشمني پرې لا تېرې ده . زمونږ جوړه دَ



www.pukhto.net

جرگې پـه خلهٔ دَ هغې په سر شوې ده ، چې هغه لاړه نو جرگې ته هم مـخ تـورن شـوم او دَ تـربورانو دشمني هم په نوي شکل کښې راپيښه شوه . کـه زهٔ ورتـه پـه قـرآن لاس کـېږدم چې دَ هغې په تلو کښې زما لاس نيشتـه خـو نـه يـې جرگـه مـني او نه يې هغوي مني ما هغهٔ له پناۍ ورکړه ، دَ زوي مينه مې ورکړه او هغهٔ ماسره هغه کار اوکړو چې دَ ټول عمر دَ پاره يې په لوے غم واړولم . زمونږ مشرانو څهٔ رشتيا ويلے دي چې دَ هغه سړي دَ بدۍ نه اويرېږه چاسره چې تا احسان کړې وي .

دلبرو ترور :. تاخو به يې دَ پلار نه تپوس کړے وو چې هغه څهٔ وائي.

فـقـيـر بـابـا:. ورغـلـے ووم خـو هغـه اودهٔ وو، او دَ هغـه نـه دَ تپوس څهٔ ضـرورت دے . هـغـه غريب په څهٔ کښے دے ؟ هغهٔ خپل وس کړے دے ، هـغـهٔ پـوهـ کـړے وو او هـغـهٔ ماله يقين راکړے وو چې هغه به چرے هـم داسے کار اونکړي چې زما سترگې پرې ټيټې شي. دے دَ پاسـه هـغـه نـور څهٔ کـولے شي؟ په ظاهره خو هغه ډېر شريف اوچپ ښکارېدو خو په دغه چپه چپه کښې يې داسے داغ راکړو چې دَ ټوپك پـه گـولـۍ هـم نه ورانېږي . هغوي دواړو سره خو به بيا گورم خو اوس به دَ هغهٔ ناوې سره څهٔ کوم ؟

دلـبـرو:. هـاؤ سـړيـه ، سبـا لـه بـه دَ کلثوم ډولۍ هم راځي او دَ گل ناز نـکريزې به هم راځي . . .ياالله دا به څهٔ کېږي . دا خو تياره دشمني ده . دَ عـارف جـمـال پلاره ، کـه زما خبره منے خو تهٔ سبا له دَ جرگې مشران اووينه او هغو ې تـه تـولـه خبره اوکړه ". هغوي ټوله شپه دَ شامِ غريبان





غـونـدې پـه ژړا ژړا تـېـره کـړه . فـقـيـر بابا سحر وختي دَ کوره اووتو ، دَ جـرگـې مشـر لـه ورغـى او هـغهٔ ته يې ټوله قيصه تېره کړه . دَ جرگې مشـر فوري طـور دَ جرگې مـمبران را اوغـوښتـل او دَ فقير بابا دَ خلې ټـولـه خبره يې ورته اوکړه . دَ جرگې ممبرانو هغه خلهٔ خلهٔ کړو او ډېرې ستـغـې خبرې يې ورته اوکړے . فقير بابا دَ هغوي سپورې ستغې په فـراخـه سينـه وورېدې او پـه روڼ تندي يې برداشت کړے ځکه چې دے نـه بـغـير هغهٔ هيڅ نشو کولے . دغه جرگې له بهرام او دَ هغهٔ خپلوان هـم راؤغـوښتـلي شو. بهرام چې دَ گل ناز دَ تيختې خبره وورېده نو په جرگـه کښـې يـې پـه هـغـهٔ ټوپك هم اوچت کړو خو دَ جرگې مشرانو هغه سنگوسټ کړو او جرگې ته يې کېنوو . ټول ممبران دَ مشورې په غـرض پـه ورو ورو ډلـو کښې تقسيم شو او چې کله دَ هغوي مشورې مـکـمـلې شوې نو ټول دَ فېصلې دَ پاره غونډ شو . دَ جرگې ممبرانو دَ جرگـې دَ مشـر په خله په دې فېصله متفق شو چې دَ گل ناز په ځاے کـلـثـوم بهرام ته وادهٔ شي. دې فېصلې دَ پاره دَ کلثوم پلار راؤغوښتے شو. هغه اگر چهٔ د دې فېصلې په حق کښې نه وو خو دَ جرگې مخ يې اونـهٔ غـورځـولے شو او په دغه فېصله راضي شو . ټولو مشرانو په دې فـېـصـلـه امـنـه اوکـړو ، دعاې خېر اوشوه او دَ بهرام او کلثوم نکاح هم اوتـړلـې شـوه . دې نـه پـس دَ بهرام خپل خپلوان ، دَ جرگې مشران او دَ کلي نورخلق دَ بهرام په جنج لاړل او دَ کلثوم ډولۍ دَ فقير بابا دَ کور په ځـاے دَ بهـرام کـور تـه لاړه . دَ امـان پـه پـېـسـو چې دَ هغهٔ دَ ناوې دَ پاره



www.pukhto.net

کوم کالي ، سوچه جوړې ، فرینچر او نور سامان راؤړلے شوے وو، هغه دَ جرګې دَ مشرانو په وړاندې دَ بهرام جنجیانو دَ هغهٔ دَ کوره اوچت کړو او دَ بهرام کور ته یې اورسوو . دَ ګل ناز په ډولۍ کښې کلثوم لاړه او دَ امان دَ وادهٔ په پالنګ بهرام اوختو. فقیر بابا سره هیڅ پاتے نشو. هغه کار اوشو چې دَ چا په خیال وګمان کښې هم نه وو. مازیګر چې هغه کور ته اورسېدو او ستړے ستومانه په کټ کښې سملاستو نو بره یې دَ کوټې لحرې شمارل او لاندې یې خپلې ګوتې شمارلے . دَ هغهٔ په کور کښې مکمله خاموشي وه . دَ کور هریو کس دَ خپل ځان نه مرور او دَ دنیا نه بېزاره وو. هریو په دے سوچ کښې وو چې دا څهٔ وو او څهٔ اوشو . ټول په خپلو خپلو خیالونو کښې ډوب وو چې دَ کور ور په زوره زوره اوډبېدو . دَ ور ډبېدو سره هغهٔ ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ ور په ځائے څوك هغهٔ له په مخ سپېړے ورکوي هغه ډېر په غصه ورله ورغی. خو چې بهر یې دَ ستارخان ناظر اولیدو نو یخې اوبهٔ پرې توې شوې او دَ هغهٔ ټوله غصه په لباسي مُسکا بدله شوه . هغهٔ په مُسکا مُسکا دَ ناظر نه تپوس اوکړو ، "خېرشه ناظر صېب".

ناظر:. خېر نه دے بابا ، ستارخان دے غواړي، " دَ ستارخان په نوم هغه وارخطا شو او په حېرانتیا یې اووے ، "ستارخان ماغواړي ؟ په څهٔ باره کښې ؟ "

ناظر:. نوره پته ماته نیشته خو سحره راسې یې درېسې درے استاذي





را اولېږل خو چې ته رانه غلے نو زهٔ یې درپسې را اولېږلم ، راځه ما پسې روستو کېنه چې ځو". فقیر بابا دَ هغهٔ په خبره کښې هډو لم لېټ اونکړو او هغهٔ پسې په موټر سائېکل سور شو . چې لږه شېبه تېره شوه نو هغوي دَ ستارخان حجرې ته اورسېدل . هغهٔ په برنډه کښې بالخت ته ډډه وهلے وه او بوټ سوټ ملاست وو. هغه ته مخامخ یوې ستنې پورې امان په پړې تړلے شوے وو او په مظلومو سترګو یې یوخوا بل خوا کتل . فقیر بابا چې هغه اولیدو نو دَ ستارخان دَ سلام نه مخکښې دَ هغهٔ سلام له ورغی . هغه دَ هغهٔ په احترام کښې مُسکے شو او هغهٔ ته یې سلام اوکړو خو هغه دَ هغهٔ دَ سلام په جواب کښې دَ هغهٔ نه په مخ داسې سپېړه اووستله چې مخ یې ورله بل طرف ته واړوو . هغهٔ دَ هغهٔ دَ سپېړې په جواب کښې هغهٔ ته بل مخ اونیوو. هغهٔ چې په بل لاس دَ هغهٔ بل مخ له سپېړه ورکړه نو دَ مخ په ځاے دَ هغهٔ پوزهٔ اولګېده او بوتۍ بوتۍ وینه ترېنه دَ هغهٔ په جامو او لاندې په زمکه پرېوته . هغهٔ یو ځل بیا هغهٔ ته بل مخ پېش کړو خو دَ سپېړې ورکولو په ځائے یې ورته اووے ، "رذیله ، کم اصله، داسے کار هم څوك چا سره کوي لکه تا چې ماسره اوکړو؟ جینۍ دے څهٔ کړه ؟ کوم خوا دے بوتلے ده او چاسره دے کېنولے ده "؟ هغه لاڅهٔ جواب نه وو ورکړے چې ستارخان ترېنه تپوس اوکړو، "فقیریه ، دَ جینۍ څهٔ معامله ده ".

فقیر بابا:. ولې خان جي ، تاته پته نیشته چې دے رذیل بېګاه زما



www.pukhto.net

جينۍ بوتلے ده او دَ هغې په تس کښې ترينه خپله ښځه هم لاړه .

ستارخان: دغې خبرې نه نۀ خبريم او نۀ مې پکښې دلچسپي شته.
ماخو تۀ دے دَ پاره راغوښتے يې چې ماسره به څۀ کوے ؟

فقير بابا (په حېرانتيا) تاسره به څه کوم ؟ زۀ ستا په خبره پو هـ نشوم.

ستارخان: زما مطلب دا دے چې دے هلك باندې زما اتهۀ لاکهه روپۍ پورې دي ، فقير بابا دَ هغۀ دَ خلې نه خبره اخلې او وائي ، "اتهۀ لاکهه روپۍ ؟

ستارخان : هاؤ ، پنځه نيم لاکهه روپۍ دۀ غبن کړې دي. دَ پنځوست زره روپو يې موټر سائېکل غيب کړے دے . او دوه لاکهه روپۍ د دۀ په سر تا اخستې دي. دا ټولې اتهۀ لاکهه روپۍ شوې.

فقيربابا: امان ته ګوته نيسي او وائي، "دا دے ستا په مخکښې ولاړ دے ، دَ دۀ دَ خُرمنې نه يې اوباسه ".

ستارخان: نه فقيريه داسې نه ده . تا د دۀ ضمانت کړے دے او زما پيسې په تا کېږي .

فقير بابا: ما د دۀ داسې ضمانت کړے دے چې که دے اوتختېدو نو زۀ به يې درکوم. اوس دے په موقعه موجود دے ، خپله حقه شرعه ورسره اوکړه .

ستارخان: دَ تېختې خبره پکښې نه ده شوې او که تۀ هسې اوړې پوړې کوے نو کوم کار مې چې دۀ سره اوکړه ، دغسې تاسره هم کولے شم .





فقير بابا: په دې به جرګه اوکړو که پرشوم په ماشتۀ شوې او که وور شوم نو تۀ پو هـ شه او دے پو هـ شه .

ستارخان: څه تيك ده جرګه جوړه کړه .

دې سره فقير بابا پاسېدو او حجرې نه بهر اووتو . يوه شېبه پس يې جرګه جوړه کړه او دَ جرګې سره حجرې ته راغې . چې جرګه کېناسته نو ستارخان ورته دَ شروع نه واخله تر اخره پورې ټوله خبره اوکړه . دې نه پس ورته فقير بابا خپله خبره اوکړه . دَ غبن په کېس کښې دَ امان نه هم بيان واخستے شو. هغۀ جرګې ته اووے ، "دَ خان جي له خوا په ما دا الزام دے چې ما پنځه لاکهه روپۍ غبن کړې دي او دَ پنځوست زره روپو يو موټر سائېکل مې پټ کړے دے . دا روپۍ غبن شوې نه دي بلکه دا روپۍ او موټر سائېکل مانه شوکمارو اخستے دے . په دغه باره کښې زۀ هر قسم تسلۍ ته تيار يم "دَ جرګې مشرستارخان ته ګورې او وائي، "که دا هلك ستا تسلي اوکړي نو ته يې منے ؟

ستارخان : نه جي ، نه مې دَ دۀ په خله اعتبار شته او نۀ دَ دۀ په قسم .

امان: ګرانو مشرانو، ماخان جي سره څلور کاله او درې مياشتې نوکري اوکړه . په دے دوران کښې داسې يوه موقعه هم راغلے ده چې دوې ماته دَ شلو لاکهو روپو يوه تهېلۍ اونيوه خو ما دَ اخستو نه انکار اوکړو . که زۀ دروغ ويم نو دا دے ناست دے تپوس ترېنه اوکړه؟ دَ جرګې مشرانو ممبرانو چې هغۀ ته اوکتل نو هغه اووے ، "دا دَ وخت وخت خبرې دي . دَ انسان دَ نيت په بدلېدو کښې وخت نۀ لګي".



www.pukhto.net

امان:. زۀ دَ پیسو اوږے نه یم بلکه دَ عزت اوږے یم.
ستارخان:. زما عزت ستا شو خو پیسې راکړه .
امان:. ګرانو مشرانو ، دَ خان جي په نوکرۍ کښې چې ماڅۀ ګټلي دي نو دے فقیر بابا له مې ورکړي دي. که زۀ دروغ وېم نو دا دے ناست دے تپوس ترېنه اوکړی .
دَ جرګې ممبران او مشر په سوالیه نظر فقیر بابا ته ګوري. دَ امان دَ خبرې په وضاحت کښې هغه وائي، " دېکښے هیڅ شك نیشته چې دے هلك څۀ ګټلي دي نو ماله یې راکړي دي خو دېکښې هم شك نیشته چه ما دَ دۀ تول ګټه وټه دَ دۀ په وادۀ لګولے ده دا بیله خبره ده چې نه دۀ له څۀ په لاس ورغلل او نه ماته څۀ پاتے شو".
دَ جرګې مشر امان ته ګوري او وائي، "ته دَ ستارخان روپۍ منے ؟"
امان:. ماخان جي ته انکار نه دے کړے . زۀ دَ دوي پیسې منم او دا مې ایمان دے چې دَ دوي پېسه پېسه به خلاصوم خو په مزدورۍ کښې اوس ماسره هیڅ نیشته . زۀ تاسو سره دا قول کوم چې څۀ ګټم نو دوي له به یې ورکوم .
دَ جرګې مشر:. دغسې به ستا تول زندګي ختمه شي خودَ خان جي قرضه به ختمه نشي . دَ هغۀ په تپوس امان مُسکے شي او وائي، "دَ غریب سړي خو تول عمر دغسې تېرېږي ، که زما دغسې تېر شي نو څۀ دَ پېغور خبره نه ده".
ستارخان:. خو زۀ دومره انتظار نشم کولے .





دَ جرګې مشر : چې انتظار نشے کولے نو ته تجویز پېش کړه ، که معقول وي نو مونږ به یې حمایت اوکړو .
ستارخان:. تجویز دا دے چې فقیري دَ دۀ ضمانت کړے دے . د دے اتهو لاکهو روپو په بدل کښې به فقیرے ماله اتۀ جریبه زمکه راکړي او ماسره به دَ بېعې کاغذ اوکړي . دغسې به د دۀ کار هم اوشي او زما کار هم . دې نه سېوا د دې بل حل نیشته .
دَ جرګې مشر فقیر بابا ته وائي، "تۀ دَ خان جي دے تجویز سره متفق یې؟"
فقیر بابا:. د دے مطلب دا شو چې د دے هلك تول قرضه په ماشته شوه او مانه وصول شوه . داسې نشي کېدې ، زۀ دے ته تیارنه یم.
دَ جرګې مشر(ستارخان ته) :. په دغه شاړه زمکه به تۀ څۀ اوکړي. دغه کښې خو دَ جهاړو او ازغنو نه علاوه بل هیڅ نه زرغنېږي . څۀ بل تجویز پېش کړه .
ستارخان:. بل هیڅ تجویز نیشته . دغه شاړه چې زما لاس له راشي نو بیا به سرۀ زر زرغونوي او هغه داسې چې زۀ پکښې دَ خښتو بهتۍ جوړوم .
دَ جرګې مشر یوځل بیا فقیر بابا ته وائي، که داسې اوشي نو دېکښې دَ دواړو خېر دے .
فقیر بابا:. نه جي داسې نشي کېدے . زۀ دے ته تیار نه یم ، دَ هغۀ په انکار دَ جرګې مشران بیل شو ، په جُدا جُدا ډلو کښې تقسیم شو او خپلو کښې یې مشورې شروع کړے . یوه شیبه پس خپلو کښې بیا



www.pukhto.net

غونډ شو او مشترکه طوریې یوه فیصله اوکړه. بیا تول کېناستل او دَ جرګې مشر فیصله ووروله. هغه اووے، "مونږه تولو متفقه طور دا فیصله اوکړه چې دَ فقیر بابا دغه اتهـ جریبه زمکه به تر هاغې پورې دَ خان جي په قبضه کښې وي چې ترڅو دَ دوي قرضه نه وي ختمه شوې. دا هلك که خان جي له اتهـ لاکهه روپۍ یك مشت ورکولے شي خو ډېره ښهٔ ده او که دغسې نشي کولے نو کال کښې به یویو لاکهه روپۍ ورکوي او دَ هغې په بدل کښې به یویو جرېب زمکه خلاصېږي، دغسې به قرضه هم ختمه شي او زمکه به هم خلاصه شي. چې په اتهـ کاله کښې څومره زمکه ازاده شي هغه دَ فقیر بابا شوه او چې څومره پاتې شوه هغه دَ خان جي شوه، فقیر بابا اګر چهٔ په دې فیصله راضي نه وو خو جرګې نه یې مخ نشو اړولے. هغه یوه شېبه چپ وو، بیا یې اووے، "چې دا هلك څهٔ اوکتې او ما له یې راکړي نو زهٔ به یې خان جي له ورکړم خو که دے رانکړي نو بیا؟"

دَ جرګې مشر:. دا توله لوبه هم دَ دهٔ نه ورانه شوې ده. دا پېسې به تهٔ دَ دهٔ دَ ځرمن نه اوباسے او خان جي له به یې ورکوے.

فقیربابا:. چې دا شتهٔ ځرمن ترېنه اوباسم نو نوره به پرې راشي؟

دَ جرګې مشر:. څهٔ مطلب؟ زهٔ ستا په خبره پوهـ نشوم.

فقیربابا:. دهٔ چې ما پورې کومه خندا کړے ده، دَ هغې په بدل کښې که زهٔ دَ ده نه په ژوندیني ځرمن اوباسم او هریو هډوکے ورله پیوند په پیوند مات کړم نو بیا به مې هم سود اونشي.





دَ جرګې مشر:. که تهٔ دغه فیصله په خپل مخ سر کوے خو کولے شے او که په جرګه فیصله کول غواړے نو جرګه تاسره متفق کېدې نشي بلکه خپله فیصله به کوي.

فقیر بابا:. خوښخه مې ده. زهٔ دا کېس جرګې ته حواله کوم او چې جرګه څهٔ فیصله اوکړي، ماته په سر سترګو قبوله ده.

دَ جرګې مشر:. ډېره ښهٔ ده. ستا تور مونږ ته معلوم دے. اوس دے هلك نه وضاحت غواړو. (امان ته) هلکه تا چې دَ فقیر بابا لور دَ کوره اوویستله نو څهٔ دے کړه؟ چرته دے بوتله او چا کره دے کېښوله.

امان:. نه جي، داسې نه ده. دا صرف په ما تور دے. مانهٔ د دهٔ جینۍ دَ کوره ویستلے ده، نه ترې خبریم او نه مې ورسره رابطه شته. زهٔ دومره نمك حرامه نه یم چې داسے کار به اوکړم.

دَ جرګې مشر:. او که خبره قسم قرآن ته شي نو بیا؟

امان:. زهٔ هرڅهٔ ته تیاریم.

دَ جرګې مشر:. او که ستا دَ قسم خوړلو نه پس جینۍ په تا شتهٔ شي نو بیا؟

امان:. چې تر مرګه پورې په ماشتهٔ شي نو زهٔ هرې سزا ته تیاریم او که زما دَ مرګ نه پس هم په ماتکے شوه نو زما قبر دَ ازغو په پولو کښې اوسېزی.

دَ جرګې مشر:. د دهٔ په خبره بل رنګ نهٔ خېژي. دې نه معلومه شوه چې دے بې ګناه دے او هسې دَ املوکو په تول کښې راغلے دے. (امان ته) خو تهٔ به دَ هغه سرې په لټون کښې فقیر بابا سره مدد کوے



www.pukhto.net

چا چې دا کار کړے دے .

امان:. بالکل ، زۀ دې ته تيار يم.

دَ جرګې مشر(فقير بابا ته) دَ ملزم دَ بيان او وضاحت نه ثابته شوه چې دَ جينۍ دَ اغوا په کېس کښې دے بې ګناه دے . او مونږ سره هيڅ داسے ثبوت نيشته چې دۀ له سزا ورکړو . ښه خبره دا ده چې تاسو خپلو کښې جوړه اوکړه او دَ هغه سړي لټون اوکړۍ چاچې دا کار کړے دے.

فقير بابا:. زما او دَ دۀ لارې بيلې دي زمونږ جوړه نشي کېدې.

دَ جرګې مشر:. ترڅو چې دَ خان جي قرضه نه وي ختمه شوې تر هاغې پورې به تاسو يوځاے يئ. دا هلك به ګټي ، تاله به يې درکوي او تۀ به يې خان جي له ورکوے. چې قرضه ختمه شي نو بيا ستاسو خوښه ده که يوځاے اوسئ او که بيلېږئ ".

دې نه پس د دواړو جوړه اوشوه او دواړه يوځائے کورته روان شو.

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★





## « پنځم باب »

دَ کوچني استاذ هغه غزل نما نظم چې هغۀ " دَ امن پېغام" په مشاعره کښې وېلے وو، دَ هغې سي ډيز او کېسټې بازار ته را اوتې وې او دَ هغۀ خوږ اواز په هر بازار او کور کوڅۀ کښې کړنګېدو. دغه نظر به چې چا اورېدو نو په چغو چغو به ژړېدو . دغه نظم سره سره دَ هغۀ نوم هم تر لرې لرې پورې اورسېدو او د دے نظم په ذريعه ناپېژندګلو خلقو هم هغه اوپېژندو . هلته اکبرخان اکبر دَ هغۀ دَ کتاب په کتابت او اشاعت کښې شپه ورځ مصروف وو. دَ ډېر کوشش نه پس دغه شعري مجموعه دَ يو ضخيم او خوشرنګه کتاب په شکل کښې دَ خندان ګلونه ، په نوم چهاپ شو خو دَ کوچني استاذ په نوم نه بلکه دَ اکبر خان اکبر په نوم ، البته دَ هغې انتساب مريم بي بي ته اوشو . څۀ موده پس د دغه کتاب مخ کتنه هم اوشوه ، په اخبارونو او مجلو کښې دَ هغۀ نوم هم راغئ. او دَ هغۀ په فن او شخصيت لوې لوې تبصرې هم اوشوې . څۀ موده پس دَ يوې سرکاري ادارې له خوا دَ هغۀ په درناوي کښې يوه لويه غونډه هم اوشوه . په دغه غونډه کښې دَ لروبر پښتونخوا نامتو شاعرانو ، اديبانو ، سکالرانو او سياسي ليډرانو هم شرکت اوکړو. دغه ټولو مقررينو هغۀ ته دَ عقيدت پېرزوني پېش کړے او زنانه سنګرانو دَ هغۀ دَ کلام ځينے غزلے دَ ترنګ تېکور سره پېش کړے . ځينے مقررينو هغه ته ، لعل په ايرو کښې، او ځينو ورته دَ لازوال شاعر ، خطاب ورکړو خو ځينے ناقدين دَ



www.pukhto.net

هغهٔ په کلام دومره مئین وو چې دَ هغهٔ په حق کښې یې دغه القاب خوښ نشو او دَ یو قرار داد په شکل کښې یې هغهٔ له متفقه طور دَ رئیس الشعراء خطاب ورکړے شو . دې نه علاوه دَ هغهٔ دَ منني دَصلاحیتونو او دَ اعترافِ فن په توګه دَ خېبر ښېګړې دَ یوې علاقائي ادارې له خوا دَ هغهٔ ښهٔ معقوله وظیفه مقرر شوه . څه موده پس دغه کتاب ته دَ یوې وفاقي ادارې له خوا دَ اېوارډ په توګه اعزازي شیلډ هم ورکړے شو ، توصیفي سند هم ورکړے شو او دوه لاکهه روپۍ نغدې هم ورکړې شو ې، ځینے سکالرانو په اردو او انګریزۍ کښې د دغه شعرې مجموعې ترجمې هم شروع کړے . اوس اکبرخان اکبر صرف شاعر نه وو بلکه رئېس الشعراء او استاذ الاساتذه وو . دې نه علاوه دَ صوبائي وزیر ثقافت له خوا دَ هغهٔ نوم دَ صدارتي تمغې دَ پاره وفاقي ادارې ته اولېږلے شو . هلته کوچنے استاذ په دې طمعه ناست وو چې کله به دَ هغهٔ کتاب چهاپ کېږي او کله به اکبر خان اکبر هغهٔ له دَ خوشحالۍ زېرے راوړي .

کوچنے استاذ چې دَ یو شاګرد په خلهٔ دَ هغهٔ دَ دې دومره لویې کامیابۍ نه خبر شو نو ډېرخوشحاله شو. هغهٔ دَ هغهٔ په خله هغهٔ له دَ مبارکۍ پېغام هم اولېږو او دَ یو کتاب تقاضا یې هم ترېنه اوکړه . هغهٔ څهٔ ورځې ډېر په شدت سره دَ هغهٔ انتظار کوو خو نه اکبرخان اکبر راغی ، نه کتاب راغی او نه دَ هغهٔ له خوا څهٔ جواب راغی .

یوه ورځ هغهٔ امان ته اووے ، "بچے ، دَ اکبرخان اکبر کاکاجي دے یو





کتاب چهاپ شوے دے ، تهٔ هغهٔ له ورشه زماله خوا مبارکي هم ورکړه او زما دَ کتاب په باره کښې ترېنه تپوس هم اوکړه چې چهاپ شوے دے که نه .

امان :. بابا تهٔ چې هغهٔ ته څهٔ وېل غواړے نو دَ خط په ذریعه ورته اووایه ، هسې نه چې مانه څهٔ خبرې هېرې شي او هغهٔ ته پورا پېغام اونه رسي .

کوچنے استاذ :. دا خبره دے ښه اوکړه بچے ، تهٔ کاغذ قلم راواخله، زهٔ به درته وېم او تهٔ به یې لیکے . هغهٔ چې کاغذ قلم راواخستو نو ورته یې اووے ، "ښه بابا ، ته وایه او زهٔ به یې لیکم ". دغه شان دَ هغهٔ په املا خط اولیکلے شو . چې خط مکمل شو نو کوچني استاذ ورته اووے ، "ښه اوس راته دا خط اولوله که څهٔ غلطي پکښې وي چې هغه ترېنه اوباسو". خط داسے وو.

زما دَ زړګي سره ، اکبرخان اکبره خوشحاله اوسے .

سلامونه! هیله لرم چې روغ رمټ او خوشحال وخندان به یې. ستا دَ شعري مجموعې د خندان ګلونه ، دَ چهاپ کېدو نه خبر شوم ، خدائېګو ډېر خوشحاله شوم چې تاته دَ رئیس الشعراء اعزاز درکړے شو . ستا کامیابي زهٔ خپله کامیابي ګنم ځکه چې په دېکښې زما دَ محنت نه علاوه زما دعاګانې هم شاملې دي او امید کوم چې تهٔ به دَ دے اعزاز پاسداري تل تر تله ساتے . زهٔ دَ خپل طرفه ، دَ خپل زوي امان او دَ خپلو ټولو شاګردانو له خوا تاله دَ زړهٔ دَ تل نه مبارکي درکوم



www.pukhto.net

خو دَ مبارکۍ سره سره تانه په زړۀ کښې ګیله من هم یم . ګیله من په دې یم چې تا په خپله خوشحالۍ کښې ماله هډو دَ ګډون موقعه رانکړه ... څه یره دا ګیلې مانې به بیا شي خو هغه زما دَ شعري مجموعې دَ چهاپ کېدو خبره ترکوم حده پورې اورسېده . بچے ، تانه څۀ پړده ، نن سبا زما لاس ډېر تنګ دے . دومره تنګ دے چې احساسات مې په تېکو کښې نشي بندېدے ، ماوے که زما دغه شعري مجموعه ، ګلونه دوړېدل ، چهاپ شي او زۀ دَ وظیفې مستحق شم نو لږې لارې به مې تېرې شي . ډېرې دعاګانې به درته کوم . او رشتیا دَ خندان ګلونه ، یوه نسخه خپل اورارۀ امان له ورکړه چې ستا دَ قیمتي خیالاتونه مستفیض شم ".

دعاګو

کوچنے .

هغه چې خط وورېدو نو ځان سره یې اووے ، "ډېر ښۀ ، بیامُسکے شو او ورته یې اووے ، "دا خط ځان سره واخله او په خپل لاس یې کاکا جي له دے ورکړه ".

امان:. ډېره ښۀ ده بابا ، زۀ درنه لاړم .

کوچنے استاذ :. څه بچے الله دے مل شه .

امان چې دَ اکبر خان اکبر حجرې ته اورسېدو نو هلته ګڼ مېلمانۀ ناست وو اکبرخان اکبر چې هغه اولیدو نو دَ مېلمنو دَ ډلې نه پاسېدو او هغه له ورغې دَ روغ جوړ نه پس امان هغۀ له مبارکي هم ورکړه او دَ





کوچني استاذ خط هم . اکبرخان اکبر چې دَ کوچني استاذ خط اولوستلو نو هغه یې یو خوا ته کړو او ورته یې اووے ، "استاذجي ته زما له خوا ډېر سلامونه وایه او دَ "خندان ګلونه " په باره کښې ورته چې ړومبے ایډېشن ختم شوے دے او دوېم لانه دے چهاپ شوے.

امان:. او دَ بابا دَ شعري مجموعې په باره کښې هغۀ ته څۀ اووېم.

اکبرخان اکبر:. استاذ جي ته وایه چې "ستاسو کتاب لانه دے چهاپ شوے . چې چهاپ شي نو زۀ به سلام او مبارکۍ له هم درشم او کتابونه به هم درکړم که چایې څکے خو ایساره شه او نه څکے نو څه ناوخته دے . په مخه دے ښه ".

امان چې دَ هغۀ نه رخصت شو او کورته اورسېدو نو پلار ته یې دغه ټولې خبرې اوکړے هغۀ دَ هغه نه بل تپوس اونکړو او چپ پاتے شو.

**﴿دویمه برخه﴾**

دَ امان زړۀ دَ ستاخان او فقیر بابا دواړو نه موړ شوے وو. هغۀ دَ ستارخان نوکري پرېښوده خو دَ فقیر بابا کورېې نشو پرېښودے ځکه چې هغه دَ جرګې د فېصلې مطابق دَ دې خبرې پابند وو چې تر څو هغۀ دَ ستارخان قرضه نه وي ختمه کړے او دَ هغۀ دَ قبضې نه یې دَ فقیر بابا زمکه نه وي ازاده کړے نو هغه هیچرته نشي تلے . بله دا چې هغۀ نه غوښتل چې خپل معذوره پلار دَ بل چا په اسره پرېږدي. هغه په خواؤ شا کلیو کښې دَ ټاټکي مزدوري کوله ، په دغه مزدورۍ کښې به یې خپله خرچه هم کوله او فقیر بابا له به یې لکه دَ



www.pukhto.net

مخکښې غونډې زر روپۍ میاشت کرایه هم ورکوله. بله دا چې دغه مزدوري به کله وه او کله به نه وه او هغه به څو څو ورځې تیارې ته ناست وو. هلته فقیر بابا هغهٔ پسې لګېدلے وو او څو په څوېمه به یې ورته وے، "شابه زر کوه خانیه، ماله زر تر زره کم از کم یو لاکهه روپۍ پېدا کړه چې ستارخان له یې ورکړم او یو جریب زمکه ترېنه ازاده کړم". هغه ته دَ هغهٔ دَ پرېشانۍ احساس وو خو دا پېدا کړه، تکے په هغهٔ لکه دَ توپك دَ ګولۍ لګېدو څکه چې هغه په دغه مزدورۍ کښې هیڅ نشو کولے. هغه چې دَ هغهٔ دَ پېغورونو نه تنګ شو نو یوه ورځ سحر وختي دَ کوره اووتو، دَ شپږ اووهٔ میله په پیاده مسافت دَ وصیف خان بهټۍ ته لاړو او هلته یې دَ ټپیریانو سره مزدوري شروع کړه. پوره یوه هفته یې هغوي سره مزدوري اوکړه خو چې دَ خپلې دیاړې او خرچې حساب یې اوکړو نو دَ هغې نه هم هیڅ نه جوړېدل. چې اونشوه نو دَ هغوي نه یې خپله مزدوري واخسته او دَ بهټۍ دَ منشي په مشوره یې خپل ازاد کار شروع کړو. هغهٔ دَ یو لاکهه روپۍ جمع کولو دَ پاره شپه ورځ په ځان یو کړے وه، تر دې چې دَ سپوږمۍ په رڼا کښې به یې هم کار کوو. په یواځے تن به یې خټه جوړوله، په یواځے تن به یې شګه راوړه، په یواځے تن به یې ګوپالې جوړولے او په یواځے تن به یې خښتې جوړولے، اوچولے او چتېه کولے. پوره دوه میاشتې چې هغهٔ ډبل شفقونه اوکړل او خپل حساب یې اوکړو نو دَ یو لاکهه شل زره روپو خښتې یې جوړے کړے





وے. هغه ټولې خښتې هغهٔ چتېه کړے، دَ پاسه یې پرې پلاستك او خاؤره واچوله، منشي نه یې شل زره روپۍ اېډوانس واخستے او دَ یو څو ورځو دَ پاره یې کورته دَ تلو اراده اوکړه. په بازار کښې یې کور دَ پاره څهٔ سودا هم اوکړه، پلار دَ پاره یې څهٔ مېوه دانه هم واخسته او په خوشحالۍ خوشحالۍ کورته لاړو. په دغه شپه پلار او زوي ښهٔ په مړه ګېډه ډوډۍ اوخوړه، دَ ډوډۍ نه پس هغه پلار سره په کټ کښې کېناستو، هغهٔ سره یې خبرې هم کولے او دَ هغهٔ پښې یې هم منډلے چې دېکښې فقیر بابا راغۍ او هغهٔ ته یې اووے، "خانیه، څهٔ چل دے اوکړو، څهٔ دے راوړل او که تش لاس راغلے".

امان:. نه بابا، دَ یو لاکهه شل زره روپو مال مې جمع کړے دے، په دے راتلونکي چکر کښې به یې منشي ته حواله کړم او روپۍ به ترېنه راوړم.

فقیر بابا:. ډېر ښهٔ ډېر ښهٔ، محنت کوه بچے، هغه دَ چا خبره چې محنت کښې عظمت دے. چې دغه قرضه ختمه شي نو دَ ټول عمر غم به مو ګُس شي. ته به بیا کله ځے.

امان:. سبا نه بله ورځ به ځم او تاله به یو لاکهه روپۍ راوړم. دَ هغهٔ دَ تلو نه پس کوچني استاذ یوه لویه ساه واخسته او هغهٔ ته یې اووے، "دا قرضه به کله ختمېږي زویه ؟"

امان:. بابا، دَ قرضې غم مهٔ کوه، دا زما عمر سره سمه ده. اوبه شي بابا، اخر به ختمه شي. په سبا چې هغه سحر وختي دَ خوبه پاسېدو



www.pukhto.net

او وریې لرے کړو نو داسے طوفاني باران شروع وو چې بهر ته وتل ډېر ګران وو. هغهٔ چې درشل نه سر بهر کړو او شاړې ته یې اوکتل نو په لوړه جوره یوشان اوبهٔ بهېدې. هغهٔ چې سردننه کړو او خپلې کوټې ته یې اوکتل نو هغه هم ځائے په ځائے څڅېده. هغهٔ لا په زړهٔ کښې کرل رېبل چې دغه ځایونه په څهٔ طریقه بند کړي چې په دېکښې فقیر بابا بوجۍ په سر کوټې ته دننه شو او هغهٔ ته یې اووے، "هله امانه زویه مونږ کره ورشه، تولې کوټې څاڅي، شابه نره بره اوخېژه او هغه تولې سوړې تپې کړه".

امان (په حېرانتیا) په دے طوفاني باران کښې؟

فقیربابا:. هاؤ هاؤ، کوټې باران کښې څاڅي، په شین اسمان خونه څاڅي. او یې ځان سره پلاستېك هم اوخېژوه او خته هم. پلاستېك خوره وه او خته پرې اچوه.

امان:. په دے باد او باران کښې خو یو کس دواړه کاره نشي کولے.

فقیر بابا:. هسې بهانې راته مهٔ کوه زویه، هله ورشه شابه.

کوچنے استاذ:. ځه ورشه بچے، زما دعا درسره. ځه الله دے مل شه". هغه دَ پلار په خبره کښې هډو بله خبره اونکړه او دَ هغهٔ کورته روان شو. هغهٔ دَ ختې نه تاټکے ډك کړو هغه یې په سر کېښودو او پلاستېك یې په ترخ کښې اونیوو. چې په پوړو اوختو نو دَ پلاستېك یو سر یې خور کړو او په هغې یې لړه لړه خته واچوله. بیا به یې پلاستېك رو رو خوروو او دَ ختې تاټکے به یې پرې اړوو. دا کار هغهٔ ډېر





په تېزۍ سره کوو او لاندې باندې تلو راتلو. یو ځل چې هغه ډك تاټکے په سر بره چهت ته ختو نو په بنېره یې پښه اوخوېده او عنقریب دَ کوټې نه لاندې دَ شاړوو په موړو پرېونکے وو چې هغهٔ دَ چا دَ خلې نه دَ وېي، اواز وورېدو. یو لاس دَ هغه په ملا او بل لاس دَ هغهٔ په پښه کېښودے شو او چې هغه په ځان پوهېدو نو صحي سلامت په کوټه نیغ ولاړ وو. هغهٔ چې دَ هغهٔ دَ شکرېې ادا کولو دَ پاره مخکښې روستو اوکتل نو هیڅوك یې اونهٔ لیدل. هغهٔ په زړهٔ اوخوړه چې دا دَ هغهٔ دَ پلار دعا وه چې قبوله شوې وه او دَ غیبي امداد په شکل کښې راغلې وه. په دې دې کښې هغهٔ دَ تولو کوټو سوړې تپې کړے او پلاستېك یې پرې خور کړو. په دے کار کښې دَ هغهٔ کافي وخت اولګېدو او هغه داسې لوند شو چې په جامو کښې یې اوچ تار پاتے نشو. چې کله هغهٔ خپل کار ختم کړو او خپلې کوټې ته ورغې نو فقیر بابا دَ هغهٔ په بستره کښې پروت وو، دَ هغهٔ بړستن یې اغوستے وه او کوچني استاذ ته یې څهٔ پخوانۍ قیصه شروع کړے وه. هغهٔ دَ ورتلو سره ځان اوچ کړو او جامې یې بدلې کړے خو ژامې یې لا هغسې ګړېدې. هغهٔ لوندې جامې نچوړ کړے او په کوټه یې یو خوا ته اوغوړولے. بیا یې توپۍ په سر کړه، څادر یې دَ ځان نه تاؤ کړو او دَ ناشتې په انتظار کښې په درشل اودرېدو. په ظاهره یې باران او دَ باران غولو ته کتل خو په خیال کښې ډېر لرې دَ واصف خان بهتۍ ته تلے وو او دَ خپلو خښتو چتې ته یې کتل. فقیربابا مُسکے



www.pukhto.net

شواو هغۀ ته يې اووے ، "داسې معلومېږي چې تۀ وزرونه پړقوے او الوځے ."

امان:. تلو ته مې زړۀ کېږي خو په دے باد او باران کښې به څنګه لاړشم.

فـقيـر بـابـا:. وه ساده سړيه بادوباران خو زمونږ زړو او بې وزله کسانو دَ پاره دے . ستا غوندې ځوانانو ته باد باران څۀ وېلے شي. راشه دا زما بوجۍ په سر کړه او شابه ځان رسوه ... لاړ شه خپلې پېسې ترې راوړه ، کـه څۀ اخـوا دېخـوا پـکښې راشي نو بيا به ورسره څۀ حقې شرعې کـوے . څه بچے لاړ شه خو هلته مۀ ايسارېږه شپه کور ته راوړه پلار دے يـوائـے دے " باران خُله اچولے وه او هيڅ کمے پکښې نۀ راتلو خـو دَ هغۀ اميد افزا خبرو دَ هغۀ حوصله زياته کړه . دَ هغۀ بوجۍ يې پـه سر کړه او دَ کوټې نه اووتو . هغه چې څومره مخکښې تلو هومره بـاران زيـاتـېـدو . دَ تـورې وريـځ پـه وجـه دَ رڼا ورځ نـه توره شپـه جوړه شـوے وه . اسماني بجلي پړقېده او دَ تندر او ګړزار سلسله چلېده . دَ هـر ګـړز سـره بـه هـغـه په لاره کښې دَ اونې غنې پناه اخسته او په دمه دمـه بـه مـخـکښـې تلو . په دغه روانه روانه کښې هغه يو ځل تندر په نښخه کړو او دَ هغه اونې تنه يې په مينځ دوه ځايه کړه دَ کومې لاندې چې هـغـه ولاړ وو خـو هـغـه بـچ شو . په دې دې کښې هغـه ډېر پـه مشـکله بهتۍ ته اورسېدو . منشي سره دَ ليدو کتو او خبرې کولو نه مـخـکښـې هـغـۀ خـپـله چته ليدل غوښتل چې دَ باران په وجه خرابه شوې خو نـه ده . هـغـۀ چې دَ چتې ځائے ته ورغۍ نو چته يې اونه





ليـده البتـه دَ ختې يـولـوے ډهېرے يې په زمکه پروت اوليدو خو دَ خښتـې نښـخه په کښې نه ښکارېده . دَ هغۀ په خپلو سترګو ګمان نۀ راتـلـو چې دا هـغـه خښتې دي چې هغۀ په ډېر محنت جوړے کړے وې او دَ يـولاکهــ شـل زره روپـو پـه اميـد يې چتـه کړے وے . هغـۀ څوځو ځله سترګې پټے کړے او ځوځو ځله يې اوغړولے خو هر ځل به يې هم دغه نظاره ليدله .

بـاران هـغـۀ په شړق ورېدو خو هغه په باران نه پوهېدو . هغه په خپل ځان نـۀ وو بـلـکـه پـه هـغـه وعده وو چې هغۀ فقير بابا سره کړے وه ، هغۀ لا دَ خپل محنت دَ تباهۍ نظاره کوله چې منشي چهترۍ په سر راغۍ او په چپه خلۀ يوا ړخ ته اودرېدو . دَ هغۀ دَ سترګو نه غټې غټې اوښـکې بهـېـدې ، دَ هـغـۀ دَ مخ په لارو دَ هغۀ په زنه جمع کېدې ، په زمـکـه پـرېـوتـې او دَ باران اوبو سره په خکته تلې . دَ هغۀ په اوښکو دَ مـنشي سـترګې هم ډکې شوې خو هغۀ خپلې اوښکې غورځېدو ته پرې نښـودے او دَ څادر پـه پسـکي يې اوچے کړے . بيا يې په هغۀ لاس واچـوو او ورتـه يې اووے ، "څه چې څو بچے باران دے . دلته دَ ولاړې هيـڅ فـائـده نيشتــه ". دې سـره يې هغـه ځان سره روان کړو او خپـلې کوټې ته يې بوتلو . هلته يې ورله خپلې اوچې جامې ورکړے او ورتـه يې اووے ، " دا جامې واغونده او زما په بستره کښې سمله، زۀ ورځـم چې تاله چايې راوړم ". هغۀ دَ هغۀ دَ جواب انتظار اونکړو او کـورتـه روان شو . دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغه جامې بدلې کړے او دَ هغۀ



www.pukhto.net

په بستره کښې ننوتو او سروغوړ شو . دَ منشي کور دَ بهټۍ نه په لږه فاصلـه بـانـدې وو. هغه چې کورته لاړو نو هغهٔ دَ پاره یې ښه مزېداره چایې او ورسره نور لوازمات تیارکړل او هغهٔ له یې راوړل . دَ راتلو سره یې ورته اووے ، " راپاسه بچے چې ګرمه ګرمه چایې اوڅکے او بدن دے ګرم شي". هغهٔ چې جواب ورنکړو نو هغه دَ هغهٔ بسترې له ورغی . هغهٔ چې دَ هغهٔ دَ مخ نه دَ برستن پلو لرے کړو او ورته یې اوکتل نو هغه په دروند خوب اودهٔ وو خودَ سترګو په ګوټونو کښې یې لاهغسې دَ اوښکو څاڅکي ځلېدل . منشي دَ هغهٔ وېښول مناسب اونهٔ ګڼل او هغه یې په خپل حال پرېښودو .

دوه ورځې ښهٔ دَ شړق باران وو او په دغه باران کښې هغه منشي سره دَ هغهٔ په کوټه کښې ډېره وو . په دغه دوه ورځو کښې هغهٔ منشي ته خپلـه ټولـه قیصه تېره کړه. دَ هغهٔ ، دَ ستارخان او دَ فقیربابا ترمینځه چې څهٔ واقعات او واردات شوي وو هغه ټول یې ورته یوپه یو اووے. پـه درېمه ورځ چې باران لږ غلے شو نو هغهٔ کورته تلل غوښتل چې پـلارتـه دَ خپل محنت دَ تباهۍ ټول حال اووائي خو هغه دَ فقیر بابا نه دومره یرېدو چې ښې یې دَ کور په طرف تلو ته تیارې نه وې . اخر یې په زړهٔ کښې راغله چې هغه به ترکومې پورې دَ هغهٔ نه پټېږي. هغهٔ لـه دَ حالاتو مقابله کول پکار ده . په دے خیال هغهٔ دَ منشي نه اجازت واخستو او کورته روان شو . هغهٔ چې خپل کورته او خپلې کوټې ته اورسېدو نو فقیر بابا دَ هغهٔ په کټ کښې ډډه وهلے وه او کوچنې





استاذ سره یې خبرې کولے . دَ ورتلو سره ورته هغه دَ کټ نه پاسېدو او ورتـرغـاړه وتو . دَ روغ جوړ نه پس ورته هغه اووے ،"یه هلکه تهٔ چرته غـېب شوے وے . زمـا خـودے پـه انـتـظـار انتظار سترګې سپینې کړے ". هغهٔ دَ هغهٔ دَ تپوس هېڅ څهٔ پروا اونه کړه او دَ پلار سلام له ورغی . هغهٔ چې پلار سره روغ جوړ اوکړل نو هغهٔ سره په کټ کښې کېناستو او دَ هغهٔ پښې یې منډلے چې هغهٔ ورته اووے ، " راکړه هغه پیسې چې ستارخان له یې یوسم او که تهٔ راسره ځے نو ډېره ښهٔ ده ". هغهٔ چې هغهٔ ته ټوله خبره اوکړه نو هغه دَ اور لمبه شو . په مخ یې یـوه سـپـېـړه هم ورکړه او دَ پلار په مخکښې یې ورته هاغه پُوچه وېنا دوړولـه چې دَ دلـه او بې غېرته ټکي پکښې ډېر مهذبه وو. چې هغـه پـه بدو ردو سترے شو نو کورته روان شو خو ترکوره پورې یې دغـه بـد رد وېـلـے . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس پلار او زوي خپلو کښې غاړې ورکـړے ،او پـه چـغـو چغو په ژړا شو . په دغه ژړا ژړا کښې ورته هغهٔ اووے ، "بـچـیـه ، مـونـږ خـو دے سرې دَ حیانه پاك کړو، څهٔ چل ورله اوکړه او دهٔ نه مو خلاص کړه ".

امـان:. بـابـا ، دَ مـزدورۍ نـه سیـوا مـاله بل چل نه راځي . بابا پیسې دَ اونې پـانې نه دي چې څـنـډ ورکړے او لاندې راپرېوځي . دا ډېرې په ګرانه لاس له راځي او ډېرې په اسانه دَ لاس نه ځي . په دے څلورکاله او درې میـاشتـو کښـې مـا دَ دهٔ ټـول کـور هم چلولـے دے ، دَ دوي هره سیـالي مې هـم پـوره کړے ده او چې څهٔ بچت شوي دي نو دهٔ له مې



www.pukhto.net

بې حسابه کتابه په دے غرض ورکړې دي چې که وراندې روستو زما نوکري ختمه شي نو په دغه پېسو به ځۀ کاروبار شروع کړم . هغه زما په محنت ګټلے شوے امانت ، هغه زما پېسې زما دَ مرضئ خلاف په هغه وادۀ اولګولې شوې چې دَ هغې فائده بل ته لاړه. زما د کالونو محنت ، زما دَ کالونو ګټه لاهو شوه، نه ماسره ځۀ پاتې شو او نۀ ده سره ځۀ پاتې شو . دې نه علاوه دۀ زما په سر دَ ستارخان نه دوه لاکهه روپۍ ایډوانس او د دې میاشتې تنخواه واخسته او هغه هم په وادۀ کښې اولګېده .دا دنیا ډېره ظالمه او خپل مطلبه ده بابا. دلته دَ مینې او وینې قدر نيشته بلکه دَ پېسې او مفاداتو قدردے . مینه او وینه دَ مفاداتو دَ محور نه تاوېږي . چې مفادات ختم شي نو وینه سپینه شي او مینه لعینه شي. مادۀ او ستارخان سره ځۀ ځۀ اونکړل .زما په مخ کښې دۀ ته خپله وینه یعني دَ خپل زوي عارف جمال مخ ښکارېدو، هغه عارف جمال چې ځۀ موده مخکښې تلے وو، زما په راتلو بیا ژوندے شواوزما په شکل کښې د دۀ کور ته راغے . . .ما دَ ستارخان دَ مخه ، دَ هغۀ دَ زوي دَ مستقبل جوړولو دَ پاره خپل مستقبل په داؤ اولګوو او زما په ذریعه هغه پاس شو او دَ پولیس افسر شو . هغه ستارخان چې زما په مینه نۀ مړېدو ، زما دَ بدقسمتئ په وجه زما نه دومره زړۀ تور شو چې زما تول کردار ورته تور ښکاره شو. دَ هغۀ په نظر کښې زۀ غل شوم او ماسره هغه سلوك اوشو کوم چې یو غل سره کېږي . دَ هغۀ دَ برنډې ستنې پورې زه په داسے حال په پړې





اوتړلے شوم چې نه مې دَ ځان نه ماشے مچ شړے شو او نه مې ځان ګرولے شو . . .دے فقیر بابا دَ ګل ناز دَ اغوا په تور کښې دَ هغۀ په مخکښې زمانه داسې سپېرې اوویستلې چې زما په پوزه اسپه راغله او توله جامې مې په وینو سرې شوې . دۀ زما ضمانت زما دَ مفادو دَ پاره نۀ دے کړے بلکه خپلو مفادو دَ پاره یې کړے دے . دې دَ پاره یې کړے دے چې زۀ دَ دۀ تول عمري غلام شم. او ستارخان د دۀ ضمانت ځکه قبول کړے وو چې که ځۀ اخوا دېخوا اوشو نو د دۀ نه به په کښې زمکه قبضه کړي . دا دواړه خپلو مقصدونو کښې کامیاب شو. د دۀ زمکه دَ هغۀ په قبضه کښې شوه . او زۀ د دۀ په قبضه کښې شوم . هغۀ له زمکه په لاس ورغله ، دۀ غلام په لاس ورغے. او زما لاسونه تش پاتې شو . . .اوس یوه شپه مخکښې هم په دې کوټه کښې ، دَ خپل مفاد دَ امید په خاطر ماته راترغاړه وتو او ښکل یې کړم او چې مفاد یې پوره نشو نو په هغه مخ یې سپېړه راکړه کوم چې دۀ ښکل کړے وو...بابا . . .زۀ تر هاغې پورې د دۀ غلام یم چې ترڅو مې د دۀ قرضه نه وې خلاصه کړے . په حلاله مزدورۍ کښې دا قرضه نه ختمېږي ، دا به ماسره تر عمره عمره چلېږي او کېدېشي چې زما دَ مرګ نه پس هم زۀ باقیدار پاتے شم . بله دا چې ستارخان دا قرضه ختمول نه غواړي ځکه چې قرضه ختمه شوه نو دَ هغۀ مفاد تر سره نشو او دې ته هغه تیار نه دے .

کوچنے استاذ :. مایوسه کېږه مه بچے ، الله مالك دے اخر به ختمه شي.



www.pukhto.net

امان (طنزیه) اخر...؟ کېدېشي دغه اخر، زما دَ ژوند اخره شي.

کوچنے استاذ: بچے که زما منے نو ته خو دے اکبرکاکاجي پسې یوه منډه اوکړه او دا ټول صورت حال ورته اووایه. کېدېشي هغه مونږ سره لاس اوکړي.

امان: بابا، دا ټول شته من دَ یوې سورې ماران دي خو دَ دوي دَ ټك انداز بدل دے. دا ټول لاس ساتي او لستوني ورکوي.

کوچنے استاذ: نو بیا یو بل کار اوکړه او هغه دا چې چرته کښتو والا سره خبره اوکړه، یو کس دلته راوله، زهٔ به ورله کښتې ډکې کړم، دَ دوارو کار به اوشي.

امان: نه بابا هغوي دغسې نه کوي. هغوي کښتې بیعه نه اخلي. بلکه په کمېشن اخلي. چې څومره خرڅېږي هغه هومره پیسې به درته ملاویږي او هغه هم په منت او زارۍ.

کوچنے استاذ: بیا داسې اوکړه چې چا پبلشر سره خبره اوکړه چې خپل ټول کلام پرې خرڅ کړم.

امان: (ژاړي) بابا، زما دے ستا په مقدسه شاعرۍ قسم وي چې زهٔ به خپله وینه تر اخري څاڅکي پورې خرڅه کړم خو ستا دَ زړهٔ په وینو لیکلے شوے کلام به چرې هم خرڅ نهٔ کړم، په دغه خبرو خبرو کښې هغوي اودهٔ شي. هغه سبا سحر په خره پاسېدو او دَ پلار دَ اجازت نه بغېر دَ نامعلوم منزل په لور روان شو.

★★★





**《شپږم باب》**

امان جرګې سره وعده کړے وه چې هغه به دَ ګل ناز دَ اغوا کار په لټون کښې فقیر بابا سره تعاون کوي خو هغوي دواړه په داسے غم ووختل چې دَ ګل ناز خیال دَ دوارو دَ زړونو نه اووتو، امان دَ خپلې قرضې دَ خلاصولو په غم کښې پرېشان وسرګردان وو او فقیر بابا دَ خپلې زمکې دَ قبضې په غم کښې ډوب وو. البته دَ هغهٔ دواړه لو نه پټ په پټه دَ هغې لټون پسې ګرځېدې او خواږ شاکلي یې ټول لټ په لټ کړل خو دَ هغې هیڅ معلومات اونشو. چې دَ هغوي په لټون اونشوه نو دَ فقیر بابا ځینے خپلوانو هغهٔ له مشوره ورکړه چې دَ هغې دَ ورکې په باره کښې په تانه کښې رپورټ درج کړي. دَ څو څله وېنا نه پس هغهٔ دَ هغوي خُلې په یوه خبره بندې کړے او ورته یې اووے چې، "زهٔ نه دومره ماشوم یم او نه دومره ناپوهه یم چې دَ پولیس په لټ کښې په خپله سر ورکړم او ځان ټکټکي ته اورسوم، هغوي دواړه خپل انجام ته رسېدلي دي". دَ دوارو نه دَ هغهٔ مطلب هغه او اغواکار وو. ټول په دے حېران وو چې دَ امان نه سېوا دغه اغواکار څوك کېدېشي. بهرحال خبره پټه پاتې شوه، خو دَ فقیربابا په انکشاف دومره اوشو چې دَ امان متعلق دَ هغهٔ دَ خپلوانو ټولې خدشې ختمې شوې.

امان دَ هغهٔ په نظر کښې که هرڅهٔ وو خو دَ هغهٔ په خیال کښې دَ ګل ناز دَ اغوا په کېس کښې ملوث نه وو ځکه چې کوچني استاذ هغهٔ



www.pukhto.net

تـه دَ گـل نـاز متـعلق تولـه خبره کړے وه او دَ هغهٔ په خبره دَ هغهٔ ځکه یقین وو چې هم په دغه شپه هغه شوکېدلے هم وو، وهلے شوے هم وو او دَ ستـارخـان دَ حجرې په کوټه کښې بند شوے هم وو. بله دا چې هغـه دَ هغـهٔ هرې تسلّی ته تیار وو . هغه دَ خوځو ورځو نه دَ هغهٔ په نظر کښې ځکـه چپ وو چې دَ هغهٔ مطالبه یې نشوه پوره کولے، هغـه مطالبه چې دَ هغهٔ دَ ژوند لویه مسله وه . دا مسله صرف دَ هغهٔ نـه وه بـلکـه دَ امان دَ ژوند هم لویه مسله وه . په دې وجه هغه دَ پیسو پـیـدا کولو په خیال دَ پلار دَ اجازت نه بغیر سحر وختي دَ کوره اووتو. اولاد کـه هـرڅـومـره لوے وي ، زلمے وي ، دَ بال بچ پلار وي خودَ مور پـلار پـه نـظـر کښې ماشوم او ناتجربه کار وي ، هم دغه وجه وه چې دَ هغـهٔ پـه تـلـو هغـهٔ ډېرپرېشان وو. بله دا چې هغهٔ سره دَ هغهٔ دَ عزت نـفـس هـم احساس وو او چې کله به ورته دَ فقیر بابا وهل او کنزل رایاد شـو نـو دَ قهـره بـه یې بـدن اورچـېـدو او ځان سره به یې غلې غوندې اووے ، "څـه ښـهٔ اوشو چې لاړو ، څهٔ ورځې خو به دَ کنزلو او وهلو نه خلاص وي کـنـه". فـقـیـر بـابا ته دَ خپل زیاتي احساس شوے وو او دَ امـان دَ تـلـو نـه پس هغهٔ کوچني استاذ له ډېره طبعه تسلي ورکوله او هغـهٔ هـم ورتـه په ظاهره ، هاؤ ، نا، کول خو په زړهٔ کښې دَ هغهٔ نه ډېر گـېـلـه مـن وو، او هغه مُسکا او خندا یې په خلهٔ نه راتله کومه به چې مخکښې راتله . فقیر بابا ته چې دَ هغهٔ دَ خفگان اندازه اوشوه نو هغهٔ ته هم خپل ځان کچه ، سپك او شرمنده ښکارېدو او په دې وجه دَ هغهٔ





خواله ډېر نهٔ ورتلو.

چې کله به هغه یوائـے وو نو په خپل تخیّل کښې به لگیا وو او شعر وشاعرۍ بـه یـې کـولـه . یوه ورځ هغه ځان سره گونېدو چې دَ هغهٔ یو شـاگـرد اخـتـرحسـیـن اخـتـر غـلـے غـونـدې راغـی او هغهٔ ته په درشل اودرېـدو . هغـهٔ چې هغـه پـه دغه سرمدي حالت کښې اولېدو نو مُـسـکـے شـو ، غاړه یې تازه کړه او ورته یې اووے ، "استاذ جي سلام علـیـکـم". هـغـهٔ دَ هغهٔ سلام واخستو خو زر یې ترېنه تپوس اوکړو، "څـوك یـې هـلکه ، او مې نه پېژندے". هغه په خندا شو او په خندا خندا کښې یې اووے ، "بهر ولې ولاړ یې، دننه راځه کنه".

اخترحسین اختر:. استاذ جي ، ستاسو دَ اجازت په انتظار ووم .

کوچنے استاذ:. راځه اختره بچے راځه . دا ستا خپل کور دے . راځه.

اختـرحسـیـن دَ راتلو سره هغهٔ له غاړه ورکړه ، دَ هغهٔ لاسونه یې ښکل کړل او دَ هغهٔ په اجازت هغه ته مخامخ دَ امان په کټ کښې کېناستو. دَ روغ جـوړ او نـورو تپـوسـونـه پس هغه دَ نورو شاگردانو او خصوصي طـور دَ اکبـرخان اکبر او دا دَ ادبي سرگرمیو په باره کښې په یوه ساه ډېر تپـوسـونـه اوکـړل . هـغـهٔ دَ هغهٔ دَ تپوسونو ښهٔ مثبت جوابونه ورکړل خـو دَ اکبـرخـان اکبـر دَ تپوس په باره کښې غلے پاتے شو . دَ هغهٔ باره کښـې دَ کـوچـني استـاذ دَ یـو بل تپوس په جواب کښې هغهٔ اووے ، "استـاذ جي ، دَ خـنـدان گـلـونـه ، په نامه دَ اکبر یو کتاب چهاپ شوے دے ، تاسو ته دَ هغې متعلق معلومات شته"؟



www.pukhto.net

کوچنے استاذ:. دومره معلومات راته شته چې دَ هغهٔ شعري مجموعه خندان ګلونه چهاپ شوې ده . د دغه کتاب دَ چهاپ کېدو په باره کښې ما هغهٔ له مبارکي هم لېږلې ده او دَ یو کتاب تقاضا مې ترېنه هم کړے ده خو نه دَ مبارکۍ جواب راغی او نه کتاب راغی.

اخترحسین :. هغه کتاب ماله په لاس راغلے دے او ځان سره مې راوړے دے خو هسې تاسو نه یو تپوس کولے شم چې تاسو هغه له خپل کلام دَ چهاپ کولو دَ پاره ورکړے دے ؟

کوچنے استاذ (مسکے شي) دا تپوس دے ولې اوکړو؟

اخترحسین :. دا تپوس مې ځکه اوکړو استاذ جي ، چې دَ هغهٔ کوم کتاب دَ خندان ګلونه ، په نوم چهاپ شوے دے ، هغه دَ هغهٔ خپل کلام نه دے بلکه ستاسو کلام دے خو نوم او تخلص دَ هغهٔ دے.

کوچنے استاذ:. دَ کتاب انتساب چاته شوے دے ؟

اخترحسین :. دَ کتاب انتساب دَ هغهٔ ښځې مریم ته شوے دے .

کوچنے استاذ:. غلط شوے بچے ، مریم دَ هغهٔ دَ ښځې نوم نه دے بلکه زما دَ اروښادې بي بي یعنې دَ امان دَ مور نوم دے .

اخترحسین :. کېدېشي ستاسو دَ بي بي نوم هم دغه وي خو دَ هغهٔ ښځه زما تروړزی ده ، دَ هغې هم دغه نوم دے او د دے واضحه ثبوت دا دے چې هغهٔ په خپل انتساب کښې لیکلي دي چې ، "زهٔ خپله شعري مجموعه ، 'خندان ګلونه' دَ خپلې بي بي مریم دَ خندا ډکې خلې ته منسوب کوم او هیله لرم چې زما دا پېرزونه به تل تر تله ژوندی وي"





کوچنے استاذ :. د دے مطلب دا دے چې ماسره دهوکه شوے دے.

اخترحسین :. دهوکه نه استاذ جي ، غلا او داسې غلا چې توله دَ هغهٔ په کتاب کښې برآمد شوه . . .تاسو هغه له خپل کلام ورکړے وو.

کوچنے استاذ:. هاؤ بچے ، هغه زما دَ کتاب چهاپ کولو په غرض مانه کېښتې ډکې کړے وے او کېدېشي هغه هغهٔ په خپل نوم چهاپ کړې وي .

اخترحسین :. کېدېشي نه استاذجي بلکه ، دغسې شوي دي، ستاسو ځینے کلام خو ستاسو تولو شاګردانو ته یاد دے او په تېره تېره ستاسو هغه کلام چې دَ شارې بابا بانده کښې 'دَ امن پیغام' مشاعره کښې اورولے وو.

کوچنے استاذ:. هغه هم پکښې شته .

اخترحسین:. بالکل استاذجي ، ستاسو هغه رومبی قطعه ، ورپسې طرحي نظم او هغې پسې دَ شهېدانو په نوم دَ عقیدت ځلور شعرونه، دا ټول دے کتاب کښې شته . استاذ جي زه به تاسو ته د دے کتاب دَ غزلونو، قطعاتو رباعیاتو او نظمونو دَ مطلعې یویو شعر اوروم که ستاسو وي نو په خپله به درته پته اولګي او که نه وي نو هم ". هغه هم دغسې اوکړل ، هغهٔ به ورته دَ مطلعې یویو شعر وے او کوچني استاذ به ورپسې دوه درے نور شعرونه وېلے. په دې دې کښې تول کتاب ختم شو . کوچنے استاذیوه شېبه چپ وو بیا یې روغوندې اووے ، "د دے مطلب دا دے چې زمانه هر څهٔ لاړل دَ هغه شو ".



www.pukhto.net

اخترحسین نه استاذجي داسې نښې کېدے ، مونږ ستاسو حق هغۀ ته نشو پرېښودے . زۀ دلته دَ تصدیق دَ پاره راغلے یم ، تصدیق اوشو، اوس مونږ پوهـ شه او هغه پوهـ شه . البته مونږ دَ یو پروګرام جوړولو اراده کړے ده او هغې له به تاسو راغواړو.

کوچنے استاذ :. څۀ پروګرام بچے ؟

اخترحسین:. مونږ دَ اکبر نه خپله ډله بېله کړې ده او ستاسو په نوم یعني ، "کوچنے استاذ ادبي غونډه " جوړول غواړو چې دَ هغې صدارت به تاسو سره وي او په نورو نشستونو به انتخابات کوو.

کوچنے استاذ:. بچے زۀ معذوره ، نابینا او بوډا سړے یم، زۀ صدارت نشم کولے البته تاسو ته دعا کولے شم چې تاسو له خُدائے دومره همت درکړي چې پښتو ژبه ستاسو په وجه یوه بېن الاقوامي ژبه اوګرځي او هغه مقام ورته ورکړے شي کوم چې نن سبا زمونږ اردو ژبې ته ورکړے شوے دے .

اخترحسین:. دغه مونږ هم غواړو او که ستاسو دعا او مرسته راسره وي نو انشاء الله دغه مقام به حاصلوي .

کوچنے استاذ :. دَ خپلې ژبې دَ ترقي او پرمختګ دَ پاره زۀ هرې قربانۍ ته تیار یم "دواړو په شریکه یوه دعا اوکړه ، د دعا نه پس ترینه هغۀ رخصت واخستو او خوشحاله خوشحاله روان شو .

مشران وائي چې خپله خلۀ قلا هم ده او بلا هم ده . ځینے پکښې دَ 'شیخ فریده' خلۀ پټه بهتري ده ، دانشورانه مثال هم ورکوي خو د





دے دواړو متلونو مطلب یو دے او هغه دا چې په خپله خلۀ قابو پکار دے او هره خبره په سوچ او احتیاط کول پکار ده . کومه خبره چې دَ ویونکي دَ خلې نه اوځي هغه دَ بل شي او چې دَ بل دَ خولې نه اوځي نو دَ بل شي . فقیر بابا په دې حقله ډېر محتاط وو او اکثر به یې دغه مثالونه ورکول خو چې په خپله پرې راغله نو دَ خپلې خلې بلا اووهو . دَ ګل ناز دَ انجام په حقله چې کومه خبره دَ هغۀ دَ کور په کوټه دَ هغۀ دَ کورنۍ دَ یو څو خپلوانو ته دَ هغۀ دَ خلې نه اوتې وه ، هغه پټه پاتې نشوه بلکه دَ یو نه بل او دَ بل نه بل ته اورسېده او په ټول بالاکلي کښې او نورو خواؤ شاکلیو کښې خوره شوه . په دغه خوړېدو خوړېدو کښې وړیوړې نورې نورې خبرې هم اونختې او دَ شېرعالم او مېمونې قیصۍ ترې جوړه شوه . دغه خبره به دَ یو دردناکې افسانې په طور په تنورونو او ګودرونو کېده او میاندو به پرې خپلې پېغلې لونه یرولې .

دَ پښتنو په هرکلي کښې د داسے رضاکار خبررسان اېجنټانو هیڅ کمے نیشته خو په تېره تېره په بالا کلي کښې په ګوته راغونډ شوي او مېشته شوي وو. دغه خبره چې په خوړېدو خوړېدو دَ پولیس غوږ ته اورسېده نو هغوی چپ پاتې نشو او په داسے وخت او په داسے حال کښې یې دَ هغۀ په کور چهاپه اووهله چې هغه او دَ هغۀ ټبر دَ شپې په تیارۀ کښې په دروند خوب اودۀ وو . هغه دَ هتکړو په شرنګار دَ خوابِ راحت نه پاسولے شو او په لږ ساعت کښې تانې او حوالات ته اورسولے شو. هغۀ ته هیڅ معلومات نه وو چې هغه په کوم جُرم



www.pukhto.net

کښې تانې ته راوستے شوے دے خو چې کله یې په ذهن زور واچوو نو دَ شك سترګې یې ستارخان تـه اورسېدې او په هغهٔ پرېوتې خو چې دَ شپې دولـس بـجې دَ حـوالات نه اوویستلـے شو او دَ ګل ناز دَ قتـل پـه بـاره کښې ترېنه تپوس اوشو نو هغه مسکے شو او اپس اېچ او تـه یې اووے ، "تانېدار صېب ، ګل ناز زما لور ده ، هغه واقعي چا پسې اوتې ده خو قتل شوې نه ده بلکه دَ خلقو نه دَ ځان خلاصولو او دَ خپـل عـزت بحال کولو دَ پاره ما دَ هغې دَ قتل خبره خوره کړے ده ، ګیني داسې هیڅ خبره نیشته".

تانېدار : کـه چرې ستـا خبره رشتیا وي او هغه قتل شوې نه وي نو مـونـږ ته هغه ژوندۍ حاضره کړه نو ته به ژوندے لاړه شے ګیني دې تانې نه به ستا جنازه اوځي .

فقیر بابا: صېب ، ماته دَ هغې په حقله هیڅ معلومات نیشته ، مونږ وریسې دا خـواؤشا تـول کلي لټ په لټ چاڼ کړل خو هیڅ اته پته یې اونهٔ لګېده .

تانېدار : دې نه معلومه شوه چې هغه قتل شوې ده . داسې ده که نه ده .

فـقـیـربـابـا: نـه صـېب ، ماته دَ هغې هیڅ معلومات نیشتـه . دَ هغې دَ ژوند او مرګ په حقله هیڅ نشم وېلے .

تانېدار : (پولیس حوالدار ته) هلکه دے مېلمه خانې ته بوځه او ښهٔ عزت ورکړه .

دَ هغه په وېنا هغه ، هغه ځاے ته بوتلے شو چرته چې دَ ډېرو





تـکـره تکره کسانو مېلمستیا کېږي او دَ طوطي غوندې چغېږي. دوه شپې پـرلـه پسـې دَ هـغـهٔ مـېـلمستیـا اوشوه او چغې یې تولې تانې وورېـدې خـودَ ، "نـه یـم خبر" نه علاوه بل تکـے ترې چاوونهٔ رېدو. په درېمه ورځ دَ هغهٔ خپلوانو دَ هغهٔ په سفارش کښې ستارخان راوستو . هغـه دَ راتـلـو سره دَ تانېدار دفتر ته ورغی او هغهٔ سره یې ځان له په ځان له یو څو خبرې اوکړے دَ هغوي خبرې کامیابې شوې او فقیر بابا تـه دَ تـلـو اجازت ورکـړے شـو . هـغوي تول هغهٔ سره په ګاډې کښې کېناستـل او هـغـهٔ سره دَ هـغـهٔ حجرې ته لاړل . هلته پرې هغهٔ ښه زبـردسته چاے اوڅکله او دَ هغوي یې ډېر عزت اوکړو . په خبرو خبرو کښې ورتـه هـغـه اووے ، " داتانېدار ډېر سخت سړے دے ، یوه خبره یې هم نه منله خو هغه دَ چا خبره چې پیسې په چپه خلهٔ ډېرې خلې تېوي . ډېر په مشکله په یولاکهـ روپۍ راضي شو".

فقیر بابا (په حېرانتیا) یولاکهـ روپۍ ؟

ستارخان : شـکـر اوبـاسـه چې په دې ترېنه خلاص شوے ، دا دَ قتل کـېـس دے فـقـیـر یـه ځان پوهـ کړه . په دې کښې پهانسې هم شته او عمري قـېـد هـم او که تهٔ خفه یې نو زهٔ به ترېنه خپلې پیسې بیاواخلم او تابه لاس کښې ورکړم .

فـقیر بابا: نه نه ګوری داسې اونکړے خان جي ، ګیني په وهلو وهلو به رانه ساه اوباسي .

ستـارخان: ښـه ځـنګه دے خوښه ده ، پیسې راکوے او که ستا په



www.pukhto.net

کهاته کښې یې اولیکم .

فقیر بابا :. زما په کهاته کښې نه ، بلکه دَ امان په کهاته کښې یې اولیکه .

ستارخان:. امان . . .؟ څوك امان؟ هغه چې تا یې ضمانت کړے دے؟

فقیر بابا :. هاؤ ، هاؤ ، هم هغه .

ستارخان:. هغهٔ سره زما هیڅ کار نیشته فقیریه . او هغهٔ نه به زهٔ څه واخلم ، هغه خو دَ پولي طاق مارغهٔ دے . فقیریه ، هغه سره زما هیڅ کار نیشته ، زهٔ هغهٔ پسې نشم ګرځېدے ، هغه په خپله ډائرۍ کښې هغهٔ پسې یو لاکهه روپۍ نورې لیکې او ورته وائي ، "تاپسې نهٔ لاکهه روپۍ شوې".

فقیر بابا :. د دے هلك دَ لاسه خو زهٔ په شرمونو اوشرمېدم .

ستارخان:. اولا به شرمېږے . دَ هغهٔ نه خبریې ؟ هغه هم په حوالات کښې دے .

فقیر بابا (په حېرانتیا) هغه هم په حوالات کښې دے ؟ په څهٔ کېس کښې ؟

ستارخان:. هغهٔ ته دَ پېسو ضرورت وو . چا سره یې په دوه لاکهه روپۍ دَ امتحان پاس کولو خبره کړے وه خو دبده مرغه په دوېمه پرچه کښې اونیولے شو .

فقیر بابا :. دا خبره تاته چا کړے ده خان جي .

ستارخان:. دا خبره ماته زما زوي احسان کړے ده . دَ هغهٔ ډیوټي هم دَ





هغه حلقې په تانه کښې ده چرته چې هغهٔ امتحان ورکوو. هغه په خپله نیولے دے او هغه په خپله حوالات کښې بند کړے دے .

فقیر بابا:. دَ هغهٔ دَ ضمانت به څهٔ کېږي خان جي، هغهٔ پسې خو منډه پکار ده .

ستارخان:. هغهٔ پسې دَ منډې ضرورت نیشته ، په هغهٔ دَ چارسوبیسۍ دفعه لګېدلې ده او دَ لسو ورځو په ریمانډ په حوالات کښې پروت دے .

فقیر بابا :. دا خو زهٔ غرق شوم ، تباه شوم، دا به څهٔ کېږي خان جي.

ستارخان:. ته ولې غرق او تباه شوے ، تاخو یو لاکهه روپۍ ورکړے او بري شوے تباه خو هغه شو چې لس اتهٔ کاله به په جېل کښې تېروي.

فقیر بابا :. لس اتهٔ کاله . . .؟

ستارخان :. کېدېشي دې نه هم زیاته شي . کومې ججې سره چې دَ هغهٔ کېس دے هغه ډېره سخته ده . هغه زمونږ دَ احسان چنغله ده (مسکے شي).مابه درسره منډه وهلے وه خو هغه دَ هیچا خبره نه مني . نه بډې رشوت اخلي او نه سفارش مني. بس دعا ورته کوه، که په دعا اوشوه نو صحي ده ګینې یې ته یې څهٔ کوے ، هغه پوهه شه او دَ هغهٔ کار پوهه شه". دې سره هغه کور ته روانېږي . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس فقیر بابا او دَ هغهٔ ملګري هم دَ حجرې نه اووتل .فقیر بابا په توله لاره زانګېدو ، رپېدو ، دَ لارې یوه جې او بله جې یې وهله او پښې یې ځان پسې راخکلے . په دغه سوچونو او فکرونو کښې هغه کور ته



www.pukhto.net

اورسېدو خو کور ته دَ تلو په ځائے هغهٔ دَ ارت کوټې ته مخه اوکړه چې کوچني استاذ ته دَ امان دَ نوې مسلې په باره کښې توله خبره اوکړي. خو هغه چې کوټې ته ورغی نو هغه حېران شو چې هلته نه کوچنے استاذ وو، نه کتېونه، نه دَ ملاستې سامان او نهٔ دَ هغوي ذاتي سامان. کوټه بالکل خوشې تشې پرته وه لکه اوس اوس چې ترېنه کډه اوړې شوې وي. هغه یوه شېبه حېران وپرېشان ولاړ وو بیا یې سر تیټ کړو او کورته روان شو.

هغه چې کورته ورغی او دَ ښځې نه یې دَ کوچني استاذ او دَ کوټې دَ سامان په باره کښې تپوس اوکړو نو هغهٔ ته اووېلې شو چې "دوه شپې مخکښې هغه دَ شپې په تیاره کښې چاسره په ګاډي کښې تلے دے او دَ کوټې تول سامان کور ته راوړلے شوے دے" فقیر بابا په ډکو سترګو اسمان ته اوکتل او په چغه یې اووے، "یاالله، زهٔ خو په هراړخ اوشرمېدم، تباه شوم، غرق شوم. دې سره په چغو چغو په ژړا شو. دلبرو ترور دَ هغهٔ خوا له ورغله، هغه یې خپلې کوټې ته بوتلو او په کټ کښې یې سملوو. دَ هغهٔ سترګې پټې شوې خو دَ پټو سترګو نه یې اوښکې وتې او بهېدې.

سبا سحر چې هغهٔ ناشته اوکړه نو دَ معمول مطابق یې خپل ځاروي سرند دَ پاره پرانستل او تبر او پړې یې دَ خشاك کولو او راوړلو دَ پاره ځان سره واخستو. یوه شېبه پس علي رحمان هم ورپسې ورغی. دَ هغهٔ په ورتلو هغه ځاروي هغهٔ ته اوسپارل او په خپله یې په جهاړو





بوتو کښې اوچ خشاك کوو. هغه لا په خپل کار کښې اخته وو چې په لږه فاصله باندې یې دَ چا خبرې وورېدے. هغهٔ چې ورته دَ ورایه اوکتل نو علي رحمان سره دَ ستارخان ناظر انختے وو. دَ هغوي دَ ګرمو تودو انختے لا روانه وه چې هغه وراورسېدو. دَ وررسېدو سره ترېنه هغهٔ تپوس اوکړو، "ولې، ناظر صېب، دے ماشوم سره په څهٔ انختے یې".

ناظر (طنزیه) دا ماشوم دے؟ دے خو تانه مشر دے. هېو دَ خبرې په چل نه پوهېږي.

فقیر بابا:. ولې څهٔ چل شوے دے؟ ستاسو ترمینځه څهٔ توده سړه ده؟

ناظر:.توده، سړه دا ده چې دهٔ ته ما پرون وېلے وو چې دے زمکه کښې به نه بیا ځاروي سره وے او نه به ترېنه خشاك اوړے خو دے هېو په خبره نه پوهېږي. دے وائي چې ځاروي به هم پکښې سروم او خشاك به هم ترېنه اوړم.

فقیر بابا:. ځاروي به پکښې څکه سره وي چې دا زمونږ زمکه ده، خشاك به ترېنه څکه اوړي چې دا زمونږ دَ زمکې پېداوار دے.

ناظر:. دا زمکه هم دَ خان جي په قبضه کښې ده او د دې پېداوار هم دَ هغهٔ په قبضه کښې دے. نن ورته ستا دَ مخه هیڅ نه وېم څکه چې ستا دَ سپینو ږکونه حیا راځي خو که بیا مې دلته اولیدو نو ښهٔ به نهٔ وي.

فقیر بابا:. ناظره، دومره اوچت مهٔ الوځه چې بیا دَ کوزېدوپه چل نه پوهېږې. ته اوس دومره اوچت سړے شوے چې دَ یوې غوړې



www.pukhto.net

نورې دَ پاره ما په خپله زمکه نۀ پرېږدے . دا زمکه زما دَ پلار نیکۀ ده او زۀ دا هیچا ته نه پرېږدم . چې نن مې په دېکښې نه پرېږدے نو سبا له به مې په خپل کور کښې نۀ پرېږدے .

ناظر: دا زمکه واقعي ستا دَ پلار نیکۀ ده خو اوس نه دَ هغوي ده او نه ستا ده بلکه دَ ستارخان ده .

فقیر بابا: دَ ستارخان هم لاس خلاص او ستا هم لاس خلاص . څه ورشه لښکرې دے راوله چې په زړۀ دے ارمان پاتے نشي ، ناظر دَ هغۀ په خبره غصه شي او په هغۀ لاس پورته کوي خو چې هغه پرې تبر پورته کړي نو هغه لاس خکته کړي او په غصه روان شي. دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغۀ سره دا یره ملګرې شوه چې که ناظر ستارخان ته دَ هغۀ دَ خلې خبره اوکړي نو بیا به څۀ کېږي . هغه خو دَ هغۀ دَ یو نوکر جواب هم نشي کولے . هغه یو ځل بیا په خپله خبره پښېمانه شو او په دغه پښېمانۍ کښې یې خپلې خلې له په خپله یوه سپېړه ورکړه خو بیا یې په زړۀ کښې راغله چې د دغه دهمکۍ نه علاوه هغۀ سره نور څۀ وو چې دَ هغۀ خلۀ یې پرې بنده کړے وے او که هغه چپ پاتے شوے وے نو بیا به یې تول عمر په چپه خلۀ دَ هغۀ زورنه اوړه. تر غرمې پورې هغۀ په درزېدلي زړۀ خشاك هم کوو او روستو به یې هم کتل . غرمه چې هغه دَ خشاك ګېډے په سر کور ته لاړو او دَ تنور خوا کښې یې ګېډے دَ سر نه اوغورځوو نو ښځې ورته یو کاغذ اونیوو او ورته یې اووې چې ، "دا کاغذ چا په ورکښې





راغورځولے دے ، چې دېکښې څۀ لیکلي شوي دي ". دَ کاغذ په لیدو هغۀ په زړۀ اوخوړه چې کېدېشي دا دَ ستارخان له خوا دَ هغۀ دَ هغه ترخو خبرو متعلق څۀ خبرې وې کومې چې هغۀ دَ هغۀ ناظر ته کړې وے . هغۀ دَ هغې دَ لاس نه کاغذ واخستو او دَ نیمې ګهنټې په مسافت یو پرائمري سکول ته روان شو چې دَ سکول په استاذ هغه اولولي . هغه چې دَ کوره اووتو او لږ مخکښې لاړو نو دَ سکول یو استاذ په مخه ورغی. چې په سائېکل سور وو او دَ هغه په طرف را روان وو . هغۀ دَ کاغذ په لاس هغه ته دَ اودرېدو اشاره اوکړه. هغه چې اودرېدو نو هغۀ ورله کاغذ ورکړو او ورته یې اووے، "دا کاغذ چا رالېږلے دے ، تۀ اوګوره چې دېکښې څۀ دي ". هغۀ چې خط اولوستو نو دَ خلې نه یې بې اختیاره اووتل ، "اوهو هو، دومره ډېرې ". فقیر بابا دَ هغۀ په حېرانتیا تپوس اوکړو ، "خط کښې څۀ دي استاذ". هغۀ خط یو ځل بیا اولوستو او ورته یې اووے ، " دا خط دَ یو تنظیم له خوا تاته رالېږلے شوے دے او وائي چې ، "کوچنے استاذ زمونږ په تحویل کښې دے ، دَ هغۀ د سر قیمت شل لاکهه روپۍ دے . که دَ هغۀ ژوند بچ کول غواړے نو په لاندې پته شل لاکهه روپۍ را اولېږه او هغه ځان سره بو څه خو خبردار چې څوك درنه خبر نشي او که په پېسو کښې دے لم لېټ اوکړو نو دَ تحفې په طور به تاته دَ دۀ سر درلېږلے شي او ستا سر به ستا دَ کوټې په بنهره ایښلے کېږي. "

فقیر بابا چې دَ هغۀ دَ خلې نه دغه خبره واورېده نو دَ پښو نه یې زمکه



www.pukhto.net

اوتختېده او په خلهٔ کښې لاړې اوچې شوې . هغه ډېره شېبه چپ خلهٔ ولاړ وو بيا په درنو پښو او دروند سر دَ کور په طرف روان شو . دَ پرله پسې دَ څو څو حادثو په وجه دَ هغهٔ په سر دَ غمونو پروت انبار دومره دروند شو چې دَ هغهٔ دَ زغم نه اووتو . هغه ډېر په مشکله خپل کور ته اورسېدو . دَ رسېدو سره ترېنه ښځې تپوس اوکړو ، "کاغذ کښې څهٔ ليکلي شوي دي "؟ هغهٔ هغې له هېڅ جواب ورنکړو ، په چپه خلهٔ کوټې ته ننوتو او په کټ کښې دانه وانه پرېوتو . دلبرو ترور چې دَ هغهٔ په طبيعت پوهه شوه نو بله خبره يې ورسره اونکړه البته هغهٔ دَ پاره يې ډوډۍ تياره کړه ، کوټې ته يې ورله يوړه او دَ ورتلو سره يې ورته اووې ، "پاسه سرېه چې ډوډۍ اوخورې ". هغهٔ چې څهٔ جواب ورنکړو نو هغې ورته په څېر څېر اوکتل . دَ کټو سره ډوډۍ او دَ ترکارۍ لوښې دَ هغې دَ لاسونو نه پرېوتو ، په مخ يې غټې غټې اوښکې راغلې ، په هغه ورپرېوته او په چغه يې اووې ، "دَ عارف جمال پلاره ، زهٔ دے چاته پرېښودم ".

**﴿دويمه برخه﴾**

دَ ستارخان خبره رښتيا شوه . امان دَ لسم جماعت په امتحان کښې دَ امپرسونېشن په کېس کښې دَ ستارخان زوي اے اېس آئي احسان گرفتار کړے وو او دَ هغهٔ دَ داده کولو دَ پاره يې دَ عدالت نه دَ لس ورځو ريمانډ اخستے وو . په دے لس ورځو کښې به هره شپه دَ هغهٔ مېلمستيا کېده او هغهٔ سره به دَ خصوصي مېلمه سلوک کېدو





هغه اووهلے شو ، مخ سر پړې اوپړسېدل خو هغه داده نشو . په يؤلسمه ورځ هغه دَ مس جميله عدالت ته دَ اے اېس آئي احسان په نگرانۍ کښې پېش کړے شو . مس جميله ډېره سخته ججه وه . دَ هغې په عدالت کښې صرف دَ انصاف حکمراني وه . هغې نه رشوت اخستو ، نه يې سفارش منو او نه يې دَ حکام بالا څهٔ پروا کوله. بله دا چې هغې په هغه مقوله عمل کوو کومه چې دَ عدالتونو متعلق عامه وېلې کېږي چې Justtice delayed, justice denied . هم دغه وجه وه چې په دري څلورو پېشو کښې به هغې کېس فېصله کوو. اېرعدالتونه دَ هغې دَ کارکردگۍ نه ډېر مطمئن وو. هغه چې دَ هغې عدالت ته پېش شو او دَ هغهٔ فائل هغې ته کېښودے شو نو هغې په مېز پروت دَ اوبو گلاس اوچت کړو او په نقاب کښې دننه يې خلهٔ ته اونيوو او يو څو گوټونه يې ترېنه اوکړل . بيا يې گلاس واپس کېښودو ، فائل يې کهلاؤ کړو ، په څير څير يې ورته اوکتل او اے اېس آئي احسان ته يې اووے ، "دا څهٔ دي؟ په دے لس ورځو کښې ملزم اقبالِ جرم ولې اونکړو ".

اے اېس آئي احسان:. مېډم ، زمونږ د ډېر کوشش باوجود هم ملزم داده نشو. هغه دَ خپل فائل نه يو ليکلے شوے درخواست را اوباسي او دَ هغې مخې ته يې اږدي .

مس جميله :. دا څهٔ دي ؟ بل ريمانډ غواړے ؟

اے اېس آئي احسان:. هاؤ مېډم ، دَ لس ورځو ريمانډ.



www.pukhto.net

مس جمیله: لس ورځې ډېرې دي، صرف دَ پنځه ورځو ریمانډ درکولے شم، دې نه زیات نشم درکولے. هغه چې په درخواست دستخط کولو دَ پاره قلم پورته کړې نو امان ورته وائي، "میډم، دَ ریمانډ ضرورت نیشته. که دَ لس ورځو لس ریمانډونه نور هم واخلي خو زهٔ دے اے ایس آئي له چرې هم بیان نه ورکوم.

مس جمیله: څهٔ مطلب، تهٔ ده له بیان ولې نه ورکوے؟ څهٔ وجه ده؟

امان: میډم، زهٔ یو عادي مجرم یم. دې نه مخکښې هم ما دغسې جُرم کړے دے. زهٔ غواړم چې زما هغه جرم هم پولیس ته او عوامو ته ښکاره شي خو دے دغه نه مني او صرف دَ اوسني کېس اقبال جرم غواړي.

مس جمیله: دا خو داسې الټه غوندې خبره ده. ملزم همېشه دَ ماضي جرمونه پټوي او تهٔ خپل جرم ښکاره کول غواړے.

اے ایس آئي احسان: میډم دغه خو ورته زهٔ هم وایم چې ستا زړو جرمونو سره زمونږ هیڅ تعلق نیشته، "رات گئی، بات گئی" شپه تېره شوه قیصه هېره شوه".

مس جمیله: زما په خیال خو دا ډېره ښهٔ خبره ده چې دَ اوسني جرم نه علاوه خپل زوړ جرم هم اوښائي. چې دغسې اوشي نو عدالت ته به دَ ملزم په فیصله کښې ډېره اسانتیا ملاؤ شي. تهٔ ولې دغسې کول نه غواړے دېکښې څهٔ قباحت دې.

اے ایس آئي احسان: میډم، ماسره دا یره ده چې کېدېشي دے په چا داسې شریف سړي گوته کېږدي چې دَ هغهٔ ماضي ډېره صفا وي





خو دَ ذاتي عناد په وجه دَ هغهٔ ټول کیریر خرابول غواړي.

مس جمیله: No no, let him say, what ever he wants to say.

(امان ته) ښه وایه، تهٔ دَ خپل جرم په باره کښې څهٔ وېل غواړے؟

امان: داسې نه میډم. زهٔ یو اهم انکشاف کول غواړم خو دے نه مخکښې زما یو څو مطالبې دي، زهٔ غواړم چې هغه پوره شي.

مس جمیله: مسټر امان. دا عدالت دے، دفترِ شکایات نه دے چې ستا مطالبې اومنلې شي. بهرحال تهٔ خپلې مطالبې اووایه که قانوني جواز لري نو بالکل به پوره کېږي.

امان: زما دوه مطالبې دي او بالکل قانوني جواز لري. یوه دا چې زما دَ بیان دَ تصدیق دَ پاره دے قرآن شریف راوړے شي، بله دا چې دَ عدالت نه بهر دَ میډیا اهلِ کار ولاړ دي، هغه دے رااوغوښتې شي.

مس جمیله: دا دواړه جائز دي. دواړه به پوره شي، چې په مېز قرآن شریف کېښودے شي او دَ میډیا اهل کار دننه راؤغوستے شي نو بیا ورته مس جمیله وائي، "ښه وایه، خپل بیان شروع کړه".

امان: میډم، مونږ غریب خلق دَ خان دَ خلې دَ خرېښ په ټکي هم دومره خوشحالېږو چې څو څو ورځې دَ خوشحالۍ نه خوب نه راځي او چې په پسته او خوږه ژبه ورته بچے اووائي نو بیا..." مس جمیله دَ هغهٔ دَ خلې نه خبره اخلي او وائي، "دا عدالت دے هوټل نه دے چې تهٔ پکښې افسانې او پرېرې راسپړے، مختصر او سائنټیفیک خبره کوه.



www.pukhto.net

امان:. مختصره خبره دا ده میډم چې کوم پولیس افسر دَ یو ملزم په حېث زۀ ستاسو عدالت ته راوستے یم، دے دَ دے پوسټ اهل نه دے.

مس جمیله:. څۀ مطلب؟ تۀ په کوم ثبوت دا خبره کوے.

امان:. میډم ، دا پولیس افسر دولسم جماعت پاس دے خو دے نه دَ خپل امتحان نه خبر شوے دے او نۀ دَ خپلې پرچې نه . دَ دۀ امتحان ټولې پرچې ماحل کړې دي او دۀ له مې دَ امتیازي نمبرو ریزلټ ورکړے دے.

جمیله:. دا رشتیادي؟

امان:. میډم زما لاس په قرآن پروت دے .

مس جمیله (احسان ته) دا هلك چې څۀ وائي نورشتیا وائي؟

اے ایس آئي احسان:. نه میډم . دے بالکل دروغ وائي، زما او دۀ تر مینځه داسې هیڅ خبره نیشته .

امان:. میډم ، که زۀ دروغ وایم نو دے دے په قرآن لاس کېږدي او زما دَ بیان تردید دے اوکړي .

مس جمیله (احسان ته) تۀ د دۀ دَ بیان تردید په قرآن کولے شے .

اے ایس آئي احسان:. میډم ، هغه کار اوشو څۀ نه چې زۀ یرېدم. زما په زړۀ کښې دا یره وه چې دے به په ما ګوته اړدي خو تاسو له دا یقین درکوم میډم چې زما ماضي صفا ده او دے زما په وجه خپل ځان صفا کول غواړي .

مس جمیله:. چې ستا ماضي صفا ده نو په قرآن لاس کېږده او دَ دۀ دَ





بیان تردید اوکړه.

اے ایس آئي احسان :. میډم ، زۀ هم حسّاس یم او زما ډیوټي هم حسّاسه ده . سبا که په ما دَ غلادعویٰ اوشي ، بله ورځ دَ قتل دعویٰ اوشي ، وروسې دَ کردار کشۍ څۀ بله دعویٰ اوشي نو زۀ به دَ خپلې ډیوټۍ په ځائے قرآن په سرګرځم او هرچاته به قسم خورم . که دے خپله دعویٰ قانوني طور ثابته کړي نو زۀ هرې سزا ته تیاریم .

مس جمیله (امان ته) د دے موجوده کېس په باره کښې ته څۀ وېل غواړے ؟

امان:. میډم ، دا موجوده او سابقه دواړه کېسونو کښې زۀ ملوث یم.

مس جمیله:. دے موجوده کېس کښې ستاضمانت منظور شو، بیا خپل ماتحت بابو ته وائي، " د دۀ دَ پرسنل بانډ کاغذونه ماته پېش کړه او دَ پېشۍ دَ پاره تاریخ ورکړه ". دَ هغۀ ضمانت هم اوشو او دَ پېشۍ دَ پاره تاریخ هم ورکړے شو خو دې نه پس هغه ولاړ وو. مس جمیله هغۀ ته اووې ، "څه تۀ تلے شے ".

امان :. میډم زۀ تاسو ته خواست کوم چې زما سابقه جرم دے په دے کېس کښې شامل شي .

مس جمیله:. ستاسابقه جرم په دے کېس کښې شاملېدے نشي او که ته خامخا خپل ځان له سزا ورکول غواړے نو بیا عدالت ته استغاثه پېش کړه دغسې به ستا موجوده کېس سره سره دَ سابقه جرم کېس هم شروع شي . دې سره هغه دَ عدالت دَ کمرې نه اووتو . عدالت لا



www.pukhto.net

هغسې جارې وو چې هغه یوه شېبه پس بیا راغی. یوه استغاثه او حلف نامه یې دفتر کښې داخل کړه او بیا اووتو. دَ هغهٔ دَ تلو نه پس مس جمیله خپله مسواکه ګوته په خلهٔ کښې اونیوه او په لوے سوچ کښې پرېوته.

هغه چې دَ لورکورټ دَ کمرې نه اووتو او دَ ډسترکټ سیشن کورټ مخې ته تېرېدو نو هلته ګڼ خلق ولاړ وو. داسې معلومېده چې څهٔ کېس فېصله شوے دے او ملزم یا ملزمان برې شوې دې ځکه چې ټول ډېر خوشحاله وو او یو بل له یې مبارکی ورکولے. هغه په تلو تلو کښې پښه نېولے شو او په ټوله خوره وره ډله یې یو سرسرې نظر واچوو خو چې په هغوې کښې یې څوك اونه پېژندل نو بیاروان شو. هغه ایله دَ کچهری دَ ګېټ نه اووتو چې دَ شانه ورپسې اواز اوشو، "اودرېږه امانه" هغهٔ چې دَ چا دَ خلې نه خپل نوم وورېدو نو اودرېدو او شاته یې اوکتل. په پړونې پټه یوه زنانه دَ سړو دَ ډلې نه اووته، دَ هغهٔ خواله ورغله، هغهٔ ته یې سلام اوکړو او ورته یې اووے، "ډېره موده پس مې اولیدے، ته خو بالکل بدل شوے یې". هغه دَ پړونې په پلوشو کښې موسېده خو هغهٔ نه پېژنده. هغهٔ په زړهٔ او خوږه چې دا هرڅوك چې ده خو پردی نه ده بلکه دَ مودو مودو شناسا ن ده. هغهٔ په لمحو لمحو کښې دَ خپل ماضي په ټولو درېچو کښې دَ هغې لټون اوکړو خو دغه مخ پټې زنانه یې دَ خیال په یوه درېچه کښې هم اونه لیده. دَ هغهٔ دَ تصور په ګرنګو وادېو کښې دَ هغهٔ دَ لټون هڅه لا





جارې وه چې یوخوږ او پرکشش اواز بیا راغی، "داسې معلومېږې چې زهٔ دے اونه پېژندم". هغهٔ په لمحو لمحو کښې په خپل ذهن بیا زور راوړو خو چې ناکام شو نو شرمنده شو او هغې ته یې اووے، "معافي غواړم مېلم، مااونه پېژندې". دَ هغهٔ په خبره هغه مسکی شوه، دَ مخ نه یې دَ پړونې پلو لرے کړو او په مُسکا یې هغه ته اوکتل، "اوه ګل پرې ته؟ تهٔ خو واقعي دَ ګل نه بلکه دَ ګلونو پرې یې" امان په جذباتي انداز کښې اووے. دې سره دواړه خاندې. دَ هغې رونو چې هغوې په خبرو اولېدل نو یوبل ته یې سترګې وروځې اووهلے او یو یو، دوه دوه روان شو خو هغوې، دَ هغوې په تلو پوهـ نشو. په خبرو خبرو کښې ترېنه امان تپوس اوکړو، "دلته څنګه راغلې وې". هغې په لا پروائی جواب ورکړو "دَ یو کېس په سلسله کښې".

امان:. کېس چا سره وو؟

ګل پرې:. دا ډېرې اوږدې خبرې دې امانه، په ولاړه ولاړه نهٔ کېږې. ځه چې کور ته ځو نورې خبرې به هلته اوکړو.

امان:. نه ګل پرې نن نه، بیا به شي.

ګل پرې:. نن ولې نه، بیا به کله شي؟

امان:. نن کلي ته ځم، بابا سره لېدل کول غواړم، ډېره موده اوشوه هغه مې لېدلے نه دے، کېدېشي هغه زما په وجه پرېشان وي ځکه چې زهٔ دَ هغهٔ دَ اجازت نه بغېر دَ کوره اوتے یم.



www.pukhto.net

ګل پرې:. بیا به کله شې؟

امان:. ډېر زر انشاء الله. دَ کاکاجي سلام به هم اوکړم او ... " ګل پرې دَ هغهٔ دَ خلې نه خبره اخلې او وائې "دکاکاجي قبردرته معلوم دے "؟

امان (په حېرانتیا) قبر ...؟ ولې کاکاجي خُدائے مهٔ که ..." دَ هغهٔ په تپوس دَ ګل پرې سترګې ډکې شي او وائې ، "هاؤ امانه ، ستاسو دَ تلو په سبا هغه وفات شوے دے ".

امان:. اوه ، ماته خو هډو پته هم نیشته. هغه دواړه لاسونه دعا ته اوچتوې او وائې ، "دَ کاکاجي په حق کښې به یوه دعا اوکړو." ګل پرې په خپلو لاسونو دَ هغهٔ لاسونه په ځنډ خکته کوي او وائې، "بس دا دَ هغهٔ دَ مینې حق دے چې په ولاړه ولاړه لاسونه اوچت کړے او دعا ورته اوکړے. ډېره دَ افسوس خبره ده امانه ، هغهٔ خو تهٔ په غېږ ګرځولے او لوبولے یې چې ته هم داسې شوے نو دَ بل چا نه به څهٔ ګېله اوکړم. څه چې کورته لاړ شو زما تاسره ډېرې خبرې دي". امان شرمنده شي او وائې ، "ستا خبره بالکل صحي ده څه چې ځو". دَ امان په موندلو ګل پرې ډېره خوشحاله وه. هغوي چې دَ کچهرۍ نه اووتل نو دَ کلي اډې ته لاړل ، هلته په ګاډې کښې کېناستل او کلي ته روان شو. هغوي دواړه په یو سیټ خوا په خوا ناست وو. دَ هغوي زنګونونه او اوږې یو بل سره لګېدې او دَ دواړو اجسامو دَ انتقالِ حرارت سلسلې تلې راتلې. هغوي اګر چهٔ په ظاهره چپ وو خو دَ هغوي په زړونو کښې دَ مینې ترانې او دَ خوشحالۍ نغمې غږېدې او په دغه نغمو





کښې دَ مستقبل منصوبې جوړېدې. دَ هغې په زړهٔ ډېرې خبرې وې او هغې غوښتل چې زر تر زره کورته اورسي او په هغې تېرې شوې تولې کړمې هغهٔ ته یوه په یوه اووائې. په دغه اراده چې هغه کور ته اورسېده او دَ دروازې دَ جرندې لرې کولو هڅه یې کوله نو هغې ته معلومه شوه چې جرنده لرې شوې ده او دروازه دَ کور دَ اړخه زنځیر ده. دَ هغې زړهٔ اوخوېدو چې آیا دَ هغې په کور چا قبضه کړے ده او که دَ هغې ناڅېك دَ هغې په کور کښې بل څوك اچولے دے هغې چې په یره یره دروازه اوډبوله نو یوه شېبه پس څوك راغې او دروازه یې لرې کړه. چې دروازه لرې شوه او دواړو یو بل ته اوکتل نو ګل پرې په حېرانتیا اووې ، "انځرګله تهٔ ...؟ تهٔ کله راغلے یې؟ هغهٔ په لاپروائۍ جواب ورکړو ، "اوس ستا دَ راتلو نه لږ مخکښې". بیا یې امان ته اشاره اوکړه او وے وئېل ، "دا مېلمه څوك دے "؟ دَ هغهٔ په تپوس ګل پرې مسکۍ شوه او وې وئېل ، "تهٔ ورته ښه په ځیر ځیر اوګوره چې څوك دے ". هغوي دواړه چې یو بل ته اوګورې نو دَ دواړو سترګې دَ یو بل په مخ کښې ښخې شي. په دغه کتوکتو کښې هغوي ډېرلږې لاړ شي خو ډېر زر بیا واپس شي او دواړه مسکي شي. دَ امان دَ خلې نه بې اختیاره اوخېژي ، انځرګله ، ته خو ډېر بدل شوے یې. تانه خو ماشاء الله ښکلے ځوان جوړ شوے دے ، " دواړه یو بل ته ورترغاړه وتل. په دغه روغ جوړ کښې ورته انځرګل وائې، "لالاجي ، وخت تېرېدو او حالات بدلېدو سره سړے بدلېږي". دَ روغ جوړ نه پس انځرګل ، ګل پرې ته وائې ، "یو



www.pukhto.net

مېلمه تا راوستو ، يو ما راوستے دے . ماستا مېلمه اوپېژندو اوس به تهٔ زما مېلمه پېژنې ". په دغه خبرو خبرو کښې چې هغوي کوټې ته ورغلل نو ورته مخامخ يو سړے په کټ کښې ناست وو او تسپې يې اړولے . دَ هغهٔ په لېدو دَ دوارو دَ خلو نه په يو وخت کښې اووتل ، "بابا تهٔ ؟ دا مېلمه واقعي دَ دوارو بابا وو . دَ امان خپل بابا او دَ گل پرې روحاني بابا، کوچنے استاذ وو، هغه کوچنے استاذ چې گل پرې ته دَ خپل پلار کښرې کاکا نه کم نه ښکارېدو ، هغه کوچنے استاذ چې دَ هغې دَ پاره دَ رڼا منـاره وه ، هغـه مناره چې دَ هغې په رڼا دَ ژوند په سمندر کښې دَ هغې د همت کشتۍ روانه وه او چې کله به دَ خپل ژوند نه مايوسه شوه نو دَ دغه رڼا په سهاره به يې هلې ځلې کولې . دَ هغهٔ په ليدو هغه دومره خوشحاله شوه چې په ځان پو هـ نشوه ، په جذباتي انداز هغهٔ ته په ناسته ناسته ورترغاړه وته او په انتهائي احترام او عقيدت يې دَ هغهٔ لاسونه ښکل کړل . بيا يې زر زر تولائي راواخسته ، هغهٔ ته يې په کټ کښې خوره کړه او ورته يې اووې ، "راپاسه بابا، دے بل کټ کښې ډډه واچوه " هغې هغه په دواړه لاسه په غېږ کښې اوچت کړو او بل کټ ته يې واړو . بيا يې دَ هغهٔ ډډې ته دوه غبرگ بالختونه کېښودل ، په پښو يې ورله کمبل خوره کړه او انځرگل ته يې اووې ، "انځرگله ، ته مېلمنو سره خبرې کوه ، زهٔ تاسو له چايې تياروم " کوچنې چې دَ هغې خبره ووريده نو ورته يې اووے ، "چايې به بيا شي ، ته راشه بچې ، ماسره کېنه زهٔ تاسره يو څو خبرې کوم". دَ هغهٔ په اواز هغه واپس شوه او هغه





سره لـنگې ته کېناسته . دَ هغې کېناستو سره کوچني استاذ هغې ته اووے ، "بچې ، ستا دَ پلار دَ مرگ نه انځرگل خبر کړم ، دَ هغهٔ په حق کښې به يوه دعا اوکړو چې خدا ے ورله اتهٔ واړه جنتونه ورکړي" . هغه خپله دعا اوږده کړه او څو څو ځله يې په دعا کښې اوژړل . چې دعا يې ختمه کړه او امين يې اووے نو بيا ورته گل پرې اووې ، "بابا زهٔ ورځم چې تاسو له چايې تياره کړم ". هغه مُسکے شو او ورته يې اووے ، "نه بچې اوس نه ، دَ چايو نه مخکښې يو څو خبرې کوو".

گل پرې:. تاسو خپلو کښې خبرې کوئ بابا زه..." کوچنے استاذ دَ هغې دَ خلې نه خبره اخلي او وائي ، "نه لورې چايې به بيا شي ، زهٔ چې څهٔ وېل غوارم دَ هغې تعلق تاسره دے . لورې ، ستا پلار ډېر ښهٔ سړے وو. دَ هغهٔ دَ لاس پښو او خلې نه هيڅوك نه وو ازار شوے هغهٔ سره زما ډېره ښهٔ ملگرتيا بلکه رورولي وه خو په اخره کښې مې دَ هغهٔ نه هم خاطر دروند شو". تول يو بل ته په حېرانتيا گورې . گل پرې په بې صبرۍ سره دَ هغهٔ نه تپوس کوي، "هغه څنگه بابا ، تاسو خو چرې مخکښې ماته دغه خبره نه ده کړے ".

کوچنے استاذ:. هغه داسې چې هغهٔ ماسره بې وفائي اوکړه ... مانه پټ په پټه جنت ته لاړو او شامتۍ خور له يې ځان اورسوو . (گل پرې ژاړي) "ژاړه مه بچې داسې اکثر کېږي . هيڅوك دَ چا انتظار نه کوي ـ کاروبار به دَ دنيا داسے چلېږي که څوك ژاړي او که خاندي خوشحالېږي

ستادَپلار دَ مرگ نـه پـس تـه يوا ځې پاتې شوې او رونو درنـه لاس



www.pukhto.net

واخستو خو آفرين شه او په تاشه چې په خپل همت او محنت دې نه صرف خپل ځان اوپالو بلکه جانى خور او انځرګل دے هم ځان پسې راخکل او هيچا ته محتاجه نه يې خو زۀ تاته محتاجه يم او هغه داسې چې زما يو زوے دَ خپلې ناپوهى په وجه دَ جنت دَ حورې دَ حصول په اميد دَ ډېرو بې ګناه انسانانو قاتل دے . چې هغه توبه اوباسي نو...نو تۀ هغۀ له د دې دنيا دَ حورې مينه ورکولې شي". (امان او انځرګل يوبل ته په نيم کخو سترګو ګوري . ګل پرې مسکى شي ، اوشرمېږي او سترګې خکته کړي ، "تا ماله جواب رانکړو لورې".

ګل پرې :. بابا پښتنې پېغلې دَ مور په مخکښې څۀ ناڅۀ وېلې شي خو دَ پلار په مخکښې نۀ په خلۀ انکار کولې شي او نۀ اقرار . زۀ ورځم چې تاسو له چايې تياره کړم .

کوچنے استاذ:. که چايې سره څۀ خواږۀ راغلل خو اقرار دے او که رانۀ غلل نو انکار دے . دَ هغۀ په خبره هغه خاندي او په خندا خندا کښې دَ کوټې نه اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس امان دَ انځرګل نه دَ هغۀ او دَ بابا دَ ملاقات په باره کښې تپوس کوي او وائي، " انځرګله ، ستااو دَ بابا ملاقات چرته اوشو؟ تۀ زمونږ کور ته تلے وے ؟ انځرګل خاندي او په خندا کښې وائي ، "نه لالاجي ، بابا زمونږ کورته راغلے وو."

امان هغۀ ته په ځير ځير ګوري او وائي ، "بابا دلته په خپله راغلے وو"؟ يعنى دلته ؟ دا څنګه کېدېشي ؟

انځرګل :. نه لالاجي دلته نه زما کور ته. دا کور خو دَ ګل پرې دے .





زما کور خو دے ځائے نه ډېر لرے په غرونو کښې پروت دے . زۀ خودلته دَ مېلمه په حېث راغلے يم او هغه هم دَ بابا دَ خاطره . ماوے چې بابا ته څۀ نقصان او نۀ رسي. شايد تاته دَ بابا دَ اغوا متعلق معلومات نيشته .

امان (په حېرانتيا) دَ بابا دَ اغوا متعلق معلومات ؟ ولې بابا اغوا شوے وو؟

انځرګل :. بابا صرف اغوا شوے نه دے بلکه دَ بابا په سر کښې دَ فقير بابا نه دَ شل لاکهه روپو مطالبه هم شوے وه . او فقير بابا ته دَ يو خط په ذريعه وېلے شوې وو چې "که په دغه روپو راؤړلو کښې دے لم لېټ اوکړونو دَ تحفې په طور به تاته د دۀ سر درلېږلے شي او ستا سر به ستا دَ کوټې په بنېره ايښلے شي. " دغه صدمه هغۀ برداشت نکړے شوه او مړ شو .

امان:. فقير بابا مړ شو؟ اوه خُدايه ، "هغه يوه شپه سرپه دواړه لاسه نيولے وو او دَ هغۀ متعلق يې سوچ کوو. بيا پلار ته وائي، "بابا تۀ ولې اغوا شوے "؟

کوچنے استاذ:. زويه زۀ دَ هغۀ کلام په وجه اغوا شوے ووم چې ما دَ ارمي پبلك سکول دَ شهېدانو په باره کښې وېلے وو.

امان:. بابا ، تۀ دَ فقير بابا دَ مرګ نه خبر شوے وے .

کوچنے استاذ:. ماته دَ هغۀ دَ مرګ معلومات هغه وخت اوشو چې دَ اغوا کارو مطالبه پوره نشوه او زما دَ قتل حکم اوشو. بچے ، که



www.pukhto.net

انځرګل هلته نه وے نو زۀ به چرې هم بچ شوے نه وے. خُدائے دے دۀ له جزائے خېر ورکړي، زۀ د ده په ذريعه بچ شوم او دلته را اورسولے شوم".

په دغه خبرو خبرو کښې امان دَ کوټې مخې ته په غولي کښې ولاړ موټر سائيکل ته اوکتل او انځرګل ته يې اووے، "انځرګله، دغه موټر سائيکل ستا دے؟"

انځرګل:. نه لالاجي، زما خپل موټر سائيکل بل چا بوتلے دے. دا زما دَ يو ملګري دے ... دا تپوس دے څنګه اوکړو.

امان:. دا تپوس مې ځکه اوکړو چې دا موټر سائيکل دَ غلا دے.

انځرګل:. لاله جي، زمونږ تول ګاډي دَ غلا دي خو تا څنګه اوپېژندو.

امان:. ما ځکه اوپېژندو چې دا مانه شوکېدلے دے.

انځرګل:. صرف دا او که نور څۀ هم.

امان:. دا ګاډے، پنځه لاکهه روپۍ، زما موبائيل او جېب خرچ.

انځرګل:. وَه عقربه هغه ته وے؟ څه تۀ غم مۀ کوه، ستا پيسې نشي ورکېدې.

امان:. تاته دا معلومات څنګه اوشو.

انځرګل:. دا ډېرې خبرې دي لاله جي. خو دا چې ستارخان زمونږ خاص سړے دے يا دا چې مونږ دَ هغۀ خاص سړي يو. هغه زمونږ مالي مرسته کوي او مونږ دَ هغۀ خدمت کوو. تۀ چې چاشوکولے يې، هغه دواړه مفروران هم دي او زمونږ ورکران هم دي. هسې زمونږ





ملګري دَ شوکې کارنه کوي خو تۀ دَ يو خاص سازش لاندې شوکېدلے او وهلے شوے يې او استاذ جي هم دَ هغۀ په اشاره اغوا شوے وو، چې دَ فقير بابا نه دَ اغوا تاوان واخلي.

امان:. زمونږ په ازارولو کښې دَ هغۀ څۀ فائده وه؟

انځرګل:. نور معلومات خو ماته نيشته خو داسې مې اورېدلي دي چې دَ هغۀ بهتۍ پورې جخته دَ فقير بابا زمکه ده. هغه په څۀ طريقه دَ هغۀ نه دغه زمکه اخستل غوښتل. په دې وجه هغۀ فقير بابا له مالي نقصان ورکول غوښتل چې هغه مجبور شي او دغه زمکه هغۀ ته پرېږدي.

امان:. ښه اوس به دغه سړي يعنې ستارخان سره څۀ کوو. هغۀ نه به مې څنګه خلاص کړے. په ما باندې دَ هغۀ دَ اتهه لاکهه روپو دَ غبن الزام دے.

انځرګل:. دَ هغۀ غم مۀ کوه. دَ هغۀ په نامه به زۀ يو چيټ درکړم، هغۀ له به يې ورکړے او ستا کهاته به ختمه شي. هغه د جېب نه يوه وړه شان کتابچه او يو بال پن را اوباسي او هغۀ ته يو خط ليکي.

محترم ستارخان

سلامونه! امان لالاجي نه به شوکېدلې پيسې نه غواړے. هغه مونږ ته رارسېدلې دي. دے زمونږ خپل سړے دے.

دستخط.

هغه چې په خط دستخط اوکړي نو دَ کتابچې نه پاڼه اوشلوي او هغۀ



www.pukhto.net

له یې ورکړي . هغه چې خط اولولي نو مُسکے شي او هغۀ ته وائي، "دا تا څۀ لیکلي دي ؟ هسې دے رانه ځان خلاص کړو . زما په دے سود نه کېږي ".

انځرګل (خاندي) لالاجي ، مونږ چاته درخواست نه کوو بلکه نېغ په نېغه خبره کوو او نېغ په نېغه غوښته کوو . تۀ دا خط ورکړه که ستا کار اونشو او تاته سلامي نشو نو بیا ماته رېنګ اوکړه . بیا به ستا کار ختم شي او زما کار به شروع شي . او دا خط به هله ورکوے چې هغه قهرېدلے وي، تۀ بیا ګوره چې څنګه یخېږي." هغه دَ کتابچې په پاڼه خپل نمبر لیکي او هغۀ له یې ورکوي . امان چې موبائېل نمبر ته اوګوري نو وائي ، "دا نمبر خو زما دَ موبائېل دے . تۀ خپل موبائېل اوښایه ". انځرګل چې دَ جېب نه موبائېل راؤباسي او هغه له یې ورکړي نو هغه وائي ، "دا نمبر هم زما دے او موبائېل هم زما دے".

انځرګل :. کېدېشي ستا وي ځکه چه دا هم چا راکړے دے ، بیا خاندي او وائي ، "تا خو زۀ اوشوکولم . موبائېل ستاشو، موټر سائېکل ستا شو ، ماسره خو هیڅ پاتې نشو . زۀ تاله یوبل نمبر درکوم چې زما ذاتي دے . ماسره به په هغه نمبر رابطه اوکړے ."هغه هغۀ له یوبل نمبر ورکوي . بیا ورته وائي ، "زما دغه نمبر یعني ستا دَ موبائېل هم ستارخان سره شته او دا نمبر هم هغه سره شته" . هغۀ نور هم څۀ وېل غوښتل خو دَګل پرې په راتلو هغه چپ شو. هغې دَ راتلو سره دَ کوټې دَ ګوټ نه یو مېز راواخستو او دَ دواړو





کټونو په مینځ کښې یې کېښودو او بهر اووته . لږه شېبه پس دَ چایو پتنوس په لاس بیا راغله او پتنوس یې په مېز کېښودو . امان او انځرګل چې پتنوس ته اوکتل نو مُسکي شو . هغه پلار ته اووے ، "بابا ، ګل پرې چایې هم راوړه او حلوا هم . د دے څۀ مطلب کېدېشي".

کوچنے استاذ(مسکے شي) دَ دے مطلب دا دے چې زما لور زما خواست اونه غورځوو. دَ هغۀ په خبره ګل پرې مسکې شي، اوشرمېږي ، دَ کوټې نه دَ وتو هڅه کوي خو په تلو تلو کښې انځرګل ته وائي ، "انځرګله ، دوي ته پیالو کښې چایې واچوه " کوچنے استاذ چې دَ هغې په تلو پوهـ شي نو وائي، ګل پرې لورې دلته راشه ، ماسره کېنه ، هغه چې دَ هغۀ په خبره واپس او هغۀ سره کېني نو ورته وائي، " بابا ، تاسو ماته څۀ وېل غوارې ".

کوچنے استاذ:. هاؤ لورې ، زۀ تاته ډېر څۀ وېل غواړم . "شرمېږه مۀ بچې دلته هیڅوك پردي نیشته . دا اسلامي طریقه ده چې دَ هلك او جینۍ مرضي معلومه شي ، زه غواړم چې ستاسو نکاح اوتړم". بیا په اسلامي طریقه چې دَ هغوي قبول وایجاب اوشي نو کوچنے استاذ وائي، "اوس د دې حلوا نه دواړه قاشوغې ډکي کړې او یوبل له یې په خله کښې ورکړې . چې هغوي دغسې اوکړي نو هغه دَ قرآن یو سورت تلاوت کړي ، امین وائي او دواړو له مبارکي ورکوي. دَ امین سره ګل پرې مسکې شي دَ کوټې نه اوځي او دَ کوچني استاذ دَ مبارکۍ جواب په تلو تلو کښې په مُسکا ورکوي . دَ چایې څکلو نه



www.pukhto.net

پس کوچنے استاذ انځرګل ته وائي، "بچے ستانکاح اوشوه، اوس تاسو شرعي طور سره ښځه خاوند شوی، ولېمه به درنه بیااوخورو اوس مونږ له اجازت راکړه چې ځو".

انځرګل :. نه استاذ جي ، داسې نشي کېدې ،ناوخته دے شپه اوکړی.

کوچنے استاذ:. نه بچے نه . مونږ ستاسو په مینه کښې خندجوړېدل نه غواړو . بس دا به مونږ سره ستاسو احسان وي چې اجازت راکړی .

انځرګل (امان ته ) لالاجي چې ځی او خامخاځی نو په خپل موټر سائېکل لاړ شی .

انځرګل او ګل پري دَ شکریې په ډکو سترګو هغوي له رخصت ورکړې او هغوي په خوشحالی خوشحالی دَ هغوي دَ کوره اوځي .

ماسخوتن تېر هغوي دَ بالا کلي بازارګي ته اورسېدل . هلته امان دَ کور دَ پاره سودا هم واخسته او ځان دَ پاره یې دَ تنور نه ډوډی هم واخسته . چې کله یې هرڅۀ برابر کړل نو بیا کور ته روان شو . هغه چې دَ فقیر بابا په کور ووختو او خپلې کوټې ته اورسېدو نو په کوټه کښې تیارۀ وه . هغۀ چې دَ موبائېل په رڼا دَ کوټې اندازه واخسته نو نۀ پکښې کټونه وو ، نۀ پکښې مېز وو او نه پکښې دَ هغوي سامان وو. دَ موټر سائېکل غر سره دلبرو ترور دَ کور په تنور اوخته او چې دَ هغوي په ښکالو پوهـ شوه نو علي رحمان یې لالټېن په لاس ور اولېږو . هغۀ دَ ورتلو سره هغوي سره سترې مشي اوکړل ، لالټېن یې په کوټه کښې کېښودو او امان ته یې اووے ، "لالاجي ، تاسو له لږ





ایسار شی زۀ کټونه راوړم ". دې سره هغه کورته منډه کړه خو هغۀ پسې امان هم ورغی او دَ کور ور سره اودرېدو. علي رحمان به کټونه او نور سامان دَ کور نه بهر ته ویستل او امان به خپلې کوټې ته اوړل. دغه شان ټول سامان راوړے شو او په کوټه کښې کېښودے شو. علي رحمان چې خپل کار اوکړو نو بیا یې امان ته اووے ، "لالاجي، مورمې وې چې دَ ډوډی تپوس ترې اوکړه ". دَ هغۀ دَ تپوس په جواب کښې امان اووے ، "ډوډی مونږ سره شته خو که ترکاري وي نو راوړه او که نه وي نو پرېږده یې، او هڅ ځان سره دا سودا هم کورته یوسه ". هغۀ سودا اوچته کړه او کورته یې یوړه خو دَ ترکاری په راوړلو کښې یې ډېر وخت واخستو . داسې معلومېده چې هغوي کره ترکاري نه وه پاتې شوې او اوس یې تیاروله . کله چې هغه ترکاري راوړه او هغوي ته یې په مېز کېښوده نو وے وئېل ، "مور مې وې چې خفه نشی ، ماښامی ترکاري نه وه پاتې شوې، تازه یې درله پخه کړه ".

کوچنے استاذ:.نه بچے دَ پخولو څۀ ضرورت وو، چې نه وه پاتې شوې نو راتلے به ، علي رحمان هغۀ له هیڅ جواب ورنکړو ، سر یې خکته کړو او کور ته روان شو . دَ ډوډی خوړلو نه پس کوچنے استاذ په خپل کټ کښې سملاستو اودۀ شو خو امان له خوب نه ورتلو او ډډې په ډډې اوختو رااوختو . دَ هغۀ په ژوند کښې ننی ورځ اوږده هم وه ، مهمه هم وه او وارداتي هم وه . نن هغه لور کورټ ته پېش شو، نن هغۀ په عدالت کښې مجبوراً هغه خبره اوکړه چې ډېره موده هغۀ په



www.pukhto.net

خپله سینه کښې پټه ساتلې وه، نن دَ هغهٔ ضمانت اوشو، نن هغه گل پرې سره ملاؤ شو، نن هغه انځرگل سره لیدل اوکړل، نن هغه دَ پلار دَ اغوا او فقیر بابا دَ مرگ نه خبر شو، نن دَ هغهٔ په مخکښې انځرگل سره دَ گل پرې دَ ژوند تړون اوشو او نن ماسخوتن خپل مقام یعني خپلې کوټې ته بیا واپس راغلل.

《دریمه برخه》

دَ اتوار ورځ وه، دَ ملك ټولې سرکارې ادارې او دفترونه بند وو، دَ اخبارونو خصوصي ایډیشنې اوتے وے او دَ خیبر پښتونخوا په ټولو لویو وړو اخبارونو کښې دَ امان دَ کیس خبر راغلے وو. هریو اخبار دَ امان او اے ایس آئي احسان متعلق خپله خپله سرخې لګولے وه. دَ اُردو دَ یو مقبول اخبار سرخط وو، ''اے ایس آئی احسان کو لینے کے دینے پڑ گئے، ملزم امان کو پھنسانے کی بجائے خود پھنس گئے، ملزم امان کی طرف سے استغاثہ عدالت میں داخل'' دَ پښتو دَ یو اخبار سرخط وو، "دَ اے ایس آئی احسان تعلیمي سند چېلنج شو. دَ ملزم امان په تور په ډك عدالت کښې سر ټیټے شو". دَ انگریزۍ دَ یو اخبار سرخط وو. "Wrong man, wrong posting". دغه اخبارونو دَ خپل خپل سرخط لاندې دَ امان له خوا دَ هغهٔ دَ تور په حقله وضاحتي بیانونه لیکلي وو کوم چې په احسان لګولي شوي وو، دې سره سره دَ دواړو تصویرونه هم لګېدلي وو.

دَ سحر لس بجې وې، ستارخان دَ خپلې حجرې په برنډه کښې بالخت





ته ډېره وهلے وه او دَ امان دَ گرفتارۍ او دَ فقیر بابا دَ رخصتۍ نه پس یې خپل ناظر سره دَ هغهٔ په زمکه دَ بهتۍ جوړولو منصوبه جوړوله. هلته دَ هغهٔ په کور کښې دَ هغهٔ لور نوشین په ټي وي لاؤنج کښې ناسته وه او په یو پرائیوېټ چېنل یې دَ فن اور فنکار، په حقله یو خصوصي پروگرام کتو چې بریکنگ نیوز پرې راغی. په بریکنگ نیوز کښې اووېلے شو، ''تعلیمی کرپشن کا ایک اور کیس ملزم امان کی طرف سے اے ایس آئی احسان کی تعلیمی سند چیلنج، اے ایس آئی احسان کو بھری عدالت میں سخت ہزیمت اٹھانی پڑی''۔ دے خبر سره دَ امان او احسان تصویرونه هم په سکرین راغلل. د دے خبر اورېدو او دَ تصویرونو دَ لیدو سره دَ هغې دَ خلې نه یوه چغه اووته. چغې سره دَ هغې مور پروین هغې پسې کمرې ته ورمنډه کړه او تپوس یې ترېنه اوکړو، "ولې لورې څهٔ اوشو"؟ بریکنگ نیوز لا هغسې چلېدل. نوشین بریکنگ نیوز ته اشاره اوکړه او وې وئېل، "امی دا خبر ووره". هغې چې دَ امان او احسان تصوېرونه اولیدل او دغه خبر یې وورېدو نو په چغو چغو په ژړا شوه. دَ هغوي ژړا لا هغسې جارې وه چې دَ کور خدمتگارې بهر ته منډه کړه. هلته ستار خان دَ خپلې منصوبې په اخري مراحل کښې وو چې خدمتگارې ورته اووې، "خان جي کور ته راشه". دغه اواز پسې لگېدلے هغهٔ په کور کښې دَ ژړا اواز هم وورېدو. هغهٔ دَ خپلې منصوبې خیالي خاکه یو خوا ته کړه او ډېر په تېزۍ سره کور ته روان شو. هغه چې کور ته ورغی او دَ هغوي ژړا ته یې اوکتل نو تپوس یې اوکړو، "ولې څهٔ



www.pukhto.net

چل شوے دے ، ولې ژاړې " نوشین په ژړا ژړا په ساه ختلي انداز کښې اووې ، "ابو ، اوس . . .اوس ، بریکنګ نیوز کښې راغلل چې . . . چې امان دَ احسان تعلیمي سند چېلنج کړے دے او هغه په ډك عدالت کښې شرمنده شو . دا څه قیصه ده ابو"؟ ستارخان چې دا خبره ورېده نو لاشۀ یې پسه او رنګ یې مړاوے شو. هغې له یې هیڅ جواب ورنکړو البته خدمتګارې ته یې په حاکمانه لهجه ووے، "ورشه ګنجې اخبار راوړه ، " هغې چې هغۀ له اخبار ورکړو او هغۀ په رومبې مخ دَ هغوي تصویرونه اولیدل نو دَ لیدو سره پرې سترګې توري شوې او دَ پښو نه یې دم اوختو . هغه یوه شېبه دم ختلے ولاړ وو او چې کله یې حوصله په ځاے شوه نو اخبار په لاس خپلې کمرې ته روان شو. هلته یې په خپل بېډ کښې ډډه واچوله ، اخبار یې مخ ته اونیوو او دَ اخبار بیان یې اولوستو . هغه یوه شېبه خاموش پروت وو، بیا یې موبائېل اوچت کړو او چاته یې کال کول غوښتل چې دَ هغۀ په موبائېل کال راغې ، هغۀ چې نمبر ته اوکتل نو هغه دَ هغۀ دَ مشر زوې سلېمان کال وو . هغه ، سره دَ ښځې او بال بچ دَ سپل دَ پاره ولایت ته تلے وو خو چې هلته یې دغه خبر وورېدو نو وارخطا شو او پلار نه یې تپوس اوکړو ، ابو دَ امان او احسان ترمینځه دا څۀ قیصه ده ".

ستارخان دَ هغۀ دَ تسلی دَ پاره هغۀ ته اووے ، "هیڅ نیشته بچے ، هر څۀ به ټیك ټاك شي ، دَ دواړو ترمینځه څۀ عدالتي چپقلش راغلے دے خو دَ فکر هیڅ خبره نیشته .





سلېمان:. ابو، جمېلې سره خبره اوکړه ، ګېني شهنواز خان ته فون اوکړه او خبره ختمه کړه .

ستارخان:. دا کېس هم جمېلې سره دے ، دَ یرې ډرې هیڅ خبره نیشته او رشتیا واړۀ ځنګه دي.

سلېمان:. واړۀ ښۀ دي ابو خو دلته ډېره یخني ده .

ستارخان:. دَ ورو خیال ساته بچے ، او د دے ځاے خیال دَ زړۀ نه اوباسه". څنګه چې دَ احسان دَ پاس کېدو زېرې په لړ ساعت کښې خوارۀ شوي وو او دَ هغۀ ټولو خپلوانو دَ هغۀ په پاس کېدو دَ خوشحالی سره سره دَ حېرانتیا اظهار کړے وو دغه شان په هغۀ لګولے شوے الزام هم په لمحو لمحو کښې خور شو او دَ هغۀ ټول خپلوان حېران شو . ترناوخته پورې ټیلفون او موبائېلونه کړنګېدل او دَ ستارخان ، پروین او نوشین او نورین نه دَ احسان دَ الزام په باره کښې تپوسونه کېدل خو دَ شهنواز خان دَ کورنی له خوا هیچا هغه ته فون اونکړو . هغۀ تر ماسخوتن پورې دَ هغوي دَ فون انتظار کوو خو چې دَ هغوي له خوا څۀ رابطه اونشوه نو بیا یې جمیلې ته رېنګ اوکړو خو دَ هغې موبائېل بند وو . هغۀ څو ځوځله هغې سره دَ رابطې کولو کوشش اوکړو خو چې هغې سره رابطه اونشوه نو بیا یې شهنواز خان ته فون اوکړو او هغه یې دَ ټول صورت حال نه خبر کړو او ورته یې اووے چې ، "جمیله ته اووایه چې دَ احسان خلاف دَ امان استغاثه مسترد کړي ." شهنواز خان هغۀ له تسلي ورکړه او ورته یې اووے ،



www.pukhto.net

"ستارخان ، چې څنګه هغه زمالور ده ، دغسې ستا هم ده خو زما او ستا نه زياته هغه دَ انصاف او اصولو لور ده . هغه نه سفارش مني ، نه رشوت اخلي نه دَ حکام بالا څۀ پروا کوي، نه دَ خپلو خپلوانو خبره مني او نه دَ مور پلار ، خو زۀ تاله دا يقين درکوم چې هغه به په هرحالت کښې دَ انصاف تقاضې پوره کوي ".

ستارخان:. هسې تاسره مشوره کوم او هغه دا چې که چرې زۀ احسان وراولېږم نو بيا؟

شهنواز خان :. دَ احسان او هغې امکاني رشته په خپل ځاے ده خو چې ترڅو زماخيال دے ، هغه به دَ قانون په دائره کښې دَ احسان او امان فرق اونکړي . باقي ستاخپله خوښخه ده ، زما پرې هيڅ اعتراض نيشته ، دَ هغۀ دَ سپور جواب نه پس هغه په لوے سوچ کښې پرېوتو. دغه سوچ سوچ کښې هغۀ ته هغه خبره راياده شوه چې فقير بابا ته يې کړے وه چې ، "کومې ججې سره چې دَ هغۀ کېس دے ، هغه زمونږ دَ احسان چنغله ده ". دې سره هغۀ يو سوړ اسوېلے اوکړو او په خپل بېډ کښې خور وور پرېوتو.

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★





## «اووم باب»

اکبرخان اکبر دَ ملك دَ ټولو نه لوے سپول ادبي اېوارډ، صدارتي تمغه براے حسن کارکردګي ، دَ پاره نامزد شوے وو. دَ هغۀ په حجره کښې دَ شاعرانو او اديبانو له خوا دَ مبارکۍ دَ پاره دَ تلو راتلو سلسله روانه وه او څوك چې په څۀ وجه راتلے نشو د هغوي له خوا موبائيلو نه کړنګېدل او دَ مبارکۍ پېغامونه راتلل .

اخترحسين اختر ته چې دَ اېوارډ دَ پاره دَ هغۀ دَ نامزدګۍ پته اولګېده نو هغۀ دَ "کوچني ادبي ټولنه " له خوا دَ اکبرخان اکبر دَ نامزدګۍ خلاف دَ مجلسِ عاملې يو هنګامي اجلاس راؤغوښتو او په هغې کښې دَ شموليت دَ پاره سحر په داسے وخت کښې دَ کوچني استاذ کور ته ورغې چې امان ، علي رحمان سره د سرند دَ پاره ځاروي بوتلي وو او هغه په کوټه يواځے وو. هغۀ کوچني استاذ سره دَ اکبردَ نامزدګۍ په باره کښې يو څو خبرې اوکړے او هغۀ يې ځان سره په تلو مجبور کړو . هغه ، هغۀ پسې په موټر سائېکل کېناستو او چې لږ ساعت تېرېدو نو خپلې حجرې ته يې اورسوو . دَ هغۀ په ورتلو دَ مجلس عاملې ځينے غړو په هغۀ ګل پاشي اوکړه او ځينو ورته دَ ګلونو سهرې واچولے . هغه ډېر په عزت دَ صدارت په کرسۍ کېنولے شو .بيا اخترحسېن اختر دَ اکبرخان اکبر دَ خندان ګلونه ، کتاب راواخستو ، دَ هغې نه به يې ړومبے شعر وېلے او هغۀ به ورپسې نور شعرونه وېلے . ټولو خلقو ته ثابته شوه چې دغه کلام دَ



www.pukhto.net

اکبرخان اکبر نه دے بلکه دَ کوچنې استاذ دے . دې نه پس تنقیدي تقریرونه شروع شو او اکبرخان اکبر دَ بنې نه سپك شو. دَ اجلاس په اخره کښې متفقه طور یو قرار داد منظور شو او په لاندیني متن وزارت ثقافت ته دَ اپیل په شکل کښې اووېلے شو چې ، "دَ کوچنې استاذ ادبي تهولنې له خوا مونږ تول دَ حسن کارکردګۍ ادبي اېوارډ دَ پاره دَ اکبرخان اکبر دَ نامزدګۍ خلاف په سختو ټکو غندنه کوو ځکه چې په کوم کتاب چې هغهٔ ته اېوارډ ورکېدونکے دے ، دَ نوم او تخلص نه علاوه دغه کلام دَ هغهٔ خپل نه دے بلکه دَ یو معذوره نابینا او بوډا شاعر ، کوچنې استاذ نه پټ شوے دے او دَ خندان ګلونه په نوم په کتابي شکل کښې راغلے دے . مونږ تول وزارت ثقافت ته اپیل کووچې دغه اېوارډ دے دَ اکبر خان اکبر په ځائے کوچني استاذ ته ورکړے شي او اکبرخان اکبر له دے سخت ترینه سزا ورکړې شي چې دَ انصاف تقاضې پوره شي او ائنده دَ پاره نمونهٔ عبرت اوګرځي". په دغه تحریري اپیل دَ راغلے تولو شاعرانو او ادیبانو دستخطونه اوشو ، دَ هغې څوڅو کاپۍ اوویستلې شوې او تقسیم کړې شوې. په دغه کاپیو کښې یوه کاپي په داسے وخت کښې هغه له اولېږلې شوه چې هغهٔ په خپل کور کښې خپلې بي بي سره دَ انعام دَ رقم په باره کښې خبرې کولے .هغهٔ چې دَ اپیل کاپۍ اوکته نو یو خوا ته شو او اخترحسېن ته یې کال اوکړو . هغهٔ سره یې چې یو څو خبرې اوشوې نو موبائېل یې بند کړو ، دَ کوره اووتو او دَ اختر حسین حجرې ته لاړو . چې هلته اورسېدو





نو دَ مجلسِ عاملې غونډه ختمه شوې وه البته دَ کابینې عهده داران ناست او دَ اکبرخان اکبرخلاف اپیل له یې دَ عملي شکل ورکولو په باره کښې خپلو کښې مشورې کولے. دَ هغهٔ په ورتلو او دَ کوچنې استاذ په لېدو دَ هغهٔ رنګ زېړ شو او هغهٔ ته داسې محسوسه شوه چې هغه دَ جانې دشمنانو په ګهېره کښې راغی . او که حقیقت ته اوکتلے شي نو دغسې وه هم ځکه چې کوچني استاذ سره دَ دهوکې په وجه دغه تول دَ هغه مخالفین وو . خو هغهٔ بحث وتکرار په ځاے دَ حکمتِ عملۍ نه کار واخستو . هغوې سره دَ ملاوېدو نه مخکښې هغه دَ کوچني استاذ سلام له ورغی او سلام هم داسے چې دَ هغهٔ په پښو کښې پرېوتو . په ژړا ژړا یې خپله غلطي اومنله او په ژړا ژړا یې دَ هغهٔ نه معافي اوغوښتله . اختر حسین او دَ هغهٔ نورو ملګرو هغه دَ هغهٔ دَ پښونه اوچت کړو او کوچنې استاذ ته یې دَ هغهٔ دَ معاف کولو سفارش اوکړو . هغهٔ نه صرف هغه معاف کړو بلکه دَ هغهٔ په سر یې دَ شفقت لاس کېښودو . دې نه پس دَ اېوارډ او دَ کتاب دَ اېډېشن په حقله ښه اوږدې خبرې اوشوې خو فېصله په دې اوشوه چې هغه به دَ اېوارډ تولې پېسې کوچني استاذ له ورکوي او دَ کتاب تول اېډېشن به دَ کوچني ادبي تولنه په تحویل کښې ورکوي . دې نه علاوه دَ کوچني استاذ ډله به خپل اپیل واپس واخلي . په دې فېصله دعایې خېر اوشوه او تول رخصت شو.

هلته امان او علي رحمان په شاړه کښې څاروي هم سرول او کور دَ پاره یې خشاك هم کوو. اګر چه دَ ستارخان دَ قرضې په وجه دَ فقیر بابا



www.pukhto.net

رویـه هغهٔ سره ډېره سختـه وه خو سره د دې هم هغهٔ ته دَ هغهٔ په مرګ ډېر افسـوس وو. دَ ستـارخان پـه مـخکښې هغهٔ هغه له په مخ داسې سپېرې ورکړے چې دَ هغهٔ په پوزه وینه راغله ، دَ هغهٔ په مخکښې اوکنزلے شو خو دَ هغهٔ په خیال کښې هغه حق بجانب وو ځکه چې دَ هغـهٔ یـقیـن وو چې دَ هـغـهٔ لـور ګل ناز هغهٔ بوتلے ده او چرتـه یې کـېـنـولـے ده . هغه دَ هغهٔ په وهلو نه په هغه وخت خفه وو او نه اوس خفـه دے بـلـکه دَ هغهٔ په وهلو او سپورو ستغو کښې هغهٔ ته دَ هغهٔ مینه ښکارېده . اوس چې نه هغه شته او نهٔ دَ هغهٔ رټل شته نو هغهٔ ته ځان بې څـو کـه ښکارېدو . او کـه حقیقت ته اوکتلے شي نو هغه ګرم هم نـه وو ځـکه چې دَ هغهٔ نه دَ امان تـوله جمع شوې سرمایه هم لاړه، کـلثـوم هـم لاړه او ګـل نـازم هـم لاړه . یـو خـوا هـغه په خپلو خپلوانو کښې اوشرمـېـدو بل خوا په کلي کښې یې چا سره دَ سترګو لګېدو شان پاتے نشو . دې نه علاوه دَ ستارخان دَ قرضې په وجه ډېر پرېشان وو. دَ هـغهٔ نه هر څهٔ لاړل او هغهٔ سره دا یره ملګرې شوه چې که دغه دَ پـلار نیـکـهٔ تـل تـکـړه هـم ترې لاړه شي نو بیاخو بـه هغـهٔ او دَ هغـهٔ کـورنـۍ ډېره بې اسرې پاتې شي. فقیر بابا او دَ هغهٔ ټولو خپلوانو ته اګـر چـهٔ بیاروستو معلومه شوه چې دَ ګل ناز په کېس کښې هغه بې ګـناه دے خو هغوي ټول په دے حېران وو چې هغه اخر چاسره لاړه او چرته لاړه . دَ هغې دَ مرګ او ژوند هم هیڅ پته نهٔ لګېده . دَ ګل ناز او فـقیـر بـابـا دَ تـلـو نه پس علي رحمان ډېر یواځے پاتے شو . نه یې بهر





څوك دَ لوبو مشغولاوو او نه یې په کور کښې څوك وو. هغه به زیات وخـت ځـارو سـره بهـر په شاړه کښې وو او چې مازیګر ماښام به کورته لاړونـو ډوډۍ بـه یې اوخوړه او اودهٔ به شو. دَ هغوي په راتلو دَ هغهٔ په مـخ هـم رڼا راغله او دلبرو ترور هم خوشحاله شوه خو دَ خپل عدت په وجه هغه دَ هغوي سترې مشې له بهر نشوه وتې .

امان ته دَ علي رحمان دَ تنهائۍ احساس وو بلکه هغهٔ خپل ځان د دغه ټـولـې تبـاهـۍ مـجرم ګڼو . دَ هغهٔ دَ احساس محرومي ختمولو دَ پاره هـغـه هغهٔ سره لګیا وو خشاك یې هم کوو او خبرې یې هم کولے . په دغـه خبـرو خبـرو کښـې چـې هـغـوي دَ خشاك ګېډے پوره کړو نو بیا دواړه کـېـنـاسـتـل او خپـلـو کښې لګیا شول. کوله چې په دېکښې هغوي دَ لرې نه یو موټر سائېکل اولیدو چې دَ هغوي په طرف روان وو ، دَ هغهٔ پـه لیـدو عـلي رحـمـان ځـان سره غلي غوندې اووے ، بیا را روان دے چـشـمـاتـو ، یو خو دهٔ نه ډېر تنګ شو ، دَ هغهٔ په ګونېدو هغه مُسکے شو او ورته یې اووے ، "دا څوك دے او څهٔ دَ پاره راځي"؟

علي رحمان:. زهٔ یې نهٔ پېژنم لاله جي ، دے مخکښې هم څو څو ځله راغـلـے دے ، مانه یې څو څو ځله ستا تپوسونه کړي دي خو چې مابه ورتـه اووے ، مـاتـه پتـه نیشتـه نو بیا به روان شو ". په دغه خبرو خبرو هـغه چې هغوي ته نزدے شو نو هغهٔ اوپېژندو . دَ هغهٔ په لیدو دَ هغهٔ رنګ زیـړ شو او چې کله هغهٔ دَ هغوي خوا کښې موټر سائېکل اودرو نـو مُـسـکـے شـو او په کوزېدو کښې یې اووے ، "ایله خُدا ے په لاس



www.pukhto.net

راکړے ، نن رانه نشے خلاصېدے ". دَ هغهٔ په خنده رویه دېکه هغه وارخطا شو او هغهٔ سره یې روغ جوړ اوکړل . دا سړے اګر چه علي رحمان دَ پاره اجنبي وو خو امان دَ پاره اجنبي نه وو بلکه دَ وصیف خان دَ بهتېې منشي عمرخان کاکا وو. دَ روغ جوړ نه پس تړېنه منشي تپوس اوکړو ، "یَه هلکه امانه ، چرته تلے وے ، زماخو درپسې په تلو راتلو دَ موټر سائېکل ټائېرونه اوشلېدل ". دَ هغهٔ په تپوس هغه وارخطا شو او ورته یې اووے ، "منشي صېب" تاته ملامته یم خو دَ خپلې مجبورۍ به درته څهٔ وضاحت اوکړم ، تاته هرڅهٔ معلوم دي.
منشي:. زهٔ او زما دَ وړو مور دَ فقیر بابا مرګ له هم راغلي وو او دریمې له هم راغلي وو خو تهٔ مې اونهٔ لیدے . دَ هغې نه پس هم څو ځله راغلے یم (علي رحمان ته اشاره کوي) دے ماشوم ته پته ده، خو تاسره مې ملاقات اونشو . ښه دَ فقیر بابا په حق کښې به یوه دعا اوکړو ، هغوي دواړه په زمکه کېني او دَ فقیر بابا په حق کښې دعا کوي . دَ دعا نه پس ورته منشي وائي، "امانه زویه ، زهٔ یو غرض پسې راغلے یم". امان دَ هغهٔ دَ خلې نه خبره اخلي او وائي، "منشي صېب ماته ستا غرض معلوم دے ، خو تهٔ مهرباني اوکړه یو څو ورځې راته نور اوګوره . چې لږه نوکه مې اونخلي نو تولې به درکړم ".
منشي :. دا تهٔ په کوم چېنل خبرې کوے؟ زهٔ پوهـ نشوم.
امان:. منشي صېب ، ما دَ خپل مال په سرتانه شل زره روپۍ اېډوانس اخستے وے او تهٔ دَ هغې غوښتو پسې راغلے یې .





منشي (خاندي) نه بچے نه . . .تاته شاید دَ کچه خښتو دَ زیان پته نیشته . دَ کچه خښتو دَ نقصان دَ ازالې طریقه دا ده چې نیم تاوان په تېبري وي او نیم دَ بهتېې. په مالك وي ستا د یو لاکهـ شل زره روپو په تاوان کښې ستا ماسره څلوېښت زره روپۍ نورې کېږي، هغه مې درله راوړې دي." هغه دَ جېب نه روپۍ را اویاسي ، دَ هغهٔ په مخکښې پرې ګوته تېره کړي، بیا یې هغهٔ ته نیسي او وائي ، "دَ مرګ او ژوند هیڅ پته نه لګي بچے . دا خپل امانت دے واخله چې زما غاړه خلاصه شي او تهٔ پرې خپله اریانه اوچلوے ". دَ هغهٔ په خلوص هغه دومره جذباتي شي چې په ځان پوهـ نشي، هغهٔ ته بې اختیاره ورترغاړوځي او دَ هغهٔ تندے او لاسونه ښکلوي . بیا ورته وائي، "منشي صېب ، څه چې کورته ځو او دَ ګډو په پېو کښې دریاندې ښه زبردسته تینګه چایې اوڅکم ". منشي خاندي او هغهٔ ته په خندا خندا کښې وائي ، "اوس نه چې کله ستا کور ودان شي نو دَ خپلې لور په لاس تیاره شوې ښهٔ مړه چایې به درنه څکم ."
امان :. هغه به بیا شي خو اوس رانه داسې اوچه خلهٔ نشے تلے ، هغه علي رحمان ته ګوري او وائي ، "علي رحمانه ، کورته ورشه او منشي صېب دَ پاره ښهٔ زبردسته چایې راوړه ". هغه چې یو څو قدمه مخکښې لاړشي نو هغه ورته وائي ، " واپس شه علي رحمانه ، راشه دا پېسې هم کورته یوسه او مور له دے ورکړه ". هغه دَ جېب نه پېسې راؤباسي او هغهٔ له یې ورکوي . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس منشي هغهٔ ته وائي، "ته دومره



www.pukhto.net

موده چرته وے ؟ نه مې دَ فقیربابا په جنازه کښې اولیدے نه دَ هغهٔ په دریمه کښې او نه دَ هغې نه روستو اخر هغه کوم داسے ضروري کار وو چې دَ هغې په وجه تهٔ دَ هغهٔ مرګ له نشوے راتلے ."

امان:. منشي صېب ، دې غریبۍ او دَ ستارخان نوکرۍ لوے غم او لویه شرمندګي راپغاره کړه . دَ هغهٔ دَ قرضې ختمولو دَ پاره مې سر تندے وهو خو هیڅ په لاس رانهٔ غلل.

منشي: امانه بچے چې ستا ځوانۍ او دې بې څوکه زندګۍ ته ګورم نو په والله باالله چې زړهٔ مې دربانديې خوږ شي . تهٔ به ترڅو دغسې دغرې وهے . په خپل ژوند کښې خو دَ شریك څوك شریك کړه چې ژوند دے جوړ شي.

امان:. منشي صېب چې ترڅو مې پردۍ قرضه نه وي ختمه کړے تر هاغې دغه سوچ هم نشم کولے .

منشي:. امانه بچے ، دَ مشرانو دَ خلې وېناده چې واده سره تقدیر بدلېږي . وادهٔ اوکړه چې تقدیر دے بدل شي . تهٔ به ترڅو پورې په پردي درلوغړېږے .

امان:. منشي صېب ، وادهٔ څنګه اوکړم . ماخو تاته خپله قیصه په زور زېر تېره کړه . واده چاسره اوکړم ؟ ګل ناز لاړه ، کلثوم لاړه دَ بل شوه او ګل پري هم لاړه دَ بل شوه خو زړهٔ دَ هیچا نشوم.

منشي:. ګل پري څوك ده ، تاخو ماته د دے ذکر نهٔ دے کړے .

امان:. ګل ناز نه مخکښې دا زما ملګرې وه .





منشي:. څه چې څهٔ اوشو هغه اوشو ، اوس دے څهٔ خیال دے ځان له کور اباد ول غواړے او که ټول عمر به دغسې جره ګرځے ؟

امان:. یره منشي صېب چې دَ زړهٔ خبره درته اوکړم نو دَ ګل ناز نه پس مې په هیچا سترګې نه خوږېږي . چې وي نو هغه به وي او چې نه وي نو نهٔ دې وي .

منشي:. وَه ساده سړیه ، تهٔ لا اوس هم دَ ګل ناز په مینه ناز کوے . هغې تاسره څهٔ وفا اوکړه ؟ تهٔ یې پرېښودې او بل پسې لاړه .

امان:. هغه ټوله وفا ، وفا وه . هغه هیچا پسې نه ده تلې . هغې زما په سر غېرت اوکړو ، ځان یې ورك کړو خو دَ بل نشوه . او هغې ماته وېلي وو "چې ستانشم نو دَ بل به هم نشم . په سیند به ځان لاهو کړم خو خپل سالو به بل ته پورته نهٔ کړم ، په ځان به اور بل کړم خو خپل اوربل به دَ بل نکړم." او هغې به واقعې دغسې کړي وي.

منشي:. امانه، دَ یو خوږ من مشر په حېث زهٔ تاله دا مشوره درکوم چې دَ هغې خیال دَ زړهٔ نه اوباسه . دَ مینې لیونتوب څه وخته پورې بد نه لګي خو چې اوږد شي نو دَ ټول عمر وبال شي. زهٔ دَ یو مشر په حېث تاته دا نصیحت کوم چې خپل ژوند جوړ کړه . زهٔ په تا ، ستا په ځوانۍ او ستا په بې څوکه ژوند خفه کېږم . امانه ماله خُدائے پنځه لونړه راکړې دې خو نارینه اولاد مې نیشته .دَ یو پښتون په حېث دا زما په خلهٔ نهٔ راځي خو دَ یو پلار په حېث دا زما فرض دے چې که تهٔ غواړے نو په دغه پنځو کښې یوه ستا دَ خوښې تاله درکولے شم.



www.pukhto.net

کـه تـهٔ غـواړے نـو څـوك زنانـه راولېږه چې پـه هغوي کښې يوه خوښـه کـړي او دَ ځـاے ځائېږي هم غم مهٔ کوه ، زما کور خپل کور اوګنه". هغه نور هم څهٔ وېل غوښتل خو علي رحمان دَ چايو چېنك په لاس راغې او دَ هغوي مخې ته يې چېنك او پيالې کېښودے.

﴿دوېمه برخه﴾

دَ ستـارخان دَ هـدايت مـطابـق احسان مس جميله ته په دے غـرض څـو څـوکـالـونه اوکړل چې دَ هغهٔ خلاف دَ امان استغاثه خارج کړي خـو دَ هـغې ټيليفون او موبائېل به هرځل بند راتلل . چې هغې سره رابـطه اونشوه نو بيا يې په خپله دَ هغې کورته دَ تلو اراده اوکړه . مـس جـميـلـه پـه ډيفنس کالونۍ کښې په يوه عاليشانه بنګله کښې اوسېـده . هـغـې سره دَ خدمت دَ پاره يوه خاله وه او دَ سودا راوړلو او دَ شپې دَ څـوکۍ دَ پاره يو بوډا نوکر وو . هغوي دَ پاره هغه دَ پېژندګلو محتـاج نـه وو ځـکـه چې هغه به کله کله تلو راتلو . دَ خاله په ښودنه هغـه دَ هـغـې لائبرېري نماکمرې ته په داسے وخت کښې ورغې چې هغـه دَ يو کېس په مطالعه کښې مصروفه وه . دَ هغې په اجازت چې هغـه پـه مُسـکـا دننـه ورغې نو هغه دَ هغهٔ په احترام کښې پاسېـده او تـر هـاغـې پـورې ولاړه وه چې تـرڅـو هغه ناست نهٔ وو. دَ کېناستو سره هغهٔ دَ هغې شکريه اداکړه او ورته يې اووے ، "مېډم، زما په راتلو خو ډسټرب نشوي". هغې هغهٔ ته په تنبيهي سترګو اوکتل او وې وئـېـل ، "احسان صېب ، زهٔ په عدالت کښې ستا دَ پاره مېډم يم خو





پـه کـور کښې مېډم نه يم . ته ماته خپل نوم وېلے شـے . . . ستا په راتلو ډسټرب نشوم بلکه ستا راتلهٔ يو ښهٔ شګون دے کېدېشي ستا په راتلو اووضاحت ستا په کېس کښې پرمختګ اوشي.

احسـان:. جي بـالـکـل ، پـه دے سلسـلـه کښې ماتاسو سره په فون او موبائېل دَ رابطې کوشش اوکړو خو رابطه اونشوه .

مـس جـميـلـه:. زمـا ټيـليـفـون خراب دے او موبائېل نمبر مې بلاك شوے دے . ښه وايه کنه ، تهٔ څنګه يې او ستا سروس څنګه دے؟

احسـان :. الـحـمـدلله ، زهٔ هـم ښـهٔ يم او سروس هم ټيك ټاك دے خو د دے هلك ، امان په وجه پرېشان يم.

مـس جـميـلـه:. لازمًا ، پرېشاني به خامخا وي، د دے اثر ستا په کردار هم پـرېوتـے شي او ستاتعليمي سند هم مشکوك کېدېشي" احسان خاندي او په خندا خندا کښې وائي، "او بيا دا اوسنۍ مېډيا خو سرے دَ بـنـې نه سپك کړي ، تاسو به شايد هغه بله ورځنې اخبار کتلې وي، په هغې کښې يې څهٔ څهٔ نه دي ليکلي .

مـس جـمـيـلـه:. دَ اخبار نـه عـلاوه مـا په ټي وي نيوز کښې هم ستا دَ کېس خبر اورېدلې دے .

احسان:. دے هلك خو زهٔ په شرمونو اوشرمولم . دا زړهٔ مې وائي چې يـو ګـرز تـرې اوباسه او ځان ترې خلاصه کړه . هغه دَ چا خبره چې "نہ رہے بانس نہ بجے گی بانسری"۔

مـس جميله:. نه احسان صېب ، دا خو سراسر زياتې دے چا چې تا سره



www.pukhto.net

دومره احسان اوکړو چې خپل مستقبل يې په خطره کښې واچوو او ته يې دَ افسرۍ کرسۍ ته اورسولے نو دَ هغهٔ ژوند ختمول غواړے.
احسان:. هغه ماسره هيڅ ښېګړه نه ده کړے، هغه دروغ وائي.
مس جميله:. ترڅو چې زماخپله تجربه ده نو هغه دروغ نه وائي ، هغه دومره تارچر شوے دے چې دَ انتقام په اور کښې سوزي . اګر چهٔ په دے کېس کښې تانه زيات نقصان هغهٔ ته رسېدے شي خو ستا دَ کردار کشۍ دَ پاره هغه خپلې سزا ته هم تيار دے.
احسان:. هغه زما کردار کشي کول غواړي ځکه چې ما هغه دامپر سونېشن په کېس کښې ګرفتار کړے دے او په هغهٔ مې ريمانډ اخستے دے . دې نه علاوه نورهيڅ نيشته . تهٔ بس دومره کار اوکړه چې دَ هغهٔ کېس دَ بد نيتي په بنياد خارج کړه .
مس جميله:. داسې نشي کېدې احسان صېب، هغه استغاثه کړے ده دَ هغهٔ فرياد به اورېدېشي. په دېکښې به وکيلان بحث کوي او دَ هغوي په قانوني نکات به دَ کېس نوعيت ته کتې شي. هغه حلف نامه هم داخل کړے ده او که تهٔ دَ هغهٔ غوندې حلفيه بيان ورکولے شے نو بيا يرېږے ولې ؟
احسان :. زهٔ نه حلفيه بيان ورکوم ، نهٔ په قرآن لاس اېدم ځکه چې دا زما دَ رېنك توهين دے .
مس جميله:. تهٔ به هغه په څهٔ ثبوت او کوم بنياد دروغ ژن ثابتوے؟ او زهٔ په کوم بنياد دَ هغهٔ استغاثه خارج کړم .





احسان :. دَ بدنيتۍ په بنياد.
مس جميله:. دَ هغهٔ بيان به خامخا اورېدېشي ، او که بالفرض زهٔ دَ انتهائي کم ظرفۍ نه کار واخلم او په خپل غېر قانوني مداخلت دَ هغهٔ کېس خارج کړم نو هغه په شريعه کورټ کښې هم ستا تعليمي سند چېلنج کولے شي، بيا به څهٔ کوے ؟ هلته خو به دواړه په قرآن لاس اېدی.
احسان:. جمېلې، ماخو په تا ډېر ناز کوو خو د دے مطلب دا شو چې دَ يوې خاص رشتې باوجود هم تهٔ زما مدد نشې کولے.
مس جميله:. تا ډېره صحي خبره اوکړه دَ رشتې په ډيلنګ زهٔ انصاف سره ډيلنګ نشم کولے البته که هغهٔ سره ستا روغه جوړه اوشي او هغه خپله استغاثه واپس اخستل غواړي نو بيا کېدېشي . دې نه علاوه بله هيڅ لاره نيشته .
احسان:. د دے مطلب دا شو چې تهٔ زما نه زيات په هغهٔ کښې دلچسپې اخستل غواړې . ځکه چې ...؟
مس جميله (په غصه) مسټر احسان ، په خبره شخوند وهه نو هله يې دَ خلې نه اوباسه . زهٔ نه هغهٔ کښې دلچسپي اخلم او نه په تا کښې. دَ انصاف په کرسۍ ماته ، تهٔ او هغه دواړه برابر يې البته زهٔ په قانون کښې دلچسپي اخلم او هغه به کېږي څهٔ چې قانوني جواز لري . تينك يو ، تهٔ تلے شے . هغه ډېر په غصه دَ هغې دَ کمرې نه اووتو او په تلو تلو کښې خپلې کرسۍ له لته هم ورکړه او ور له يې داسے جړك ورکړو چې اواز يې په ډيوټۍ ولاړ څوکيدار هم ووربدو .



www.pukhto.net

هلته ستارخان په کور کښې ډېر په شدت سره انتظار کوو ځکه چې هغۀ پسې دَ عدالت نه دَ پېشۍ دَ پاره سمن راغلے وو او په مقرر تاریخ ورته عدالت ته دَ حاضرېدو حکم ورکړے شوے وو. احسان چې کور ته اورسېدو نو رسېدو سره ستارخان خپلې کمرې ته اوغوښتو. هغه چې دَ هغۀ کمرې ته ورغے نو هغۀ ورته دَ مس جمیله سره دَ ملاقات او هغې سره دَ خبرو اترو تولـه خبره اوکړه. هغۀ چې دَ هغۀ بیان واورېدو نو دَ مس جمیلـه نـه ډېر مایوسه شو خو امان سره دَ روغې جوړې په ځائے دَ هغۀ په خله هم هغه خبره راغله کومه چې دَ مس جمیله په مخکښې دَ احسان په خلۀ راغلې وه البته دَ دوارو په خبرو کښې فرق دا وو چې احسان دَ ځائے او وخت دَ تعیّن اظهار نه وو کړے او ستار خان دَ پېشۍ نه مخکښې مخکښې په یو داسے ځائے کښې دَ هغۀ دَ مرګ پېش ګوئي اوکړه چې دَ هغۀ سلے معلوم نشي او دَ پولیس دَ لانجو ګونجو نه بچ شي.

دَ احسان دَ تلو نـه پس هغـه موبائیل اوچت کړو او یو نمبر یې پرې ملاؤ کړو چې رېنګ ورغے نو په پُر اعتماده لهجه کښې یې اووے، "هېلو انځرګله چرته یې، هېو پته دے نۀ لګي ... څۀ؟ اودے نۀ پېژندم؟ زۀ ستارخان خبرې کوم.

اواز:. جي جي، حکم خان جي؟

ستارخان:. حکم نـه، خواست، او هغـه دا چې ته راشه چې خپله صدقه دے هم یوسے او دَ قربانۍ یو ګډورے هم قرباني کړے.





اواز:. دَ قربانۍ ګډورے؟

ستارخان (خاندي) هاؤ هاؤ. زۀ دَ خپل زوړ منشي امان خبره کوم. هغه مانه باغي شوے دے، ته راشه چې هغه قرباني کړے.

اواز:. ډېره ښه ده، زۀ به ورځ دوه کښې درشم.

ستارخان چې انځرګل ته کوم کال کړے وو هغه دَ انځرګل په ځائے امان تـه لاړو ځکـه چې هغـۀ خپـل موبائیل امان له ورکړے وو او دَ انـځرګل په ځائے ورسره هغۀ خبرې اوکړے. ستارخان سره دَ خبرو نه پس هغـۀ تـه دَ هغۀ دَ خفیه تعلقاتو او دَ هغۀ خلاف دَ هغۀ دَ بدنیتۍ پته اولګېده. اوس دَ انځرګل په خبره دَ هغۀ ښۀ پوخ یقین اوشو چې دَ هغۀ دَ هغوي تـنـظیم سره ښۀ ژور تـعـلقات دي. هغۀ سره خپله یره ملګرې شوه. په دې وجه هغۀ غوښتل چې زر تر زره هغه انځرګل دَ هغۀ د خبرو نه خبر کړي. هغۀ په هم هغه وخت هغۀ ته کال اوکړو او دَ ستارخان دَ خلې تولـه خبره یې ورته ټکے په ټکے اوکړه. هغۀ، هغۀ له تسلي ورکړه او هغۀ سره یې دَ لیدو کتو وعده اوکړه.

بلـه ورځ هـغـۀ دَ معمول مطابق علي رحمان سره څاروي سرول چې دَ ستارخان ناظر پـه موټر سائیکل سور راغے او هغۀ ته یې اووے، "امانه، خان جي دے غواړي، وائي چې زر راشه".

امان:. دَ خان جي ماسره څۀ کار کېدېشي چې ماغواړي؟

ناظر:. دغـه مـعـلـومـات ماته نیشته خو داسې معلومېږي چې ستا څوك مېـلـمانـۀ دَ جرګې طورخان جي له راغلي دي او ستاسو جوړه



www.pukhto.net

کول غواړي . راځه ماسره په موټر سائیکل کېنه چې درې اورسوم.

امان:. مېلمانهٔ کوم ځائے دي.

ناظر:. مېلمانهٔ او خان جي په لسم نمبر بهټۍ کښې دي اوستا انتظار کوي . امان هغهٔ سره په موټر سائیکل کېناستو او چې یوه شیبه تېره شوه نو دَ ستارخان دَ دفتر مخې ته یې کوز کړو . هغه دَ خپل دفتر مخې ته په یوه کرسۍ ناست وو، په مېز ورته دَ چایو پیالۍ پرته وه او دَ بهټۍ منشي ورتـه مـخامخ په بله کرسۍ ناست وو. هغهٔ چې هغه اولیدو نو مُسکے شو او ورتـه یې اووے ، "راځـه امانـه راځـه ، تالـه مو ځکـه تکلیف درکړو چې ستا مېلمانهٔ راغلي دي او تاسره لیدل غواړي".

امان:. زما مېلمانهٔ ؟

ستارخان (مُسکے شي) یرېږه مهٔ ، چایې ډوډۍ پرې ماکړے ده او بنهٔ مې مارهٔ کړي دي خو صرف تاسره لیدل غواړي . راځه کېنه ، منشي دَ کرسۍ نه پاسي او هغه پرې کېني . بیا منشي ته وائي، "تهٔ ورشه هلکه ، دَ دهٔ هغه مېلمانهٔ راؤغواړه". دَ هغهٔ دَ تلو نه پس شپږ کسان مسلح نقاب پوش دَ یوې کوټې نه را اووتل ، دَ هغهٔ نه چاپېره اودرېدل او ټولو دَ ټوپکو شپېلۍ هغهٔ ته اونیوے . هغهٔ چې واره په واره هغوي ته اوکتل نو رنګ یې تك زیړ شو . تر دغه وخته پورې دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دَ انځرګل دَ تسلۍ په وجه څهٔ امید وو خو اوس هغهٔ په زړهٔ اوخوړه چې یاخو انځرګل هغهٔ سره دهوکه اوکړه یا دَ هغهٔ په راتلو کښې تاخیر اوشو یا دَ بـل ګـروپ کسان دَ هغهٔ مرګ پسې راغلل . دَ هغهٔ په یره ستارخان





مُسکے شو او ورته یې اووے ، "اودے پېژندل خپل مېلمانهٔ ؟"

امان:. نه خان جي ، اومې نه پېژندل .

ستـارخـان:. عـجیبـه بـې مـروته انسان یې ؟ دوي خو ستا لیدوله دَ ډېر لرې نه راغلي دي او تا یې دَ پېژندګلو نه انکار اوکړو .

امـان:. داسې معلومېږي چې دوي زمانه بلکه ستا مېلمانهٔ دي ځکه چې مانه ستر کو ي . یـو مسـلـح نـقاب پوش دَ هغهٔ په سینه دَ ټوپك شپېلۍ اېږدي او وائي ، "بکواس بند کړه ګینې اوس درله خله بندوم "

امان ، ستارخان ته ګوري او وائي ، "ماوے چې زما مېلمانهٔ نه دي . . . مېلمانهٔ دَ چا خلهٔ نه بنده وي بلکه بنکلوي یې. بهرحال ډېره مهرباني زهٔ به درنه لاړم شم ".

ستارخان :. دَ تلو نه مخکښې دوي سره خبره سپینه کړه .

امان :. دوي ماته څهٔ وېل غواړي .

یو مسلح سړے :. تا په احسان خان استغاثه کړے ده ، هغه واپس واخله.

امـان:. دا څـهٔ دومره لویه خبره نه ده چې تاسو له یې تکلیف درکړو . دا خـو کـه خان جي مـاتـه دَ یـو نـوکـر پـه خـلـهٔ هم وېلے وے نو ماخپله استغاثه واپس اخستے شوه . بله خبره شته که ځم درنه .

ستـارخـان :. بـلـه خبره دا ده چې تـهٔ ، ستا پلار او دَ فقیرې ټول ټبر خپلې کډې واخلـۍ او مـاتـه کـورخالي کـړۍ ګـینـې سبا سحر به په دغه کور ټرېکټر ګډېږي ، دغه کور به ورانېږي او دغه ټوله زمکه به اړولې کېږي .

امان:. چې دغه کور نه کډه واخلو نو چرته به ځو ؟



www.pukhto.net

ستارخان:. دغه ستاسو مسله ده ، زمانه ده .

امان:. ټیك ده خان جي ، ډېر ښه ده ، زۀ به ترېنه خپله کډه واخلم او ځم ترېنه خو دَ فقیر بابا دَ تېر ذمه واري زۀ نشم اخستے .

ستارخان:. هغوي به تۀ مجبور وے . دَ جرګې دَ فېصلې مطابق دَ هغوي ټول جائېداد زما په قبضه کښې دے .

امان:. خان جي ، دَ جرګې دَ فېصلې مطابق که هغوي په اتهو کالو کښې ستا قرضه ختمه نکړه نو دغه جائېداد به تاته پاتے شي. ستا په مقرره وخت کښې لا شپږ میاشتې هم نه دي تېرې شوې. تۀ به اونیمه کاله نور هم انتظار کوے .

ستارخان:. زۀ دومره انتظار نشم کولے . ماسره اوس خبره ختمه کړه.

امان:. ګوره خان جي ، لږ خپل ګرېوان کښې اوګوره او زما متعلق لږ سوچ اوکړه چې ما ستا دَ پاره څۀ څۀ نه دي کړے . ماستا پېسه پېسه دَ منشیانو نه اوشوکوله او تاله مې درکړه ، ما ستا دَ فائدې دَ پاره ځان دَ تپیریانو ، خرکارانو ، ډرائیورانو او دَ مزدورانو مخ تورن کړو ، ماستا دَ زوي زوي سیالې بې پېسې بې ټکې پوره کړه او سره د دے هم تا په ما باندې دَ اتهه لاکهه روپو دَ غبن الزام اولګوو حالانکه دغه روپۍ مانه شو کېدلې دي خو زۀ امید کوم چې په کال کښې دننه دننه به زۀ ستا ټوله قرضه ختمه کړم .

ستارخان :. نه خانیه نه ، ستا ضمانت فقیري کړے دے چې هغه لاړو مړ شو نو اوس به یې دَ چانه اخلم .





امان:. خان جي هغه مړ شو خو زۀ لا ژوندے یم. زۀ هرڅۀ ته تیار یم.

ستار:. ستا څۀ پته لګي، که شپه په شپه اوتختے نو بیا؟

امان:. دے دَ پاسه زۀ څۀ اوکړم خان جي او که هسې راته اوبۀ خړه وے نو هغه بیله خبره ده . دے راغلو مېلمنو ته حکم اوکړه چې ګوتې راکاږې او خبره مې ختمه کړي، دَ هغۀ په خبره دَ هغۀ نه چاپېره ټول مسلح کسان ټوپکے لوډ کړي او دَ هغۀ په سر، سینه ، خېټه او دَ بدن په نورو برخو اړدي . هغه مخامخ ولاړو کسانو ته واره په واره ګورې بیا سترګې پټې کړي او ځان سره وائي ، بابا ، سبا له به ستا دَ کوټې دېوالونه غورځېږي ، زۀ درنه روان یم ، ته هم ترېنه اوځه ، هسې نه چې دَ دېوال لاندې شے ، بیا بسم الله اووائي او دَ کلمه شهادت ورد شروع کړي دَ هغه په کلمه شهادت ستارخان په کړس کړس خاندي او وائي ، "یه هلکو ، ګورېی ډز اونکړی ګښې دنیا به راباندې خبر شي . پښې لاس ورله اوتړی او دَ کوټلې دغه بهتی ته یې وراولی چې هډوکي یې ایره شي او هیڅ بېلګه یې پاتې نشي( منشي ته) ورشه منشي د دغه کوټې نه یو پړے راؤړه ، ورشه ورشه "منشي چې پړے راؤړو نو یو مسلح سړي له یې ورکړو . مسلح سړے هغۀ ته وائي ، "هلکه تۀ دے ځاے نه ځه ، د دے منظر کاتۀ تۀ نشے برداشت کولے" چې هغه روان شي نو ستارخان وائي ، "زۀ به هم درنه لاړشم چې ستاسو هغه انعام اوشمېرم".

مسلح سړے :. نه خان جي ، دَ هغې دَ شمېرلو ضرورت نیشته ، هغه مونږ



www.pukhto.net

شمېرلے دے او په خپل ګاډي کښې مو ایښلے دے . ته کښه چې دا منظر په خپلو سترګو اووینې او زمونږ په ایمانداری دے یقین پوخ اوشي .

دویم مسلح سړے :. هلکه خان جي په زړهٔ نازك دے . سترګې ورله اوتړی ، ستارخان څهٔ وېل غواړي خو اونه وېلے شي . یو مسلح سړے دَ هغهٔ سترګې تړي ، هغه اګرچهٔ وارخطا شي خو خپله یره دَ هغوي نه پټه اوساتي په خندا خندا وائي ، "یَه هلکو، خیال کوی هسې نه چې دَ خر په ځائے کولال اوداغی " .

یو مسلح سړے :. د دے کولال په خلهٔ مو ډېر خرونه داغلي دي "اوس دَ دهٔ وار دے " بیا ورله په هغه پړي پښې لاس تړي کوم چې دَ امان دَ تړلو دَ پاره راوړے شوے وو. چې هغهٔ کلك اوتړلے شي نو بیا ورله سترګې پرانیزي "یو مسلح سړے وائي ، هغه تنور ته یې بوځي چرته چې د کوئلې اور بلېږي". ستارخان چغې وائي، "یه هَلکو ، خدائے قرآن ته اوګوری ما پرېږدی ، ماسره دا توقې مهٔ کوی ، زهٔ دَ زړهٔ مریض یم ، هسې نه چې دریاندې تاوان شم . څلور کسان هغه اوچتوي او هغه تنور له یې رسوي کوم چې هغهٔ دَ امان دَ سېزلو دَ پاره خوښخ کړے وو. هغهٔ چغې وهې او په چغو چغو کښې وائي، "یَه انځرګله ، تهٔ خو اوښیار سړے یې ، په خُدائے به شي او په تا بشي دَ دوي نه مې خلاص کړه ".

امان لا هغسې پټې سترګې ناست وو خو چې دَ انځرګل نوم یې واورېدو نو سترګې یې اوغړولے او هغوي ته یې اوکتل . نقاب پوشو دَ مخونو نه نقابونه لرے کړي وو او دَ هغه نه چاپېره ولاړ وو . امان





چې ستارخان په دغه حالت کښې اولیدو نو ورمنډه یې کړه . دَ هغهٔ پښې لاس یې پرانستل او هغهٔ یې پاسوو . دَ هغهٔ جامې یې اوڅنډلے او هغه یې په خپله سهاره کرسی ته اورسوو . دَ هغهٔ منشي ، ناظر ، مزدوران او تېپریان دَ هغهٔ تماشې ته ولاړ وو خو دَ هغهٔ خوا له څوك هم نه ورتلل . امان په مېز پروت دَ اوبو ګلاس اوچت کړو او هغهٔ ته یې اونیوو خو هغهٔ دَ اوبو څکلو جرآت نشو کولے، پټې سترګې په کرسی کښې ناست وو او دَ سترګو نه یې اوښکې بهېدې . هغهٔ په خپله لمنه دَ هغهٔ اوښکې اوچې کړے او ورته یې اووے ، "خان جي، ماته اجازت دے تلے شم" هغهٔ په خلې څهٔ جواب ورنکړو خو په سر ړکولو یې اجازت ورکړو . دَ اجازت نه پس هغه ډېر په تیزی سره دَ هغه ګاډي په طرف روان شو په کوم کښې چې انځرګل او دَ هغهٔ ملګري ناست وو او دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار یې کوو . هغه ، هغوي سره په ګاډي کښې کېناستو او چې ګاډے روان شو نو بیا دَ خان جي خواخوږي دَ هغهٔ خوا له ورغلل او دَ هغهٔ اوږې او پښې یې منډلے. انځرګل او دَ هغهٔ ملګري دَ کوچنې سلام له دَ هغهٔ کوټې ته ورغلل خو هلته ډېر ایسار نشو. البته په تلو تلو کښې یې دَ هغهٔ دَ خلې جُوته اوبهٔ دَ تبرك په طور اوڅکلے ، دَ هغهٔ لاسونه یې ښکل کړل او دَ هغهٔ دَ کوټې نه په دعا دعا اووتل . هغوي به ډېر لرے نه ووتلے چې دَ کلي په لوے جمات کښې دَ ستارخان دَ مرګ او جنازې اعلان اوشو.

☆☆☆



www.pukhto.net

## ﴿برخه﴾

دَ ستارخان په ناګهاني مرګ دَ هغهٔ کورنۍ ته لوے غم رسېدلے وو. دَ هغهٔ دَ مرګ وجه په ظاهره دَ هغهٔ دَ زړهٔ دوره وه خو باطني طور دَ هغهٔ ازار نتيجه وه چې دَ امان، کوچني استاذ او دَ فقير بابا دَ تولې کورنۍ دَ خلو نه دَ خېرو په شکل کښې وته او دَ هغهٔ په ژوندي سلې پرېوته. امان اګر چهٔ دَ هغهٔ دَ دعا دَ پاره دَ هغهٔ حجرې ته لانه رو خو په هديره کښې يې دَ هغهٔ دَ قبر په ويستو کښې او دَ هغهٔ په ښخولو کښې ښهٔ په مړانه کار اوکړو. دَ هغهٔ په نشانِ عبرت انجام هغه دَ قدرت په انتقام حېران وو. هغه سړے چې دَ کوټلې په اور کښې يې دَ هغهٔ هډوکي سېزل غوښتل، دَ دنيا نه دوه لاسه دوه پښې لاړو، هغهٔ پرې په خپله خاوړے وارولے او هغه لا هغسې ژوندے دے.

دَ هغهٔ دَ مرګ په درېمه په سېول کورټ کښې دَ هغهٔ پېشي وه، هغه چې عدالت ته حاضر شو نو مس جميله په عدالت کښې نه وه، البته دَ هغې په کرسۍ بله ججه ناسته وه. هغې چې دَ هغهٔ دَ امپرسونېشن فائل اوکتو نو مس جميلې په تلو تلو کښې دَ هغهٔ فېصله لېکلې وه. دَ فېصلې مطابق هغه دَ امپرسونيشن په کېس کښې درېو کالو دَ پاره دَ هر قسمه امتحان ورکولو دَ پاره نااهل شو او چا دَ پاره چې هغه امتحان ورکوو هغه دَ موجوده امتحان دَ پاره نااهل شو. نوې ججې هغه فېصله هغهٔ ته وورولو او دَ استغاثې په کېس کښې يې هغهٔ له دَ بلې پېشۍ تاريخ ورکوو خو کله چې هغه عدالت





ته دَ خپل کېس واپس اخستو خواست اوکړو نو هغهٔ ته اوويلے شو چې که هغه عدالت ته دَ تحريري درخواست په شکل کښې خپل خواست پېش کړي نو دَ هغه په درخواست غور کېدېشي. هغه چې دَ عدالت نه بهر اووتو نو په عرض نويس يې درخواست اوليکو او عدالت تهٔ يې يوړو، عدالت فوري طور دَ هغهٔ درخواست منظور کړو او هغهٔ ته دَ تلو آرډر اوشو. هغه چې دَ عدالت دَ کمرې نه اووتو بهر يې دَ عدالت دَ چپراسي نه دَ مس جميله په باره کښې تپوس اوکړو نو هغهٔ ته اوويلے شو چې هغې دَ خپلې عهدې نه استعفیٰ ورکړې ده. بهرحال هغه دَ دواړو کېسونو نه بې غمه شو او په خوشحالۍ خوشحالۍ کور ته روان شو. هغه چې کور ته اورسېدو نو دَ مابنام په ډوډۍ يې پلار ته دَ دواړو کېسونو په باره کښې تولې خبره اوکړه. هغه په دې ډېر خوشحاله وو چې دَ دواړو کېسونو نه بې غمه شو او مزدورۍ ته جوړ شو. هغوي ترناوخته پورې دَ ستارخان او دَ هغهٔ دَ کورنۍ متعلق خبرې کولے او په دغه خبرو خبرو کښې اودهٔ شو.

سحر چې هغوي ناشته اوکړه نو دَ ستارخان دَ کاروبار په حقله يې بيا خپلو کښې خبرې کولے چې په دېکښې يو موټر راغلې. او دَ هغوي دَ کوټې نه په لږه فاصله باندې اودرېدو. امان چې دَ کوټې نه سر بهر کړو نو دَ ګاډي نه سلېمان او احسان کوز شو. دَ کوزېدو سره يې دَ فقير بابا شارې زمکې ته او دَ هغهٔ کور ته اوکتل. هغوي ځان سره ځهٔ خبرې کولے او په دغه خبرو خبرو کښې دَ هغوي دَ کوټې په طرف



www.pukhto.net

روان شو . امان چې هغوي اولیدل نو دَ مخ پاڼه يې زېړه شوه . پلار ته يې په يره يره اووے ، "بابا ، دَ ستارخان زامن سلمان او احسان زمونږ په طرف کوتې ته راروان دي" هغۀ لا څۀ جواب نه وو ورکړے چې سلمان دننه شو او امان له يې بې اختیاره غاړه ورکړه . هغه لا هغه سره غاړه په غاړه وو چې احسان دَ هغۀ پښو ته ټيټ شو او دَ سلیمان نه پس هغه ته ورترغاړه وتو . دَ هغوي دواړو سترګې ډکې وې او په دغه ډکو سترګو کښې يې دَ هغۀ نه معافي اوغوښتله . احسان په ډېر اواز اووے ، "امان روره ، ما معاف کړه ، ما تاسره زیاتي کړے دے او دَ هغې دَ معافۍ دَ پاره تاله او ستا معذوره پلار له راغلے يم". بیا واره په واره دواړه کوچني استاذ ته ورترغاړه وتل او دَ هغۀ نه يې معافي اوغوښتله . هغوي دواړو هغه معاف کړو خو دَ نصیحت په طور ورته کوچني استاذ اووے ، "بچو ، اګر چه مونږ تاسو ته ازار نه دے کړے خو زمونږ زړونه ازار شوي دي ، دَ مظلوم دَ مظلومیت دَ هغه اه نه اوېرېږئ چې عرش معلّی پرې لړځېږي". بیا امان ،احسان ته اووے ، "احسان خان ، ماستا خلاف استغاثه واپس واخسته".

احسان :. جي ، امانه روره ، ماته پته لګېدلې ده او دَ هغې دَ شکریې ادا کولو دَ پاره او معافي غوښتو دَ پاره ستا کور ته راغلم . امانه روره زۀ خپل ضمیر ته دومره ملامته يم چې ما دَ خپلې عهدې نه استعفیٰ ورکړه .

امان:. عدالت کښې خبر شوم چې مس جمیله هم دَ خپلې عهدې نه استعفیٰ ورکړې ده .





احسان :. هغې صرف دَ خپلې عهدې نه استعفیٰ نه ده ورکړې بلکه ماته يې زما دَ کوبدن ګُتمه هم واپس کړے ده .

امان:. شاید زما په وجه تاسو دغسې اوکړل .

احسان :. څۀ لږه ډېره دا وجه هم کېدېشي خو ما استعفیٰ ځکه ورکړه چې زۀ دَ دغه عهدې اهل نه ووم او هغې استعفیٰ ځکه ورکړه چې هغې انصاف سره ډیلنګ نشو کولې .

امان:. اوس به شاید چې دَ خان جي کار تۀ سمبال کړے .

احسان:. ضرور . دَ هغه خلا پوره کېدې نشې خو که تۀ ماسره مرسته کول غواړے نو څۀ ګرانه نه ده .

امان (مسکے شي) نه احسانه روره . دَ مارخوړلې دَ پړې نه هم يره کېږي . دې سره هغوي خاندي او په خندا خندا رخصت واخلي او روانېږي . دَ هغوي دَ تلو نه پس امان غوښتل چې هغه علي رحمان سره دَ ښارو په سرند او دَ کور په خشاك کښې هغۀ سره مدد اوکړي ، هغه په دے غرض پاسېدو او دَ کوتې نه وتو چې دَ موټر سائېکل غږ يې وورېدو . موټر سائېکل دَ فقیر بابا دَ کوتې چنې سره راووختو او دَ هغوي دَ کوتې په طرف راروان شو . چې دَ هغۀ خوا له اورسېدو نو اودرېدو او دَ کوزېدو سره يې هغه ته اووے ، "نن رانه نشے خلاصېدے" هغۀ سره دَ روغ جوړ نه پس هغۀ دَ کوچني استاذ سلام اوکړو او وئے وئیل " د دے پلار په مخکښې درته وېم چې زما غاړه خلاصه شي ،چې په "وو ،"نا" پوهـ شم او خبره يوخوا ته شي . دې نه



www.pukhto.net

پس هغه کوچني استاذ ته هغه ټولې خبرې اوکړې کومې چې یو څو ورځې مخکښې دَ هغوي ترمینځه شوې وې . کوچنے استاذ چې دَ هغه په خبره پوهـ شو نو امان ته یې اووے ، "امانه بچے ، دَ دے مېلمه خبره بده نۀ ده ، ترور دے وراولېږه چې هغه یې اووینې".

منشي:. استاذجي ، خپله پښتو اجازت نۀ راکوي ګینې دے به مې په خپله کور ته بوتلے وو، دے هم ماته لکه دَ خپل اولاد ښکارې خو بیا به دَ خلقو دَ خلو نه څنګه خلاصېږم . استاذجي دَ هغوي غوښتو پسې خلق ځي راځي خو زۀ وېم چې مخکښې پکښې دے دَ خپلې خوښخې او میرېې نو نورو سره به ګورو . استاذ جي، ستا په مخکښې ورته په اخرې ځل وېم چې که نن نه پاتے شوه نو بیا به مانه ګیله نه کوے .

امان:. ځه ټیک ده نن مازیګر به مونږ درشو .

منشي :. ښه نو اوس ماله اجازت راکړه چې زۀ درنه ځم .

امان:. منشي صېب ، چایې اوڅکه نو بیا ځه .

منشي:. نه بیا به شي ، اوس درنه ځم ډېر کار راته پروت دے ، دې سره هغۀ دَ هغوي نه اجازت واخستو او روان شو . دَ هغۀ دَ تلو نه پس دلبرو ترور راځي ، دَ چایو لوښي غونډه وي او دَ کوټې نه اوځي خو په تلو تلو کښې هغۀ ته وائي ، "امانه زویه ، دے چینك کښې خو چایې شته که څکل غوارے چې توده یې کړم درله".

امان:. که لږه مخکښې راغلے وے نو هغه مېلمه له به دې ګرمه کړې وه .





دلبرو ترور (مسکی شي) هسې یو تپوس درنه کوم چې دا مېلمه څوك دے چې په تلو راتلو یې لارې سترې کړے .

امان (مسکے شي) هاؤ رشتیا ځان تیار کړه ، مازیګر به هغوي کره ځو.

دلبرو ترور :. دا څوك دے او څۀ پسې به ځو.

امان(مسکے شي) بابا نه مې تپوس اوکړه پوهـ به دې کړي.

دلبرو ترور :. (کوچني استاذ ته) استاذ جي ، دا زوے دے څۀ وائي؟

کوچنے استاذ:. هاؤ خورے ، دا سړے چې اوس یوه شېبه مخکښې راغلے وو لاړو ، د دۀ پنځه لوڼه دي، تۀ او امان مازیګر ورشی که ستا پکښې څوك خوښخه شوه نودۀ دَ پاره یې ترېنه اوغواړه ".

دلبرو ترور (خاندي) لاړه به شم ، اوبه یې وینم خو که زماخوښخه شوه او د دۀ خوښخه نشوه نو بیا ؟

امان:. زما ستا په خوښخه خوښخه ده خو دا خیال ساته چې کم از کم یوه نښخه پکښې دَ ګل ناز وي. دَ هغۀ په خبره دَ هغې سترګې ډکې شي او د دغه ډکو چینو نه دوه غټې غټې اوښکې دَ هغې په مخ راماتي شي. هغه زر زر خپلې اوښکې اوچې کړي او وائي ، "امانه زویه ، مازیګر به چرې وي . زۀ دَ هغې پورې انتظار نشم کولې ، ته ګاډے تیار کړه زۀ بورقه راخلم نو ځو". دَ هغې په بې صبری امان او کوچنے استاذ دواړه مسکي شي . هغه کور ته په خوشحالی خوشحالی روانه شوه . لږه شېبه پس بورقه په سر را اووته ، هغه سره په موټر سائیکل کښناسته او روان شو . چې کله هلته اورسېدل نو



www.pukhto.net

هغهٔ موټر سائیکل یو خوا ته اودرو ، هغه یې کوزه کړه او دَ منشي کور یې ورته په گوته کړو. هغه منشي کره په داسې وخت کښې ورغله چې هغه ، دَ هغهٔ ښځه او لونه غونډې ناستې وې چایې یې هم څکله او خپلو کښې یې توقي تقالې هم کولې . دَ هغې په ورتلو تولې پاسېدې او هغې سره یې روغ جوړ کول . په دغه روغ جوړ کښې هغې دَ تولو جینکو جائزه واخسته ، او دَ یوې په سر یې لاس کېښودو دَ روغ جوړ نه پس ورته دَ منشي ښځې اووې ، "رائحه خورې ، چایې تیاره ده . رائحه کېنه چې چایې اوڅکې " هغه مسکې شوه او ورته یې اووې ، "چایې به درنه څکم خو سره دَ حلوا "(هغوې تول خاندي) منشي په خندا خندا کښې ښځې ته وائي، "خور له مې ښه ډېره حلوا پخه کړه چې په خپله هم اوخورې او کورته ئې هم یوسې" دَ هغهٔ په خبره تولې جینکې پاسېدې او دَ نغرې نه چاپېره کېناستې اوپه خندا خوشحالۍ یې په غونډه حلوا پخوله البته منشي او دَ هغهٔ ښځه هغې سره ناست وه او خبرې یې کولې . په خبرو خبرو کښې هغوې نېټه هم کېښوده او دَ وادهٔ په ورکړه راکړه هم خبرې اوشوې . یو ځل دَ منشي په خلهٔ راغله چې امان هم چایو دَ پاره کورته راؤغوړي خو دَ هغهٔ ښځې او دلبرو ترور هغه منعې کړو . دَ هغوي خبرې لا روانې وې چې حلوا پخه شوه . هغوي لړه شان هغې ته په تالي کښې واچوله او دَ هغې مخې ته یې کېښوده او نوره ډك دېگچې یې په دسترخوان کښې اوتړو . چې هغې چایې اوڅکله نو منشي ورله خپل موبائېل





نمبر ورکړو او ورته یې اووې ، "که نېټه کښې څهٔ مخکښې روستو کول غواړې یانوره څه خبره وي نو ماسره رابطه کوې ". دې نه پس هغوي دعایې خېره اوکړه او هغه سره دَ دېگچې دَ هغوي دَ کوره اووته. امان دَ هغې په انتظار کښې یو خوا ته ولاړ وو . هغې دَ ورتلو سره هغهٔ له مبارکي ورکړه ، دواړه په موټر سائیکل کېناستل او کورته روان شو چې کورته اورسېدل نو هغې کوچني استاذ له مبارکي هم ورکړه او دواړو له یې په خلو کښې دَ حلوا نوړې هم ورکړې . امان هغې ته په مُسکا مُسکا تپوس اوکړو، "تروري ، ماتاته یوه خبره کړې وه " دَ هغهٔ په خبره هغه مسکې شوه او وې وئېل ، "هاؤ، ما دَ هغې څهٔ ناڅهٔ خیال ساتلې دې. هغسې نه ده خو دَ هغې نه کمه هم نه ده ". دې سره هغه کورته روانه شي .

دلبرو ترور دَ امان په نیوکه ډېره خوشحاله وه . هغې ته داسې محسوسه شوه چې دَ هغې دَ خپل زوي عارف جمال وادهٔ دے . هغې غوښتل چې دَ هغهٔ وادهٔ ښهٔ په ډنگ ډونگ اوکړي خو دَ خپل خاوند مرحوم فقیر بابا دَ مرګ په وجه هغې دغسې نشو کولے. بل خوا کوچني استاذ او امان هم غوښتل چې وادهٔ په انتهائي ساده طریقه اوشي . دوه څلور مشران او دوه څلور زنانه په جنج لاړې شي، نکاح اوتړي او ناوې کورته راولي . فقیر بابا چې ژوندے وو نو دَ هغهٔ په پنشن دَ هغوي ګزاره کېده خو چې هغه مړ شو نو دَ هغوي ګزاره ګرانه شوه . اوس دَ هغوي دَ کور خرچه امان کوله او هغه دَ چا خبره



www.pukhto.net

چې "لړاؤ څټاؤ" کېدو خو دَ وادۀ خرچه یې نشوه برداشت کولے. امان ته دومره معلومات وو چې دَ هر پنشني دَ مرګ نه پس دَ هغۀ کونډې ته یا څۀ بل وارث ته پنشن ملاوېدېشي. هغۀ چې دا خبره دلبرو ترور ته اوکړه نو هغه ډېره خوشحاله شوه. بله ورځ امان دَ فقیر بابا پنشن بك او دَ هغۀ نور کاغذونه ځان سره واخستل، دلبرو ترور یې ځان سره کړه او سولجر بورډ ته لاړل. هلته دَ فقیر بابا پنشن بك، دَ هغۀ ټول کاغذونه او دَ هغۀ زوړ ریکارډ چېك کړے شو. دَ دلبرو ترور په نامه نور کاغذونه تیار کړې شو، دَ هغې ګوتې او شناختي کارډ نمبر پرې اولیکلے شو او دَ هغوي په مخکښې سنټر ته اولېږلې شو. هغوي ته اوویلے شو چې څلور پنځه ورځو کښې دننه دننه به دَ هغوي کار اوشي. او هم دغسې اوشوه. هغوي دَ وادۀ په تیارۍ کښې مصروف وو او بازار ته تلل راتلل. په پنځمه ورځ چې هغوي سولجر بورډ ته ورغلل نو دَ هغې پنشن بك جوړ شوے وو او په هغې کښې دَ شپږو میاشتو بقایا جمع شوې وه. هغوي دَ سولجر بورډ نه پنشن بك واخستو، جنرل پوسټ آفس ته لاړل او دَ شپږو میاشتو بقایا یې وصول کړه. دلبرو ترور چې دَ پنشن پیسې واخستې نو ډېره خوشحاله شوه. بیا بیا به یې دَ هغۀ شکریه ادا کوله او بیا بیا به یې هغۀ ته دعاګانې کولې. په دغه دعاګانو او خوشحالۍ کښې هغوي مازیګر کور ته اورسېدل. هغوي لا دَ لارې دوره دَ ځان نه څنډله او پلار سره یې دَ دلبرو ترور دَ پنشن په باره کښې خبرې کولے چې یو موټر





سائیکل دَ هغوي دَ کوټې مخې ته اودرېدو او دوه کسان ترېنه کوز شو. دَ یو کس په لاس کښې دَ مېټهائي ډبلے وو او دَ بل په لاس کښې دَ کپړې ګوتې وه. امان هغوي اونه پېژندل خو هغوي هغه پېژندو. امان چې هغوي سره روغ جوړ اوکړل نو هغوي کوچني استاذ له ورغلل، هغۀ سره یې روغ جوړ اوکړل او دَ هغۀ تندے او لاسونه یې ښکل کړل او په دغه ښکلولو ښکلولو کښې هغوي هغه له مبارکي ورکړه. کوچني استاذ هغوي په خبرو اوپېژندل. په هغوي کښې یو اخترحسین اختر وو او بل توحید کهوال وو. دَ هغوي په مبارکۍ کوچنے استاذ مُسکے شو او اخترحسین اختر ته یې اووئېل، "په هلکه اختره، تاسو چاخبره کړئ، مونږ خو لاچاته وېلے نه دي".

اخترحسین اختر:. استاذ جي، زۀ ستا په خبره پوهـ نشوم.

کوچنے استاذ(مسکے شي) زۀ ستاسو په مبارکۍ پوهـ نشوم.

اختر حسین اختر:. استاذ جي اکبرخان اکبر ته صدارتي اېوارډ هم ورکړے شو او لس لاکهه روپۍ انعام هم ورکړے شو. اېوارډ مو هغۀ ته پرېښودو او لس لاکهه روپۍ مو دَ هغۀ نه واخستے او تاله مو راوړے" هغه دَ کپړې ګوتې سپړې، روپۍ ترېنه راؤباسي او دَ هغۀ په غېږ کښې یې اېږدي. کوچنے استاذ په جذباتي انداز کښې وائي، "لس لاکهه روپۍ؟ یاالله ستا ډېر ډېر شکر دے چې تامونږ سره دَ غېبو نه امداد اوکړو." توحید کډوال هغۀ له په خله کښې دَ مېټهائي دانه ورکوي او ورته وائي، "استاذجي، دا زما دَ طرفه مبارکي".



www.pukhto.net

کوچنے استاذ:. ستاسو دَ تولو دے مبارك شي. دا ستاسو خپله کامیابي ده ، بیا اخترحسین اخترته وائي، "اختره زویه ، ماته یوه مغالطه شوي وه او هغه دا چي یوه هفته مخکښې مونږ دَ امان دَ وادهٔ نېټه ایښې ده خو لا څوك مو خبر کړي نه دي. ماوے چې تاسو څنګه خبر شوی .

اخترحسین اختر :. مبارك شه استاذ جي، دا خو ډېره دَ خوشحالی خبره ده . نېټه کله ده ؟

امان:. دا راتلونکے اتوار .

اخترحسین اختر:. ډېره ښه ده . ستاسو دے مبارك شي او خُدائے دے درته ډېري ډېري خوشحالی اوښائي . استاذ جي په دېکښې به یوه لویه مشاعره کوو . ښهٔ استاذ جي اوس به درنه مونږ لاړشو او انشاء الله وادهٔ له به راځو .

کوچنے استاذ:. وادهٔ له نه بلکه دَ وادهٔ نه به دوه ورځې مخکښې راځی .

اختر حسین اختر (خاندي) مخکښې به څکه راځو چې شامیانې به لګوو، ستېج به جوړوو ، دَ بجلی انتظام به کوو . ښهٔ جي مونږ درنه ځو چې خپل ملګري خبر کړو او هغوي ته خپل خپل کار اوسپارو. "دې سره هغوي دَ هغوي نه اجازت اخلي او روانېږي ".

دَ هغوي دَ تلو نه پس دلبرو ترور راځي او امان ته وائي، "امانه زویه، دا میلمانهٔ څوك وو چې داسې اوچې خلې درنه لاړل ، نه چایې ، نه شربت او نهٔ ډوډی ".

امان:. تروري ، دا هغه باضمیره خلق دي چې دَ چا په چایې ډوډی نه





خوشحالېږي بلکه په روڼ تندي خوشحالېږي . دَ دوي خوشحالي دا وي چې دوي سره په خندہ رویه خله خبرې اوشي ، په قومي مسلو، قومي خدمت ، دَ غریب په غربت او دَ مظلوم په مظلومیت خبرې اوشي ، . . . دَ دوي دَ ټولو نه لویه خوشحالي دا وي چې دَ دوي دَ تخلیقي صلاحیتونو قدر اوکړې شي او دَ زړهٔ دَ اخلاصه داد ورکړے شي. دا هاغه باضمیره خلق دي چې دَ خپل ذاتي غم نه بې پروا دَ بل په غم ژړېږي او دَ بل په سر جنګیږي ." دلبرو ترور دَ هغهٔ مخې ته ګم سم ولاړه وه او دَ هغهٔ جذباتي خبرې یې اورېدې . په ظاهره یې ورته سر ړکوو خو په اصل کښې په هیڅ نه پوهېده چې هغه څهٔ وائي او دَ چا په باره کښې وائي ؟ دَ هغهٔ تقریر لا جاري وو خو هغه په دے انتظار کښې وه چې کله به دَ هغهٔ په خبرو کښې وقفه راځي او کله به ترینه ځان خلاص کړي . کله چې هغهٔ په خپلو خبرو کښې ساه واخسته نو هغې دَ دغه موقعې نه فائده واخسته او ورته یې په معصومانه مُسکا اووې، "امانه زویه زهٔ ستا په خبرو نه پوهېږم ". دَ هغې په لاعلمی هغه مسکے شو او ورته یې اووے ، "تروري ، دَ بابا خوا له مې ورشه ، هغه به دے پوهـ کړي". کوچني استاذ ته لکه چې دَ خبرې موقعه ملاؤ شوه ، هغهٔ ورته په مُسکا اووے ، "دا ښهٔ ده چې راغلي خورې . راشه دا پېسې هم کورته یوسه او دَ میهتابي دا ډبلے هم یوسه ". دلبرو ترور چې دَ روپو بنډلونو ته اوکوري نو په حېرانتیا وائي، "اوه ، دا دومره ډېري روپی ، دا چرته وې؟ دا دے میلمنو



www.pukhto.net

راؤړے؟ دا یې دَ وادهٔ دَ پاره قرض درکړے ؟"
کوچنے استاذ:. نه خورې، دا قرض نه دي بلکه غیبي امداد دے ، دَ الله د طرفه راغلے دے او دغه مېلمنو راؤړے دے . . . د دے مطلب دا شو چې دَ امان ترون مونږ دَ پاره بختور شو. هلته دَ وادهٔ نېته کېښودے شوه او دلته غیبي امداد راغی.
امان :.بابا که یو بل زېرے مې درباندې اوکړم نو نوریه هم خوشحاله شے.
کوچنے استاذ :. هغه څنګه بچے ؟
امان:. بابا ، دَ فقیر بابا دَ تلو نه پس دَ هغهٔ پنشن دَ ترور په نوم شو، دَ شپږو میاشتو پنشن یې یك مشت واخستو او نور به میاشت په میاشت اخلي .
کوچنے استاذ:. دا خو ډېره دَ خوشحالۍ خبره ده ، مبارك شه خورې.
دلبرو ترور :. ستا دے مبارك شي روره . دا دَ امان په منډه تړړه او شو ګینې زهٔ په دغه لانجو څهٔ پو هېږم .
کوچنے استاذ:. دا روپۍ واخله خورې او ټولې دَ امان په وادهٔ اولګوه.
امان:. بابا ، که زهٔ درته یو خواست اوکړم نو اویه یې منے ؟
کوچنے استاذ:. که معقول وي نو ولې نه . ضرور به یې منم .
امان:. بابا ، دَ فقیر بابا دا شاړ ارت څهٔ موده مخکښې چلېدو او دا شاړه زمکه پرې اباده وه . دَ هغهٔ دا ارمان وو چې دا شاړه زمکه بیا اباده شي. دا زمکه اوس دَ هغهٔ دَ تربورانو نه ازاده شوه او دَ ستارخان دَ قبضې نه هم ازاده شوه ، که تاسو غواړۍ نو دَ هغهٔ دا ارمان پوره کولے شی .
کوچنے استاذ(په جذباتي انداز) څهٔ زبردسته خبره دے اوکړه زویه،





چې دا زمکه اباده شي نو مونږ ټول به اباد شو .
امان:. بابا ، که ستاسو خوښخه وي نو زهٔ به دَ بجلۍ بندوبست اوکړم او په دے ارت به ټیوب وېل اولګوو . دَ هغهٔ په امید افزا خبرو دَ دلبرو ترور په سترګو کښې دَ خوشحالۍ اوښکې څې راڅي . کوچنے استاذ هغهٔ ته دَ مشورې په طور وائي ، " بچے ، په وادهٔ خو به هم څهٔ لږې ډېرې پیسې لګي ؟
امان :. نه بابا ،دَ وادهٔ مسله اسانه ده . منشي پسې به مې ترور لاړه شي او په ټوله خبره به یې پو هـ کړي خو زهٔ وېم چې دغه ټولې روپۍ په دے زمکه اولګي او دې نه باغ باړۍ جوړه شي . . .ستا څنګه خوښخه ده تروري ؟ " دَ هغې سترګې دَ خوشحالۍ دَ اوښکو نه ډکې وې او چې کله دَ هغې نه دَ هغې رایې اوغوستې شي نو هغه مسکۍ شي او مُسکا سره یې دَ سترګو ډبې اوښکې په مخ راماتې شي. هغه خپلې اوښکې اوچې کړې او وائي ، " امانه زویه ، دا ارمان دَ عارف جمال هم وو او دَ هغهٔ دَ پلار هم وو خو قدرت ته منظوره نه وه ، هغوي دواړه لاړل او لانجې ګونجې تاسو ته پاتې شوې . چې تهٔ دَ هغوي ارمان پوره کول غواړے نو دَ وادهٔ دَ خرچې غم مهٔ کوه ، زهٔ به ستا ټول ارمانونه پوره کړم . ستا دَ وادهٔ دَ سامان ذمه منشي کاکا اخستے ده او دَ مېلمنو دَ ډوډۍ دَ پاره مونږ سره خپل څاروي شته.
امان:. دغسې مې خوښخه ده . دا ټولې پېسې به په زمکه لګوو او دا به اباد وو. دا زما ارمان دے . "دې سره هغه مُسکۍ شي دَ کوچني



www.pukhto.net

استاذ دَ غېږ نه روپۍ اخلي ، کور ته روانېږي او په روانه کښې وائي، "خدائے دے ستا ټول ارمانونه پوره کړي" .
امان او کوچنے استاذ :. امین .

﴿ برخه ﴾

امان غوښتل چې دَ هغۀ وادۀ ډېر په ساده طریقه اوشي. دغه خیال دَ کوچني استاذ هم وو او دَ دلبرو ترور هم وو. هغوي غوښتل چې هغه چاته دَ وادۀ بلنه ورکړې شي دَ چانه چې دَ هغوي رغېدن نه کېږي . په دغه کسانو کښې دَ دلبرو ترور له اړخه دَ هغې دوه لوڼه وې، دَ امان له اړخه انځرګل او ګل پري وه او دَ کوچني استاذ له اړخه دَ کوچني ادبي ټولنې ملګري وو . دَ هغوي دَ اندازې مطابق دغه مېلمنو دَ پاره یواورغومے کافي وو . په دے تجویز هغوي ټول متفق شو او دَ کوچني استاذ دَ هدایت مطابق دَ بلنې وېنا دَ هغۀ دَ ملګرو نه شروع شوه . اخترحسین اختر ته دَ وادۀ بلنه ورکړې شوه او هغۀ ته اووېلے شو چې خپل ټول ملګري خبر کړي . دې نه پس هغۀ انځرګل ته کال اوکړو خو چې هغۀ سره رابطه اونشوه نو بیا هغه او دلبرو ترور ګل پري پسې لاړل . چې هلته اورسېدل او دَ ګل پرې کورته ورغلل نو هغوي ته داسې معلومه شوه چې دے کور نه کډه شوې ده . په کور کښې ورانه وراني وه ، غولي دَ خاورو خزلو نه ډك وو. امان ته بیا بیا دا احساس کېدو چې شاید هغوي پردي کورته راغلي وي . هغه چې دَ کور په غولي یو سرسري نظر واچوو نو یواړخ ته په کټ کښې یوه ښځه لکه دَ ژوندي لاش پرته وه





او دَ هغوي طرف ته یې کتل . هغه چې دَ تپوس په غرض دَ هغې خوا له ورغی نو دَ سترې مشي دَ پاره یو اوچ لاس هغۀ ته اونیولے شو. هغۀ چې هغې له لاس ورکړو نو هغې دَ هغۀ لاس کللك اونیوو لکه چې هغه دَ هغۀ په سهاره پاسېدل غواړي . هغه چې دَ هغې په نیت پوهه شو نو دَ هغې لاس یې په خپل لاس کښې ټینګ کړو او په مزه مزه یې په کټ کښې کېنوله. هغه مسکۍ شوه او دواړو ته یې په سترګو سترګو کښې سترې مشي اووې. دَ هغې غوښخې دوړېدلې وې . دَ هغې دَ مخ کاسه تشه شوې وه دَ هغې دَ سر پېچك لاندې دَ مودو مودو اوچ وېښتۀ لکه دَ اوچ سرګړي دَ هغې په اوږو پراتۀ وو. دَ هغې دَ سترګو ډنډونو اوچ کړس پوټکي نیولي وو او په دغه اوچو کړسو ډنډونو کښې دوه اوچ ګاټې په ژورو قوغاتو کښې دوه ګیټې ښکارېدل ، هغه چې هغې ته مخامخ په زمکه کېناستو او په ځیر ځیر یې ورته اوکتل نو د دغه ژورو قوغاتو په ګیټو کښې ورته خپل دوه تت تصویرونه ښکاره شو. دې سره دَ هغۀ سترګې ډکې شوې او په ډډ اواز یې اووے ، "ګل پري تۀ ؟ . . .تۀ ګل پري یې "؟ دَ هغۀ په تپوس هغه مسکۍ شوه . دَ هغې مُسکا دَ هغه مړاوے ګل مُسکاوه چې دَ هوا په چپه ترېنه پاڼې لاندې پریوځي او تش ډنډر پاتے شي . هغۀ ترېنه په یره یره تپوس اوکړو ، "ګل پري په تا څۀ اوشو ؟ ستا هغه مستي ، هغه ځواني او هغه غټې غوښخې څۀ شوې"؟ دَ هغۀ په تپوس دَ هغې سترګې ژړېدې خو اوښکې ورله نۀ راتلې . هغې خپلې دواړه منګولې اومروړلې او ورته یې اووې ، "ستاسو . . .دَ تلو . . .نه



www.pukhto.net

...روستو ... هغه اوېڼ شوې او ... او اودوړېدې ". دې سره هغې په کټ کښې سر اولګو او پښې ورپسې دلبرو ترور اوچتې کړې . هغې سترګې پټې کړې او په پټو سترګو یې اووې ، "ما معاف کړه امانه، ما ستاسو هیڅ مېلمستیا اونکړې شوه ". امان او دلبرو ترور یو بل ته په سوالیه نظر اوکتل او په سترګو سترګو کښې یې یو بل ته څۀ اووے. امان ډېر په تیزۍ سره بهر اووتو او یوه شېبه پس واپس راغی. دَ خپلې اوړې نه یې څادر کوز کړو په هغې یې اوغوړ وو او دلبرو ترور ته یې اووے "ګاډے راغلے دے ، زۀ ورځم چې ډرائیور راولم او دا اوچته کړو او ته دَ کوټې ورجرنده کړه ". هغۀ دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړو، او بهر اووتو ، دَ وتو سره یې ډرائیور راوستو ، دواړو دَ هغې کټ اوچت کړو ، په ډاټسن کښې یې کېښودو ، هغوي دواړه ورسره کېناستل او ګاډے روان شو .

هغوي دواړه هغې سره په ګاډي کښې ناست وو او ګاډے دَ هسپتال په لور روان دوان وو . امان یو خوا دَ ګل پرې دَ بیمارۍ په وجه پرېشان وو بل خوا دَ دلبرو ترور په وجه پرېشان وو. هغۀ په زړۀ کښې کړل رېبل چې هغه یوائې کور ته لېږلے نشي او که هغه په هسپتال کښې ګل پرې سره پاتې شي نو کور به بېخي تش پاتے شي او دَ هغۀ دَ پلار او علي رحمان په زړونو کښې به دَ هغوي متعلق شکوك وشبهات پیدا شي. هغوي سره په کور کښې موبائېل هم نه وو چې اطلاع ورکړي . په دے سوچ اوفکر کښې چې هغوي اېل آر اېچ ته اورسېدل نو هغه کېزولټی کښې داخله شوه او دَ مخې سره ورته ډرېپ اولګېدۀ . دې نه علاوه دوائي ورته





اولیکلې شوه او فوري طور دَ راؤړلو دَ پاره ورته اوویلے شو . هغه چې دَ دارو اخستلو دَ پاره دَ کېټ نه اووتو او مخامخ یو مېډیکل سټور ته ورغی نو دوکاندار لـه یې دَ دارو پرچـه ورکړه او دَ دارو انتظار یې کوو چې په دېکښې دَ هغۀ په اوږه لاس کېښودے شو او ورته اوویلے شو، "ولې امانه بچے، دارو چاله پکار دي" هغۀ چې ورته روستو اوکتل نو هغه منشي وو او خوا کښې ورسره خپله ښځه ولاړه وه . امان چې هغوي سره روغ جوړ اوکړل نو بیا یې ورتـه دَ ګل پرې دَ بیمارۍ او دَ دلبرو ترور دَ راوستو خبره اوکړه دَ هغۀ په تپوس منشي اووے چې ، "مونږ کالو پسې راغلي وو، هغه کار اوشو اوس کلي ته روان یو . دَ هغۀ په خبره هغه ډېره خوشحاله شوا و ورته یې اووے "چې تاسو ځی. نو ځان سره دلبرو ترور هم بو ځی. ګاډے ولاړدے درې واړه پکښې کینی. " منشي چې دَ هغۀ خبره واورېده نو ورته یې اووے ، " نه امانه ، ته زنانهٔ سره کلي ته لاړ شه او مریض سره به زۀ پاتے شم ". خو امان دَ هغۀ خبره اونه منله او ورته یې ، "نه منشي صېب، ستا تله ډېر ضروري دي. زما هیڅ پته نه لګي چې کله به درځم . چې ته په کلي کښې یې نو زړۀ به مې ډاډه وي". امان چې کلي ته دَ تلو نه انکار اوکړو نو بیا منشي جیب ته لاس کړو یو قوده روپۍ یې ترېنه را اوویستلے او دَ هغۀ په لاس کښې یې کېښودے . هغۀ دَ روپو اخستو نه انکار اونکړو . او جیب کښې یې کېښودے . بیا یې هغوي ګاډي لـه راوستل په هغې کښې یې کښېنول، دلبرو ترور یې هم ورسره کینوله ، ګاډي له یې پېسې ورکړے او هغوي یې رخصت کړل دَ



www.pukhto.net

دلبرو ترور دَ تلونه پس دَ هغۀ پریشاني ختمه شوه او هغه دَ گل پرې خدمت ته جوړ شو . گل پرې یوشوا روز په کېزولتۍ کښې پرته وه او په دویمه ورځ هغه مېډیکل وارډ ته یوړلې شوه . اوس دَ هغې حالت دَ مخکښې په نسبت بهتر وو. هغې خوراك هم کولې شو او قدم یې هم اخستې شو . هغۀ غوښتل چې دَ هغې نه دَ هغې دَ بیمارۍ په باره کښې تپوس اوکړي خو دَ هغۀ په زړۀ کښې دا یره هم وه چې دَ هغۀ په تپوس دَ هغې بیمارې زیاته نشي .

هلته دَ هغۀ دَ وادۀ تیارې شروع وه . دَ دلبرو ترور لونه او هغوې سره دوه څلور نورې زنانه دَ وادۀ نه درې څلور ورځې مخکښې راغلې وې او دَ ټنګ ټکور پروګرام یې شروع کړے وو . دَ کوچني استاذ شاعران او ادیبان ملګرې هم راغلي او دَ اختر حسین اختر په نګرانۍ کښې شامیانې لګېدې او سټېج جوړېدو . دَ رڼا او لوډ سپیکر دَ پاره جنرېټر هم راوړے شوے وو او دَ مېلمنو دَ ناستې دَ پاره کرسۍ هم راوړې شوې وې . دې نه علاوه دَ مېلمنو دَ پاره دَ چایې ډوډۍ انتظام هم شوے وو . دا ټول انتظام دَ کوچني ادبي تولنې ملګرو کړے وو. دَ شېډول مطابق دَ اتوار په شپه دَ مشاعرې پروګرام وو چې دَ هغې صدارت کوچني استاذ ته حواله شوے وو او دَ نظامت فرائض دَ اختر حسین اختر په ذمه وو . دَ اتوار په ورځ دَ کوچني استاذ دَ کلام اورولو پروګرام وو چې هغې دَ پاره دَ پښتونخوا نامورو سنګرانو ته بلنه ورکړے شوې وه . دا ټول انتظام دَ کوچني استاذ ملګرو په خپله





خرچه کوو . بل خوا دَ هلك او جینۍ دَ خوا دَ مېلمنو انتظام منشي په خپل سر اخستے وو او دَ دلبرو ترور د اورغو مې حلالولو ضرورت پېښ نشو، دې نه علاوه هغۀ به ساعت په ساعت امان سره رابطه کوله او دَ هغۀ نه به یې دَ بیمار دَ خېریت تپوس کوو . هغه غوښتل چې دَ هغې دومره خدمت اوکړي چې دَ هغې په زړۀ هیڅ ارمان پاتے نشي . دَ هغې په خدمت کښې هغه دومره مصروف وو چې دَ خپل وادۀ نېټه هم ترېنه هېره شوې وه دَ هغې صحت ورځ په ورځ په ښه کېدو خو بیا هم دَ ډاکټرله خوا هغۀ ته سخت هدایات وو چې هغې سره غېر ضرورې خبرې اونکړې شي.

دَ هسپتال دَ اېم ډي دَ هدایت مطابق به دَ ټولو وارډونو مریضان اتوار په اتوار دَ وارډونو نه ویستلے کېدل او دَ وارډونو مکمل صفائي به کېده . نن دَ اتوار ورځ ده ، او دَ ټولو وارډونو نه مریضان ویستلې شوي وو او بهر په چمن کښې ځاے شوي وو. په دغه مریضانو کښې گل پرې هم شامله وه . امان هغې دَ پاره دَ ملاستې بندوبست کړے وو. هغۀ هغه په درۍ سملوله خو هغه دَ ملاستې نه کېناسته او هغۀ ته یې په مُسکا اووې ، "په داسې ډاګه ستا په مخکښې ماته په ملاسته ځان ښۀ نه ښکاري". هغې دَ هغۀ په اوږه سر کېښودو او دَ هغۀ په سهاره یې خپل توازن اوساتو . بیا یې ورته په کمزورې اواز غلې غوندې اووې ، "امانه ، نن دَ اتوار ورځ ده ، دَ ډاکټرانو چهټې ده . ته کلي ته لاړ شه چې لږ ارام اوکړے".



www.pukhto.net

امان:. زۀ یوې لمحې دَ پاره هم تا یواځې نشم پرېښودے ، داسې نشې کېدې .

ګل پرې:. تۀ به دا کړاؤ تر کومې کوے ؟

امان:. ګل پرې ، چې تر کومې تۀ ښۀ شوې نه یې ، ستاخدمت په ما فرض دے . زۀ دا خپله خوش بختي ګڼم چې ماته ستا دَ خدمت موقعه ملاؤ شوه ، "دَ هغۀ په خبره هغه مسکې شي او وائي،" امانه ، زما ښه کېدل نیشته .

امان:. داسې دَ مایوسۍ خبرې مۀ کوه ګل پرې ، تۀ به انشاء الله ښۀ کېږې او بیا به درنه هغه ګل پرې جوړه شي لکه چې وې . خو هسې یو تپوس درنه کولے شم چې ستا دا بیمارې دَ کله نه ده . څۀ موده مخکښې خو ته بالکل ټیک ټاک وې. چرې ماخو دَ نظره کړے نه یې.

ګل پرې:. تا دَ نظره کړے نه یم خو زما بیمارې دَ هغه ورځ او دَ هغه شپې نه شروع شوې ده کله چې تاسو زمونږ دَ کوره لاړې .

امان:. ستا دَ بیمارۍ نه انځرګل خبر دے ؟

ګل پرې:. نه امانه ، انځرګل ته زما دَ بیمارۍ هیڅ معلومات نیشته.

امان:. هغه کورته ځې راځي ؟

ګل پرې:. هغه دے ځائے نه ډېر لرې تلے دے ، او څوك چې هلته لاړ شي واپس نشي راتلے .

امان:. څۀ مطلب ...؟ زۀ ستا په خبره پوهـ نشوم.

ګل پرې:. امانه ، هغه شهید شوے دے .

امان:. کله ؟ هغه سره خو یو څو هفتې مخکښې زما لیدل کتل شوې وو.





ګل پرې:. ستا به ورسره شوے وې خو زما ورسره نه دې شوے . امانه په کومه ورځ چې تاسو زمونږ دَ کوره اووتې نو په هغه شپه هغه هم دَ کوره اووتو او لا تراوسه نه دے راغلے ، البته دَ هغۀ سامان راغلے دے ...امانه ، چې دَ هغه خبره دے اوچېړله نو بیا یې پوره ووره . امانه ، په کومه ورځ چې بابا زمونږ نکاح اوتړله او تاسو لاړې نو ستاسو دَ تلو نه پس په هغه شپه هغه هم لاړو .

امان:. ولې څۀ ایمرجنسي وه ؟

ګل پرې:. "امانه ، دا خو درته معلومه وه چې دَ هغۀ تعلق یو دهشت ګرد تنظیم سره وو . څۀ موده مخکښې ما دَ پولیو ډیوټې کوله او کور په کور به ګرځېدو . دَ خپلو رونو دَ ډېرې به ماځان سره دَ هغۀ مورجانۍ ترور بوتله . یوه ورځ مونږ په یو کلي کښې ډیوټې کوله چې دَ یوروان موټر سائیکل نه په مونږ دَ روستو نه ډزے اوشوے . په دغه ډزو کښې زۀ زخمي شوم او جانۍ ترور مړه شوه . څۀ موده پس هغه په نیمه شپه کورته راغی او دَ مور تپوس یې اوکړو . ما چې ورته دَ هغې او خپله ټوله خبره اوکړه او دَ ځاے ځائېږې او وخت حواله مې ورکړه نو هغه په چغو چغو په ژړا شو او په ژړا ژړا کښې یې اووے چې، "هغه ډزے ما کړې دي" بیا یې دے وعده دَ کوره اووتو چې هغه به دے کورته هله راځي چې دَ خپلې مور او زما بدل دَ هغه چانه واخلي دَ چا په حکم چې هغه دغسې کړې دي ، نن به راشي ، سبا به راشي ، په دغه نن سبا کښې مودې تېرې شوې خو هغه رانغی او اخر په هغه ورځ راغی په کومه ورځ چې مونږ دواړه کورته ورغلو . امانه



www.pukhto.net

، ډېره . . .دَ شرم خبره ده او ستا دَ مخه حيارائې خو وېم يې درته څکه چې پوره معلومات درته اوشي . . .امانه . . .ستاسو دَ تلو نه پس چې مونږ دَ ښځې خاوند په شکل کښې يو بل ته نزدے شو نو هغۀ زما په بدن دَ زخمونو نښخې اوليدے . دَ لېدو سره هغۀ ته هغه زړه واقعه راياده شوه . فوري طور روستو شو او په حجاب کښې شو . زما په سر يې لاس کېښودو او قسم يې اوخوړو چې ، "زۀ به دے کور ته هله رائم چې ستا او دَ خپلې مور بدل واخلم ". دې سره هغه کلاشن کوف په لاس کښې اونيوو او شپه په شپه ډېر په تېزۍ سره دَ کوره اووتو. هلته هغۀ خپله ډله جوړه کړه او چې موقعه ورته ملاؤ شوه نو هغۀ او دَ هغۀ ملګرو زمونږ بدل واخستو ، ټول ملکي او غېر ملکي دهشت ګرد يې قتل کړل ، دَ بارودو لويه ذخيره يې تباه کړه خو دَ يو کس دوه نه علاوه هغه او دَ هغۀ نور ملګري هم شهيدان شو . دَ هغۀ څۀ سامان د دے خبر سره کور ته راغی. چې دَ هغۀ انتظار مۀ کوه ، هغه ډېر لرې تلے دے . امانه ، چې کله هغه دَ کوره اووتو نو ماته دا محسوسه شوه لکه چې زما په زړۀ کښې سومبې غړېږي . دغه درد سره زما اولږه هم ختمه شوه ، تر دې چې کومې اويۀ به مې اوڅکلې نو هغه به مې واپس التې کړې . دَ کلي يو ډاکټر له ورغلې ووم خو هغه دارو رانۀ کړل ، وے چې "ستا په زړۀ بوغمه ده ، د دې علاج ماسره نيشته ". . . .بوغمه څۀ شے دے امانه ؟" هغۀ دَ هغې خبره په بله واړوله او دَ هغې دَ ډاګټرنې دَ پاره يې هغې ته اووے ، "دَ کلي ډاکټران په څۀ پوهېږي ؟ هلته خو ټول کمپوډران راغونډ شوي دي .





ډاکټر پکښې يو هم نيشته . ما ستا دَ ډاکټر نه تپوس کړے دے ، هغۀ وے چې هيڅ نيشته ، بالکل ټيك ټاك ده خودَ کم خوراکۍ په وجه کمزورې ده ". دَ هغۀ په خبره هغه مسکۍ شوه ، دَ هغۀ اوږې ته يې سر اوچت کړو او وې وئيل ، " دا ښۀ ده چې ته راغلے امانه ګينې زما خو څوك دَ ښخولو هم نه وو ".

امان:. داسې دَ مايوسۍ خبرې مۀ کوه ګل پرې . مامۀ کړه وه پليز.

ګل پرې:. امانه ، تاسو مونږ کره څنګه راغلے وۍ ؟

امان:. مونږ ستا دَ بيمارۍ نه خبر شوي وو، او ستا پوښتنې له درغلي وو، هغه يويخ اسوېلے اوکړې ، په خلۀ لاس کېږدې او خپل اسوېلې پسې بره ګورې . امان هغې ته په يره يره وائي ، "ګل پرې ، تۀ په ناسته ناسته ستړې شوې ، لږه سمله چې دمه شې ". هغې دَ هغۀ په خواهش انکار اونکړو او دَ هغۀ په سهاره په درۍ سملاسته ، هغه هغۀ ته په ملاستې ملاستې ګورې او وائي، "امانه تاماته رشتيا خبره اونکړه تا زما دَ خاطره ماته دروغ اووے . رشتيا خبره اوکړه چې څنګه راغلے وۍ "؟

امان:. رشتيا خبره دا ده چې زما دَ وادۀ نېټه اېښودې شوې ده او مونږ تاسو پسې يعنې تا او انځرګل پسې دَ بلنې دَ پاره درغلي وو. هغه مسکۍ شي او وائي ، "اوس دے رشتياخبره اوکړه . .ستا وادۀ کله دے؟" هغه په ذهن زور اچوي او يوه شېبه پس وائي، "شايد نن دے . نن به زما دَ ناوې ډولۍ راځي ،

ګل پرې:. اوه ، تا زما دَ پاره وادۀ پرېښے دے .

امان:. ستا دَ پاره زۀ ټولې خوشحالۍ پرېښودے شم خو تا په داسے



www.pukhto.net

حالت کښې نشم پرېښودے .

ګل پري :. تا خپله ناوې لیدلے ده ؟ دَ چا په شان ده ؟

امان:. نه ګل پري ، ماخپله ناوې نه ده لیدلے او نه راته دا معلومه ده چې دَ چا په شان ده . دا وادۀ دَ مجبورئ وادۀ دے . چې ته دَ بل شوے ... ګل پري دَ هغۀ دَ خلې نه خبره اخلي او وائي ، "داسې مۀ وایه امانه ، دا دَ قسمت لیك دے ، نه ورانېږي . خپلې بې بې سره مینه کوه ، هغې ته زما په سترګو ګوره . رشتیاخبره دا ده امانه چې مونږ دواړه دَ یو بل دَ پاره پېدا شوي وو او زمونږ دَ جُدائي هډو تصور نشو کېدے خو ...خو تقدیر مونږ په ورکو لارو سرکړو او داسې یې دربدر کړو چې دَ یوبل نه یې ناخبر کړو. او په داسے وخت کښې یوې لارې ته راوستې شو چې ستا مخه یوخوا ده او زما مخه بل خوا ده . مونږ دواړه یو بل کراس کولے شو خو په یوه لاره نشو تلے ...عجیبه اتفاق دے .نن ...نن ستا دَ ناوې دَ راتلو ورځ ده او زما دَ ...دَ تلو ورځ ده. اوس درنګ ساعت له به ستا دَ ناوې سنګهار له جُونه راځي او زما ساه اخستو له به ملائکې راځي . ستا ناوې به په ډولۍ کښې اچولې کېږي او زما لاش به دَ جنازې په کټ کښې اچولے کېږي . ستا دَ ناوې ډولۍ به ستا کور ته درځي او زما کټ به دَ هدېرې کورته ځي ، ستا ناوې به دَ وادۀ په پالنګ کښې سملي او زۀ به په لحد کښې سملم، ستا په ناوې به په پالنګ کښې ګل پاشي کېږي او زما په لاش به خاك پاشي کېږي . اوه خُدایه ...خفه نشے امانه ...ما معاف کړه امانه " دې سره هغه کښني ، په ناسته ناسته اُلټۍ اوکړي او په خله او





سپېږمو یې زیړې شنې اوبۀ راماتې شي. داسې معلومېږي چې دَ هغې دَ زړۀ بوغمه اوچوده . امان په خپل رومال دَ هغې خلۀ او سپېږمې صفا کوي . هغې هغۀ تۀ په مسکا اوکتل او غلې شان یې په رپېدلو لوشونډو اووې ،

ـ اشنا دَ لارې نه هېرېږي

زۀ به د عمر اشنا څنګه هېره وومه .

دَ هغې خبره څۀ حده پورې صحې وه دَ هغې لاش په داسے وخت کښې دَ ګاډي نه کوز کړے شو چې دَ هغۀ دَ ناوې ډولۍ دَ هغۀ کورته دننه شوه . دَ هغې دَ مرګ په غږ دَ سنګرانو ټنګ ټکورختم شو او په ټول چاپېریال دَ ماتم غلاف خور شو. لږ ساعت مخکښې چې په کومو لوډ سپیکرو نغمې چلېدې اوس په هغې دَ قبر ویستلو او دَ جنازې اعلان اوشو . ماښام تیارۀ دَ هغې جنازه اوشوه او ماسخوتن تیاره دَ فقیر بابا قبر سره جخته خاورو ته اوسپارلې شوه . راغلي ټول مېلمانه لاړل ، شامیانې ، دیګونه ، کرسۍ او نور سامان لاړو او وادۀ له راغلې زنانه هم لاړې .

لږ ساعت مخکښې چې دَ کوم څنګل نه منګل جوړ شوے وو دَ هغه منګل نه بیا څنګل جوړ شو او دَ شپې په تورو ماتمي زلفو کښې ډوب شو. په کور کښې دننه یو علي رحمان پاتے شو او ورسره دلبرو ترور او ناوې ، بهر په کوټه کښې کوچنې استاذ پاتے شو او ورسره امان پاتے شو . هغوي پلار او زوے دَ ګل پري په ماتم کښې چپ ناست وو چې دلبرو ترور دَ امان دَ وادۀ جوړه په لاس کوټې ته ورغله او دَ ورتلو سره یې امان ته اووې ، "امانه زویه ، دَ تقدیر لیك نه ورانېږي . دَ الله په



www.pukhto.net

کړو شکر اوباسه زویه . دَ ګل پرې په تلو مونږ تولو ته افسوس دے خو دَ افسوس نه سیوا مونږ څۀ کولې شو . دَ چا په مرګ نه دنیا ورانیږي او نه دَ دنیا کاروبار بندیږي . زما زلمے زوے مړ شو خدائے دَ هغۀ په شکل کښې بل راکړو . ستا یوه ګل پرې مړه شوه ، خُدائے درله بله ګل پرې درکړه . پاسه زویه ، دا جامې واغونده ، نمونځ اوکړه او دَ الله ډیر ډیر شکر اوباسه . زۀ درنه ځم او ستا دَ راتلو پورې به ستا دَ کوټې په دُرشل به ستا انتظار کوم . دې سره هغه ډیره په تېزئ سره دَ کوټې نه اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس کوچنے استاذ هم هغۀ ته کورته دَ تلو مشوره ورکوي او ورته وائي، "پاسه بچے ، کفرانِ نعمت مۀ کوه ، جامې واچوه نمونځ اوکړه او په دعا سلام کورته ورشه".

دَ پلار په وینا کښې هغه هډولم لېټ اونکړي . پاسې اودس تازه کړي دَ وادۀ جوړه واغوندي ، نمونځ اوکړي او کورته روان شي .

دلبرو ترور ، دَ خپلې وعدې مطابق دَ هغۀ دَ کوټې په درشل ولاړه وي او دَ هغۀ دَ راتلو انتظار کوي . دَ ورتلو سره ورته هغه سهره واچوي او مبارکي ورکړي . هغه چې کوټې ته ورغی او خپله ناوې یې اولیده نو هغۀ ته داسې محسوسه شوه چې په بنارسۍ کښې ګل پرې ناسته ده او دَ هغې دَ بنارسۍ دَ پلو اوچتولو انتظار کوي خو بیا یې په ذهن کښې راغله چې ګل پرې خو هغۀ په خپل لاس په قبر کښې کېښوده او په خپل لاس یې پرې خاورې واړولے . دې سره دَ هغۀ سترګې یو ځل بیا ډکې شوې خو هغۀ نۀ غوښتل چې خپلې ناوې ته خپل خفګان ښکاره کړي او هغه دَ هاغې مینې نه محرومه کړي دَ کومې چې هغه مستحقه وه . هغۀ چې





دَ هغې پالنګ ته اوکتل نو په هغې واقعي ګل پاشي شوې وه او هغه دَ خوږو وږمو په بهیر کښې ناسته وه . هغه دَ هغې خوا کښې کېناستو او په دواړه لاسه یې دَ هغې دَ بنارسۍ پلو په مزه مزه اوچت کړو . هغه پټې سترګې ناسته وه ، سور پېزوان یې په سرو شونډو زانګېدو او هغۀ ورته په ځېر ځېر کتل . بیا یې په زړۀ کښې څۀ راغلل ، دَ هغې دَ بنارسۍ پلو یې پرېښودو ، پاسېدو او ډیر په تېزئ سره دَ کوټې نه اووتو .

دلبرو ترور بهر دَ غولي په یو ګوټ کښې لوښي وینځل چې هغه ډیر په تېزئ سره دَ هغې خوا له ورغی ، هغه یې دَ لاس نه اونیوه، لاس نیولې یې خپلې کوټې ته بوتله او لاس نیولې یې دَ هغې مخې ته اودروله . دَ هغې نه یې یو ځل بیا دَ بنارسۍ پلو اوچت کړو او ورته یې اووے ، "دا تا څۀ کړي دي ؟ ماتاته ویلے وو چې زما په ناوې کښې کم از کم یوه نښځه دَ ګل ناز وي. او تا خو . . .او تاخو ماله توله ګل ناز راوسته ؟ دا واقعي ګل ناز ده ؟

دلبرو ترور مسکۍ شي او په مُسکا کښې وائي ، "هاؤ زویه ، دا واقعي ګل ناز ده . دا به درته خپله توله خبره په خپله اوکړي ، زۀ درنه ځم".

امان:. داسې نه تروري ، هغه دَ هغې لاسونه ښکلوي ، د خپلې غاړې سهره اوباسي او دَ هغې په غاړه کښې یې اچوي . دَ دواړو په سترګو کښې دَ خوشحالۍ اوښکې راشي . دلبرو ترور خپلې اوښکې اوچوي او وائي ، "خُدائے دے تاسو دَ ژوند په دې نوې لاره ، تل ترتله خوشحاله ساتي .

امان: امین .

دَ بنارسۍ نه په پټ مخ اواز راشي "امین".



www.pukhto.net

This document was created with Win2PDF available at http://www.win2pdf.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.
This page will not be added after purchasing Win2PDF.